

# نیمه پېړۍ یون

## یوولسم ټوک

(تحصیلي اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل



نیمه پېړۍ یون

یوولسم ټوک (تحصیلي اثار)

(څوارلس ټوکه)

۱۱

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۴۸)

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د دریو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نږدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکري او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پېړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکتر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

HALF CENTURY
JOURNEY

BY: PROF. MOHAMMAD ISMAEL YOON

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۴۸)

### په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.
**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.
**دریم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.
**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.
**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.
**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.
**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتې زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.
**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.
**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زمانې په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.
**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماسټرې):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.
**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵٦) مخونه.
**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنی سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.
**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



منته او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت
**ښاغلي سناتور انجنیر عبدالقادر نورزي**
څخه د زړه له کومي منته کوي چې ددې اثر د یوولسم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه منته کوو او کور ودانی ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

1396 لمریز کال

# نیمه پېړۍ یون

## یوولسم ټوک

## (تحصیلي اثار/لسانس او ماستري)

محمد اسمعیل یون

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## یوولسم ټوک

**(تحصیلي اثار/لسانس او ماستري)**


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹۶ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۸)**

ویبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**


**۱۰۳۵۰**

ډالۍ:

د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

رښتینو لارویانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۱۰۳۵۵ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۱۰۳۷۱ |
| | د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه | |
| ۱ | ددې اثر پر دویم چاپ څو خبرې | ۱۰۳۸۱ |
| ۲ | یادون | ۱۰۳۸٦ |
| ۳ | لومړی څپرکی | ۱۰۳۸۸ |
| ٤ | د محمد ګل خان مومند ژوند لیک | ۱۰۳۸۸ |
| ۵ | پر پښتني فرهنګ د محمد ګل خان مومند د هلو ځلو اغېزه | ۱۰۳۹۱ |
| ٦ | د پښتنو په اوسني تاریخ کې د محمد ګل خان مومند دریځ | ۱۰۳۹۷ |
| ۷ | محمد ګل خان مومند او پښتونولي | ۱۰٤۰۲ |
| ۸ | دویم څپرکی | ۱۰٤۰۹ |
| ۹ | د محمد ګل خان مومند اثار | ۱۰٤۰۹ |
| ۱۰ | درېیم څپرکی | ۱۰٤۲۵ |
| ۱۱ | محمد ګل خان مومند د نورو له نظره | ۱۰٤۲۵ |
| ۱۲ | ((د قام غمخور محمد ګل خان مومند)) | ۱۰٤۲۸ |
| ۱۳ | ((زما یادښت)) | ۱۰٤٤۰ |
| ۱٤ | ((د محمد ګل خان وروستۍ لیدنه)) | ۱۰٤٤۷ |
| ۱۵ | اخځونه | ۱۰٤٤۹ |

## خوشال په خپل ایډیال


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | پر دې اثر څو خبرې | ۱۰۴۵۴ |
| ۲ | د ماسټرۍ دورې دا لیکنې | ۱۰۴۵۶ |
| ۳ | د خوشال یو تصوفي شعر | ۱۰۴۶۱ |
| ٤ | ((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو)) | ۱۰۴۶۸ |
| ۵ | د تذکرة الاولیا ځانګړتیا او لرغونتیا | ۱۰۴۹۶ |
| ٦ | د شیخ میانور او خوشال ترمنځ دیني مناظره | ۱۰۵۰۵ |
| ۷ | ((ښه حاکم)) او د ښه حاکم په هیله | ۱۰۵۱٦ |
| ۸ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې شعري فورمونه | ۱۰۵۲۲ |
| ۹ | د استاد روهي له نظره د خوشال اخلاقي ایډیال | ۱۰۵۳۹ |
| ۱۰ | ((شاهنامهٔ احمدشاه ابدالي)) ویاړونه ده که حماسه؟ | ۱۰۵٤۷ |
| ۱۱ | په لغمان کې د شولو کر | ۱۰۵٦۸ |
| ۱۲ | پټه خزانه: تر عظیم الشان قرآن  وروسته | ۱۰۵۸۰ |
| ۱۳ | ((د ځانځاني ښامار)) سفر | ۱۰۵۹۹ |
| ۱٤ | د خوشال د قصایدو روح | ۱۰٦۱۷ |


## افغاني اوسنۍ رسنۍ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر پر لومړي چاپ څو خبرې | ۱۰٦۳۸ |
| ۲ | افغاني اوسنۍ رسنۍ او یوه لنډه یادونه | ۱۰٦٤۰ |
| ۳ | د اوسنیو رسنیو ارزونه یوه ګډوره هڅه | ۱۰٦٤۳ |
| ٤ | سریزه | ۱۰٦٤٦ |


### لومړی څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۵ | د اوسنیو رسنیو د راټوکېدو عوامل | ۱۰٦۵۰ |


### دویم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ٦ | د اوسنیو رسنیو ډولونه | ۱۰٦۷٤ |
| ۷ | دولتي چاپي رسنۍ | ۱۰٦۷۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | خبري اژانسونه او خبرپاڼې | ۱۰۷٦۳ |

## درېیم څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۹ | له پانگیز یا تمویلیز پلوه د رسنیو وېش | ۱۰۷٦٥ |

## څلورم څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | د اوسنیو رسنیو فکري لوری | ۱۰۷۷٦ |

## پنځم څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | پر افغاني ټولنه د رسنیو اغېز | ۱۰۷۹۲ |

## شپږم څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | اوسنۍ رسنۍ او ادبیات | ۱۰۷۹۹ |

## اووم څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | د افغاني رسنیو د ښه پرمختگ او اغېز لپاره څو وړاندیزیونه | ۱۰۸۱۳ |
| ۱٤ | وروستۍ یادونه | ۱۰۸۱۹ |
| ۱٥ | اخځونه | ۱۰۸۲۲ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک ورواښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی وياند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینگار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولگی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. یون پر

(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پوړتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلودله، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

ټيم غړی و، يون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. يون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له يو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلوده او د ځينو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. يون په کابل پوهنتون کې د تحصيل پر مهال هم د ليکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو ليکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او يو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

يون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هيلې) په نامه يې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو يوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳۶۶ل) کال يې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال يې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (متکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حيران) د شعرونو ټولګه (نيمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

يون د تنظيمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځينې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې يې (هيله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمني کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنې) استازی هم و.

محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱۶۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـویې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریـک) پـه نامه د یـو ازاد، فرهنگـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کـې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یـې حـل رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې

یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې یـې خلکـو تـه پـه مسـتقیم او نامسـتقیم ډول د میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کـړې ده. د مصـیبت ځپلـو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې څو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یـې ونـډه اخیسـتې، د صـحي اوبـو لپاره یې د ژورو څاګانو په کیندنه او د چاپېریال د پـاک سـاتلو لپـاره یـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چـې یـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې لـه کوم سیاسي ګوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامـه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسـټ ایښـی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سـیاسي فعالیتونـه تـرسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنيزه برخه کې يې د (ژوندون) په نامه يو رسنيز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډيو ټلوېزيون په کې فعاليت لري، دا راډيو ټلوېزيون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلايټ او وېبسايټ له لارې يې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډميکه برخه کې يون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسيس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلين لري، دغه راز د يو شمېر خصوصي ښوونځيو او پوهنتونونو په جوړونه کې يې هم مرسته کړې ده. يون د (هيلي، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدير په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره يې د بېلابېلو ليکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمينه برابره او د يو شمېر نورو د سمون چارې يې هم پر مخ وړي دي.

په سيمه ييزه او ملي کچه يې د (۳۰) کلونو په بهير کې تر (۱۱۰۰) زياتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سيمينارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار يې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ژرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | (لومړۍ شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دويمه شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګڼه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه)   دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګڼه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ببرنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنگ او فرهنگ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارگ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنگه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولگي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولگي څخه بیا تر دولسم ټولگي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولگي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړۍ ثمر (هیلې) گډه شعري ټولگه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمگړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د گټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د گټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مور یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا ټـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر وویشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو سترې، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـوې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

مخنیوی کېده، خو استاد یـون او ملگـرو یـې د اسلامیت او افغانیـت غـږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هـم د دې رسـا غـږ او داعیـې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانسـتان پردیـو ایـډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینـو نـورو شخصـیتونو برکـت و چـې د مـلي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولـولې تـر هـرې بلـې ایـډیالوژۍ زیـاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبـارزه دده په فعالیتونو او همدارنگه د استاد په ټولـو اثـارو کـې انځـورېږي. خـو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چـې زمـوږ راتلـونکی نسـل د اسـتاد د ملي او فرهنگي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې څوربدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

همکاري پيل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پيل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مينه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هيلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو ليکوالو يوه تذکره يا غورچاڼ برابر کړ او پر (١٣٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نيمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (١٣٦٦ل) کال څخه بيا تر (١٣٩٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دايرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووايم چې يوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه يم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهير کې ځينې سياسي کارونه له ناچارۍ څخه رابانديې تحميل شوي او ځينې ټولنيز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټينګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (١٣٨٥ل) کال زه د جمهوري رياست د ملي امنيت شورا دفتر د فرهنګي چارو رييس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسيزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سياسي او ټولنيزو کارونو پر وړاندې چې ما يې د سرته رسولو هيله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضياءالرحمن ضياء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري يې هم کم دي، تنګنظره سياسي

اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترځ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوايي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوايي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نړدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې اېښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختتو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه

ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


Yoon Cultural Foundation
د محمد ګل خان مومند
اند و ژوند ته یوه کتنه
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# د محمد گل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه

## لیکوال

## محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د محمد گل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۳ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۸) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۸) |

# ددې اثر پر دويم چاپ څو خبرې

وزير محمد ګل خان مومند د افغانستان د معاصر تــاريخ يــوه ډېــره نوميالۍ او معتبره ملي څېره ده، که ددې هېــواد د ټېنګښــت او ملــي هويت د ځلا لپاره په اساسي مانا چا کار کړی، نو يو په کې محمــد ګــل خان مومند دی. محمد ګل خان مومند د ملي اساساتو يو داسې معمار و، چې تر لسيزو وروسته خطرونه او ګواښونه يــې ارزولــی شــول، پــه همدې وجه يې د هغو د مخنيوي لپاره پاخه بنسټونه جــوړول. محمــد ګل خان مومند د يوه افغان ملتپال، ملت رغاند او انــديال شــخص پــه توګه، ددې وطن د خدمت لپاره، څه چې له لاسه کېدل ونه سپمول او د ژوند ترپايه پورې خپلې ملي او اسلامي لارې او ګروهې ته ژمن پــاتې شو، خو څومره خدمتونه چې وزير محمد ګل خان مومند افغاني ټولنې او پښتو ژبې او ادب ته کړي، زموږ ټولنې او په ټولنې کې د فکر، نظــر او قلم خاوندانو د هغو يو پر سلمه برخه هم دوزيرصيب حــق نــه دی ادا کړی، هغه څه چې د وزيرصيب له شان او شخصيت ســره مناســب وو، هغه شان وزيرصيب چا نه دی ځلولی او نه يې څېړلی دی، خــو لــويې ستې او درانه شخصيتونه داسې وي لکه سره زر، څوک يې ســتايي او

که نه، خو هغه خپل جوهر لري. لوی شخصیتونه هم همداسې دي، د وخت په تېرېدو سره يې ارزښت او اهمیت زیاتېږي، خو دې سره سره ستر شخصیتونه پر اوسني او راتلونکي پښت دا اخلاقي حق لري، چې د هغوی یا د تاند وساتي. پښتانه که څه هم په توره تېره دي، خو په قلم کې يې برخه ډېره ځلنده نه ده، نو ځکه خو يې د خپل دومره لوی خدمتګار په باب هم، داسې څه نه دي لیکلي چې د هغه له شان سره مناسب وي، د هغه شخصیت دې وځلوي او زموږ سترګې دې پرې خوږې شي. زه چې د تحصیل په بهیر کې وم، نو له یونیم لیکوال، ځینو قومي مشرانو او مخورو څخه مې د وزیرصیب په باب ځینې خبرې اورېدلې وې، هغه وخت وزیر صیب زما په ذهن کې د یوه ایډیال شخص په توګه راټوکېدلی و، نو کله چې مې پر ۱۳۷۰ل کال د پوهنځي وروستی (اتم سمستر) پیل شو او د پایلیک (مونوګراف) لیکنې په فکر کې شوم، نو ما د وزیرصیب د شخصیت شننه او ارزونه د خپل مونوګراف موضوع وټاکله. کله چې مې پر څېړنه پیل وکړ، نو ډېر کم لیکلي څه مې ترلاسه کړل، نو ډېر زیات خواشینی شوم او فکر مې وکړ، چې دومره لوی شخصیت او زموږ دا ویده حالت. د مونوګراف لیکنې په څو میاشتني بهیر کې مې ذهن له وزیر صیب سره دومره روحي رابطه ټینګه کړه، چې یوه شپه مې خوب ولیده، په خوب کې مې وزیرصیب په داسې یوه حالت کې ولیده چې د اوړو یوې بوجۍ ترڅنګ ولاړ دی، سپینه او پاکه سوتره ږیره، د اوړو بوجۍ کې لاس کوي، موټۍ

له اوړو ډکوي او ماته یې راکوي. وزیر صیب پر دې ډېر خوشاله دی چې ما د پښتو د خدمت نیت کړی، هغه ما دې کار ته هڅوي، کله چې له خوبه راپاڅېدم، نو د خوب پر مانا او تعبیر پوه نه شوم او نه مې تراوسه چاته د خوب دا کیسه تېره کړې، خو اوس چې ددې کتابگوټي تر لیکلو اته لس (۱۸) کاله تېرېږي، دا خوب مې د یوه امانت په توگه دلته یاد کړ، زه اوس هم د هغه خوب پر تعبیر نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې له هغې ورځې بیا تر دې دمه زما کور له غنمو، مېوو او دانو ډک دی او د قحطۍ او قیمتۍ په دې دومره اوږده بهیر کې مې د اوړو او غنمو څه کمی نه دی احساس کړی.




دا کتابگوټی ما پر ۱۳۷۰ل کال د خپلې لیسانس دورې د مونوگراف په توگه لیکلی دی او پر ۱۳۷۳ل کال مې په پېښور کې چاپ کړی دی. دا اثر که څه هم یوه ډېره کوچنۍ لیکنه ده، خو هغه وخت هم زما هدف دا و چې وزیر صیب ته د نورو لیکوالو، کلتوري او علمي ټولنو پام راواوړي او له اوسني چاپ مې هم هدف دادی، له نېکه مرغه همداسې وشول، تر هغه وروسته بیا په پېښور کې ((خلیل ادبي جرگې)) د وزیر صیب په اړه یو علمي سیمینار

جوړ کړ او ددې سیمینار د لیکنو ټولگه یې هم چاپ کړه او ځینې نورې لویې وړې غونډې هم په افغانستان او هم په کوزه پښتونخوا کې وشوې، اوس خو په کابل کې هم د پښتو د همدې بابا په نوم یوه ادبي ټولنه او په مزارشریف کې هم یوه ادبي ټولنه شته او فعالیت کوي، یو شمېر متفرقه لیکنې هم د بابا د شخصیت د ځلونې په باب خپرې شوې دي او بابا ته پام را اوښتی دی. خو تر پښتنو دېرې هغه ډلې ټپلې او اشخاص چې د هېواد د ملي هویت او یووالي مخالفین دي او د یو شمېر ښکاره بهرنیو هېوادونو او کړیو له خوا یې ملاتړ کېږي، د وزیر بابا د شخصیت پر ضد یې په لسگونو لیکنې کړي او کوي یې. دې ډلو ټپلو ته د وزیر صیب شخصیت ځکه د زغم وړ نه دی، چې هغه د هېواد اساساتو ته داسې خدمت کړی، چې دا ډول عناصر اوس ان د خپلو بهرنیو ملاتړو په زور نه شي کولای، دا بنسټونه ړنگ کړي.

هر څومره چې دا ډول ډلې او افغان ضد اشخاص د وزیر صیب د شخصیت پر ضد لیکنې کوي، هغومره موږ ته پته لگي، چې زموږ دې اتل زموږ هېواد ته څومره خدمتونه کړي دي. دا همغه سره زر دي، چې د وخت په تېرېدو یې ارزښت او اهمیت نور هم زیاتېږي. اوس نو زموږ لیکوالو ته په کار دي، چې د وزیرصیب ټول چاپي او ناچاپ اثار سره راټول او خوندي کړي، هم یې چاپ کړي او هم یې د انټرنټ څپو ته وسپاري، چې د مرگ د بلا له خطره خوندي شي. ددې ترڅنگ زموږ لیکوالو او علمي ټولنو ته په کار دي، چې د وزیر صیب د اندوژوند پر بېلابېلو اړخونو څېړنه وکړي او د هغه له اند دود څخه د اوسني او

راتلونکي نسل د روزنې لپاره د روښانه مشالونو په توګه ګټه واخلي. زموږ یو زیات شمېر قومي مخورو، مشرانو، د فکر او قلم خاوندانو او سیاستوالو سره د وزیر صیب ګڼې خاطرې شته، ددې خاطرو او پخو خبرو خوندي کول په کار دي او له هغو څخه الهام اخیستل.

لکه څنګه چې دمخه مې یادونه وکړه، دا اثر چې تاسې یې ګورئ، زما د لیسانس دورې پایلیک دی، پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی او پر ۱۳۷۳ل کال چاپ شوی، دویم چاپ کې مې څه خاص تغیرات نه دي راوړي، یوازې یو نیم ځای کې چې املایي، انشایي او چاپي تېروتنې وې، همغه مې سمې کړي، نور مې لیکنه د خپل همغه وخت د ارزښت له مخې په خپل شکل پرې ایښې ده. له ګران ورور ښاغلي حاجي خان محمد منګل څخه، چې له ما سره یې په ګڼو فرهنګي چارو کې مرسته او همکاري کړې او دا اثر یې په خپل لګښت لومړی ځل چاپ کړی، مننه لازمي بولم او همدارنګه نورو هغو ټولو دوستانو ته چې د دې اثر په لومړي او دویم چاپ کې یې مرسته کړې، کور ودانی وایم.

د هېواد د ملي کلتور د ښېرازۍ په هیله
په درنښت
پوهندوی محمد اسمعیل یون
کابل- افغانستان
ارګ- د جمهوري ریاست ماڼۍ
د (۱۳۸۷ل) کال د سلواغې (۱۸)مه

# یادون

محمد گل خان مومند زموږ د هېواد د معاصر سیاسي تاریخ او فرهنـــگ په اتلو څېرو کې یوه وتلې او ځلنده څېره ده. محمد گل خـــان مومنـــد نـــه یوازې د هېواد د خپلواکۍ په گټلو کې خپل کارنده رول ترسره کړی، بلکې د تیارو او جهالت (سقاوي واکمنۍ) په له منځه وړلو کې یې هم د یـــادونې وړ رول ترسره کړی دی. وزیر محمد گل خان مومند د هېـــواد د بهرنیـــو او کورنیو دښمنانو نیتونو ته په ډېره ځیرتیا متوجه و، نو ځکه خو یې د ځینو نورو بادرکو پښتنو مشرانو له ایډیالونو سره سم پښتانه پـــه شـــمال کـــې د یرغلگرو پر وړاندې د یوه سپر په توگه ودرول او د تجزیه غوښتونکو هیلې یې له خاورو سره برابرې کړې.

وزیر صیب نه یوازې د هېواد سیاسي ژوند ته متوجه و، بلکې اقتصـــادي او فرهنگي مسایلو ته یې هم ځانگړې پاملرنه لرله. هغه پښـــتانه د ښـــاري کېدنې او نوي اقتصادي سیستم له جوړښت سره اشنا کړل او هـــم یـــې د فرهنگ دروازې ورته خلاصې کړې او د یوه مخکښ فرهنگـــي جریـــان پـــر روزلو یې پیل وکړ، پښتنو ته یې دا حق حاصل کړ چې په خپل هېواد کـــې په خپله ژبه لیک او لوست وکړي، خو د پښتنو د دومره لوی خدمتگار لـــه دومره سترو ویاړنو او خدمتونو سره سره تراوسه پورې د هېواد په خپرونـــو

کې د هغه په باب دېر هغه څه چې لازم وو، چا نه دي لیکلي، خــو زمــوږ د ولس د ځینو مخورو او روښانفکرانو په زړونو او ذهنونو کې د هغه په بــاب دېر څه شته چې تراوسه لا د کاغذ پر مخ نه دي راغلي. ما غوښتل چــې د دغو مخورو یادونه، خاطرې او خبرې اترې له ذهنونو څخه د کاغذ پر مــخ لوستونکو ته وړاندې کړم، خو په دې دوو کلونو کې د هېواد حالات داســې راغلل، چې د ژوند د چارو د دېرو برخو توازن ګډوډ شو، نو پــه دې وجــه د هغو کسانو لیدنه کتنه راته ګرانه شوه چې ددې کار لپاره ضرور وو. لــه دې کبله زما نیمګړی زیار نیمګړی پاتې شو. هیله لرم چې درانه لوســتونکي او د محمد ګل خان مومندبابا د پتمنې لارې لارویان او مینان به زموږ د عــذر دا ټکی له پامه ونه غورځوي.

په دېر درنښت

په توله پښتنه مینه

اسمعیل یون

۲۰/۵/۱۳۷۳

پېښور

# لومړی څپرکی

## د محمد ګل خان مومند ژوند لیک

((ښاغلی محمد ګل خان د محمد خورشید غونډ مشر زوی، د مومن خان لمسی، د عبدالکریم کړوسی په قوم حسین خېل مومند دی. د (۱۳۰۳هجري قمري) کال د روژې میاشتې پر ۱۳ ورځ د کابل د اندرابیو په کوڅه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړه او دود علوم یې په خصوصي ډول له پوهانو څخه لوستي دي)).

پر (۱۳۲۷هـ ق) کال د حربي ښوونځي په دویم ټولګي کې د زده کوونکي په توګه شامل او تر پنځه کلنې تعلیمي دورې نه وروسته بریالی فارغ شو او د اردلانو په غونډ کې د توپچي ځانګې د قوماندان په حیث وټاکل شو. په دغه شاهي ټولګي کې یې له یوې خوا کندک ته درس ورکاوه، له بلې خوا یې د حربي ښوونځي د سرښوونکي په توګه وظیفه اجرا کوله او ددغه بریالي خدمت په نتیجه کې دسپه سالارصالح- محمد خان د یاور په حیث مقرر شو او د شاهي ګارد د قوماندانۍ چارې هم وروسپارلې شوې.

محمد گل مومند د (۱۲۹۸ل) کال د جوزا پر میاشت، د هغــه هیئــت غړی و چې د محمد ولي بدخشاني په مشرۍ (مولانــا ســیف الــرحمن الکوزی، فیض محمد زکریا، محمد اسلم میرشکار، بشــیر احمــدخان، عبدالحمیدخان، عزیزالرحمن فتحي، محمد ادیب افنــدي، عبــدالغني ترجمان، غلام جیلاني)، د افغانستان د خپلواکۍ د معرفي لپاره اروپا او امریکا ته ولاړ.

ده پر (۱۳۰۳ل) کال د پکتیا د عسکري قوماندان او اعلی حاکم، پــر ۱۳۰۶ کال د مزارشریف د ملکي تفتیش د رئــیس پــه حیــث او بیــا د ننگرهار د عسکري قوماندان په حیث پر کار شروع وکړه. په سقوي نــا ارامیو کې لومړی پر کور ناست و. څرنگه چې عمومي امنیت او د هېواد خپلواکي یې په خطر کې ولیده، نو له خپل رسمي او ملي نفــوذ څخــه یې د وطن د نجات لپاره کار واخیست او پر مبارزه یې شروع وکړه. تــر سقوي نا ارامیو وروسته محمدگل مومند د لومړۍ کابینې په تشــکیل کې داخله وزیر او سربېره پر وزارت د ننگرهار د تنظیمه رئیس په حیث وټاکل شو او تر هغه وروسته د پــروان او کاپیســا ولایتونــو د چــارو د تنظیم لپاره مقرر شو او بیا پر (۱۳۰۹ل) کال د ولایتونــو؛ د کنــدهار او فراه ولایتونو د تنظیمه رئیس پــه حیــث مقــرر شــو او پــه زړه پــورې خدمتونه یې ترسره کــړل. پــر (۱۳۱۲ل) کــال د قطغــن، مزارشــریف، بدخشان او میمنې د تنظیمه رئــیس پــه توگــه وټاکــل شــو او د ښــو

خدمتونو له کبله یې د لمر عالي نښان واخیست. پــر (۱۳۱۹ل) کــال د دولت د وزیر په حیث مقرر شو. محمد گــل خــان مومنــد د (۱۳۳۴ل - ۱۹۵۵م) کال د لویې جرگې چې د انگرېز د امپریالیزم په مقابل کــې د پښتونستان د مسالې په باب د گډ تصمیم نیولو په غرض جوړه شــوې وه، د نایب سالار وظیفه اجرا کړله.

محمد گل خان مومند چې پښتانه یې د بابا او دادا په نوم یادوي پــر (۱۳۴۳ل) کال د اسد میاشتې پر (۲۷) مه ورځ د سهار پــر (۸) بجــو د (۸۰) کالو په عمر د زړه درېدو په اثر، د کابل په بریکوټ کې وفات شــو او په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو (۱)) (( د مرحوم محمد گل خان مومند د جنازې په مراسمو کې د هغه وخت د دولت ډېرو لوړو دولتي اشخاصو برخه اخیستې وه)).

له محمد گل خان مومند ځخه یو اولاد (یوه لــور) پــاتې چــې د لال پورې په شېراحمد نومي واده ده. ((دغه راز یو وراره یې محمــد پتنــگ نومېده، چې د محمد گل خان مومند تر وفات وروسته یې د ده د ځینو اثارو خپرولو ته توجه کوله)). (۲)

مرحوم محمد گل خان مومند په دري ژبه کې هم د ښه قلم خاونــد و، پر ترکي او روسي ژبو هم پوهېده.)) (۳)

# پر پښتني فرهنګ د محمد ګل خان مومند د هلو ځلو اغېزه

لکه څنګه چې دمخه مو وویل، محمد ګل خان مومند لکــه د نــورو پښتنو مشرانو په څېر نه یوازې د تورې خاوند و، بلکې د قلــم او ادب د دنیا لویه شتمني هم ورپه برخه وه او په دې برخه کې هــم ډېــر زیــات خدمتونه کړي دي. که له تفصیل نه ډډه وکړو، نو کېدی شي پر پښتني فرهنګ باندې د محمد ګل خان مومند د هلو ځلو اغېزې او تاثیرات په لاندې ډول په ګوته کړو:

## الف- په ژورنالیستیکه او خپرنی برخه کې:

لوی افغان مفکر سید جمال الدین افغان وایي: (( اخبار د یوه ولــس ژبه ده)) په اوسنی پرمختللې نړۍ کې د ژبې او ادبیاتو د پرمختګ ډېــر غټ او دروند بار د ژورنالیزم پر اوږو او متو پروت دی. محمد ګــل خــان مومند په ډېرې ځیرتیا سره همدغه آر ( اصل) ته متوجه و او د لــومړي ځل لپاره یې پر (۱۳۱۱ل) کال، په کندهار کې د (طلوع افغان) اوونیــزه په پښتو کړه، دا په افغانستان کې لومړنی اوونیزه ده، چې په پښتو ژبه

خپرېږي، د دې اوونیزې مسوول چلوونکی لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي و. تر هغه وروسته دا جریده په پښتوژبه خپرېدله،له طلوع افغان پرته (( پر (۱۳۱۱ل) کال یې د ((پښتو)) په نامه یوه مجله هم خپروله، چې وروسته بیا د کابل له مجلې سره یوځای شوه، د کابل مجله هم لومړی په دري او پښتو خپرېدله، خو کوم وخت چې د کابل ادبي انجمن په (( پښتو ټولنه)) بدل شو نو د کابل مجله هم ټوله پښتو شوه)). (۴)

## ب- د ادبي ټولنو په جوړونه کې:

د محمد ګل خان مومند بل لوی ادبي خدمت دا و، چې ادبي ټولنې یې جوړې کړې، څکه د انفرادي او ډله ییز خدمت او خوځون ترمنځ ډېر توپیر وي. محمد ګل خان مومند کله چې د کندهار تنظیمه رئیس و نو هلته یې پر یو لړ سترو ادبي هڅونو او کارونو لاس پورې کړ.

((د (۱۳۱۱ل) کال د قوس پر (۹)مه نېټه یې په کندهار کې پښتو ادبي انجمن)) تاسیس کړ. په پای کې دا انجمن کابل ته راغی او د کابل له ((ادبي انجمن)) سره یوځای شو او وروسته د کابل ادبي انجمن پر ((پښتو ټولنه)) بدل شو)). (۵)

## ج- د روزنې او پالنې په برخه کې:

استاد گل پاچا الفت د فکر پالونکي او روزونکي ته په خپلــه د یــوه مفکر په سترگه گوري او د دواړو مقام یو شان گڼي، ځکــه کــه د فکــر پالونکي هڅې او کوښښونه نه وي ، نو د یوه مفکر منځته راتگ تر ډېره حده له امکانه لرې برېښي.

څومره نوښتگرو او لویو لیکوالو چې د محمــد گــل خــان مومنــد د پالنې، روزنې او هڅونې تر سیوري لاندې خپلــو ادبــي هڅــو تــه دوام ورکړی، نن یې په پښتو ان په گاونډیو ژبو کې ساری نــه شــو لیــدلای. وایي کله چې د محمد گل خان مومند په لارښوونه لوی استاد علامــه پوهاند حبیبي د ((طلوع افغان)) اوونیزه پښتو او بیا یې لومړی گڼــه د هغه د کار پر مېز کېښوده، نو محمد گل خان مومند له ډېرې خوښۍ او خوشالۍ استاد حبیبي د خپلې مهربانۍ پر وړانگو تود کړ؛ کابل ته یــې وړاندیز وکړ، چې استاد حبیبي ته دې جایزه ورکــړای شــي، نــو لــوړو مقاماتو استاد ته (۳۰۰۰۰ افغانۍ) د جایزې په توگه ورکړې، چې د هغــه وخت دېرش زره افغانۍ د اوس وخت له ملیونونو افغانیو سره معــادلې دي. دغه راز یې استاد حبیبي ته ( دوه جریبه ځمکــه) د کنــدهار پــه شاوخوا او یو څه نوره ځمکه د کندهار په احمدشاهي حدودو کې هــم ورکړه. همدارنگه محمــد گــل خــان مومنــد د پښــتو ژبــې او ادب د لا غوړېدنې لپاره په بېلابېلو وختونو کې بېلابېلې ادبي مسابقې او کانکورونــه جوړول، د بېلگې په توگه به له دې ډول مسابقو څخه د یوې یادونه وکړم.

استاد قیام الدین خادم وایي:

[ (( زما وما- او - څوک)) مسئله د محمد ګــل خــان وزیــر صــاحب داخله له خوا په مسابقې کې کېښودل شوه، چې ددې کلمــو تفریــق د ګرامر په لحاظ هر څوک وکړي او د استعمال ځایونه یې وښیي، هغه به انعام وړي. په دې مسابقه کې ډېر پښتانه ادیبان شامل شول، مګر پــه اخره کې هغه څه چې ما لیکلي وو، قبول شول او یو اومیګا ســاعت او پارکر قلم د وزیر صاحب له خوا ماته په نمانځنه کې راکړل شول))] (۶)

سربېره پر دې محمد ګل خان مومند د یــو زیــات شــمېر پښــتنو د اولادونو لپاره ښوونځي جوړ کړل او په هغو کې یې د هغــوی لپــاره پــه خپله مورنۍ ژبه (پښتو) د درسي چارو د پرمخبیولو امکانات برابر کړل.

## د- د ژبې په دفتري کولو او رسمي کولو کې:

پوهان ژبه د کلتور اعراده بللې او د یــوه ملــت د کلتــور د خونــدي ساتلو لپاره ژبه اساسي وسیله ده. فضل احمد غر افغان وایي:

(( ګوره خپله ژبه پرې نه ږدې افغانه

چـــې هـــمدغه د قومي ترقۍ جړ دی))

پاچا خان د یو قوم سپکوالی او ورکوالی د هغه په ژبــه کــې گــوري. وايي: (( چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه ســپک شــي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو هغه ورک شي)).(۷)

علامه محمود طرزي وايي: (( یو ولس په ژبه او ژبه په ادبیاتو ژوندۍ پاتې کېږي.)) (۸)

محمد گل خان مومند د ژبې همدغه ستر ارزښت ته په ډېــر دقــت متوجه و او په دې برخه کې د خاص او ځانگړي نظر خاوند و.

هغه ته د ژبې د پرمختگ بنسټیز لاملونه (عوامل) ډېر ښه معلوم وو، نو په همدې وجه یې پر عملي فعالیتونو لاس پورې کړ. وايي د یوې ژبې د پرمختگ لپاره څو ټکي ډېر مهم دي، یو دا چې ژبه مذهبي بیز ولري، رسمي یانې دفتري او دولتي شي او بل علمي او اقتصادي بیز او اهمیت ولري. خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی وايي: (( د یوه قوم ژبه هغــه وخت پرمختگ کولای شي، چې اولادونه یې په خپله مورنۍ ژبه تعلیم وکړي)). (۹) په خپله محمد گل خان مومند وايي: ((ژبه بایــد وســاتله شي، وپاللــه شي، وروزله شي، ارته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هر حیث د ملت د مرستو اړنیو او احتیاجاتو ته کافي شي)). (۱۰)

محمد گل خان مومند د ژبې د پرمختگ د پورتنیو عواملو په پام کې نیولو سره لومړی دخپلې ژبې د عملي رسمي کولو او دولتي کولو لپاره

هڅه او هاند پیل کړل. يو زيات شمېر پښتنو روښاندانو يې ملا وروتړله او د وخت دولت يې په دې حقيقت قانع کړ چې د پښتو ژبې رسميت او دفتري کېدو ته جدي ضرورت دی او بل دا د پښتنو مسلم حق دی، چې په خپل هېواد کې يې خپله ژبه رسمي او دفتري وي. د همدغو عواملو له کبله (( پر ۱۳۳۶کال د دولت له خوا يو فرمان صادر شو او پښتو ژبه يې د دولت د رسمي ژبې په حيث اعلان کړه.)) او وروسته په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د پالنې او پرمختيا لپاره يوه ماده ځای کړای شوه، چې دولت په دې خبره مکلفوي چې د پښتو ژبې د پالنې او پرمختګ لپاره هاند او هڅې وکړي.

# د پښتنو په اوسني تاریخ کې
# د محمد ګل خان مومند دریځ

د پښتنو ټول ژوند له پېښو او حوادثو ډک دی. که څوک د پښتنو تاریخ په دقیقه توګه ولولي، نو ورته څرګنده به شي، چې دې ملت د خپل ژوند په اوږدو کې ایله که څو لسیزې سر په سر په ارامۍ او سوکالۍ کې ژوند تېر کړی وي. دومره جګړې پرې راتپل شوي او له دومره جګړو سره مخامخ شوی او دومره طبیعي بدمرغیو ورته مخه کړې، چې د نړۍ ډېر کم ملتونه به ورسره مخامخ شوي وي. کله چې پښتانه دې نړۍ ته راځي، نو په ډزو بدرګه کېږي او هغه بلې دنیا ته هم ډېر د ډزو له کبله ځي. د پښتنو معاصر تاریخ د خونړیو جګړو شاهد دی. دا جګړې د نړۍ د ستر ښکېلاک (انګرېز) له خوا زمونږ پر ولس راتپل شوی.

خو څرنګه چې زمونږ ولس د توري مېړنی دی، نو د جګړې ډېرې بریاوې یې په برخه شوي دي. یو پوه وایي: ((پښتانه یې په توره ګټي او په سیاست یې بایلوي)). (۱۱) خو له دې سره سره بیا هم پښتانه داسې اتلان لري، چې هم یې توره چلولې او هم قلم، هم د عمل د ډګر توریالي وو او هم د پوهې او تدبیر. له امیر کروړ جهان پهلوان نه نیولې

تر شېرشاه سوري، بایزید روښان، خوشال خان ختک، میرویس نیکــه، لوی احمدشاه بابا پورې ټول د توري او قلم، پوهې او تدبیر اتــلان تېــر شوي دي. په اوسني عصر کې موږ یو بل اتل هم لرو، چــې هغــه هــم د تېرو مشرانو په شان د توري او قلم، فکر او پوهې د لوېې شتمنۍ خاوند دی. دا اتل محمد گل خان مومند دی. محمــد گــل خــان مومنــد د ننگرهار په جبهه کې د سپه سالار صالح محمد خان د یاور په حیــث د خپلواکۍ په جگړې کې گډون درلود او افغاني لښکر یې د تباهۍ او بې دسیپلینۍ له بلا څخه وژغوره او د انگرېز د تورو پــه مقابــل کــې یــې حیثیت ور اعاده کړ)). (۱۲)

د هېواد د خپلواکۍ لپاره پر مېړانې سربېره محمد گل خان مومند د سقاوي اغتشاش د تورې دورې په له منځه وړلــو کــې هــم لــوی لاس درلود او هېواد یې د جهل، ناپوهۍ او فساد له منگولو څخــه پــه ډېــره لنډه موده کې خلاص کړ.

د محمدگل خان مومند د نــارینتوب یــوه بلــه بېلگــه داده چــې د شینوارو د بغاوت پر وخت (( د جلال اباد ښار د ټولې جگړې پــه تــرڅ کې، د جلال اباد او کابل ترمنځ ارتباط د یوې الوتکې په وسیله ټینگ و چې هره ورځ به تله راتله، مرکز ته به یې د جنگ راپورونه راوړل او لــه دې ځایه به یې اوامر او فرامین وروړل.

جگړه ورځ پر ورځ زیاتېدله او د ښار محاصره ټینگېدلـه، تـل بـه دا اوازې خپرېدې چې د امان الله خان حکومـت نسـکور شـوی، خـو د الوتکې تگ راتگ د عسکرو او لښکرو د زړه تسلي و، امـا د جـدي پـر ۲۴مه[1] الوتکه له کابله رانغله، بله ورځ هم رانغله او په خلکو کې داسې گونگسی خپور شو چې کابـل د سـقاو زوی نیـولی دی، والـي علـي احمدخان[2] ته هم خبر راورسېد، ده چې له پخوا نه ځان تیار کړی و، نو

---

[1] د ۱۳۰۷ لمریز کال د جدي ۲۴ تاریخ دی.

[2] علي احمد خـان د شـینوارو د بغـاوت پـر وخـت د ننگرهـار والـي و، دی ډېـر ځانغوښتونکی انسان و، د هېواد د لوړو گټو د ساتلو خیال یې په زړه کې نه و، کله چې شینوارو د جلال اباد ښار محاصره کړ، نو ملي مبارز زمانخان د خپلو ملي لښکرو په واسطه هغوی ته ماته ورکړه، خو علي احمد خان د میرزمانخان بری او ښه شهرت په زړه کې نه شو زغملی، نو همغه و، چې بله ورځ یې د یوې قومي جرگې په ترڅ کې میرزمانخان ته امر وکړ، چې د شینوارو باغیان له منځه یوسي، میرزمانخان که هر څومره هڅه وکړه، چې والي علي احمدخان په دې خبره وپوهوي، چې په جرگه کې د ټولو خلکو په مخ کې پر هغوی باندې حمله کول هم د جنگي تاکتیک لـه مخې غلطه خبره ده، ځکه چې هغوی مخکې تر مخکې په دې راز خبرېږي او هم د جرگې د دود او دستور له مخې، خو علي احمد خان ډېر ټینگار کاوه او ویل یې چې زه د امان الله خان نماینده یم ته چې زما امر نه منې، لکه د امان الله خان امر چې نه منې، څرنگه چې امان الله خان میرزمانخان ته ورور ویلي وو او هم یې د لوی خان لقب ورکړی و، نو همغه و چې میرزمانخان جگړې تـه لاړ. څرنگه چې شینواري مخکې تر مخکې له دې جگړې نه خبر وو، نو همغه و چې میرزمانخان لښکرو تـه یې سخته ماتـه ورکړه ، نو ځکه د والي علي احمد خان ناوړه هیله ترسره شوه. پر دې وخت د سقاو د زوی د پاچاهۍ اوازې شوې، علي احمدخان چې مخکې تر مخکې یې د پاچاهۍ خیالونه لیدلي وو دا موقع د ځان لپاره مناسبه وگڼله او ځان یې د امان الله خان د وارث په توگه معرفي کړ او له خلکو څخه یې د بیعت غوښتنه وکړه. محمد گل خان مومند چې

دولتي مامورین او منصبداران یې راغونډ کړل او ورته ویې ویل: ((زه دلته د امان الله خان د وکیل په توگه ټاکل شوی وم، خو اوس چې هغه تخت پرېښود، نو تاسې باید ماته د باچایۍ بیعت راکړئ!

څو محدودو منصبدارانو له ده سره بیعت کول ونه منل، چې په دوی کې یو محمدگل خان مومند او بل نورستانی کپتان حمیدالله و، چې د دې انکار په نتیجه کې یې دواړه کلک کلک په لرگو ووهل)). (۱۳) بل لوی او د یادونې وړ خدمت چې محمدگل خان مومند پښتنو او په عمومي ډول افغانانو ته کړی دی، هغه په پښتنو کې د ملي شعور راټوکول و او په دې ډول یې پښتانه ( د یو بل لوی ښکېلاک) په مقابل کې د سپر په توگه ودرول، پښتانه یې د راتلونکو څو لسیزو عواقبو ته متوجه کړل، چې کېدی شول د هغو په وجه د بهرنیو دښمنانو په لمسون او لاسوهنې، د افغانستان فعلي بڼې بدلون موندلای وای، خو د محمد گل خان مومند د فکر لرلید دومره دقیق و، چې دا ټول عواقب یې مخکې تر مخکې له نظره تېر کړي وو. بل یې پښتانه د ښاري ژوند دلارو په لټون پسې وهڅول او د اقتصادي سرچینو د پلټنې او لاسته راوړنې لارې او گودرې یې ور په گوته کړې. خو که په لنډ او خلص ډول

یو زیرک افسر او سیاستوال و، د علي احمد خان پر ټولو هیلو، نیتونو او چلندونو ښه خبر و، نو هغه ته یې له بیعت څخه ډډه وکړه او ویل یې چې امان الله خان باید بېرته پاچا شي، خو علي احمد خان هغه تر سختې فزیکي شکنجې لاندې ونیو، خو محمد گل خان مومند له خپلې عقیدې نه وانه وښت.

د پښتنو په اوسني پېښليک (تاريخ) کې د محمد ګل خان مومنــد پــر دريغ خبرې وکړو، نو وبه وايو: دی د پښتنو داســې يــو ســتر ملــي او فرهنګي شخصيت دی، چې د هېواد د ملي واکمنۍ د کورنيو او بهرنيو دښمنانو د قوت روح يې مخکې تر مخکې ځپلی او د فکــر مــزي يــې ورشلولي دي، پښتانه او په مجموع کې ټول افغانان يې له يو لوی رنــځ او خطر ياني د يو خپلواک افغانستان له ټوټې ټوټې کولو څخه ژغــورلي دي.

# محمد ګل خان مومند  او پښتونولي

پښتو نه یوازې زموږ د ژبې نوم دی، بلکې زموږ د کلتور او ټولنیز دود معنوي رمز هم په کې پروت دی، پښتانه په پښتو سره راټـولېږي، پـه پښتو پرېکړه کوي او په پښتو لوړه.

ځینو د (پښتو) له کلمې څخه، څو ماناوې راکښلي، چې دا ماناوې او خویونه په یوه پښتون کرکټر کـې تجـلا مـومي. (پ)، د پـت؛ (ښ)، د ښېګڼې؛ (ت)، د تورې؛ او (و) د وفا د ماناوو ښکارندویي کوي. که څـه هم په یوه انسان کې د پښتو د بشپړو معنوي ارزښتونو د ټولو څرګونـو لیدل څه ګرانه خبره ده، خو ځینې داسې پښتانه هم شته، چې د یـوه پښتون کرکټر بشپړې ځانګړنې په کې ځلېږي. یو لـه داسـې پښـتنو کرکټرونو څخه محمد ګل خان مومند دی. فکر کوم د محمد ګل خـان مومند په فکر، احسـاس، عـاطفې او روحیـاتو کـې چـې د پښـتو او پښتونولۍ څومره جذبې او ولولې جاري وې د ډېـرو کمـو پښـتنو پـه روحیاتو کې که پښتو دومره ځای نیولی وي. محمد ګـل خـان مومنـد هغه شخصیت و، چې پښتو یې ویلې، پښتو یـې لیکلـې او پښـتو یـې ترسره کړې ده.

محمد ګل خان مومند د پښتو او پښتونولۍ په باب یوه رساله هم لیکلې ده. د دې رسالې نوم دی ((لنډکې پښتو)). په دې رساله کې د محمد ګل خان مومند هغه افکار راټول شوي چې د پښتو او پښتونولۍ په باب یې لري.

(( مرحوم مومند په پښتو لیکلو او پښتو ویلو کې د سوچه والي کلک طرفدار و او د کوم څیز لپاره به یې چې په پښتو کې لغت بیاموند، نو د پردي لغت استعمال ورته ادبي کفر ښکارېده. که به چا د ده پر وړاندې د پردۍ ژبې لغت استعمال کړ، ده به ورته ویل: ((وروکیه! پوه نه شوم، څنګه؟)) څو چې به هغه سړی په خپله خپلې وینا ته ملتفت شو.)) (۱۴)

دلته به له پښتو او پښتونولۍ سره د محمد ګل خان مومند د اورنۍ مینې او افکارو یو لنډ جاج وړاندې کړو، وبه ګورو چې دې لوی پښتون له خپلې ژبې او پښتونولۍ سره څومره د زړه له تله سپېڅلې او رواني مینه درلودله. محمد ګل خان مومند وایي: (( پښتو، پښتو منل، پښتو ویل، پښتو کول او پښتو چلول دي. پښتانه په پښتو سره پښتانه وو او په پښتو سره به پښتانه وي. پښتانه په پښتو چلېدلي وو او په پښتو به وچلېږي. پښتانه په پښتو پېژندل کېدل په پښتو به پېژندل کېږي او په پښتو به وپېژندل شي. پښتانه په خپل منځ کې هم په پښتو یو له بله سره پېژني په پښتو سره عزیزان او یو پر بل ګران دي.

د پښتنو خپلوي په پښتنو سره ده، خپل او پردي پــه پښـــتو ســره ځرګندېږي او بېلېږي. پښتانه په پښتو باندې سره پــوهېږي، د پښـــتو خوږه مرکه په پښتو کېږي. پښتانه له پښتو نه خوند اخلي.

تر ټولو خوندوره مرکه د پښتو ده...

پښتو د پښتنو تفکرات، تخيلات، ذوق او هر څه سره يو شانته او يــو کوي.

ــ پښتو خورا خوږه وروري ده.
ــ پښتو صله رحمي ده.
ــ پښتو شفقت دی.
ــ پښتو مرحمت دی.
ــ پښتو مهرباني ده.
ــ پښتو مروت دی.
ــ پښتو ښېګڼه ده.

کونډې، رنډې، يتيمان، بېوزلي او مسکينان، ړانده او ګوډ، په پښـــتو ساتل کېږي. که پښتو وه يو د بله خوښ، يو پر بل راضي، يو پر بــل بــه ښاد يو.

که پښتو نه وه يو د بله ناخوښه، يو د بل نه ناراضه او يو به هم پر بل ښاد نه شو. که پښتو وه زه به تا درنوم او ته به ما درنوې.

ــ پښتو اصيلتوب دی.

ــ پښتو سیالوالی دی.

ــ پښتو نجات دی.

ــ پښتو عزت دی.

ــ پښتو کې بې پتي، دګلتوب (حقارت) نه شته، ځکه چې پښتانه یې نه شي منلی.

ــ پښتو دروندوالی (وقار) دی.

ــ پښتو د پښتنو درنول دي.

ــ پښتو کې ټیټال او تملق نه شته.

ــ پښتو کې سپکه نه شته، نو ځکه سپک پښتون نه دی.

ــ پښتو شرافت دی.

ــ پښتو ښه نیت دی.

ــ پښتو د پښتنو او مسلمانانو خیر غوښتنه ده.

ــ پښتو ښه اخلاق دي.

ــ پښتو سپېڅلتوب (تهذیب) دی.

ــ پښتو تدبیر دی.

ــ پښتو سړیتوب دی او سړیتوب پښتو ده.

ــ پښتو انسانیت ته خدمت دی.

ــپښتو قناعت دی.

ــ پښتو په حق درېدل دي.

ــ پښتو صبر دی.

ـ پښتو حوصله ده.

ـ پښتو هاند او کوښښ دی.

ـ پښتو دین، وطن او د پښتانه ولس ته خدمت دی.

ـ پښتو ایثار دی.

ـ پښتو فدا کاري ده.

ـ پښتو تکړه توب دی.

ـ پښتو غښتلتوب دی.

ـ پښتو کې خیانت نه شته.

ـ پښتو کې ټګي نه شته، ټګ پښتون نه دی.

ـ پښتو کې غلا نه شته.

ـ پښتو کې تالا نه شته.

ـ پښتو کې ظلم نه شته، ظلم بې پښتوالې دی.

ـ پښتو د مظلوم حمایه ده، په نیمې شپې کې له غـړه سـره سـم د پېښې ځي ته ځان رسول پښتو ده، غلـه، جـاني او خـاین نـه چيغـه ويستل او نيول يا يې وژل پښتو ده.

ـ پښتو صداقت دی.

ـ پښتو پاک زړه دی.

ـ پښتو سلیم وجدان دی.

ـپښتو روغه پوهه ده.

ـ پښتو ده چې پښتانه له بدو چارو ساتي.

ـ پښتو دوا ده.

ـ پښتو شفا ده.

ـ پښتو د پښتانه د زلمو ښکلا او د پېغلو ښایست دی.

ـ پښتو د پښتنو ګاڼه ده.

ـ پښتو پسول (زینت) دی.

ـ پښتو حیا ده.

ـ پښتو د پښتنو د نارینه وو پګړۍ او د ښځو ټیکری او پوړونی دی.

ـ پښتو عفت دی.

ـ پښتو عصمت دی.

ـ پښتو سمه عقیده ده.

ـ پښتو ایمانداري ده.

ـ پښتو پر مسلمانۍ ټینګېدل دي.

ـ پښتو پر ځان باور دی.

ـ پښتو ډوډیماري ده.

ـ جهل په پښتو ورکېږي.

ـ علم په پښتو زده کېږي.

ـ زده کړه په پښتو کېږي.

ـ پښتو د علماوو منڼه او احترام دی.

ـ پښتو پانګه (سرمایه) ده.

ـ پښتو کې د دواړو نړیو ګټې دي.

ــ پښتو ازادي ده.

ــ پښتو قوت دی.

ــ وطن په پښتو ژغورل کېږي.

ــ پښتو لوړ همت دی.

ــ پښتو توره ده.

ــ پښتو نارینتوب دی.

ــ پښتو تورزنتوب دی.

ــ پښتو د پښتنو هر ګوره کلک سنګر دی.

ــ پښتو لطف دی.

ــ پښتو قانون دی.

ــ پښتو انتظام دی.

ــ پښتو د سمو مشرانو مننه ده.

ــ پښتو د خاینو مشرانو رټنه ده.

ــ جنت پر اسلام باندې په پښتو کولو ګټل کېږي، حورې، غلمان او د جنت بې شمېره نعمتونه پښتنو ته په پښتو لاسته ورځي.

ــ پښتو د پښتنو د دواړو نړیو د سعادت ضامنه ده.

ــ پښتو د پښتنو د ټولنې روح دی.

ــ پښتو خو نو پښتو ده، پښتو ده.

ــ پښتو ده او پښتو (پښتونواله) ده.)) (۱۵)

# دویم څپرکی

# د محمد ګل خان مومند اثار

لکه څنګه چې مو دمخه وویل، محمد ګل خان مومند لکه د پښتنو د نورو مشرانو په شان هم د تورې، غیرت او مېړانې د شتمنۍ څښتن و او هم د قلم او ادب د معنوي پانګې خاوند او همدا دواړه یې د پښتو او پښتونولۍ د خدمت لپاره د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه وکارول.

د محمد ګل خان مومند یو شمېر لیکنــې او اثــار تراوســه پــورې د هېواد په ځینو مهالنیو خپرونو کې او ځینې یې هم پــه ځــانګړي ډول خپاره شوي دي، موږ دلته د محمد ګل خان مومند لیکنې او اثار تر دوو ډلبندیو لاندې څېړو:

الف- په ژبنۍ او علمي برخه کې.

ب- په ادبي برخه کې.

## الف- په ژبنۍ او علمي برخه کې:

د محمد ګل خان مومند د لیکوالۍ زیاته برخه پر همدې ژبنــۍ خــوا څرخي، ځکه هغه وخت او حالات چې محمد ګل خان مومند پــه کــې ژوند کاوه، داسې وو چې د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې کوم مهم اثر

نه ترسترګو کېده. محمد ګل خان مومند دې نیمګړتیا ته متوجه شو او په دې برخه کې یې کار ته ملا وتړله. دی په ژبپوهنــه کــې د ځــانګړي سبک خاوندو، چې هغه د کره، نږه او معیاري پښتو لیکل او ویل وو، تر ده وروسته ځینو نورو پښتنو پوهانو هم همدا لار ونیوله چــې کــولای شو، د بېلګې په توګه د پوهاند مجاور احمد زیار نوم واخلو. پوهاند زیار د خپلو ډېرو نوښتونو ترڅنګ د محمدګل خان مومند د ژبپــوهنې لــه اندود څخه ګټه اخیستې ده.

دا دی دلته د محمد ګل خان مومند پر دې ډول اثارو لنډه رڼا اچوو:

## ۱- پښتو سیند:

دا د پښتو ژبې د لغتونو قاموس دی، چې محمد ګــل خــان مومنــد لیکلی او پر ۱۳۱۶ل کال په لویه قطع ( د یوې تختې کاغذ په اندازه)، د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د دې اثر د مخونو شمېر (۳۶۶) ته رسېږي او د ټوکونو شمېر یــې دوه زره (۲۰۰۰) دی.

د اثر په پیل کې د پښتو د خاصو تورو او ځینو اوازونو په باب خبــرې شوي او بیا په څلورو مخونو کې د اثر د لیکدود په بــاب بحــث راغلــی دی.

استاد زیار په خپل یوه اثر (( ویي پانگه)) کې لیکلي، چې د یوې ژبې د بډاینې او شتمنۍ لپاره یوه لاره دا ده، چې پخواني وییونــه (لغتونــه) یې ذخیره شي او نوي لغتونه په کې جوړ شي. محمدگل خــان مومنــد وایي: (( د یوې ژبې ساتنه هم په دغه شان کېږي، چــې د هغــې ژبــې لغات چې لکه د هغې خزانه ده وساتل شي تر څو چې د لغاتو د ورکېدو په سبب ژبه او د ژبې د ورکېدو په سبب ملت د ادبي فقر او نکبــت پــه بلا ککړ نه شي او د مذلت په توره خاوره کېنني او نهایــت نــوم یــې د روزگار دمخه څنې ورک نه شي.)) (۱۶)

د ده په نظر که د ژبې لغت قید نه شي، هغــې ژبــې تــه نــور لغــات داخلېږي او پردي کېږي، هر څوک چې د یــوې ژبــې د لغــاتو قیــدول غواړي باید په خپلو همځنگو، گاونډیو او خپلوانو ژبو پــوه وي، چــې د نورو ژبو لغات د خپلې ژبې لغات ونه گڼي او د خپلې هغه د نورو...

په (پښتو سیند) کې د پښتو ژبې په سلگونو لغتونه ذخیره شوي، د هر لغت مانا او تفسیر یې په فارسي ژبه کړې ده.

## ۲- د پښتو ژبې لیاره:

پښتو گرامر په برخه کې د محمد گل خان مومند ډېر مهــم اثــر دی چې پر ۱۳۱۷کال د ساپي عبدالعظیم په اهتمام او لیک باندې په لاهور کې چاپ شوی دی، له سریزې پرته (۴۹۵) مخونه لري.

د اثر په پیل کې په (۱۴) مخونو کې په خپله د وزیر صیب له خوا یوه علمي او گټوره سریزه کښل شوې، په سریزه کې لومړی د یو ملــت پــه ژوند کې د ژبې پر اهمیت مفصلې خبرې شوي، وایي: (( د یوه ملت پــه ژبې کې هماغومره سیاست، اقتصاد، اجتماعیات، ملــي اخــلاق، اداب، ملي عادات، ملي رسومات او عنعنات، ټول ملي خصــایل او خصــایص، حتی په ذهنیت، افکار، حسیات او مدنیت یــې نفــوذ مینــده کــوي او هماغومره د هغې ژبې د خاوندانو نامریي برې، د دغــې بلــې ژبــې پــر خاوندانو تامینوي...)) (۱۷)

محمد گل خان مومند ددې کتاب په کښلو کې له زیاتو ستونزو سره مخامخ شوی دی، ځکه پر کوم مهال چې محمد گل مومند ژوند کاوه د بېلابېلو عواملو له امله د پښتو کتابونو شمېر ډېر زیات نه وو. د گرامر په برخه کې که د گوتو په شمېر د لیکلو کتابونو نومونه واخیســتلی شــو. وزیر صیب دې ټکي ته اشاره کړې ده، چې د پښتو گرامر او قواعدو پــه برخه کې کتابونه نه دي لیکل شوي او که لیکل شوي هم وي د پردو له خوا لیکل شوي او د دا ډول اثارو لیکل د یو غــرض لــه مخــې و، نــه د پښتو د خدمت لپاره. دی د دا ډول یو اثر یادونه کوي، چې په اردو ژبــه لیکل شوی و.

که څه هم پخوا ((پیرمحمد کاکړ د اتلسمې پېړۍ په نیمــایي کــې د (معرفة الافغاني) په نامه یوه ښوونیزه (تعلیمي) ډوله پښــویه کښــلې،

الماني ګیولډن شتیت تراوسه پورې لومړی ختیځ پوهاند بریښي چې تر پیرمحمد کاکړ څخه (۲۰-۲۵) کاله وروسته په خپل نوي فرهنګ کې د الماني دیګوري او اویستي وییونو ترڅنګ یې (۲۱۵) پښتو وییونه کښلي دي. پر ۱۲۲۱ل (۱۸۱۰م) کال د محمد ارتضاخان (د نواب امان الله خان زوی) چې فرهنګ ارتضایي نومي څلور ژبي (عربي، اردو، فارسي او پښتو) قاموس دی او پر همدغه کال د کلاپروت ګرامر هم د یادونې وړ دی.

پر ۱۲۲۸ل (۱۸۱۳م) کال د الله یار خان ( د نواب محبت خان ورور) عجایب الغات او په هغه پسې (کتاب و خیالات زماني در لغت و زبان (افغاني). دغه راز د (امدنامهء افغانی) د کړکر پوهې (فعلي صرف) یو بل کتاب چې یو ویي لیک (لغتنامه) را اخلي، د نولسمې پېړۍ په سر کې کښل شوی ښکاري... دغه راز ګیورک مورګن ستیرن، ګایګر، جرمني پوهاند ایوالد، میجرلیچ، کپتان واګن، راورټي، هانري والتر، الماني ازنیست ترومپ، جیمز دارمستتر، روسي ختیځپوهاند تامانو ویچ لاریمر)) (۱۸) او داسې نورو پوهانو د پښتو ګرامر، ویي پوهنې، ویي پانګې ، قاموس لیکنې، آر پوهنې او نورو کې څېړنې او لیکنې کړي، خو دا لیکنې او څېړنې یا د یاد شویو لیکوالو په هېوادونو کې د هغو په ژبه خپرې شوي اویا د محمد ګل خان مومند د اثر ( د پښتو ژبې لیاره) تر لیکلو وروسته خپرې شوي دي. نو په دې وجه محمد ګل خان مومند د

خپل اثر دلیکلو پر وخت په پښتو ژبه کې د نورو ژبنیو اثارو له شــتوالي څخه بې برخې و او بل دومره جامع ګرامر چې محمد ګل خان مومنــد ولیکه، تر ده دمخه چا نه و لیکلی او هغه کمی چې زموږ په ژبــه کــې د ګرامري اثارو د کمښت له کبله احساسېده د امکــان تــر حــده یــې دا کمښت له منځه یووړ.

محمد ګل خان مومند د خپلې سریزې په پای کې وایــي: (( د دغــه لامله چې زما په لاس کې اثار نه وو چې تنــې څــه ګټــې اخیســتې او استفادې کړي وای، نو ویلای شم چې د پښتو ژبې د لیارو او قواعدو په غونډولو کې ډېر ستړی شوی یم، ځکه چې ډېــره لټــه او پلټنــه یــې غوښته. ددغه کتاب په ترتیب البته د پردیو ژبو د کتابونو نه اســتفادې شوې او په هغه ترتیب سره لیکل شوی، اما پوهان او علمــاء صــاحبان پوهېږي، چې د ژبې لپاره (قواعد) څه د ترجمې کار نه دی، چې له بلې ژبې څخه ترجمه شي، کېدی شي چې زما تتبعات بشپړ نه وي یــا څــه رانه پاتې وي، نو ځکه زه به همدغه حکم نه کوم چې دغه کتاب غلطي او سهوه نه لري. هر ډول چې وي زه د پښتو او پښتنو پخوانی مــین او خادم یم ځان مسعود بولم چې دغسې وخت کې څښــتن تعــالی جــل وعلی شانه، ماته د دغه کتاب د تالیف توفیق راکړ. هیله کوم چې دغه کتاب د استفادې موجب هم وګرځي او د پښتنو او پښتو د شایقینو له خوا یو کوچنی چوپړ وګڼل شي.)) (۱۹)

ددې کتاب لومړۍ برخه صرف دی، چې دې کې د پښتو توري، د تورو ډولونه، ضوابط، خج، د تورو وتو ځي، نوم، د نومونو خاصیت، ډولونه، د نومونو اوښتنه، صفت، د صفت ډولونه. ضمیرونه، د ضمیرونو ډولونه، فعلونه، د فعلونو ډولونه او ادات راغلي دي.

دویمه برخه یې پښتو نحو ده، چې په دې برخه کې نیمگړي ترکیبونه، بشپړ ترکیبونه، اصلیه جمله، فرعیه جمله، مطلقه او مقیده جمله څېړل شوي دي.

د اثر درېیمه برخه مصادر دي، چې په هغې کې د پښتو (۱۵۶۶) بېلابېل مصادر معرفي شوي دي. د دې اثر په باب بل د یادونې وړ ټکی دادی، چې د پښتو ژبې په نسبتاً پخواني لیکدود لیکل شوی دی، چې اوس د پښتو ژبې په لیکدود کې یو لړ بدلونونه راغلي دي.

مثلاً د پښتو دغه توري ( ډ، ړ، ڼ،ټ) په کې په دې ډول لیکل شوي دي:

ډ = د تر (د) څخه یې لږ غټ لیکي.

ړ = ر تر (ر) څخه یې لږ غټ لیکي.

ڼ = نر

ټ = ت

دغه راز د کلمو په تړلو کې له اوسني لیکدود سره ډېر توپیر په کې لیدل کېږي، دا لاندې څو مثالونه یې د بېلګې په توګه وړاندې کوو:

| اوسنی لیکدود | د پښتو ژبې لیاره |
| --- | --- |
| کړی | کړه ی |
| لیدلای | لیدله ی |
| سترِی | ستړه ی |
| شوی | سوه ی |
| نیولای | نیوله یی |

او داسې نور مثالونه.

## ۳- لنډکی پښتو او پښتونواله:

( لنډکی پښتو) د محمد ګل خان مومند هغه رساله ده، چې د مرحوم استاد عبدالروف بېنوا د هغې ګیلې په ځواب کې، چې له پښتنو مشرانو څخه یې کړې وه او پر ۱۳۲۷ل کال په کابل مجله کې خپره شوې وه، لیکل شوې ده او پر همدې کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده. دغه راز استاد بېنوا دا رساله د اوسني لیکوال په درېیم ټوک کې هم د درېیم ځل لپاره خپره کړې ده.

د محمد ګل خان مومند د ځواب يوه برخه دلته راوړو:

(( زما غښتلی ورور بېنوا صاحب!

زه ښه روغ نه يم، نو ځکه ليک او لوست زيار راپېښوي که ډېر ضرور نه وي نه يې کوم بې دغه سرِ کال ختې مې هم درلودې چې درست کال د ورغومي د مياشتې ترسره پورې په هغو اخته وم. په ژمي کې ختې دربدلې وې او وزګارتيا وه، نو کله کله به مې د کابل مجلې را واخيستلې او څو کرښې ليا کوم مضمون او مقاله به مې ولوستله، څو ورځې مخکې مې په ۲۰۱ ګڼې کې د غښتلي غروال (( چې نوم او کام يې نه پېژنم)) د ځواب په ترڅ کې زما او د ځينو نورو پښتنو نه ستا ګيله ولوستله. که څه هم ته حق لرې خو موږ معذور يو او زموږ عذرونه نه دي څرګند.

زما خو بې نورو معاذيرو يو عذر د صحت ورانوالی دی، که نه دغه خو رښتيا ده چې پښتو يوازې ستا ليا د څو کسو نه ده، پښتو د پښتنو نيکونو نه راپاتې ميراث دی، چې په دغه کې درست پښتانه برخه لري او درست پښتانه بشپړه ګټه تنې اخيستلای شي، خو وېشلای يې نه شي... د پښتو تشريح چې د انساني، اسلامي او پښتني فضايلو بيان دی او د پخوانو پښتنو د اخلاقو، ادابو، عاداتو، دود او دستور او د ژوندانه د ډول او رواج ښوونه ده حقيقتاً خورا ګران کار دی او د هرچا

د لاسه نه دي پوره، لکه چې متل دی چې (پښتو چا ترسره کړې نه ده) همدغسې چا بشپړه څرګنده کړې هم نه ده...)) (۲۰)

په لنډکی پښـــتو او پښـــتونواله نـــومي اثـــر کـــې د ژبـــې، پښـــتو او پښتونوالې په باب د وزیر صیب درانه افکار ځلېدلې دي. دی په دې اثر کې د پښتو او پښتونولۍ هر اړخیز او جامع تصویر او تعریـــف وړانـــدې کوي، د یوه پښتون کرکټر ځانګړنې بیانوي او پښتو او پښتونولي د یوه مقدس، لوړ او پراخ قانون او ائین په توګه موږ ته راپېژني.

## ۴- روزنه:

د وزیر صیب محمد ګل خان مومند بل اثر دی، چې تراوســـه پـــورې چاپ شوی نه دی. مرحوم استاد بېنوا د (اوسني لیکـــوال) پـــه درېـــیم ټوک کې د دې اثر یادونه کړې، خو د څرنګوالي په باب یې څه نـــه دي ویلي.

## ۵- پخلی:

پخلی د محمد ګل خان مومند بل اثر دی، چې استاد بېنوا یـــې هـــم یادونه کړې، خو د څرنګوالي په باب یې څه نـــه دي ویلـــي. دغـــه راز د اصلاح ورځپاڼې د ۲۸/۵/۱۳۴۳ ل کال په ګڼـــې کـــې هـــم ددې کتـــاب یادونه شوې، خو په تفصیل سره پرې څه نه دي لیکل شوي.

## ۶- پښتني تربيه:

پښتني تربيه هم د وزير صيب محمد گل خان مومند يو بل اثر بلل شوی، چې د اصلاح ورځپاڼې په (۱۳۴۳ل/۲۸/۵) کال په گڼه کې يې يادونه شوې، خو په تفصيل يې پرې څه نه دي ليکلي.

## ۷- پخواني ملي او ادبي اصطلاحات:

د اصلاح ورځپاڼې د (۲۸/۵/۱۳۴۳ل) کال نېټې د گڼې له مخې د محمد گل خان مومند يو بل اثر دی، چې چاپ شوی نه دی او د قلمي نسخې په توگه په دې اثر کې پخواني ملي او ادبي اصطلاحات راغلي دي. ددغه اثر په باب بايد ووايم، چې د غزني يوه روښنفکره اوسېدونکي (غلام جيلاني خان) ماته وويل: (( زموږ د ځوانۍ شپې ورځې وې، نو موږ به څو تنه روښفنکره ځوانان وخت پر وخت د بابا ليدو ته ورتلو، د هغه د ژوند وروستي کلونه وو، يوه ورځ يې موږ ته وويل، چې ما د متلونو او د پښتنو د پخو خبرو په باب يو کتاب راپيل کړی، په دې کې مې يو شمېر متلونه راټول کړي دي.)) نو زما په گومان کېدی شي ( پخواني ملي او ادبي اصطلاحات) د وزير صيب محمد گل خان مومند همدغه اثر وي، چې پورته مو يادونه وکړه.

ددغو ياد شويو اثارو (روزنه، پخلی، پښتني تربيه او پخواني ملي او ادبي اصطلاحات) قلمي نسخې اوس زما په واک کې نه شته، چې د

نوموړو اثارو د څرنګوالي په باب بشپړې څرګندونې وکړم. خــو ( زمــوږ غازیان) اثر د ښاغلي مولف محمد ولي زلمي په قول: (( د محمــد ګــل خان مومند یو وراره محمد پتنګ نومېده، چې د ده تر مړینې وروســته یې د ده د ځینو اثارو په خپرولو کې توجــه کولــه.)) (۲۱) نــو شــاید د نوموړو اثارو قلمي نسخې هم له نوموړي سره خوندي وي.

دغه راز د وزیر صیب محمد ګل خان مومند دوه لیکنې چې د ده په خپل لاس کښل شوي، د هېواد له نومیالي محقق حبیب الله رفیع سره موجودې دي چې تراوسه چاپ شوي نه دي.

دا لیکنې هم د وزیر صیب د متفرقه لیکنو له جملې څخه دي:

۱- سیمه: د ګډ هېواد او خصوصاً د پښتنو د هېواد د ساتنې او ګډ مدافعیت په اړه مطالب لري.

۲- مېلمستوب: مېلمستیا او بلنه ده، په مېلمستیا عمومي بحث او دا چې پښتانه په مېلمستیا کې ډېر ییاوړي دي خصوصي بحث کوي.

۳- ټوکې: په دې مضمون کې ټوکې په جایزو او ناجــایزو برخــو وېشي، جایزې له اسلامي او پښتني ادابو مخالفې نه بولي او ناجایزې له داړو سره مخالفې ګڼي.

## ب- په ادبي برخه کې:

دمحمد ګل خان مومند د ژوند زیاته برخه او ورځنۍ چارې د دولت پر اداري کارونو، پر پښتو پالنې د نوي پښت پر روزنې او د مهمو ژبنیو علمي اثارو پر لیکلو تېر شوی، تراوسه پورې چا د محمد ګل خان مومند د ځانګړو تخلیقي ادبي اثارو په باب څه نه دي لیکلي، خو د شعرونو پخې بېلګې یې په لاس کې شته،د هغو د څرنګوالي له مخې ویلی شو، چې محمد ګل خان مومند د شاعرۍ د اوچتې قریحې او لوړ استعداد خاوند و او شایسته ډېر شعرونه به یې لیکلي وي. دلته یې لومړی د بېلګې په توګه یو ټوټه شعر راوړم او بیا به پرې لنډې خبرې وکړم.

### پښتونواله

نیکه پلار مې پښتانه وو یم پښتون
زمري یم، زمرزی یم، زمربون
زه پښتون یمه ښکاره یم لکه لمر
و غلیم ته تل ولاړ یم لکه غر
ماته ورځ د ننداري ده ورځ د جنګ
ورته درومم په اتڼ اوپه غورځنګ
د غورځي غرونه زما لکه ثنا
برېښېده د توري زما لکه برېښنا
د زمري په څېر غورځی کړمه غړمبېږم
لوړ لوړ غرونه لکه توی غونډې بهېږم

پـــر غلـــيم بانـــدې چـــې راشـــي زمـــا وار
اســـماني تنـــدر بـــه وي زمـــا گـــوزار
زه پښـــتون یمـــه پښـــتو بانـــدې څرگنـــد
کـــه دا نـــه وي زه بـــه یمـــه خوشـــې شـــند
پـــاتې مـــړې مـــې لـــه پـــلاره ده پښـــتو
ده پښـــــتو او پښـــــتونواله د پښـــــتو
پښـــتو زده کـــړه ده د علـــم او کمـــال
پښـــتونواله ده ښـــه تـــوره او ښـــه ډال
ښـــه خویونـــه دیانـــت مـــو ده پښـــتو
ښـــــه دودونـــــه او اداب د پښـــــتنو
پښـــــتونواله پښـــــتانه هوســـــوي
پښـــــتونواله پښـــــتانه بـــــه لـــــوړوي
پـــه پښـــتو بانـــدې وطـــن گټلـــی شـــوی
پـــه پښـــتو بانـــدې وطـــن ســـاتلی شـــوی
هـــم بـــه بیـــا وي پـــه پښـــتو بانـــدې گټـــل
هـــم بـــه بیـــا وي پـــه پښـــتو بانـــدې ســـاتل
پښـــتو کړمـــه، پښـــتو وایمـــه زه تـــل
ده لالـــی زمـــا پښـــتو نـــه لـــرم بـــل
ســـر او مـــال مـــې دواړه جـــار دي تـــر پښـــتو
ژونـــد او مړینـــه مـــې نثـــار دي تـــر پښـــتو
پښـــتانه کـــه د پښـــتو پـــر لـــورو ځـــي
دا نـــړۍ او هـــا نـــړۍ کـــې دي خونـــدي
پښـــتانه او پښـــتونواله دې وي تـــل
له پخوا نه یو پـه لـس او یـو پـه سـل (۲۲)

که موږ د وزیر صیب دې شعر او ځینو نورو شعرونو تــه پــه ژور نظــر وګورو، نو وینو چې د ده په شعرونو کې هم د پښتو پالنې، هېواد پــالنې او پر ځان باندې د باور پیاوړې روحیه لیدل کېږي. دی د یوه پښتون په توګه د دښمنانو پر ضد جنګ ته د زمري په څېر وردرومي، لکه خوشال بابا غوندې د غره په شان ورته په مخ کې ودرېږي او لکــه امیــر کــروړ جهان پهلوان د جنګ په میدان کې خپله توره چلوي. خپله خپلــواکي له چانه په زاریو او خیرات نه غواړي او دا لوی نعمت د تورې او ډال پــه واسطه خپلوي. هغه لکه یو دردمن مین له پښتو سره مینــه لــري، پــر پښتو مین دی، هغه د پښتو ژوند لوی نعمت ګڼــي او دا کــار د زړه لــه کومې کوي، د تجمل او سینګار لپاره یې نه غواړي. هغه پښتو یو ټولنیز قانون بولي او لارویان او عملي کوونکي یې د زغم او اتلولۍ خاونــدان. په شعرونو کې یې ( که د همغه وخت د شعرونو په پرتله) یې په پام کې ونیسو، هنریت، جذابیت، تبحر، روانتیا او ساده ګي لیدل کېــږي او پــه زیاتو سوچه پښتو کلمو یې پوښلي او ښکلي کړي دي. تر ډېره حده یې د نورو ژبو د کلمو له راوړلو څخه ډډه کړې ده.

په لنډ ډول ویلی شو، چې شعرونه یې په شــکلي (جــولیز) لحــاظ، ساده، عام فهمه او د پښتو په ځانګړو وییونو ښکلي کړای شوي دي او په محتوایي لحاظ یې، پښتو، پښتونولي، هېواد پالنــه او ملــت پالنــه د شعرونو مرکزي فکر جوړوي.

د کمیت له پلوه د وزیر صیب د شعرونو په باب دومــره ویــلای شــو، سره له دې چې په مستقل ډول دده د شعرونو کومه ټولګه تراوسه نــه ده چاپ شوې خو د شعرونو له قوت، د شعر پر ارکانو له حاکمیــت او د شعر له نورو ښېلګو څخــه یــې څرګنــدېږي چــې د شــعرونو ځــانګړې مجموعه یا مجموعې به یې درلودلې.

# درېیم څپرکی

# محمد ګل خان مومند د نورو له نظره

محمد ګل خان مومند د پښتني تاریخ یو داسې شخصیت دی، چې د ځینو نورو پښتنو مشرانو په څېر یې شخصیت له څو بعدونو څخه جوړ دی، هغه که له یوې خوا ښه پوځي و، نو له بلې خوا ښه ادیب او لیکوال هم و، هغه که له یوې خوا ښه سیاستوال و، نو د ملي مشرتوب، جرګه مارۍ او مرکې د ځواک وړانګې هم په کې ځلېدې. د محمد ګل خان مومند د شخصیت ژوند او اثارو په باب یو شمېر بهرنیو او کورنیو لیکوالو څه ناڅه لیکنې کړې دي، خو دا لیکنې دومره جامع او زیاتې نه دي، چې د وزیر صیب د شخصیت او اندو ژوند پوره جاج دې ترې واخیستل شي. خو په ولس او زموږ د خلکو په زړونو او فکرونو کې د هغه په باب ډېر څه شته، کیسې شته، روایتونه شته، نکلونه شته، یادونه، خاطرې او ډېرې نورې نا لیکلې خبرې.

د بهرنیو پوهانو له ډلې څخه ډاکټر پیچکا چکوسلواکیایي د محمد ګل خان مومند یادونه کوي، هغه د پښتو یو لوی عالم بولي او په خپل اثر ((پښتو خجڅېړنه)) کې د محمد ګل خان مومند له اثارو څخه ګڼه اخلي.

استاد عبدالروف بېنوا هغه د پښتنو د یو مشر او مبتکر لیکوال په توګه راپېژني او په ((اوسني لیکوال)) کې یې پېژندنه داسې کوي: (( خو دلته دی د وزیر یا رئیس په حیث نه معرفي کوو، بلکې ده ته د پښتنو، پښتو او پښتونولۍ د یوه لېوال مشر او مبتکر لیکوال په نظر ګورو. مبتکر یې ځکه بولو، چې ده د پښتو ژبې د لیکنې او ګرامر لپاره له ځانه د تورو نوي شکلونه او نوي تعبیرونه منځته را ایستلي وو، چې د ده ځینې اثار په همغو اشکالو او تعبیرونو چاپ شوي هم دي.)) (۲۳)

(( پښتونستان)) نومي اثر لیکوال، عبدالمنان دردمند یې د پښتنو د نومیالي مشر په توګه راپېژني. د ((زمونږ غازیان)) مولف محمد ولي زلمی یې د ملي مشر، ستر خدمتګار، د پښتو ژبې د پالونکي او غازي په توګه معرفي کوي.

استاد محمد اصف صمیم یې د یو بشپړ پښتون کرکتر او د خپلو ایډیالونو د اتل (زما اتل) په توګه راپېژني او همدارنګه نور لیکوال یې په نورو درنو نومونو او القابو یادوي. خو څرنګه چې په عمومي ډول افغاني ټولنه له لیک لوست څخه بې برخې ده، نو هغومره چې زمونږ د اتلانو په باب زمونږ د خلکو په زړونو او فکرونو کې یادونه پراته دي، هغومره نه دي لیکل شوي، ډېر داسې یادونه او خاطرې زمونږ د ګړني (شفاهي ادب) برخه ګرځېدلي دي. په عوامو کې محمد ګل خان مومند ته د ((بابا)) او ((دادا)) لقبونه ورکړل شوي او دا هغه لقبونه دي، چې پښتني ولس یې خپلو مشرانو او خدمتګارانو ته د هغو د لویو قربانیو په بدل کې ورکوي او هرڅوک ((بابا)) او ((دادا)) کېدی نه شي.

د محمد ګل خان مومند په باب زموږ د هېواد لــه یــو زیــات شــمېر روښاندانو، ټولنیزو شخصیتونو، قومي مشرانو او ولسي خلکو سره ډېر یادونه، روایتونه او حکایتونه شته، چې د ټولو بیان یې اوس زموږ د دې لیکنې له حوصلې څخه وځي. یوازې د هېواد د هغو څو تنو لیکوالــو او مخورو نظرونه به دلته راوړم، چــې مــا ورســره د هېــواد پــه اوســنیو کړکېچنو شرایطو کې ولیدل او د هغو نظرونه مې راواخیستل.

# ((د قام غمخور محمد ګل خان مومند))

((که څو تنه خانان، زمینداران، سوداګر او درباریان ځنې وباسو نور نو د پښتنو ژوند سترې ژوند دی او دا سترې ژوند د دوی د ژوندانه د خرابو شرطونو زېږنده ده.

ددې کم بخته سترې او سرګردان قام سارا شین تراوسه پورې لالهانده کوچیانی ژوند لري، نن دلته سبا هلته- چېرې چې یې ښه، هلته یې شپه- عمرونه یې په کوچ وبار کې تېر شول، په کېږدۍ کې زېږي، په کېږدۍ کې لويېږي او په کېږدۍ کې مري، اویا کلن زاړه او برنې لنګې پلې په اوښو پسې منډې وهي او په هر شواخون چې وي ځانونه مزله ته رسوي، تراوسه پورې لا دا اسکېرلي ټاکلی وطن نه لري او نه یې ټاکلې هدیره په نامه ده، د یوې کورنۍ پلار که د بابا غره په لمنو کې ښخ وي، کېدی شي چې د دغې کورنۍ مور د اباسین په غاړو کې خاورو ته سپارل شوې وي.

سره له دې چې ویل کېږي پاچهي د دوی د قام (پښتنو) ده، خو دوی تراوسه پورې لا د کور، کلا او باغ و پټي څښتنان نه شول او د پښو تڼاکې یې ورکې خو څه حتی لرې نه شوې.

دوی د رمو او تَووُ د ژغورنې لپاره له خونخورو لېوانــو ســره خپــړې لګوي او د ځانونو او اولادونو د ساتنې لپاره له سرکښو اقلیمي توپانونو سره ډغرې وهي، کله یې سېلونه کېږدۍ وړي او کله یې مالونه، کله یې ټکې پر رمو او تَووُ لوېږي او کله یې پر کلیو او کېږدیو.

وړۍ چې د دوی تر ټولو غټ عاید دی، خدای ناترسو ښاري سوداګرو سترګې ورته ډمارلې دي، د سکول په وخت کې د کوچیانو لارې نیسي او وړۍ په نیمه بیه ځنې ترلاسه کوي، د ښارونو خلک د دوی د مــالونو په غوښو او غوړو اربوده دي، خو دوی په تروو او پیاوو ګېډې مــړوي، د ارواښاد مولانا سیقي په قول جامو ته دوی ځکه کالي وایي چې په کال کې که یوه جوړه ورمیسره شوه، ځانونه نېکمرغــه شــمېري، د ښــځو ملاوې یې ماتې شولې، چې د لرو ګودرونو یا ژورو څهانو څخه په ژیو او ګړیو کې اوبه راوړي.

هغه پښتانه چې په کلیو کې مېشته دي او دیشین بلل کېږي، له څو تنو خانانو او زمیندارانو پرته نور د کښت و کر لپــاره کــافي ځمکــې او ډېری یې حتی بېخي ځمکې نه لري، ځینې یې د بل بزګرۍ او مزدورۍ ته اړ دي او ځینې یې په لمنو، څادرونو او بوجیو (بوریو) کې خــاورې د غرو لمنو ته په څــه ســتونزو او ســتړیاوو خېــژوي، نــازولي زوزات او خواخوږي تورسرې ورسره کار کوي او هلته پټي سازوي او د بارانو پــه هیلو څو دانې تخمونه په کې پاشي، په کوم کال چې اسـمان پــر ونــه

رحمېږي او کافي بارانونه ونه شي، حاصل خو پرېږده تخم یې هم هــدر ولاړ شي دا کم بخت او د خدای له نعمتونو څخه بې نصیب قــام جــوار ترخه کوي، چې لږ وخوړل شي، که ځینې پښــتانه واړه پتــي ولــري د تربرو سترګې پرې سرې وي، د پښتنو متل دی: (( د بــل پــه لاس کــې مړی غټه ایسي))، په لږه پلمه تربرونه یو د بل مرګ ژوبلــې تــه لېچــې راوغزوي او یو د بل په مغزو ماتولو خپله باتوري ښکاره کوي، خوشــال خان خټک څه ښه ویلي دي:

پـــښتانــه واړه بــد خــوی دي　　　کور په کور کاندي غورزی

یو چې سر کاندي لـــږ پـــورته　　　بـــــل یې ووهي مغزی

یو تربور چې ووژل شي، بل تربور له کلي کډه په شا کړي، خپــل هــر څه پرېږدي د کسات له بېرې له خپل ولسه وتښتي او په نورو ولســونو کې پناه واخلي، د وژل شوي تربره ورونه او زامن ټوپک په لاس د خپل خوني دښمن په لټه کې وي او خوني تربور د خپل مرګ په انتظار کــې وي پر سر یې توره ټوټه په اوږي سپینسي تړلې وي، جریب نیم ځمکــه چې یې په کلي کې درلوده، هغه شاړه پاته شي او دی له خپلو اولادونو او ښځې سره در په در ګرځي، دا شوه تربورګلوي.

د پښتنو پېغلې د پلار پر کور زړېږي، ځوانان بې د ولــوره او بــابیرې توان نه لري، ځوانان زاړه شول خو د اولادو څښتنان نــه شــول، د چــا

چې بیا اولاد شته، هغه بېوزلي په لړه ناروغۍ د اخرت پــه ســفر ځــي، طبیب نه شته، روغتون نه شته، دوا نه شته، ځکه نو ناروغانو د علاج او دوا پرځای دم دعا او تاویزونو زیارتونو ته مخه کړې ده او د دوی په فکر د افسونونو په زور ځانونه او اولادونه د پیریــانو لــه پټــو حملــو څخــه ژغوري. کوم کوچنیان چې د ژوندانه په قافله کې د کوي، شري، توري غاړې او داسې نورو تر غاښو اوړي د هغو بیا د ښوونې او روزنــې لپــاره مکتبونه نه شته، مدرسې نه شته، معلم نه شته، مدرس نه شته، کتاب نه لري او کاغذ و قلم نه پېژني.

له بده مرغه پښتانه له صنعته بد وړي، د دوی په ټولنه کې کسبکارو ته په کمه سترگه کتل کېږي، حتی سیالان یې نه گڼي. دوی خو بانــک نه پېژني او تجورې نه لري، پخوا به یې د سپینو سکې په گړیو او منگیو کې تر خاورو لاندې ښخولې اوس یې بیا بړستنو کې گنډي، لوټونه ښه نه پېژني، زیاتره جعلي لوټونه پر دوی تېرېږي.

زیاتره پښتانه په کوچیانو مېلو (مېنو) کلیو، باندېو کې ژېږي، بــې لــه دې چې د نورو ثقافت او مدنیت ووینې او یا له هغو څخه څــه د ځــان کړي، مري، ځکه نو د دوی کوچیانی او کلیــوالي ثقافــت هغــه د شــلو پښتو وړاندې ثقافت دی او نوښت په کې په اسانۍ سره ځــای نــه دی پیدا کړی، دا وو کوچي او کلیوالي پښتانه.

## اوس به راشو ښاري پښتنو ته:

ځومره چې کوچي او کليوالي پښتانه پر خپــل ثقافــت ټينــګ دي، هغومره ښاري پښتانه د خپل ثقافت په خوندي کولو کې سست او بــې پروا دي، په تېره بيا په ګډوله ښارونو کې، چې هلته نور قامونــه هــم د دوی په څنګ کې پراته وي، ښاري پښتانه ډېر ژر د پرديــو تهــذيبونواو ثقافتونو پيروي کوي او خپل ارثي ثقافت او په تېره بيا ژبه د نا پښـــتنو ګاونډيو په څنګ کې خورا ژر له لاسهورکوي، له نورو قامونو سره چـــې د دوستي او خپښي وکړي، د هغو دود و دستور چټک مني، له کليوالو پښتنو سره يې اړيکي که ونه شلېږي سستېږي خو هرومرو، متين خان اندړ راته وويل: يو وخت زه د کابل په چاردهي کې جبارخـــان کـــلا تـــه ولاړم، چې له رئيس تميز عبدالرب خان اندړ سره ووينم، کلا ته نـــژدې د ده زوی په مخه راغی د پلار پوښتنه مې ځنې وکړله، ده راته وويـــل: ( او کتی قومايش در مهمانخانه ششته))

تاسې وګورئ د پلار قوميان د ده قوميان نه شول، ځکه چې هغه په پښتو خبرې کوي، دی پارسي وايي او په پښتو نه پوهېږي يـــا يـــې نـــه وايي، ده دريشي اغوستې ده او هغو خپل پښتني کـــالي، هغـــو پګـــړۍ تړلي دي او دی لوڅ سر دی.

په ګډوله ښارونو لکه کابل او هرات کې اوسېدونکي پښتانه د دغـــې

اثر پذیرۍ او انفعال ښې نمونې دي، په دغو ښارونو کې چې له لسو تنو سره وپېژنئ، ښځه به یې هرومرو درته ووایي: (( مه هم اوغان اســتم)) او که داسې ادعا د ځان په باب ونه کړي دا خو هرومرو درته وایي چــې انا مې پښتنه وه، یو وخت زه په لیننګراد کې وم، د ختیځ پېژندنې لــه پوهنځي څخه تلیفون راته وشو: (( یو ډاکتــر د عــالي تحصــیلاتو پــه نیامت له افغانستان (کابل) څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کی دی)) ما چې په ټلیفون کې له هغه نوي مېلمه سره خبرې وکړلې ومــې نه پېژانده، خو د وطندارۍ په خاطر مې ورته وویل: (( دغه دی دســتي دررسېږم زما لاره څاره))- زه چې پوهنځي ته ورغلم لــه نــوي راغلــي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شي ژیت (لیلیې) ته مې بــوت، ځای مې ورونیوه، ښاغلی ډاکتر... چې خدای په اماني راسره کوله، تــر کور ودانۍ ویلو وروسته یې دا هم راته وویل: ((مادر کلان مــه نــورزایي بود))

مفکر محمد ګل خان مومند (۱۳۰۳هــ ق زوکړی) د خپلې زمانې یــو باخبره، پوه او ځیرک منصبدار و، له اګاهۍ، پوهې او ځیرکتیا سره یــې د قام درد او خواخوږي هم درلوده او د پښتنو دغو بدو ورځو تــه ښــه ځیر و، ده دېرې شپې د پښتنو د غمخورۍ په فکر کــې ســبا کړلــې او ډېرې ورځې د قام په غم کې لالهانده کرهرانده پرې تېرې شولې، پــای ته یې وپتېیله هر راز چې کېږي د کم بختو پښتنو د ثقافتي پرمختــګ،

سیاسي ویښتابه او اقتصادي نظم هر کار ته به هرومرو وردانګي او ځـــو یې وسه رسي د قام ماته ببرۍ به د ژغورنې غاړې ته پورې وهـــي، هـــر څوک د هر کار تر عهدې نه شي وتلای، سترو کارونو ته ستر همتونه په کار دي، دا مفکر او هوډیالی محمد ګل خان مومند و، چې د قام مـــاتې ببرۍ ته یې اوږه ورکړله ( خو افسوس چې تر غـــاړې ونـــه رســـېدله) او خپل توان او قدرت یې د دوی فرهنګي او اقتصادي ودې ته وقف کړ.

ده په فرهنګي برخه کې د قام ژبې (پښتو) ته توجه وکړله، تـــر ټولـــو دمخه یې په (۱۳۱۱ ل) کال کې هغه وخت چې دی د دغه ولایت رئیس تنظیمه و پښتو انجمن جوړ کړ، د کندهار جریده (طلـــوع افغـــان) یـــې درسته پښتو کړه، په خپله یې قلم راواخیست پښتو سیند ( د ۱۳۱۶ل چاپ) یې ولیکه، چې تر څلورو زرو زیات پښتو لغتونه په کې معنا شوي دي، د حرفونو (تورو) حرکات و سکنات یې په مخففاتو ښـــوولي دي، د مصدرونو په برخه کې یې اشتقاقي تفصیلات هم شته یعنې د زمانو پـــه لحاظ یې د صیغو اشتقاق ته هم اشارې کړي دي.

د مفکر محمدګل خان بله مولفه د پښتو ژبې لیـــاره (د۱۳۱۷ چـــاپ) نومېږي چې د پښتو ژبې صرف ونحو، یې پـــه کـــې څېړلـــې ده، د دغـــه کتـــاب پـــه دربیمـــه برخـــه کـــې یـــې (۱۵۶۶) مصـــدرونه د شـــاوندیو، (al,edal,wal,kawal) د وېش له مخې راوړي دي، د دغـــې برخـــې یـــوه ښېګڼه دا ده چې د هر مصدر، متمم مصدر یې (که په ژبه کې وي) هـــم

راوړی دی لکه له ((لیدل) سره ((وینل)) او له ((کتل)) سره ((ګـــورل))
او داسې نور...

مفکر محمد ګل خان د دغو دواړو کتــابونو پــه لیکــدود کــې هــم
نوښتونه لري مثلاً: ټ یې ت، ج یې ح [1] - ډ یــې د، ړ یــې ر،ڼ یــې نــړ
لیکلی دی او د کلمې په منځ کې زور یې په (ه) ښوولی دی، لکه ســړه
ی (سړی) کټوره ی (کټوری) او داسې نور..

د ماموریت په وخت کې چې به مفکر محمدګل خان په هر ځای کــې
و هلته به د پښتو ژبې او ادب د پوهانو انجمــن جــوړ و، ده بــه پښــتو
پوهان تشویقول چې په خپلو اثارو، پښتو ژبــه غنــي کــړي- کتابونــه
ولیکي، لغتونه راټول کړي او د پښتو ګرامر وځېــړي، ده غوښــته چــې
پښتنو کوچنیانو ته دې تعلیم په پښتو ژبه وشي، ولې چې په بلــه ژبــه
کې تعلیم او تحصیل د شــاګرد ډېــر وخــت نیســي او پــر ذهــن یــې
دروندوالی زیاتوي.

---

(۱) د (ج)) لپاره د (ح)) شکل تر محمد ګل خان مومند دمخه هم کارول
شوی دی (و ګ. د ایچ. رتن چند کندهاري رهنمای پښتو چې پر
۱۸۹۲ع کال په کوټه (کویټه) کې چاپ شوی دی) ما چې د کابل چاپ
خیرالبیان د مقدمو په برخه کې (۷۴مخ) ((ح)) شکل د وزیر محمد ګل
خان مومند ایجاد بللی دی، سهي خبره نه ده هغه وخت ما د رتن چند
کندهاري رهنمای پښتو نه وه لیدلې. (رشاد)

مفکر محمد ګل خان د پښتونوالې پر مثبتو رواجونو ټینګ و او نـور پښتانه يې هم د پښتونوالې د ګټورو دودونو باندې ټینګار ته تشویقول، له دروه و درغل، درواغو او غوړه مالۍ څخه يې ډېر بد وړل او ویـل بـه يې دا عادتونه او خصلتونه نه یوازې د دین له پلوه غنـدل شـوي دي، بلکې په پښتونواله کې هم دغو خصلتونو ته د کرکې او نفرت په سترګه کتل کېږي او د پښتني فضایلو له منځه وړونکي دي. ده چې په خپـل ژوند کې څومره سیاسي تقوی، پاک نفسي او له قام سـره خواخـوږي درلوده له نورو خلکو څخه يې هم د دغو فضایلو هیله درلوده او خلک به يې دغو چارو ته تشویقول. وزیر صاحب محمدګل خان خورا صـریح اللهجه او پر حق ټینګ سړی و، علي احمـد خـان ((والـي)) چـې پـه ننګرهار کې د پاچهي اعلان وکړ، ده په څرګند ډول له دغه اعلان سره مخالفت وکړ، هر څه ایرادونه او تهدیدونه چې ورکړل شوه لـه خپلـې هودې څخه نه واوښت.

د مفکر محمد ګل خان پام د قام د ځوانانو د تربیې په څنګ کـې د قام اقتصادي بهبود ته هم اوښتی و، د هندوکش په شمال کـې ډېـرې سرکاري ځمکې خورا شاړې پرتې وې اوبه بېکارې بهېـدلې او شـاړې ځمکې ځنګلونه کېدل، د سیمې خلکو د کرنې په کار کې ځانونه ډېـر نه زهیرول، د للمې لپاره ډېر دښتونه او راغونه د دوی پـه واک کـې وو فقط یوې او تخم يې له دوی څخه غوښت، نور به نو اقلیمـي شـرایطو

(موسمي بارانونو) کښتونه وریخول، په پراخو دښــتو او ویــړو راغــو د سیمې د خلکو وس نه رسېده چې ټول وکري او حاصل تــرې واخلــي، خو په افغانستان کې ځینې سیمې په تېره بیا د پښتنو ټاټوبي داسې وو چې غلو دانو یې د سیمې خلک نه شوای مړولای، ځمکې نه وې چــې وکرلې شي، د سیمې خلک به دې تــه اړ وو چــې د مزدوریــو لپــاره د هندوستان لټو ته ولاړ شي او غنم و جوار له هندوستانه راوړي.

مفکر محمدګل خان دغه بې ځمکې خلک او کوچیان په منتونو پــه زاریو زواوو وروبلل او بې خاونده ځمکې یې د هندوکش په شمال کــې پر وېشلې، ده په دې کړو د هندوکش د شمالي برخو ډېرې بې خاونــده او بې حاصله ځمکې حاصل خېزې کړلې او د وطن بېکاران یې په کــار واچول، د نورو له مزدوریو یې راوګرځول او د خپل ملک په ودانۍ یــې اخته کړل، د ملک حاصلات یې زیات کړل او وږې سیمې یــې د خپــل ملک په حاصلاتو مړې کړلې.

مفکر محمد ګل خان د قره قلــي پوســتکو انحصــاري ســوداګري د جهودانو له لاسه وکښله، د سیمې خلک یې تجارت ته تشویق کړل، د ((رښتیا)) او ((یووالي)) په نومونو یې په مزارشریف او بلخ کې شرکتونه جوړ کړل چې وروسته دغه شرکتونه په خپلو سوداګریو کې ډېر پــرمخ ولاړل او د ښو پانګو خښتنان شول.

د رسمي ماموریت ترختمېدلو وروسته هم د محمد ګل خان تـاټوبی د پښتو ژبې او ادب د پوهانو او هوا خواهانو ټولنځی و. مفکر محمد ګل خان تر مرګه پورې (۱۳۸۳هـ ق) د پښتنو د بهبود چرتونه وهل.

زما ښه یاد دي د افغانستان د خپلواکۍ د بیا اخیستلو څلوېښــتمه کالیزه وه، فخر افغان (عبدالغفارخان) هم کابل ته راغلی و، په بابر بــاغ کې د خوشال لېسې او رحمان لېسې ځلمیو شاګردانو رســم ګذشــت ورته وکړ، تر رسم ګذشت وروسته اتڼونه پیــل شــول د شــاه جــوی د خروټیو اتڼ چیان هم راغلي وو. دوی چې اتڼ کاوه رنګه دسمالونه یــې په لاس کې وو او هغه به یې د اتڼ له حرکتونو سره سم ښــورول، قــام پال محمد ګل خان مومند چې د فخر افغان پاچاخان ترڅنګ ناست و، د خروټیو د اتڼ دغه خصوصیت یې خوښ نه شو، ناڅاپه ودرېد او خپله لکړه یې د اتڼ له حرکاتو سره سمه د تورې په دود ښوروله او څرخوله، خروټیو اتڼ چیانو ته یې ور ږغ کړ: (( وغورځوئ دا د تور سرو څپــوڼي (دسمالونه)، ستاسې پلرونو او نیکونو په اتــڼ کــې تــورې ګرځــولې او تاسې د ښځو په شان څپوڼي ښوروئ.))

وزیر صاحب محمدګل خان په دغو کلو کې د ګوزڼ په ناروغۍ مبتلا و، پښو یې ښه ملګري نه ورسره کوله، خو بیا هم له دغې ناروغۍ ســره

يې له تورو سره د اتڼ حرکتونه د پښتنو ځوانـانو د روزنـې پـه خـاطر تمثيل کړل.

محمد ګل خان او پاچا خان دواړه اوس په مورږ کې نه شته (خدای[ج] دې دواړه وبخښي) د پښتنو لښکر، بې قافلې شوی دی او قافلـه هـم سالار نه لري، زه ګومان کوم، د دې بې سالارې قافلې خطرناکې ایندې ته به دغه دواړه لارښوونکي مشران[ح] هېښ پاته وي او په ډېر حسـرت به دغو پر شلو لارو روانو پښتنو ته ګوري.)) (۲۴)

# ((زما یادښت))

((د نړۍ هر ولس که د انساني فرهنګ له پلوه ډېر وروسته پاتې هــم وي، یو سرغنه او مشر، یا په بله وینا، یو لارښود او سمونوال لــري او دا مشري او سرغندویي ان تر دولتي ادانې هم رارسېږي چې د قانون پــه چوکاټ کې د خپل ټبر او ولس د ښېګڼې لپاره هلې ځلــې کــوي. بــده مرغه ټولنه به هغه وي، چې په یوه ټاکلي چاپېریال کې د ځینو لاملونو له کبله له دغسې یوه لارښود او سرغندویه بــې برخــې پــاتې شــي او ورسره ورسره پرې یو زورواک دولت واک چلوي، لکه همدا نن سبا پــر افغاني ټولنه باندې.

په روانه پېړۍ کې پښتون ولس دوه پیاوړي مشــران لــرل، پــه لــره پښتونخوا کې پاچاخان (عبدالغفار خان) او پــه بــره کــې مومنــد بابــا (محمدګل خان مومند). دوی هر یوه په خپله خپله برخه کې د پښــتنو د مشرتابه نقش پر غاړه درلودلی او لکه څنګه چــې ښــایي، پــه پــوره مخسوري یې دغه نقش لوبولی دی.

په ښکاره خو داسې برېښي چې د پاچــا خــان رول سیاســي و او د مومند بابا فرهنګي، مګر که په ځیر سره وکتل شي، د دواړو د هلو ځلو

پیره زیاته فرهنګي وه که د پاچاخان د خدایي خــدمتګار غورځنــګ د سیاسي ویښتابه توله یو څه درنه وه خو فرهنګي هغه یې هــم دومــره سپکه نه وه او د مومند بابا فرهنګي او بیا په ځانګړې توګه د پښتو ژبې غورځنګ خو بره خوا هر پښتانه بچي ته جوت دی. مومنــد لــه امــاني پېره بیا تر نادر، ظاهري پېره یو پیاوړی پوځي بولندوی پاتې شوی او په همدغه واک و ځواک یې پښتو ژبه د یوه ملي پېژند نښې او سمبول په توګه پر افغان دولت او حکومت منلې او هغه یې له نورو نړیوالو ژبو سره د سیالۍ جوګه کړې ده.

د محمد ګل خان مومند ( وزیرصاحب، مومند بابا) له نامه سره یــوه داسې پرتمینه پښتني تاریخي څېره سترګو ته نښغــه دربــړي، چــې د پښتني، یا په بله وینا، افغاني فرهنګ وروستی اویا کلن څپرکی ورسره نه شلېدونکي اړیکي لري. ده له ټولنیز (عام، نړیوال دیموکراټیــک دود سره سم د ((ډېربښت)) آر او اصل پر بنسټ د افغاني ټولنې ملــي وکــړ (هویت) په پښتني هغه کې لیــده او پــر همــدې بنســټ یــې پښــتو، پښتونولي او پښتون او بیا ټینګه او سپېڅلې خو پراخ لیــده اســلامي ګروهه ددغه ملي وکر ټاکنده پېژند نښې ګڼلې.

ددغه ډیموکراټیک آر له مخې ورته ټولیز افغاني کولتور له پښــتني فرهنګ پرته نور څه کېدی نه شو.

## ددغې لیارې انګېزه:

وایي، کله چې مومند بابا هلکینه کې له پلار سره له کابله خپل کلي ته تللی و، چا ورته پېغور ورکړی و چې ولې یې پښتو نه زده، هماغــه و، چې کابل ته له ستنېدو سره یې پښتو زده کړې ته ملا وتړله او دومــره په کې مخ ته ولاړ چې ټول برخلیک یې ورترغاړې شو او ټول اند و ژوند یې ورته وښانده. زما په اند په تورکیه کې یې پوځې زده کړېزه استوګنه د دغې لیارې تر هر څه ستره انګېزه وه. ده له نژدې څخــه د مصــطفی کمال (اتاتورک) فرهنګي سمونواله (ریفورم) لیدلی و، چې څنګــه یــې خپله تورک ولس او تورکي ژبه له عربي او غربي اغېزه ازادوله او څنګه یې له دغې لیارې د یوې نوې او پرځان ویسا تورکیې د بنسټ پخولو ته متې رانغښتې وې.

او په زړه پورې بیا دا چې په توره سقاوي واکمنۍ کې یې د ایران لــه استوګنې هم ډېر څه زده کړل، هغه مهال ایران غوښتل، د تورکیې پــه پېښو د خپلې پارسي په سپېڅلتیا او پیاوړتیا خپل ځانګړی ملي وکــر جوت کړي. مومند بابا د نجات په جګړه کې د یوه پاخه پوځې جنرال په توګه داسې غوښ نقش ولوباوه چې د نادر او د هغه د نورو تش په نامــه پوځې سوبمنانو ورونو خپل شپږم ورور وګاڼه لومړی د کندهار تنظیمه مشري ور ترغاړې شوه چې دترکستان د ((افغاني کولو)) پلان ورســره غوټه و. مومند بابا د قطغن او بدخشان د یــوه تکــړه نائــب الحکومــه

(شېرمحمد ناشر خروټي) او داسې نورو همکارانو پــه مرســته وکــړای شول، په څو کلونو کې تورکي او افغاني تــوکم ســره داســې واخښــل راواخښل چې بیا چا د ((پان تورکیزم)) نوم هومره هم وانه خیست. له تازه دمونو مېشتوپښتنو، هزاره وو، بلوڅو، پشه ییانو او د افغانستان د جنوب نورو ټبرونو سره د تورکستان جبې نورې پر شولګرو او غنمګرو، پالیزونو او پومبو بدلې شوې او له دې سره سره زموږ پیاوړی سمونوال (مومند بابا) په هغو سیمو کې د افغــاني وروروڵــۍ بلینــده ولګولــه. د خوراک پوښاک او استوګنې ډولونه او بېلابېل دودونــه جالونــه ســره همرنګ او هماهنګ شول، چې دا دی نن سبا په کې څوک د تــورک و تاجیک، مغول او پښتون توپیر په اسانه کولای نه شي، مړی ژوندی یې سره ګډ دی او یو د بل پر ژبه لکه د یوې کورنۍ غړي پوهېږي.

دا تاریخ بیا وخته زبات ته رسولې ده چې د افغاني ټولنې په هویــت ټاکنه کې د لوی مومند بابا ونډه څومره اغېزمنه وه.

دده په غوښتنه او نوښت پښتني اتڼ ملي اتڼ National Dance او د بیرغ غوندې درې رنګه پښتني کالي افغاني ملي کالي ومنــل شــول. د ژمي چې به ننګرهار ته راغی، خلک به پرې رامات شول او ده بــه هــم ورته د خوراک، پوښاک، مړي ژوندي او ښو ښو دودونــو او رواجونــو او بیا د نوي ژوند واک تبلیغ او لارښوونې کولې، ژبه به یې ترې زده کولــه او ژبه به یې ورزده کوله، جومات ته به چې لمانځه ته ولاړ، ملایانو ته به

یې د دیني لاربښوونو او ورمونو ترځنگه د خلق الله د خدمت ډېر ټینگار هم کاوه. د طالبانو او چټانو اتڼونه به یې هم ورسمول او د دې لپاره چې تقلیدي اتڼ یې ورته ملي کړی وي، په خپله به پاځېد، لستوڼي به یې وایستل او پر اتڼ به یې ورته پیل وکړ. ده به د یوه پلان له مخې هر ژمی خپل استوگنځی بدلاوه، کله به خپل کلي ((گلايي)) ته ولاړ، کله به کونړ او کله کومې بلې ختیزې سیمې ته، اوړی به یې هم همداسې کله پر کابل او کله پر سمنگانو یا کومې بلې سیمې تېراوه. د ننگرهار او کونړ خلکو تر مومند بابا دمخه له سبو او ترکارۍ سره دومره مینه نه درلوده او نه له ونې غنې او مېوې دانې سره.

## معیاري (کره) او نږه پښتو:

مومند بابا لومړی روښاندې او بیا پښتو مین لیکوال و چې تر هر څه دمخه د (( یوې یوازینۍ کره او نږه پښتو)) ربړې ته پوره ځیر شوی و. زموږ له اوسني معیاري غورځنگ سره یې توپیر دا و چې گړنۍ او لیکنۍ پښتو یې همزمان سمول غوښتل او دغه کار یو نادوده او ناشونی دی. موږ د وزیر صاحب همدغو هلو ځلو ته له نویو ژبپوهنیزو آرونو سره سم پایښت ورکړ او تر هر څه دمخه مو د ((یوې یوازینۍ بشپړې کره لیکنې)) پښتو ربړه رامنځته کړه. د غږ پوهنې له پلوه د ((منځنۍ)) د پښتو معیاري گرځول بیا هم له همده څخه راپاتې دي، په تېره د ( سه x) او ( ر g) په برخه کې. سره له دې چې د ویې رغاونې له

آرونو سره يې کومه سستماتيکه پېژندګلو نه درلوده، خو دېـرې نـوې رغاونې (نيولوجيزمونه) يې له پښتو ويي رغاونې سره نابانديې وو، لکـه تکرست (ورزش، پاس پاس (هسک)، تـوپن (نـرى)، تپنـى (سـياح)... هځوب له بېلابېلو ټکو (هـ ح،و، ب) څخه رغولى و ( هغـه څـه چـې ولسونه بېلوي، چې انګرېزي ( هوکې= O.K. = no kill) ته ورته برېښـي. د ژبپوهنې په برخه کې يې ((پښتو ليار)) او ((پښـتو سـيند)) د نـوي علمي ژوند له ګټورو پيلامو څخه ګڼل کېږي.

## برى او برياوې:

د مومند بابـا د ناپايـه هلـو ځلـو- پېـړۍ او بريـاوې پـر (١٣١٦ل) (١٩٣٧م) کال د يوازينۍ ملي او رسمي ژبې په توګـه د پښـتو رسـمي کېدلو سره پيل کېږي، همدارنګه د شلمو کلونو په سـر کـې پـه ټـول هېواد کې د يوازينۍ تعليمي ژبې په توګه او په پښتو ژبو سـيمو کـې د دفتري ژبې په توګه د پښتو دودېدنه د همدغو هلو ځلو له پايلو څخـه ګڼل کېږي. په راډيو، ورځپاڼو او نورو ټولنيزو رسنيو او علمـي خپرونـو (لکه اريانا، دايره المعارف او جغرافيايي قاموس) کې د پښتو ورګډېـدل د مومند بابا له نامه سره ټينګ تړون لري. پر پښتو ټولنې سـربېره پـه تاريخ ټولنه او نورو علمي او خپرنيو ځـانګو کـې د پښـتو ونـډه هـم همداسې درواخله.

د مومند بابا اند و ژوند د وروستیو شپېو وروستنۍ پېره همدا وه چې خبر شو، د (۱۳۴۳ل) په نوي اساسي قانون کې پښتو او دري یو شـــان رسمي ژبې کښل شوې وې، له ایبکو څخــه یــې اعلیحضــرت محمــد ظاهرشاه ته تلیفون وکړ چې: ((اخر مو پښتو له پاړسو ســره څلېښــت کړه!)) پاچا ورته وویل:

ـ په کمیسیون کې پښتانه نمایندهگان لکه مجروح، شفیق، حامد... هم وو... .

هغه ورغبرگه کړې وه، زه دا یو هم نه پېژنم...

هغه و چې محمد یوسف صدراعظم د قانون د توضیح  په وینــا کــې ((ملي)) ټکی له پښتو ســره ونښــلاوه او میاشــت دوه وروســته دغــه جنگیالي او فرهنگیالي پښتون د تل لپاره له نړۍ سترگې پټــې کــړې. یاد دې تلپاتې وي.)) (۲۵)

# ((د محمد گل خان وروستۍ لیدنه))

((کله چې محمد ګل خان بابا، جرمنیانو په سروبي کې لــه روغتــون ځخه رخصت کړ، نو دی ننګرهار ته راغی او په ننګرهار کــې د حبیــب خان پر ځای دېره شو. زه د ده په پښتونولۍ ډېر مــین وم ځکــه چــې لومړی ځل ما په کندهار کې عریضه نوشته کوله، نو عریضه لیکــونکي په پښتو نوشته کړه، زما پښتو نه وه زده، ورته مې وویل چــې عریضــه رانوشته کړه، دغه عریضه ده، په پښتو ده، وزیر بابا امر کړی دی هــېڅ شی بې له پښتو په بله ژبه نه شي لیکل کېدی. لــه پښــتونوالې ســره دغې مینې زه دېته مجبور کړم چې له کابل ځخه د (لته بنــد) پــر لاره باندې نرنګ ته راشم، د بېسودو پُل نه و، په جاله کې راغلم. وزیــر بابــا چې زه ولیدلم وې ویل: (( زه د دې سړي په تندي کــې دا لیکــه ویــنم چې دی به د پښتو ډېر خدمت وکړي.)) نو زه یې په غېږ کې ونیولم نــو وې ویل: ((سردار کېږه مه د پښتو خدمتګار شه او دا خبره مې هېره نه کړې فولکور را اخله، ټول کارونه به دې په فولکور وي)) ما ورته وویــل چې بابا زه ستا دا قول او وعده سرته رسوم. ده وویل: (( حبیبي، خادم، جرار دا مې پښتانه کړل او د پښتو د خدمت لپاره مې وګومارل، ته یــې هم ملګری شه چې پرې یې نه ږدې.)) ما د ده لاسونه مچ کړل او ده په

سر مچ کړم او له هغې وعدې وروسته دا دی پنځوس کاله کېږي خپل خدمت ته دوام ورکوم.

کله چې وزیر بابا د لویې جرگې مشر و، نو ده افغانستان د غرب له غلامۍ نه خلاص کړ ځکه چې تر دغه وخته پورې د نادر خان کورنۍ د غربیانو له اشارې پرته هېڅ نه شول کولای، خو مومند بابا د لویې جرگې طرحه داسې پیش کړه چې افغانستان کولای شي له هر مملکت سره روابط وساتي او کومه گټه چې د افغانستان لپاره ترې حاصلېږي هغه حاصله کړي. دغه نظر و چې افغانستان د غیر منسلکو ملکونو په ډله کې وشمېرل شو او تر هغه وخته پورې دې حالت ادامه درلوده چې د (خلکو ډیموکراتیک گوند) قدرت لاسته راوړ، تر دې دمخه افغانستان د وزیر بابا توسعه عملي کړې وه.)) (۲۶)

# اخځونه


۱- اصلاح ورځپاڼه، د ۱۳۴۳ل کال د ٥میاشتې ۲۸ مې نېټې گڼه.

۲- محمد ولي ځلمی، زموږ غازیان، د علومو اکاډمۍ، ۱۳٦۸ل کال، ۱۹۲ مخ.

۳- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳٤٦ل کال، ۱۲٥۷ مخ.

٤- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳٤٦ل کال، ۱۲٥٦ مخ.

٥- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳٤٦ل کال، ۱۲٥٦ مخ.

٦- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۱ ټوک، ۲۹۹ مخ.

۷- د بابا مشالونه، د سرمحقق عبدالله بختیاني خدمتگار راټولونه، کابل چاپ.

۸- اردو مجله، ۱۳٦۹ل کال، ٥ گڼه، ۷ مخ.

۹- د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي یادښتونه.

۱۰- محمد گل خان مومند، د پښتو ژبې لیاره، ۱۳۱۷ل کال، ۲ مخ.

۱۱- د نازو انا یاد، ۱۳۷۰ل کال، ۲ مخ.

۱۲- محمد ولي ځلمی، زموږ غازیان، ۱۳٦۸ل کال، ۱۹۳ مخ.

۱۳- عبدالخالق اخلاص، د خپلواکۍ څلورمه جبهه، مرتب، حبیب الله رفیع، ۱۳٦٥ل کال، پېښور، ۱۰٦ مخ.

۱٤- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳۰۷مخ.

۱٥- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۲٦۱-۱۲٦۸ مخ.

۱٦- محمد گل خان مومند، پښتو سیند، ۱۳۱٦ل کال، تمهید.

۱۷- محمد گل خان مومند، د پښتو ژبې لیاره، ۱۳۱۷ل کال، ب مخ.

۱۸- پوهاند مجاوراحمد زیار، ویي پوهنه، ۱۳٦۰ل کال، ۱-۲ مخونه.

۱۹- محمد گل خان مومند، د پښتو ژبې لیاره،۱۳۱۷ل کال، ر-ز مخونه.
۲۰- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۲۵۹-۱۲٦۹ مخونه.
۲۱- محمد ولي ځلمی، زموږ غازیان،۱۳٦۸ل کال، ۱۹۲ مخ.
۲۲- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۲۵۷-۱۲۵۸ مخونه.
۲۳- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۲۵٦ مخ.
۲٤- د اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد یادښت، ۱۳۷۰ل کال.
۲۵- د پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار یادښت، ۱۳۷۰ل کال.
۲٦- د محمددین ژواک یادښت، ۱۳۷۰ل کال.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
خوشال
په خپل
ایډیال
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# خوشال په خپل ایډیال

( د ماسټرۍ دورې لیکنې )

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | خوشال په خپل ایډیال |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپکال: | ۱۳۸۷ل |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۲٦ ) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۲٦) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# پر دې اثر څو خبرې

زموږ په ځوانو فرهنګیانو او د کابل پوهنتون په استادانو کې ښاغلی یون داسې ځوان دی، چې فرهنګ ته خدمت یې خپل اصلي کار بللی دی. دی لا د پوهنتون محصل و چې پر شاعرۍ سربېره یې لیکنې کولې، کتابونه یې چاپول او په فرهنګي چارو کې یې برخه درلوده. زمانښه یاد دي چې کله په (۱۳۶۹هـ ش) کال په کابل کې د یو شمېر خواخوږو فرهنګیانو له خوا د خوشال فرهنګي ټولنه جوړه شوه، ښاغلی یون د خپل استعداد او همت په وجه د خوشال فرهنګي ټولنې د رهبري هئیت کې د یوه ځوان غړي په توګه خپل موقف تثبیت کړ.

ښاغلي یون ډېر کتابونه او ډېرې مقالې لیکلې دي، د ځینو خپرونو چلوونکی پاتې شوی دی، لنډه دا چې د خپل عمر زیاته برخه یې د فرهنګ خدمت کړی دی. دده ډېر ښه عادت دی چې خپلې لیکنې په خپل لاس چاپوي او خپلو خلکو ته یې وړاندې کوي، ستاسو په لاسو کې دا کتاب د ښاغلي یون د ماسترۍ په دورې پورې مربوطې هغه مقالې دي، چې یې د بېلابېلو مضامینو د کورني کار په توګه یې تهیه کړي دي.

ده اوس دا مقالې راټولې کـړي او د دې کتـاب لـه لارې یـې خپلـو هېوادوالو ته وړاندې کوي. ښاغلی یون دې خیر یوسي چې دا مقالې یې ساتلي دي، که نه وي د کورني کار لپاره لیکلې مقالې څوک نه ساتي، یا دا چې په لیکلو یې محضې وار تېر کړي وي او کله هـم دا وړ لیکنـې د مربوطه مضمون له استاد سره پاتېږي.

ښاغلی یون، لکه خپلې نورې مقالې پر دې مقالو هم زیار ایستلی دی او د مجموعې په توګه یې د چـاپ لپـاره بیـا کتلـي دي او دا دی اوس چاپېږي، چې زموږ نور فرهنګیان او فرهنګي کړۍ ترې استفاده وکړي.

زه ښاغلي یون ته ددې مجموعې د تهیې او چـاپ مبـارکي وایـم او فرهنګ ته د خدمت په لاره کې یې زیات بری غواړم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

## سریزه:

# د ماسټرۍ دورې دا لیکنې

تر یوه اوږد ځنډ وروسته پر (۱۳۸۵لمریز) کال د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل، استاد مکمل الکوزي او یــو شــمېر نــورو خواخــوږو استادانو په هلو ځلو په کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښــتو اودري څانگو کې یو ځل بیا د ماسټرۍ کورسونه پیل شول. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پــوهنځي او د یــو شــمېر نــورو همســلکو پوهنځیو ځینو فارغانو په دې پروگرام کې ځانونه شامل کړل. موږ د ماسترۍ ددې دورې لومړي فارغان وو، دوه کاله مو په منظم ډول د ماسټرۍ دوره تعقیب کړه او تر څلورو سمســټرونو مــنظم تــدریس وروسته دا پړاو سرته ورسېد او شپږ میاشــتې مــوده نــوره د تېــزس لیکلو لپاره ځانگړې شوه، په مجموعې ډول دې دورې دوه نیم کاله دوام وکړ. دماسټرۍ دورې د تدریس په بهیر کې قدرمنو استادانو پر تدریس سر بېره د بېلابېلو ادبي موضوعگانو د څېړنې دندې هم را وسپارلې، چې ځینې یې د لنډو ارزونو، ځینو یې د څېړنیزو او ځینــو نورو یې د تحلیلي لیکنو غوښتنه کوله. ما هم پــه دې بهیــر کــې د بېلابېلو راسپارل شویو موضوعگانو په هکله لیکنې وکړې او اړونــد استاد ته مې د کتنې لپاره وروسپارلې ، په دې بهیر کې ځینې لیکنې

داسې وې، چې په لاس لیکل شوې وې، یوازې یوه کاپي وه، چې هغه اړوند استاد ته سپارل کېدله، په دې ترڅ کې یو څو داسې لیکنې وې چې کاپي کولو ته یې وخت پیدا نه شو، خو ځینې لیکنې چې په کمپیوټر لیکل شوې وې، یوه کاپي ترې استاد ته ورکړل شوه او اصل متن یې هم خوندي پاتې شو، سره له دې چې استادانو تر کتنې وروسته مور ته بېرته خپلې لیکنې راکولې، خو په دې بهیر کې ځینې لیکنې بېرته زمونږ له لاسه وتي او ورکې شوي دي. په دې شپو ورځو کې چې زه د خپلو تېرو کارونو پر اوډون او بیا کتنه بوخت یم، نو د ماسټرۍ دورې پر لیکنو مې هم سترګې ولګېدې.هغه لیکنې چې په کمپیوټر کې خوندي وې او ځینې یې په رسنیو کې هم چاپ شوې وې، هغه مې بیا له سره وکتلې او منظمې مې کړې، خو په دې ترڅ کې پنځه شپږ عنوانه داسې لیکنې وې، چې ما دماسټرۍ دورې په بهیر کې پر بېلابېلو مسایلو لیکلې وې، خو د هغو په تر لاسه کولو بریالی نه شوم، سره له دې چې ما دخپلو لیکنو د خوندیتوب لپاره له پخوا نه پلان درلود، خو دا لیکنې چې مې هر څومره په خپل کتابتون کې ولټولې پیدا مې نه کړې، سره له دې چې ددې لیکنو د ځینو کاپۍ مې خوندي کړې هم وې،لکه لیک د خوشال له نظره، د پښتو ګرامر په اړه یوه لیکنه، د استاد الفت د یوه هنري نثر ارزونه او ځینې نورې لیکنې. له دې پورته خبرو څخه مې هدف دا و، زمونږ ځوان لیکوال باید هڅه وکړي، چې تر دې وروسته د خپلو علمي،

څېړنیزو او نورو هغو لیکنو چې پر بیا چاپ او خوندیتوب ارزي، ضرور د هغو یوه یوه یا دوه کاپۍ له ځان سره خوندي کړي او که په رسنیو کې چاپ شوي هم وي، بایـد چـاپي او ناچـاپي یــوه یـادوه کـاپۍ ولري،کله که دی او یا هم نور څوک وغواړي دده د بېلابېلو لیکنــو ټولګه یا ټولګې چاپ کړي، نو له ستونزو او کړاوونو سره به مخامخ نه شي. عمر ډېر لنډ، تنګ او مصروف دی، زموږ راتلونکی نسل به تر موږ څو ځله زیات بوخت وي او وخت به هغوی ته رښتیا هم د ســرو زرو ارزښت ولري، نو که زموږ هر لیکوال خپله ټوله پانګــه خونــدي نــه کړي، نو له راتلونکي پښت څخه دې هم دا هیله نــه کــوي او نــه دې راتلونکي پښت، د ماضي پر کارونو مصروفوي. پښتنو ته بلا ډېــر کــار پروت دی، که زموږ راتلونکی نسل پر ماضي مصروف شي، نو دهغــوی خپل کارونه به څوک سرته ورسوي؟ زه د یوه شعوري افغان په توګــه نه غواړم د خپل کړي کار بار راتلونکي نســل تــه پرېــږدم، څــه مــې

کړي؟ ښه دي که خراب؟ نیمګړي دي که پوره؟ کره دي او که نــاکره؟ خپله یې باید راټول کړم او د خپل کار ثمر په خپله راتلونکي پښت ته وړاندې کړم، که زما د کار او نظر له یوې برخې هم زماخپل هېــواد او هېوادوالو ته ګټه ورسي، نو دا به زما لپاره د ژوند په پاتې ورځو شپو کې د روحي ارامۍ سبب شي او که تر ژوندانه وروسته راتــه د خپــل ملت افراد د دعا لاسونه پورته کړي، نو لوی څښتن به مې پر ګناهونو

پرده وغوړوي او د ابدي نېکمرغۍ لاره به راته پرانیزي. دالیکنې زما دماسټرۍ دورې د هغو لیکنو یوه ټولگه ده، چې د تدریس پر مهـال دکورنیو دندو په توگه موږ ته استادانو راسپارلې وې. پـوره بـاور دی چې که د ماسټرۍ دا دوره نه وای او یا هم د استادانو د زیار،زحمت او سپارښتنو او غوښتنو ټینگار نه وای، نو پوره یقین دی چې نه بـه دا لیکنې وې او نه به دا ټولگه. نو دلته ضروري گڼم چـې لـه قـدرمنو استادانو: سرمحقق زلمي هېوادمل، پوهاند ډاکتـر زېورالـدین زېـور، پوهنواله ډاکتـره زرغونـه زیـور رښـتین، اسـتاد حبیـب الله جـاج پښتونزوی، قدرمن استاد اورمړ، اسـتاد سـعدالدین شـپون، اسـتاد اڅک، استاد اسدالله غضنفر، هندي استاد شاستری محمـد حنیـف اونورو هغو قدرمنو استادانو چې په مستقیم او نامستقم ډول یـې زه ددې لیکنو د لیکنې جوگه کړی یم، مننه وکړم او کـور ودانـی ورتـه ووایم. د ماسټرۍ دورې له نورو فارغانو څخه مې هم دمننې تر څنگ دا هیله ده چې د خپلې دې دورې لیکنې سـره منظمـې او خونـدي کړي، په دې ډول به مو دپښتو ادب د خدمت په لار کې یو گام پورته کړی وي.

دا اثر مې ځکه د ((خوشال په خپل ایډیال)) په نامه ونوموه چـې اکثره لیکنې په کې د خوشال بابا په باب دي، بل کوم معیارونه چـې بابا د خپل یو ایډیال شخص (سړي) لپاره ټاکلي، تر ډېره بریده دی په

خپله پر همغو معیارونو برابر او پوره دی، یانې د خوشال ایډیال خپله خوشال دی او کېدی شي محمدګل خان مومند او ځینې نور پښــتانه مشران هم د خوشال د ایډیال شخص معیارونه پوره کړي.

خپلې ملي ژبې، ملي ادب او خپل ملت ته دډېرو خدمتونو په هیله

په درنښت

محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ،کابل- افغانستان

۱۳۸۷ ل کال د مرغومي ۱۲مه نېټه

# د خوشال یو تصوفي شعر

خوشال بابا یو اړخیز شخصـیت دی، خـو د خوشـال څـو اړخیـز شخصیت لا په هر اړخیز ډول څېړل شوی او شنل شوی نه دی. تراوسه پورې د بېلابېلو کورنیو او بهرنیو خوشال پېژندونکو له خوا د خوشـال په باب په لسګونو مستقل او په زرګونو عنوانه متفرقـه لیکنـې چـاپ شوي دي، خو بیا هم د خوشال شخصیت نورې څېړنـې او شـننې تـه اړتیا لري. خوشال یو شاعر و، لیکوال و، تاریخپوه او ټبر پوه و، طبیب او رنځپـوه و، جګـړن او تـورزن و، فلسـفي و، ښـکاري و، ارواپـوه و، سیاستوال او سیاستپوه و او د کامل مومند په اصطلاح "لنـډه دا چـې څه نه و چې دی نه و" یانې هر څه و، خو تراوسه پـورې لا د خوشـال د شخصیت ډېـر اړخونـه نـاڅېړلي او ناشـنلي پـاتې دي. د خوشـال د شخصیت له دې ناڅېړلو اړخونو څخه یو هـم د خوشـال د شخصـیت (تصوفي) اړخ دی. که څه هم یو شمېر پخو لیکوالو لکه دوست محمـد خان کامل مومند، سید رسول رسا، امیر حمزه شـینواري، سـرمحقق زلمي هېوادمل او محمد اِصف صمیم د خوشال د شخصیت دې اړخ ته هم نغوتې او اشاري کړي، خو لکه څنګه چې د خوشال د شخصـیت د رزم او بزم خوا څېړل شوې، دا خوا هغومره نه ده څېړل شـوې. حمـزه

بابا د خوشال بابا د یوه تصوفي شعر پر یوه بیت: ((په هر څه کې ننــداره د هغه مخ کړم ــــ چــې له ډېرې پیـــدایۍ ناپدید شو)) ، یــوه ځــانګړې رســاله لیکلې ده او دا شعر یې د وحده الوجود او وحده‌الشهود د فلســفې پــه رڼا کې څېړلی دی. خوشال بابا او حمزه بابــا پــه تصــوف کــې د یــوې ځانګړې طریقې خاوندان وو، نو ځکه خو حمزه بابا تــه د خوشــال دې شعر د مانا له پلوه ډېر ارزښت درلود، نو ځکه یې دا بیت په هــر اړخیــز ډول څېړلی دی. تصوف او عرفان په حقیقت کې د خوشال د شــاعرۍ یوه ځانګړې او اساسي برخه ده، چې د هغې د بېلابېلو خواوو له څېړنې او شننې څخه موږ ته یو متقي، زاهد، پرهېـــزګار او صــوفي خوشــال راڅرګندېږي. د خوشال زیاتره تصوفي او عرفاني افکار د هغه رباعیــاتو او څلوریزو کې خوندي شوي او بیا دې عرفاني رڼا غزلــو، قصــیدو او د خوشال نورو شعرونو ته هم لاره کړې ده. د خوشال په نږدې (زرو غزلو) کې داسې غزلې هم شته، چې ټولې تصوفي او عرفــاني رنــګ لــري او داسې غزلې هم شته، چې یو یا څو بیتونه یې تصوفي رنــګ او خونــد لري او نور بیتونه یې د ژوندانه نورو خواو تــه وقــف شــوي دي. همــدا عملیه پر ځینو قصیدو او د شعر پر نورو فورمونو هم تطبیقېږي. د غزل یوه ځانګړنه همدا ده، چې د یو ټولیز او کلي ارتباط د ساتنې او پــالنې ترڅنګ یې هر بیت یوه خپلواکه مانا هم لــري. د خوشــال بابــا اکثــره غزلې له همدې امتیاز څخه پوره برخمنــې دي. کــه څــوک غــواړي د خوشال بابا د تصوفي او عرفاني افکارو څېړنه وکړي، نو یوه کتاب نــه،

بلکې د کتابونو لیکنې ته اړتیا ده او که څوک غواړي د خوشال له کلیاتو څخه د هغه د تصوفي افکارو پر بنسټ د هغه شعرونه رابېل کړي، نو بیا به هم پام وړ شعرونه شي او که بیا یوازې د خوشال دې تصوفي افکارو ته ښه ځیر شي، نو داسې فکر به وکړي، چې خوشال ګڼې له تصوف پرته هېڅو بل کار نه دی کړی. دغسې که موږ د خوشال د شخصیت هر اړخ مطالعه کوو، نو له یوه بېل او ځانګړي خوشال سره به مخامخ شو. دلته به د خوشال د تصوفي افکارو د ځلا په خاطر د خوشال هغه غزل راوړو، چې دده کلیات پرې پیلېږي او پوره تصوفي اوعرفاني مانا او رنګ لري:

صورتګر چې ښه صورت په دېوال ساز کا
کل عالم یې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کا
چې له څه څاڅکي نه دا نقش و طراز کا
سترګې، وروځې، پوزه نور کېږدي په مخ کې
غاښ و شونډې، ژبه، خوله سره پر داز کا
یو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه
چې په دواړو اورېدنه د اواز کا
بند په بند د لاسو ګوتې وبله کېږدي

سر تر پایــه درســت صــورت ســره یــو راز کــا
کــه څــوک زر کتابــه وکښــي لــه دې بابــه
که په کښل شــي زر بــه نــور پســې اغــاز کــا
هر وېښته چې په صــورت بانــدې لیــده شــي
که پرې ځیر شې د شناخت ور به درتــه واز کــا
خــاص بنــده د خــدای هغــه ګڼــه خوشــاله!
چــې د ځــان پــه معرفــت یــې ســرفراز کــا.

بابا ددې غزل په لومړي بیت کې د لوی خالق د قــدرت علایمــو تــه اشاره کوي او وایي یو عادي انځورګر یا رسام، چې یوه تابلو یا انځور رسم کړي او هغه بیا چېرته په کوم دېوال یا نندارتون کې کېږدي او خلک یــې نندارې ته راشي، نو ټول یې توصیف او ستاینه کوي. د رسام یــو ښــکلی انځور په ډېرو لفظي ستاینو او مالي قیمت ارزوي، نو کله چې د یو عــادي انځور خالق یا انځورګر په دومره ستاینو او قیمت ارزي، هغــه لــوی ذات چې ددې انځور، د انځورګر خالق او انځورګر دی، هغــه بــه پــه څــومره ستاینو او نمانځنو وارزي؟ خوشال بابا وایي: خلک د هغه

صانع، صفت او تخلیق ته متوجه نه دي، چې له یوه څاڅکي څخه یې په څه نقش او طراز باندې انسان یا همدا انځورګر، چې یو عادي انځور یې جوړ کړی، تخلیق کړی دی. انځورګر له بېلابېلو رنګونــو او نــورو توکــو

څخه په ډېر زحمت او دقت ګټه پورته کوي او تر یوه کړاو وروسته یو انځور جوړوي، خو لوی څښتن تعالی په خپل حکمت له یوه ځاځکي څخه داسې یو انځور یا انځورګر جوړوي، چې هغه بیا د نورو انځورونو د جوړونې وړتیا لري. په داسې حال کې چې د عادي انځورګر، انځور د بل انځور د جوړونې قابلیت نه لري او یو جامد موجود ګڼل کېږي، خو د لوی خدای(ج) ذات د انځور جوړونې قابلیت بیا دا دی، چې په همدې یوه ځاځکي، خپل انځور ته سترګې، وروځې، پوزه، غاښ، شونډې، ژبه، خوله او نور سره پرداز کړي، چې په دې سره خپل انځور د خبرو، لیدو او ګرځېدا وړ کړي، غوږونه ورته کېږدي، چې د اورېدو وړتیا پیدا کړي، لاسونه او پښې ورته ورکړي، چې د تحرک او کار قابلیت پیدا کړي. لنډه دا چې په دې یوه ځاځکي د خپل انځور ټوله ښکلا او ضرورتونه پوره کړي. خوشال بابا وایي: که د لوی خالق ددې انځور یا مخلوق د ښکلا او جوړښت په باب هر څومره بحث او خبرې اترې وشي، کتاب او کتابونه ولیکل شي او ان په زرګونو کتابونه، نو بیا به هم په دې انځور کې د لوی خدای(ج) د قدرت د ټولو عجایبو تفصیل ورنه کړای شو. خوشال بابا د خدای(ج) ددې انځور یوازې یوه وېښته ته اشاره کوي او وایي: که یوازې پر همدې یوه وېښته تحقیق او پلټنه وشي، نو د خپل رب پېژندنې ور به درته ببرته کړي. د انسان په وجود کې د وېښتو د شتوالي پر ضرورت او اهمیت عادي وګړي نه پوهېږي، خو کله چې له طبیبانو پوښتنه وشي، نو بیا به سړی پر خپل بدن د وېښتانو پر ګټې او

ارزښت پوه شي. رنځپوهان یا طبیبان وايي: د انسان پر وجود چې هــر ځومره وښتان دي، هر وېښته یو ځانګړی سوری لري، چې د انسان د بدن دننني او بهرني دفاعي سستم تنظیموي، یانې د انســان د وجــود اړینه هوا بدن ته داخلوي او کله چې پر انسان د ګرمۍ او نورو عواملــو له امله فشا راځي او خوله تولیدوي، دا خوله د همدې وېښتانو له لارې له بدن څخه خارجېږي. په دې ډول وېښتان د بدن د تبخیر پــه چــارو کې مهم رول ادا کوي. دغه راز د انســان د بویــونې پــه سســتم کــې وېښتان د هوا په پاکولو کې ډېره مرسته کوي. خوشال د یوه صــوفي او طبیب په توګه د خدای د پېژندنې لپاره دا یو وېښته د ساري په توګــه یادوي او که همدا یوه وېښته ته هم متوجه شو، نو د خدای د حکمت او قدرت پر رازونو به پوه شو. خوشال بابا هغه انسان نېکمرغه ګڼي، چــې خدایج ورته ددې وس او توان ورکړی، چې د لوی خدای ج د قدرت پــه باب فکر وکړي، خو خوشال د خدای د پېژندنې راز په دې کــې ګڼــي، چې انسان د خپل ځان په باب فکر وکړي، زه څوک یــم، څنګــه جــوړ شوی یم؟ او چا جوړ کړی یم.؟ خوشال بابا وايي لکه څنګــه چــې یــو (انځور) خپل (انځورګر) لري او پرته له هغه، انځور هــډو جوړېــدی نــه شي، دغسې انسان (مخلوق) هم یو (خالق) لري، چې د هغه له قــدرت او حکمت پرته دی اصلاً راتوکېدی نه شي، نو په دې خــاطر چــې مــوږ خپل خالق وپېژنو، د خپل ځان په باب باید فکر وکړو او په ځان کــې د لوی رب د قدرت او حکمت نښې نښانې کشف کړو. هغه نښې نښــانې

چې هره یوه یې د یو خاص هدف لپاره ګومارل شوې او مشخصه دنــده ترسره کوي، نو کله چې مور د لوی رب د قدرت په دې رازونو پوه شــو، نو بیا چې د یو عادي انځور لپاره د یو عادي انځورګر ستاینه کوو، نو بیا خو لازمه ده، چې شپه او ورځ د هغه حقیقي او اصلي انځــورګر (لــوی رب) ستاینه وکړو، چې د (انسان) په شان انځور یا صنع یــې رامنځتــه کړی دی او همدغه کسان بیا د خدای؟ نېکمرغه کسان دي، چــې پــر همدې تفکر، نمانځنه او ستاینه بوخت وي.

# ((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو))

## د تحقیق د اصولو له نظره

((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو)) (د پښتو شعرونو د سبکونو تاریخچه) د پوهاند عبدالحی حبیبي یوه تحقیقي او تحلیلي رساله ده، چې د کابل کالنۍ د (۱۳۱۹ ل) کال په (۱۶۱-۲۲۸) مخونو کې چاپ شوې ده.

زه په خپله دې لیکنه کې، لومړی غواړم، ددې لیکنې غټ محتویات معرفي کړم او وبه ګورو چې استاد خپله لیکنه پر څو برخو وېشلې او کوم غټ مسایل یې په کې څېړلي دي؟ تر هغه وروسته بیا غواړم پر دې وغږېږم چې د استاد ددې لیکنې وېش د تحقیق د اوسنیو اصولو له مخې څومره ژور دی او د تحقیق کوم اصول پرې اوس د تطبیق وړ دي؟ او یا هم د (۶۷) کلونو پخوانۍ لیکنه د تحقیق له اوسنیو معیارونو سره څومره په تول تللې ده؟ مخکې تر دې چې زه خپلې خبرې وکړم، ښه به وي چې د اصلي لیکنې غټ ټکي بیان کړم او بیا د هغو په رڼا کې د تحقیق د اوسنیو اصولو فرضیه وړاندې کړم.

استاد حبیبي مخکې تر دې چې خپلې اصلي تجزیې او تحلیل ته راشي، لومړی یې د سبك د پیدایښت فلسفه بیان کړې او په لنډیز سره یې د تاریخ په مختلفو دورو کې د شعر د شکلي او مانیز تغیر او تحول علتونه بیان کړي او په خپله د سبك تعریف یې کړی دی.

استاد په پیل یا سریزه کې د خپلې دې لیکنې علت په ګوته کوي او وايي: " په دې مضمون کې غواړم دملي ژبې د شعرونو پر سبکونو نظر واچوم او د سبکونو او د بیان د طرز له مخې د هغو تل ته ورننوزم، څرنګه چې د پښتو ادبیاتو تاریخ لکه څرنګه چې لازمه ده تر اوسه پورې نه دی لیکل شوی، ځکه نو زما دا څېړنه او پلټنه بشپړه نه ده او شاید نیمګړتیاوې به ولري او لوستونکو ته به په کې لوړې ژورې ښکاره شي، لکه څنګه چې زما له لیکنې څخه ښکاري او تر اوسه په دې باب څېړنه نه ده شوې او نه څه لیکل شوي، ځکه نو که زما په دې لیکنه کې څه سهوې وي، هیله ده پوهان یې د حل لاره را په ګوته کړي..." [1]

استاد حبیبي په خپله دې لیکنه کې تر پورتنۍ یادونې وروسته د پښتو شعرونو پر سبکونو غږېږي او د پښتو شعر دوره

---

(1) کابل کالنۍ ، ۱۳۱۹ل کال ۱۶۳ مخ.

بندي کوي. استاد پښتو شاعري پر دريو دورو وېشلې ده: (۱) لرغونې طبقه او د هغو پلويان، (۲) د عروضي شاعرۍ طبقه، (۳) د عوامو د شاعرۍ طبقه. استاد لرغونې دوره له (۴۰۰) هـ څخه تر (۱۰۰۰) هـ کال پورې ګڼلې ده. په خپله ليکنه کې يې د هرې دورې ځانګړتياوې، د هرې طبقې د سبکونو خصوصيتونه په تفصيل سره په ګوته کړي او يو بل سره يې توپيرونه څرګند کړي دي او د ملي اوزانو او د عروضي قاعدې په پيروۍ فورمونه يې تشريح کړي دي. د ساري په توګه د ملي وزنونو په سبك، د شعرونو خصوصيات يې دا ګڼلي چې په دې کې ساده ګي او جذابت وي، د نورو ژبو کلمې په کې نه وي کارول شوې، دعربي او پارسي وزنونو تابع نه وي ، د مضمون او فورم له پلوه اکثره پخوانيو اريايي شعرونو ته ورته دي. د لرغونو شعرونو يو خصوصيت دادی چې مضمون يې مسلسل او مرتب وي، خدای پالنه او دين پالنه په کې زياته ځلېږي، په مجموعي ډول دا سبك پېچلتيا نه لري او طبيعي مزايا لري او دغه راز ځينې نور خصوصيتونه.

استاد حبيبي په لرغونې دوره او ملي اوزانو پورې تړلي دغه لاندې شاعران معرفي کړي، دهغو د ژوند پر څرنګوالي يې رڼا اچولې او د هغو هر شعر يې په هر اړخيز ډول تحليل کړی دی:

۱- د بیټ نیکه ژوند او د شعر ځانګړتیاوې
۲- دملکیار غرشین ژوند او د شعر ځانګړتیاوې
۳- دتایمني ژوند او د شعر ځانګړتیاوې
۴- دشیخ اسمعیل ژوند او د شعر ځانګړتیاوې
۵- دقطب الدین بختیار ژوند او د شعر ځانګړتیاوې
۶- د اکبر زمینداوري ژوند او د شعر ځانګړتیاوي

استاد حبیبي د پورتنیو شاعرانو پر شعرونو تر بحث وروسته پر دې مسایلو رڼا اچولې چې د پخوانیو سبك څنګه تغیر شو؟ د هغو عوامل یې تشریح کړي دي. څنګه پښتانه لوستي شاعران له عروضي شاعرۍ سره اشنا شول؟ او څنګه یې د هغو له شعري فورمونو څخه ګټه پورته کړه؟

په دې ترخ کې استاد حبیبي پر خیرالبیان غږېږي او د هغه پر سبك رڼا اچوي، بیا د خیرالبیان پر وړاندې د اخوند درویزه پر مخزن الاسلام غږېږي او د هغه سبك تشریح کوي، سربېره پر دې د اخوند درویزه او پیر روښان د سبك پیروان معرفي کوي، دهغو پر پېژندګلوۍ سربېره د هغو د شعرونو ځانګړنې هم په ګوته کوي. استاد حبیبي په خپله دې لیکنه کې د پیر روښان او اخوند درویزه پیروان په دې ډول په ګوته کړي دي:

## د پیر روښان پیروان:

۱- علي محمد مخلص

۲- ملا ارزاني خویشکی

۳- عبدالله

۴- میرزا خان انصاري

۵- واصل

## د اخوند درویزه پیروان:

۱- کریم داد

۲- عبدالسلام

۳- مصطفی محمد

۴- اخوند قاسم

استاد حبیبي د پیر روښان او اخوند درویزه پر پیروانو سربېره د (ملا الف) په نامه هم د یوه شخص او د هغه د سبك یادونه کوي او لیکي چې ګڼ شمېر پلویان یې درلودل.

ملا الف د کلات د اتغر په کلي کې استوګنه لرله، چې له خپل استوګنځي لرې یې خپلو زده کړو ته دوام ورکاوه. په زرم هجري کلونو کې یې ژوند کاوه او د ((بحرالایمان)) په نامه یې منظومه رساله لیکلې، دده په شعرونو کې اسلامي عقاید او نصایح

ځلېدل او د یوه مبلغ په توګه یې دنده اجرا کړې ده. استاد حبیبي دغه لاندې کسان د ملا الف د سبك پلویان ګڼلي دي:

۱- ملا شیر محمد هوتك
۲- شیرمحمد ننګرهاری
۳- میا فقیرالله جلال آبادی
۴- ملا عبدالرشید
۵- سعادت خان
۶- جان محمد
۷- ملا فرح الدین
۸- محقق کندهاری
۹- ملا زبردست
۱۰- مولوي عبدالحمید کاکړ
۱۱- صاحب زاده مرادعلي کاموي
۱۲- دوست محمد ختک
۱۳- ملا عبدالباقي
۱۴- اخوند کبیر پشاوری

تر ملا الف وروسته استاد حبیبي د خوشال خان پر سبك او مکتب هر اړخیزه رڼا اچولې ده او وایي ((تر زرم هجري کال وروسته د پښتو ادب او شعر په نړۍ کې یو مخصوص غورځنګ

او جنبش وتهوکېده چې ددې غورځنګ لوی لارښوونکی هماغه دپښتو یو سردار او اوسپنیز شخص؛ خوشال خان ختټک دی چې پښتو شعر یې په خپلې روښانه قریحې سره لوړو پوړیو ته ورساوه او کولای شو هغه ته د پښتو ادب پلار او لوی استاد ووایو...))[1]

استاد حبیبي د خوشال د شاعرۍ د بیتونو شمېر تر پنځوس زرو زیات ښیي او د ده د سبك خصوصیات دا ګڼي چې په هر ډول فورم کې یې شاعري کړې ده. په شعر کې یې ملي ولولې ښکاري، پر اجتماعي او تاریخي مسایلو مالا مال یې قصیدې لیکلي، په شعر کې یې له بدیعي صنایعو کار اخیستی، هجوه او تنقید یې په شعرکې ځای کړي، بېلابېل فلسفي او اخلاقي مسایل یې په شعر کې بیان کړي او له لوړ تخیل څخه یې په کې کار اخیستی دی.

د خوشال خان د ادبي مکتب پیروان چې دده د کورنۍ له غړو او نورو څخه عبارت دی، په دې ډول معرفي کوي:

۱- عبدالقادر خان ختټک

۲- اشرف خان هجري

۳- صدرخان ختټک

(۱) کابل کالنی، ۱۳۱۹ ل کال، ۲۰۲ مخ.

## ۴- سکندر خان ختټك

دا د خوشال خان ختټك زامن او د ده دمکتب پیروان دي، سربېره پر دې د خوشال د سبك نور پیروان په دې ډول معرفي کوي:

۱- یحیی اخندزاده
۲- خواجه محمد بنګش
۳- معزالله
۴- عثمان
۵- اودل
۶- اشرف
۷- فاضل
۸- ابراهیم
۹- فضیل
۱۰- حسین
۱۱- مهین
۱۲- عصام
۱۳- ابو القاسم
۱۴- فتح علي
۱۵- علیم

تر خوشال بابا وروسته د رحمان بابا پر ژوند او ادبي سبك رڼا اچوي او تشريح كوي يې.

د رحمان بابا په باب وايي چې شاعر له روح څخه ا لهام اخلي، له مادي كثافاتو ځان لرې كوي، دده د شاعرۍ د بيان طرز سليس، ساده او روان دی. د عشق په جهان كې واقعيت ته ګوري، روحي عشق او الهام د ژوندانه محور ګڼي او يقين او ايمان پر خالي عقل لوړ ګڼي.

د ددې مكتب نوميالي پيروان په دې ډول په ګوته كوي:

١- عبدالرحيم هوتك
٢- احمدشاه بابا
٣- اخوند ګدا
۴- عبدالعظيم
۵- ميانعيم
۶- ملا جمعه
٧- عبدالنبي
٨- شېر محمد
٩- مطيع الله
١٠- قاسم علي اپريدی
١١- يونس

۱۲- غفور
۱۳- صدیق
۱۴- شهنواز
۱۵- حافظ الپوري

تر رحمان بابا وروسته د پیر محمد کاکړ پر شخصیت او سبك خبرې کوي او وايي چې د پیرمحمد کاکړ په شاعرۍ کې ډېر نازکه عشقي احساسات څرګندېږي، استعارات او تشبیهات یې طبیعي رنګ لري، الفاظ یې شفاف او څرګند دي. د تصویر او تجسیم لپاره خاص لغات کاروي، د اخلاقي تلقین لپاره هم داسې الفاظ نه کاروي چې د ټولنې تر حدودو بهر وي. ددې سبك او مکتب پیروان په دې ډول دي:

۱- شمس الدین کاکړ
۲- ګل محمد
۳- سردار مهردل خان مشرقي

تر دې وروسته حمید مومند معرفي کوي او د هغه د سبك په باب وايي:

((خیالپالنه یا خیال پردازي ددې سبك غټه ځانګړنه ده، اغراق او مبالغه یې بل خصوصیت دی، تلازم په کې په ښه ډول

مراعتېږي، مثل او ممثل، لازم او ملزوم او ناتج او منتج، دغه راز ډېرې نادرې تشبه ګانې او استعارې په کې کارول کېږي.))

ددې سبك پیروان په دې ډول دي:

۱- کاظم خان شیدا
۲- محمدی
۳- میرزا حنان
۴- حاجي عبدالله محزون
۵- کاظم خان
۶- کامګار
۷- ملا محمد اکرم
۸- صمد

تر حمید وروسته د قلندر سبك راپېژني. قلندر (۱۱۰۰هـ) په حدودو کې په پېښور کې اوسېده، په ټبر اپریدی و، استاد حبیبي یې د ژوند په هکله وایي:

(( قلندر د میرا په نامه یو مرشد درلود چې له هغه سره یې مینه د جنون تر حده رسېدلې وه، دده عشق اوږدېږي او ډېر سوزنده مراحل وهي، قلندر هر وخت په سوات کې د میرا د دیدن لپاره د یوې تپې پر سر منتظر پاتې کېږي او په پای کې په ډېر حسرت، نهیلۍ او ناکامۍ سره مري او په

همغې تپې کې خاورو ته سپارل کېږي، کله چې يې ميرا خاورو ته ورځي، اوښکې تويوي، دمينې او عشق جذابيت دی هم راکاږي اومري او دقلندر ترځنګ خاوروته سپارل کېږي.)) [1]

د استاد حبيبي په نظر، سره له دې چې قلندر د حميد د سبك تابع دی، خو د هغه د سوزنده عشق له کبله په خپله د يو سبك د رامنځته کېدو سبب شوی، چې دعشق همدا سوز او زخمي احساسات يې په شعرونو کې ښکاري، ده په پښتو کې يو مخصوص بحر رامنځته کړی چې ملي وزن لري. په پښتو کې ملا حسن اسحق زی او ملا صالح محمد داوی پر دې بريالي شوي چې د قلندر د سبك په څېر شاعري وکړي.

## د حماسيونو سبك:

استاد حبيبي هغه شاعران چې حماسي شعرونه يې ويلي، خو په مشخص ډول د کوم مشهور شاعر د سبك تابع نه دي، هغه يې د حماسيونو تر عنوان لاندې په جلاکته ګورۍ کې راوړي، په دې شاعرانو کې دغه شاعران شامل دي:

۱- برهانخان
۲- مسعود ګل ياسيني

---

[1] کابل کالنی، ۱۳۱۹، ۲۱۷مخ

۳- نورالدین
۴- زاهدخان ابراهیمزی
۵- عزیزخان رڼاخېل
۶- سپینه
۷- ملاله

## د داستان ویونکو سبك:

د پښتو ادبیاتو په لرغوني او منځنۍ دوره کې یو شمېر داسې شاعران شته، چې ځینې کیسې یې په نظم را اړولي یا داستاني کړي دي، استاد حبیبي دوی د داستان ویونکو د سبك تر نامه لاندې مطالعه کړي او دهغوی ژوند یې تشریح کړی دی. دغه لاندې شاعران یا ناظمان په دې ډله کې شامل دي:

۱- بای خان
۲- میاعمر ځمکنی
۳- اما الدین
۴- ارسلا
۵- فیاض
۶- مسعود
۷- غلام محمد
۸- نور
۹- احمداخون خېل

۱۰- رحمت داوی
۱۱- ملا احمدخان
۱۲- رحمت
۱۳- ملا نعمت الله
۱۴- ملااحمد.

## د عوامو سبك:

استاد حبيبي په پښتو ادبياتو كې د عوامو د سبك تر عنوان لاندې يو بل سبك ته هم پام كړی او هغه يې څېړلی دی، استاد حبيبي دا د پښتو د ملي شاعرۍ تر ټولو غوره ذخيره بولي، چې د خلكو په بېلابېلو طبقو كې ډېر عام مقبوليت لري، دا شعرونه خپل ځانګړي وزنونه لري، چې يوازې ملي وزنونه دي ، هره ترانه، هر وزن او بحر يې خپل خاص اهنګ لري، په دې وزنونو كې بېلابېل عشقي، حماسي، اخلاقي او نور مسايل بيان شوي دي، دا شعرونه ځانګړی جذابيت او زړه راكښون لري، ددې سبك ځينې مشهور لارويان دادي:

۱- كمال
۲- محمدی
۳- ميرا
۴- عبدالله نورزی
۵- خدای رحيم اكاخېل

۶- عبدالودود ستریاني
۷- ملا حیران
۸- ملا خواجه محمد
۹- صدیق اخندزاده هوتك
۱۰- سلیم زمین داوری
۱۱- ملا عبدالرحمن
۱۲- محمدایوب برېخ
۱۳- طالب
۱۴- توکل د ښېوې
۱۵- سردار پردل خان
۱۶- ملا شیرمحمد
۱۷- برخوردار
۱۸- فیض الله
۱۹- سیدکمال
۲۰- محمدیار صاحب زاده
۲۱- ملازاهد اندړ
۲۲- محمددین
۲۳- نوروز.

د استاد حبیبي تر دې څېړنې، وېش، تحلیل او ارزونې وروسته راځو پر همدې لیکنې خپل نظر او ارزونې ته چې ایا دا لیکنه د تحقیق له اوسنیو اصولو سره څومره برابره او څومره

دهغو په تول تللې ده؟ لوی استاد حبیبي ته خدای(ج) يو خارق العاده استعداد ورکړی و، ده دخپل استعداد يوه درنه برخه همدې تحقيق ته بېله کړې، (( تاریخچه سبکهای اشعار پشتو)) هم دده يوه غوره تحقيقي او تحليلي ليکنه يا رساله ده. سره له دې چې دا ليکنه يا کتابګوټی له نن (۱۳۸۶ل کال) څخه اوه شپېته (۶۷) کاله دمخه ليکل شوی او دا داسې مهال و چې د افغانستان د پښتو او دري ادبياتو په باب ټولې د ګوتو په شمار تحقيقي ليکنې نه وې شوې، خو استاد حبیبي د هغه نبوغ له مخې چې درلود يې داسې تحقيقي ليکنه کړې، چې اوس لا هم نوې ده او د تحقيق له معاصرو او نويو اصولو سره هم ښه سمون خوري، د تحقيق د ګڼو اصولو له جملې څخه ځينې مهم اصول دادي، چې يو تحقيقي اثر پر يوې سريزې پيل کېږي، چې ليکوال په کې د منابعو د يادونې ترڅنګ د اثر د ليکلو ضرورت په ګوته کوي، دکتاب اصل متن چې د تحقيق اساسي برخه ده او ټولې پوښتنې ځوابوي او د کتاب يا ليکنې وروستۍ برخه پايیزه يا نتيجه چې ليکوال په کې معمولاً د خپل کار ارزونه کوي او پر څه شي چې نه دی بریالی شوی، د هغو يادونه کوي چې په اینده کې يې اصلاح کوي او يا يې هم نورو ته د سمون سپارښتنه کوي.

د استاد دا لیکنه د تحقیق د نورو اصولو ترڅنګ دا پورتني اصلونه هم لري، په پیل کې یوه سریزه راغلې چې ددې لیکنې ضرورت ته یې ګوته نیولې او د هغې تشې یادونه یې کړې چې د ملي ژبې د ادبیاتو د پېژندنې په برخه کې دا وخت موجوده وه. استاد حبیبي مخکې تر دې چې د پښتو شعرونو د سبکونو پر پېژندنې پیل وکړي، خپله په عام ډول د سبکونو د رامنځته کېدو علتونه بیانوي او سبکونه راپېژني، بیا د همغو عواملو په رڼا کې د پښتو شاعرۍ بېلابېل سبکونه دهغو بنسټګر، دکلام بېلګې او د هغو مشخصات په ګوته کوي. هر سبك چې راپېژني دهغه بګروند (شالید) هم راپېژني، لوستونکي ته د لوستو پر وخت داسې ابهام نه پرېږدي چې هغه ته د پوښتنې سبب شي. د یوې ښې تحقیقي لیکنې یوه ځانګړتیا همداده چې حقیقت باید معلوم کړي، اصلاً دتحقیق تعریف هم دادی چې (( د یوې ټاکلې موضوع په باب رښتینې، ژوره او عالمانه پلټنه ده چې په هغې کې واقعیتونه، معناوې او تطبیقي مواد هم تر ازموینې لاندې نیول کېږي.))[1] د استاد حبیبي دا لیکنه دتحقیق له همدې تعریف سره پوره پوره سمون خوري، د یوې تحقیقي لیکنې لپاره ځینې معیارونه او ځانګړتیاوې شته چې دلته یې یادونه کوو او بیا

(۱) سرمحقق زلمی هېواد مل، د پښتو څانګې دماسترۍ دورې د څېړنې میتودولوژي مضمون، لکچر نوټ، (۱) مخ، ۱۳۸۶ل کال.

ګورو چې دا ځانګړتیاوې څومره د استاد حبیبي پر دې لیکنه د تطبیق وړ دي:

## ۱- څېړنه به د یوې ټاکلې مسالې پر محور څرخي:

د استاد حبیبي ((د پښتو شعرونو د سبکونو تاریخچه)) یوازې همدا موضوع څېړي او یا لږ تر لږه هغه موضوعګانې چې له دې سبکونو سره تړلې دي، دی هېڅکله له موضوع نه خارجېږي او نه یوه موضوع په بل متن ورګډوي او نه حاشیې یا لمنلیکونه ورکوي.

## ۲- په څېړنه کې به یو ابتکاراو نویتوب موجود وي.

دویم معیار خو سل په سلو کې ځکه پر دې لیکنه د تطبیق وړ دی چې تردې دمخه هېڅا هم په تېره بیا په دري ژبه د پښتو شعرونو د سبکونو په باب دومره جامع لیکنه او تحلیل نه دی کړی. دا لومړنۍ لیکنه ده چې په دري ژبه نسبتاً په تفصیل سره د پښتو شاعرۍ پر عام تعارف او د سبکونو په باب په خاص ډول رڼا اچوي او د لیکنې په متن کې راغلي شعرونه هم له دري ژباړې سره راوړل کېږي، دلته دري ژبي نه یوازې د پښتو شاعرۍ

له سبکونو، بلکې دهر شاعر د شعرونو له فکري محتوا سره هم په بنه ډول اشنا کېږي، د يوې ژبې شاعري د بلې ژبې ويونکي ته ورپېژندنه هغه هم پر هغه مهال خپله يو نوښت دی.

## ۳- ځېړنه به د يو ذهني استعجاب پر روحيه ولاړه وي:

د استاد هره ليکنه پر ذهني استحکام او تمرکز ولاړه ده،نويوالی په کې شته، ذهني پاشلتيا او له يوې موضوع سره د نورو موضوعګانو ګډون په کې نه شته او څه چې د لوستونکي ضرورت وي، هغه د استاد له ليکنې ترلاسه کولای شي، ((د پښتو شعرونو د سبکونو تاريخچه)) هم له دې ډول ليکنو څخه يوه ده.

## ۴- څېړنه به له يوه ازاد فکر سره شروع کېږي:

د استاد حبيبي دا ليکنه د استاد حبيبي د خپل ازاد فکر زېږنده ده، داسې نه ده چې چا پرې د يو فکري قيد او فشار په نتيجه کې ليکلې وي، هغه ذوق او علاقه چې استاد له ملي ژبې او ادب سره درلودله، دده فکر يې دې ليکنې هڅولی دی.

## ۵- څېړنه به پر دغسې یو ذهنیت متکي وي چې ګویا په طبیعت کې هر څه د یوه نظم او قانون تابع دی:

د استاد لیکنه هم د یوه نظم او سیستم تابع ده، له تاریخي تسلسل څخه نیولې بیا د شعرونو د تشابه له مخې یو نظم تعقیبوي، د بیټ نیکه له مناجاتو نیولې او بیا تر وروستي هغه شاعر پورې چې دا وخت یې ده ته معلومات شوني وو، ټول په ترتیب او نظم سره راغلي دي.

## ۶- د څېړنې مقصد به د قوانینو او عمومي پرنسیپونو رابرسېره کول وي:

استاد حبیبي په خپله دې لیکنه کې هم د تحقیق قوانینو او پرنسیپونو رعایت کړی او هم یې د تحقیق لپاره پرنسیپونه په ګوته کړي، د ساري په ډول چې کله د یوه سبك یادونه کوي، لومړی دهغه سبك مشخصات بیانوي او هر هغه شاعر او د هغه کلام چې همغه ځانګړنې ولري، په هغه سبك کې شاملوي.

## ۷- په څېړنې کې به علت او معلول څېړل کېږي:

د استاد حبيبي په دې ليکنه کې چې سبکونو ته ځانګړې شوې، د هر سبك د رامنځته کېدو علتونه په ګوته شوي، دعوامو شاعري، په ملي اوازانو کې شاعري او همدارنګه له نورو ژبو راغلي شعري فورمونه يا عروضي شاعري او د هغو علتونه ټول واضح شوي دي.

## ۸- په څېړنه کې به له اندازه کولو څخه کار اخيستل کېږي:

په ټولنيزو او ادبي څېړنو کې ارزونه د فزيکي مقياس په معيار نه وي، بلکې د اثر کمي او کيفي اړخ ته په کې کتنه کېږي، استاد حبيبي د پښتو ادبياتو د هر سبك په باب يو عمومي جاج وړاندې کړی او له کمي او کيفي پلوه يې د يو سبك پلويان شمېرلي او د اثارو پر څومره والي يې بحث کړی دی.

## ۹- په څېړنه کې به شعوري تکتيك څخه ګټه پورته کېږي:

دا چې يوه ليکنه د څه لپاره کېږي، څه وخت کېږي او ولې کېږي؟ دې ته استاد حبيبي د خپلې دې ليکنې په سريزه کې هم اشاره کړې، دده له اهدافو څخه يوه موخه داده چې نور خلك د

خپلو ادبیاتو له ماهیت، ارزښت او کیفیت څخه خبر کړي او په دې کار کې ډېر بریالی شوی دی.

د یوې ښې تحقیقي لیکنې تر څنګ څېړونکي یا محقق یو لړ صفتونه لري، که چېرې څېړونکی د هغو ښتن وي نو کېدی شي د څېړنې په تول پوره لیکنه وکړي: اول دا چې څېړونکی باید پر خپله موضوع پوره لاس بری او حاکمیت ولري، د امانت ساتونکی او د همکارۍ پالونکی وي. څېړونکی باید تعصب ونه لري او په څېړنه کې باید ځان له هر ډول تعلقاتو لرې وساتي او بې طرفه وي، منطق او استدلال ولري، بیان یې صریح او څرګند وي، ریاکار نه وي، زغم او حوصله ولري، د علم ژبه یې باید زده وي او نور...))[1] موږ چې د یو محقق لپاره پورتنیو صفاتو ته ګورو، نو دا ټول او تر دې زیات په لوی استادحبیبي کې لیدل کېږي، هغه پر خپلې ټاکلې موضوع دومره لاس بری دی چې تر ده دمخه چا په پښتو ادبیاتو کې پر داسې مسایلو دومره لیکنې نه دي کړي، ځینې ادبي پانګې خپله د لومړي ځل لپاره د استاد حبیبي لاس ته ورغلي او ده لومړی ځل تشریح کړي او خلکو ته یې وړاندې کړي دي، دده د تحقیق په نتیجه کې د پښتو ادبیاتو ډېر

(۱)- سرمحقق زلمی هېواد مل، د پښتو څانګې د ماسترۍ دورې د متن څېړنې د میتودولوژی مضمون لکچر نوټ، ۱۳۸۶ل کال (۲) مخ.

تیاره ګوټونه روښانه شوي، د هر متن په انتقال کې یې له ډېرې امانتدارۍ کار اخیستی او ان د تذکرۀ الاولیا د لیك پر لوستلو یې خو یې ډېر وخت تېر کړی او ډېر کړاو یې ګاللی دی. استاد حبیبي د افغانستان او سیمې یو لوی عالم و او د عالم یو خصلت داوي چې پر علمي ارزښتونو ولاړ وي او د مسایلو په تحلیل کې له تعصب څخه کار نه اخلي، ددې لیکنې ژبه خورا فصیحه او بلیغه ده، هېڅ ډول ابهام او پوښتنو ته یې ځای نه دی پرې ایښی، لنډه دا چې د یوه محقق لپاره چې څه ځانګړتیاوې په کار دي هغه ټولې د استاد په وجود کې خوندي وې او که د ده خپل ځانګړی استعداد او نبوغ ورسره یو ځای کړو، نو خبره تردې نوره هم اوچتېږي.

## د شکل له پلوه د استاد حبیبي د دې لیکنې څرنګوالی:

په عام ډول یوه څېړنه د شکل له مخې په دوه ډوله ترسره کېږي: ((کتابي یا کتابتوني تحقیق او بل یې ساحه یي تحقیق دی)) د استاد حبیبي (( د پښتو شعرونو د سبکونو تاریخچه)) د شکل له مخې دا دواړه حالتونه رانغاړي. استاد حبیبي هم له بېلابېلو کتابونو، اخځونو څخه ګټه پورته کړې او هم یې له خپلو

هغو اثارو څخه ګټه اخیستې، چې ده ورپسې بېلابېلې سیمې پلټلي او ترلاسه کړي، لکه، تذکرۀ الاولیا چې یوازې څلور پاڼې یا اته مخه یې د استاد حبیبي لاس ته ورغلي او ترده دمخه دچا لاس ته نه وه ورغلې او نه یې ترې معلومات درلودل. دلومړي ځل لپاره استاد حبیبي د تذکرۀ الاولیا په باب څېړنه او شننه وړاندې کړه او په همدې لیکنه کې هم د تذکرۀ الاولیا پاڼې معرفي شوې، شعرونه یې په دري ژبه واړول شول، تحلیل او ارزونه یې وشوه، مخکې تردې چې تذکرۀ الاولیا دپښتانه شعرا په لومړي ټوك کې پر (۱۳۲۰ل) کال چاپ شي، دلته یې پر (۱۳۱۹ل) کال په کابل کالنۍ چاپ کړه او دا تحقیقي لیکنه یې د شعرونو د سبکونو د پېژندنې په اړه وکړه، د یادونې وړ ده، چې تذکرۀ الاولیا دساحه یې تحقیق په لړ کې دهلمند دناوې د ادم خان په کلي کې د زړوکتابونو د پلټلو پرمهال د لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي ګوتو ته ورغلې ده.

دا چې استاد په خپله دې لیکنه کې له نورو ګڼو اثارو لکه (( تمدن های اولیه، د ګوستاولوبون اثر، تاریخ تمدن هند، طبقات ناصري، ائین اکبري، حیات افغاني، حدوالعالم من المشرق الی المغرب، تاریخ مرصع، د پښتونخوا دشعر هارو بهار، کلید افغانی)) او نورو ډېرو چاپي اثارو څخه ګټه پورته کړې ده، نو دا

برخه يې د کتابي تحقيق برخه جوړوي، له تذکرۀ الابرار ولاشرار، مخزن الاسلام او د ځينو نورو اثارو له قلمي نسخو څخه يې هم ګټه اخيستې ده. نو په دې ډول ويلای شو چې استاد د څېړنې له دواړو ډولونو کتابي (کتابتوني) او ساحه يي څخه په دې ليکنه کې کار اخيستی دی.

استاد حبيبي د څېړنو دميتودونو په برخه کې په خپله دې ليکنه کې له تاريخي او تشريحي ميتود څخه کار اخيستی دی، يانې هم يې موضوع له تاريخي پلوه څېړلې او تاريخي قدامت يې په پام کې نيولی او هم يې شاعري د شکل او محتوا له مخې تشريح او ډلبندي کړې ده، د يو سبك توپير يې له بل سره تشريح کړی دی.

څرنګه چې دا ليکنه له اوسمهال (۱۳۸۶) څخه (۶۷) کاله دمخه تر سره شوې او پر همغه مهال چاپ شوې، نو دا وخت چې له استاد حبيبي سره کوم اثار موجود وو، د همغو په رڼا کې يې د پښتو ادبياتو تاريخي دورې وېشلې، خو کله چې تر دې ليکنې نږدې دوه کاله وروسته د (محمد هوتك پټه خزانه) د استاد حبيبي لاسته ورغله او په پټه خزانه کې د امير کروړ د شعر په شتوالي سره د پښتو دلاسته راغلې ليکلې شاعرۍ نېټه (۱۳۹) هـ ق کال

ورسېده، نو بیا په دې لیکنه کې راغلی وېش، خپله خپل رنګ بایلي. د پښتو ادبیاتو دتاریخي دورو په باب نورو پوهانو هم خپل نظرونه ښرګند کړي او ددوی په نظرونو کې ډېر توپیرونه او تضادونه شته او د معاصرو ادبپوهانو له نظره کره کتنه غواړي، له نېکه مرغه زموږ د ادبیاتو د معاصر دوران یو لوی ادبپوه مرحوم کاندید اکاډمیسن محمدصدیق روهي د پښتو ادبیاتو دتاریخي دورو د ټاکنې په اړه د ټولو پښتو ادبپوهانو نظرونه سره راټول کړي او هر یو یې بېلابېل تحلیل کړی، شنلی او ارزولی دی، مشترك ټکي او د ادبپوهنې له معیارونو سره سم یې منطقي نظرونه سره یوځای کړي او په پای کې یې یوه نسبتاً معقوله لار ایستلې، استاد روهي د پښتو ادبیاتو دتاریخي دورو وېش په خپل اثر ((د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره)) کې راوړی او په مجموعي ډول یې پښتو ادبیات پر دریو لویو دورو (لرغونې، منځنۍ او معاصره) وېشلي چې منځنۍ او معاصره یې بیا په خپل وار پر څو نورو پړاوونو وېشلي دي، نو زما په نظر د ادبیاتو د دورو د وېش په اړه دا وروستی وېش تر ټولو غوره او منطقي ښکاري.

دمکتبونو او سبکونو په اړه سره له دې چې استاد حبیبي یو ښه وېش کړی او دا وېش پر داسې مهال شوی چې د مکتب او سبك د توپیر او تعبیر په اړه په پښتو ادبیاتو کې هېڅ لیکنه نه وه شوې او استاد په دې برخه کې لومړني پاخه ګامونه پورته کړل، خو د سبك پېژندنې او مکتب پېژندنې د اوسنیو معیارونو له مخې کېدی شي د استاد حبیبي په وېش کې یو څه تغیر راشي، خو لکه څنګه چې استاد په سریزه کې ورته اشاره کړې، چې دا لیکنه د یوه ضرورت له مخې ترسره شوه او کېدی شي له نیمګړتیاوو به تشه نه وي او دا نو بیا د نورو کار دی چې دا نیمګړتیاوې پسې حل کړي. دغه راز استاد د یوه تحقیقي اثر د اصولو مطابق دخپلې لیکنې په پای کې نتیجه او یا د خپل بحث خلاصه هم وړاندې کړې چې د خپلې دې لیکنې نچوړ یې راکښلی او په دې کې یې یو ځل بیا ټولو سبکونو ته په لنډیز سره اشاره کړې ده.

د یادونې وړ ده چې د استاد حبیبي دا لیکنه دتاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د پښتو شعرونو پر څرنګوالي، په تېره بیا پر سبکونو رڼا اچوي، خو لیکنه په دري ژبه ده او ټول هغه شعرونه چې په متن کې په پښتو ژبه راغلي، په دري ژبه دهغو منثوره

ترجمه او مانا هم شوې ده، په دې ډول که یو دري ژبی پر پښتو شعر د بحث څرنګوالی مطالعه کوي، نو د پښتو شعر محتوا ته هم په ښه ډول ور داخلېدی شي.

په پای کې زه د یوه لوستونکي په توګه وایم چې د استاد حبیبي پر دې لیکنې که څه هم د یوې پېړۍ له نږدې څخه درې برخې تېرې، خو بیا یې هم خپل ارزښت او ماهیت په کلکه ساتلی دی، باید په پښتو ژبه هم وژباړل شي او موږ خپل ځوان نسل او د ادبیاتو لارویانو ته څرګنده کړو چې زموږ نابغه محقق چې اووه شپېته کاله دمخه څه لیکلي، هغه اوس هم د اوسني معاصر تحقیق له اصولو سره تر ډېره حده برابر او په تول پوره او کره دي.

# د تذکرة الاولیا ځانګړتیا او لرغونتیا

((تذکره الاولیا)) د پښتو ادب لومړنۍ لاسته راغلې ادبي تـذکره ده چې د بارک خان ماکو سابزي زوی (سلیمان ماکو) لیکلې ده. دتـذکره الاولیا د لیکلو تکل په خپله دسلیمان ماکو په وینا له (۶۱۲هـ ق) کـال څخه شوی دی، دا چې تذکره الاولیا د کوم کال پر کومه نېټـه بشـپړه شوې؟ ددې یادونه په تذکره الاولیا کې نـه ده راغلــې، خـو د پښــتو ادبیاتو څېړونکي دتذکره الاولیا د لیکلو نېټه همدا (۶۱۲هــ ق) کـال شاخوا مهال ګڼي. تذکره الاولیا ته ځکـه دپښــتو ادبیــاتو لرغــونې او لومړنۍ ادبي تذکره وایو چې تر دې دمخه د پښــتو ادبیــاتو دلیکوالــو کومه بله تذکره په لاس کې نه شته. یوازې دهاشــم ســرواڼي (دســالو وږمه) د یوې ادبي تذکرې یادونه شوې چــې دهغــې مــتن لا تراوســه ترلاسه شوی نه دی. نو په دې وجه تذکره الاولیا په پښتو کې تر ټولــو لرغونې لاسته راغلې تذکره ګڼل کېږي. دا تذکره چې ټولې څلور پــاڼې دي ټول ( اته مخه) او ډک ( اووه مخه) کېږي، د هلمنــد دنــاوې د ادم خان په کلي کې د زړو کتابونو د پلټلو پرمهال د لــوی اســتاد پوهانــد علامه عبدالحی حبیبي ګوتو ته ورغلې، لومړی یې دپښتانه شـعرا پــه لومړي ټوک کې پر (۱۳۲۰ ل) کال چاپ کړې او بیا پر (۱۳۶۱ ل) کــال د استاد حبیبي له تعلیقاتو، شرحې او سریزې او اصل متن سره یوځای د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار چاپ شوې او دغــه راز پــر (۱۳۷۹ل)

کال یو ځل بیا دعلامه حبیبي د څېړنــو دمرکــز لــه خــوا دهغــې لــه انګلیسي متن سره یوځای چاپ شوې ده. سره له دې چــې د تــذکره الاولیا یوازې (اووه ډک مخونه) ترلاسه شوي خو دا اووه مخونه هم لــه کلتوري، تاریخي، ادبي، عرفاني او ژبني پلوه د زیــات ارزښــت وړ دي. تذکره الاولیا موږ په لومړي ګام کې پر دوو برخو وېشلای شو:

الف - د سلیمان ماکو خپله لیکنه چې په نثر ده او د شاعرانو ژونــد لیک په کې راغلی دی.

ب - په تذکره کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی.

**الف - د سلیمان ماکو نثر:** په عمومي ډول دسلیمان ماکو نثر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی. په خاصو ځــایونو کــې یې سجع کارولې چې نثر ته یې زیاته ښکلا وربښلې ده.

دلته به د سلیمان ماکو د نثر څو جملې راوړو او بیا به وروسته دده دنثر پر څرنګوالي بحث وکړو.

((... زه غریب خاورې سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سن دولــس شــپږ سوه دهجري تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل، او ددوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ...))

((... نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني کــې د ده ورور چې سړبن نومېد، او پرشیخ هم خورا ګران و، ســړبن نــه درلــود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

((... نقل کاوه سي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفــر یرغل و، شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و دشهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده، او هم هــورې مــړ سو...))

(( ... نقل کاوه سي چې بختیار مې ستر ستانه و، له ده نــه څرګنــد سوي دي، هغه کرامات چې مو وکتل او وویل...))

پورتنیو څو جملو او د سلیمان ماکو نثر ته چې موږ په عمومي ډول نظر کوو، نو له ژبني پلوه دماکو نثر د دریو ژبو له لغتونو څخه جوړ دی. الف- پښتو، ب- عربي، ج- فارسي. دګرامري جوړښت له مخې هــم د پښتو له اوسنۍ محاورې سره توپیر لري- هــ- ځینې پخوانۍ متروکــې کلمې هم لري چې دلته پرې رڼا اچوو:

**الف - دسلیمان دنثر پښتو لغتونه:** کــه پــه عمــومي ډول د سلیمان ماکو نثر ارزول کېږي، نو دا تقریباً په نــږه پښــتو نثرونــو کــې حسابېدلای شي، ځکه دپردیو ژبو تاثیرات پرې ډېر کــم دي او ان کــه اوس هم څوک یو پښتو نثر لیکي، نو دنورو ژبو دومره کلمې به ضــرور په کې کاروي، لکه خپله چې زه دا لیکنه کوم په عادي ډول رانه د نورو

ژبو کلمې کارول کېږي، نو د سلیمان ماکو له نثر څخه داسې ښــکاري چې هغه وخت د پردیو ژبو ( عربي او فارسي) تاثیرات پر پښتني ادبــي چاپېریال وو، خو دومره زیات نه وو چې ټول نثر متاثر کــړي. دلتــه بــه دده د نثر سوچه پښتو لغتونو ته اشاره وکړم: لوی، اســتازی، روښــان، ویاله، هوسېږم، خاورې، راغه، کلی، پلټــل، لــوری، مونــدل، څښــتن، پاڅېدل، وینا، لولې، شپه، ستانه، کــول، ســندرې، یرغــل، غرشــین، ملګری، ستر، واکمن، بری، مروړل، پاړکی، څرګنــد، مېشــت او داســې نور...

د سلیمان ماکو په نثر کې کارول شوي اکثره پښتو لغتونه اوس هم په خپله هماغه پخوانۍ مانا او مفهوم او هماغه شکل کارول کېــږي. د سلیمان ماکو د نثر له پوخوالي څخه داسې ښکاري چې پښتو نثر به تر دې پخوا ښه اوږد مزل کړی وي، چې د سلیمان ماکو د مهــال داســې پخې مرحلې ته رسېدلی دی.

**ب - د سلیمان ماکو په نثر کې عربي لغتونه:** د ســلیمان ماکو په نثر کې یو شمېر عربي لغتونه هم شته، خــو دا اکثــره داســې لغتونه دي چې مذهبي او عقیده یي مفاهیم لېــږدوي، دا ډول لغتونــه اکثره اوس هم دمذهبي اصطلاحاتو په بڼه موجــود دي او ترجمــه یــا اندولونه یې ډېر ممکن نه برېښي.

عربي ژبې د اسلام تر راتګ وروسته په افغانستان کې خپلې اغېزې وښندلې، دا اغېزې لومړی پر فارسي ژبه او وروسته پر پښتو ژبې محسوسې شوې، خو د پښتو په انډول یې پر فارسي ژبه اوس هم تاثیرات زیات دي. دلته به څو عربي لغتونو ته اشاره وکړو:

قدوه الواصلین، مراقد، حمد، برکت، نصیب، صلی الله علیه وسلم، غریب، هجري، اولیا، آل، اما بعد، نقل، عبادت، مبارک، واقع، قبول، کفر، شیخ او ځینې نور...

**ج - د سلیمان ماکو په نثر کې فارسي لغتونه:** د سلیمان ماکو په نثر کې د عربي لغتونو په انډول فارسي لغتونه ډېر کم دي. خو د استاد علامه عبدالحی حبیبي په نظر د سلیمان ماکو پر نثر د فارسي ژبې د هغه وخت د نثر څه اغېزې شته، د سلیمان ماکو تر عصر نږدې دوه سوه کاله دمخه د غزنویانو په عصر کې فارسي نثر ډېر پرمختګ کړی و، ډېر روان ساده او عام فهمه و، لنډې لنډې جملې یې لرلې او له ابهام او تکلف څخه خالي و. د سلیمان ماکو نثر هم ساده، سلیس او روان دی، جملې یې هم لنډې لنډې دي، ابهام، تصنع او تکلف نه لري. دفارسي نثر دهغه وخت دخوړ لنیو د څه ناڅه اغېزمنی ترڅنګ یو شمېر فارسي لغتونه هم د سلیمان په نثر کې لیدل کېږي، لکه: سپاس، خاکپای، بزرګ، روزګار، مهربان، درخواست او ځینې نور...

**د - د سلیمان ماکو دنثر ګرامري جوړښت:** سـره لـه دې چې د ماکو نثر کې زیاتره سوچه پښتو لغات کارېدلي او لیکنی متن یې هم سړي ته ډېر خوند ورکوي، خو دې سره سره یـې لیکنـی بڼـه لـه عامې محاورې او همدارنګه د پښتو ژبې له اوسني ګرامـري جوړښـت سره اړخ نه لګوي. د نثر دا حالت کېدی شي د دوو عواملـو لـه وجـې رامنځته شوی وي: کېدی شي دهغه وخت دپښتو محاورې ژبـه همـدا شان یادې ته ورته وه، یا هم نثر په دې بڼه لیکل کېده او یا هم دعربي ژبې تاثیر پر فارسي او د فارسي هغې پر پښتو پرېوتی وي. دماکو د نثـر په ځینو جملو کې مبتدا او خبر، فاعل او فعل، مضاف او مضـاف الیـه سره وړاندې وروسته شوي دي. دا کار دپښتو له اوسني ګرامر جوړښت سره توپیر لري، کېدی شي د لرغونې دورې نثر همدا بڼه درلوده. خـو بیاهم د سلیمان ماکو نثر، د پیر روښان او دهغه دپلویانو او همدارنګه د اخوند درویزه او دهغه د پلویانو تر نثر ډېر زیات خـوږ، سـوچه او روان دی؛ تکلف، تصنع او ابهام په کې نه شته. دلته بـه دمـاکو دنثـر څـو ترکیبونه راوړو او بیا به دپښتو ژبې د اوسني ګرامر جوړښت اصله بڼـه هم ورسره ولیکو:

| د سلیمان ماکو نثر | اوسنی ګرامري جوړښت |
|---|---|
| وایم حمد و سپاس د لوی خـــاوند | دلوی خاوند حمد وسپـــاس وایم |
| چې دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو | چې د کونینو بادار او د ثقلینو رحمت دی |

په وياله د ارغستان هـــوسېږم     د ارغســـتان په وياله هوسېږم
مراقد د اوليا او واصلينو مې پلټل     د اوليا او واصلينو مراقد مې پلټل
او تناکې وچاودلـــې د پـــښو     او د پښو تناکې مې وچـــاودلې
سړبن نـــه درلـــود زامـــن     ســـړبـــن زامـــن نه درلودل
او هر کله به ويل خـــپل ورور ته     او هرکله به يې خپل ورور ته ويـل

او داسې نور ترکیبونه او نورې جملې. دلته موږ د سلیمان ماکو پـه نثر کې ګورو چې نثر له عامې محاورې څخه لرې شوی دی. پـه پښـتو کې عامه قاعده همدا ده چې اول فاعل راځي بيا فعل، اول مبتدا وي او بيا خبر، خو د سلیمان په نثر کې دا قاعده تر ډېره حده معکوسه ده.

## هـ - دسلمیان ماکو په نثـر کـې پخـواني لغتونـه:

د سلیمان ماکوپه نثر کې پر هغو سوچه پښتو کلمو سربېره چې اوس هم په پښتو کې استعمالېږي، ځينې داسې نور پښتو لغتونه هم شته چـې يا اوس نه کارېږي او يا هم په لږ شان لفظي تغير او تحول سره کارېږي، یانې متروکې کلمې په کې شته او متحولې کلمې هم په کې شته. دلته به دې ډول کلمو ته هم اشاره وکړو:

## په تذکره الاوليا کې

| کارېدلې بڼه | اوسنۍ بڼه |
|---|---|
| پښتنخا | پښتونخوا |

| | |
|---|---|
| مرستون | مرسته غوښتونکی (په پخوانۍ بڼه اوس متروکه ده) |
| لولولې | ویلې |
| جوبله | (جنګ) پخوانۍ بڼه یې متروکه ده. |
| پپناه | پوه پنا |
| دښنه | دښمن |
| کتاړو | تورې (پخوانۍ بڼه یې اوس متروکه ده) |
| ډېر زښت | ډېر زیات |
| ګنوِن | شمېر |
| کول | کورنۍ |
| بمیا (بومیا) | لارښود (بمیا کلمه هم اوس متروکه ده) |
| وګروهېد | متعقد شو ( دا بڼه هم اوس متروکه ده) |

او ځینې نورې کلمې چې اوس یا متروکې دي او یا یې هم بڼه کې بـدلون راغلی دی. په تذکره الاولیا کې ددغسې مړو او پخوانیو کلمو شـتوالی ددې تذکرې لرغونتیا او ځانګړتیا په ګوته کوي.

**ب - په تذکره الاولیا کې د نظم برخه:** په تذکره الاولیا کې د نثر په انډول د نظم برخه نوره هم نړه او سوچه پښتو ده. ددې یوه وجه دا ده چې پښتانه شاعران له خپل ولس سره ګډ اوسـېدل او ولـس هغـه وخـت معمولاً د غرو په لمنو کې اوسېده. دغرو لمنې په طبیعي ډول د پردیو ژبو لـه اغېزو څخه لرې او خوندي وې. عربي او فارسي ژبو اکثره د دربارونو لـه لارې خپل تاثیرات ښندل، نو هغه شاعران چې له درباره لرې وو، لـه دې تـاثیراتو خوندي وو. دا چې خپله د سلیمان ماکو په نثر کې دعربـي او فارسـي ژبـې

تاثیرات شته، ددې وجه داده چې کېدی شي، سلیمان ماکو دعربي او فارسي ژبو کتابونه لوستي وي او دا تاثیر یې ترې راخپل کړی وي. په تذکره الاولیا کې ټول (څلور) ټوټې شعرونه راغلي دي. چې لومړی یې د بېټ نیکه مناجات دي، دویم یې د شیخ ملکیار غرشین یو پاړکی دی، دریېم یې د شیخ اسماعیل یو پاړکی او څلورم یې د قطب الدین بختیار یو نظم دی.

د بېټ نیکه په شعر کې یوازې د ( خدایه) کلمه راغلې چې هغه هم له فارسي سره مشترکه ګڼل کېږي، نور په ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه نه شته. دملکیار غرشین په شعر کې د ( اسلام) او (غازیانو) کلمې راغلي چې ریښه یې عربي ده، نور ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه نه شته.

د شیخ اسماعیل په شعر کې یوازې د ( ابلیس) او ( لعین) کلمې، چې عربي دي نور د بلې ژبې لغتونه په کې نه شته او د قطب الدین بختیار په شعر کې بیا ګرد سره د بلې ژبې کلمه نه شته، ټول سوچه پښتو لغتونه دي. له دې پورتنیو څرګندونو دا ښکاره کېږي چې په تذکره الاولیا کې راغلي شعرونه ( د قطب الدین بختیار له شعر پرته) چې له ماکو سره هم مهاله ګڼل کېږي، نور شعرونه دماکو ترمهاله پخوا ویل شوي دي. ځکه نو دې ټولو شعرونو کې د پردیو ژبو تاثیرات له کومې یوې دوو کلمو پرته نه ترسترګو کېږي، زموږ له پورتنیو خبرو څخه دا نتیجه راځي چې په تذکره الاولیا کې راغلي شعرونه دماکو تر نثر پخواني او زیات سوچه دي او اکثره په ملي اوزانو کې دي، په خپله د سلیمان نثر هم تر یوه حده سوچه، روان او شفاف ګڼل کېږي او د پښتو ډېر زاړه لغات په کې کارېدلي دي.

# د شیخ میانور او خوشال ترمنځ دیني مناظره

لوی خان خوشال خان خټک ته لوی خدای(ج) یو فوق العاده او خارق العاده استعداد ورپه برخه کړی و. خوشال دهمدغه خدای(ج) لورولي استعداد په برکت دومره لوی، څوارخیز او څو بعدیز شو چې د تېرو دریو سوو کلونو په بهیر کې یې پر شخصیت اند او فکر په سوونو څه چې په زرګونو لیکنې شوي خو بیا لاهم د خوشال حق نه دی ادا شوی او لا هم خوشال خلکو ته نوی دی او لا څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري. زموږ په دودیزه ټولنه څوک فکر کولای شي چې یو صوفي، عابد او روحاني شخصیت دې لا د بزم او رزم جذبه او ولوله هم ولري او یا دې هم دجام او قام شاعر دخدای(ج) د مینې په خم کې دومره ډوب وي چې هر ظاهربین او ساده لید یې پر لیدلو بریالی کېدلای نه شي. د خوشال پر ټولنیز، سیاسي، ملي او فرهنګي شخصیت او دریځ ډېرې لیکنې شوي، خو د خوشال د دینداری، ایمانداری، دینپالنې ( اسلامپالنې) او دینپوهنې برخه او اړخ لازیاتو، دقیقو او نویو څېړنو ته اړتیا لري. که موږ په دینپوهنه کې د خوشال دفکر او خیال ژورو ته

متوجه شو او هغه په ژور ډول تحلیل کړو، نو یو لوی (فقهي) خوشـال به مو په نظر راشي.

د خوشال دستارنامه، دهغه ګڼ منظوم اثار لکه فضل نامه، غزلونه، قصیدې او رباعیات ټول ددې ښکارندوی دي چې خوشال د یـو لـوی فقهي عالم په توګه په اسلامپوهنه کې د یوې ژورې مطالعې خاونـد و. ځوک چې په دین (اسلام) کې پوره پوره مطالعه او ژورتیا ونـه لـري د فضل نامې غوندې یو مهم دیني اثر نه شي لیکلای او هغه هم بیـا پـه نظم چې تر نثر یې لیکنه او مفهوم اخیستنه او رسونه طبعاً ډېره زیاته مشکله ده.

موږ دلته د خوشال بابا د دیني معلوماتو او ژورتیا پر ټولو خواوو نـه غړېږو او نه دا لیکنه ددې وس لري. یوازې د خوشال پر یـوې مثنـوي غړېږو چې دا مثنوي دیوې دیني مناظرې یو بشپړ تصویر راکوي. اصلي کیسه داسې ده چې کله پیر روښان دمغلـو پـر ضـد خپـل روحـاني تحریک پیل کړی و، نو کله چې دې تحریک زور واخیست، مغل واکمن وارخطا شول، ځرنګه چې روښاني تحریک روحاني او اسلامي بڼه لرلـه نو مغلو فکر وکړ چې ددې تحریـک دمخنیـوي لپـاره بایـد روحـاني شخصیتونه او عالمان پیدا کړي او مقابلې ته یې وګوماري. نو لومړی یې سید علي ترمزي له بخارا څخه پښتونخوا تـه راوسـت، د سـید علـي ترمزي دپیروانو او شاګردانو په ډله کې یو هم اخوند دروېزه ننګرهـاری و چې د روښان پیر مقابلې ته یې ځان تیار کړ.

پیر روښان دخپل تحریک لپاره د ( خیرالبیان) په نامــه یــو کتــاب ولیکه چې له دیني نصیحتونو ډک دی. خو اخوند درویــزه دا کتــاب (( شرالبیان)) وباله او د ( مخزن الاسلام) په نامه يې د خیرالبیان پر ضــد یو کتاب ولیکه، دارنګه اخوند درویزه د پیر روښان دنورو کتابونو پرضد هم نور کتابونه ولیکل.

د اخوند درویزه ((مخزن)) د سوات په پښتنو کې ډېر مشهور شــو، خوشال خان او افضل خان ختک ددې شهرت وجــه دا ګڼــي چــې دا وخت پښتنو کې علم کم و، نو یو سړی په کې په ډېر کم علم او پــوهې هم ملايي، پیري او مرشدۍ ته رسېدلای شو. پــه همــدې وخــت کــې اخوند درویزه په سوات کې راپیدا شو او ډېر ژر یې شهرت ترلاسه کــړ، خوشال په خپله یوه مثنوي کې وايي:

درویــــزه لــــه یـــــوه لــــوري راپیــــدا شــــه
چــې یــې حــال ددې عــالم مشــاهده کــړ
د روښـــــان خیرالبیـــــان یـــــې و لیـــــدلی
ده چې خوشې میدان بیا موند سخن ګوی شه
هغــه وخــت پــه پښــتنو کــې علــم نــه و
پــه مــذهب ســني مــذهب و خــارجي شــه
ملنګـــانو بـــه یزیـــد تـــه کـــړې ښـــکنځلې
ملنګـــان یـــې واړه وایســـتل لـــه ســـواته
په دا فن یې د درست سوات عالم مطیع کړ
هــېڅ یــې نــه کاتــه دې بــدو وفســاد تــه
درویــــزه د درویــــزې او ګــــره خــــوړلی

پــه لــږ علــم پــه دا ملــک کــې لــوی مــلا شــه
خپــل کتــاب یــې پــه کاغــذ مســوده کــړ
هغـــه هـــم مجهـــول بیـــان و ناپســـندلی
په ویل کې چې یې زړه و هسې تـوی شه
درویـــزه تـــر مجهـــد ورتـــه لا ښـــه و
د یزیـــد پـــه ســـتایش کـــې مـــارجي شـــه
درویــــزه بــــه د یزیــــد ډوزې بللــــې
دوم یـــې وواهـــه لـــه کشـــفه و کراماتـــه
وعــالم تــه یــې خپــل کتــاب بــدیع کــړ
نقــش یــې کېنــاوه پــه مکــر خپــل اولاد تــه
پــــه دا مکــــر یــــې حلــــوا سره لړلــــې...))

درویزه په پښتنو کې دومره مطرح شو چې چا دهغــه نــوم او د هغــه د کتاب نوم په اصطلاح ((بې اودسه)) نه شو اخیستلای، پلویانو یې ویــل

چې الهام دی چې پر ده را اورېدلی دی. نو ځکه یې احترام پر خلکو واجب دی.

خوشال لومړنی شخص و چې دا حاکمه فضا یې ماته کړه، اخوند درویزه یې کم علمه او کتاب یې ورته له ګڼو، علمي، انشايي، املايي او نورو غلطیو ډک وباله. د خوشال دې سیاسي او مذهبي جرئت په پښتنو او په تېره بیا په سوات کې یوه سخته هنګامه جوړه کړه، ډېر کسان د اخوند درویزه ملاتړ ته راووتل، په تېره بیا د اخوند درویزه مریدان او پیروان چې په دې ټولو کې شیخ میانور زیات مطرح و، دی د درویزه له خاصو مریدانو او ارادتمندانو څخه و، ده دوه نور شاګردان هم درلودل، دوی ټولو پرخوشال د تکفیر تور پورې کړ.

شیخ میانور له محلي دربار سره هم ښه راشه درشه درلودله او دهغوی له خوا هم ورته دا پلان ورکړل شوی چې خوشال په عامه ذهنیت کې تکفیر کړي. دمغلو له دې کار څخه هیله دا وه چې کله خوشال په عامه ذهنیت کې کمزوری شي، نو د پښتنو د راټولو او انسجام چانس به یې کمزوری او کم شي. نو ددې کار لپاره یې شیخ میانور ګومارلی و.

خپله لوی خان خوشال بابا ملا میانور په یوه مثنوي کې داسې معرفي کوي:

چـــــې مـــلا میا نور په حـــــکم درومـــــــي هم هغه د سوات په ملک کې سیرۍ مومي
میا نور که دخنزیــــــر غوښـــــې روا کــــــــا مــــلایان بــه بانــدې ژر جــوړه فتــوی کــا
د میانور مفتیان دسوات په ملک کې دوه دي الله داد او دوســـــــت محمـــد دواړه یـاوه دي
لږ یې علم لږ یې لوســـته ډېـر تقریـر کـا چـې میـا نـور یـې لمســوي هغــه تزویـر کـا
اوس بـــه وایـــم دمیـــانور لـــه حقیقتـــه چـــې تـــر نـــورو نـــه دی لا دی بـــد خصـــلته

همدې میانور پر خوشال د (کفر) او (رفض) تورونه پورې کړل، خــو خوشال بابا پر اخوند درویزه او دهغه پر مخزن چې کــوم انتقادونــه کړي وو، له هغو ځخه هېڅکله په شا نه شو. بلاخــره خبــره تــر دې حده ګرمه شوه چې د سوات یو شمېر سپین ږیري خوشال بابا تــه راغلل او ورته یې وویل چې ستا دخبرو په وجه په سوات کــې یــوه غټه ستونزه او هنګامه پیدا شوې، یا معذرت وغواړه او یــا هــم لــه شیخ میانور سره مناظرې ته حاضر شه! لوی خان خوشال خان پــه خپله یوه مثنوي کې چې تاریخ مرصع کې افضل خان ختــک ټولــه رانقل کړې، ددې مناظرې کیسه کړې. ســرمحقق زلمــی هېوادمــل ((ننګیالی د زمانې)) کې په دې باب لیکي:

(( خان دلنګر ختک په کلي کې اوسېده، یوه ورځ خان دتــوت د یوې ونې لاندې استراحت کاوه، چې ملک سنګر، میاخان او مانکی خوشال خان ته راغلل، دی یې پاڅوه او ورته یې وویلې ټول ســوات کې دې هنګامه جوړه کړې ده، ته لاخوب کوې هېڅ تشویش درسره نشته، بیا یې خوشال خان ته وویل چې موږ دقوم دمشرانو په توګه دا وظیفه لرو، چې دفساد مخنیوی وکړو، نو ته یا د اخونــد درویــزه

کتاب ومنه او یا د شیخ میانور د اعتراضونو ځواب ووایه. خان د اخوند دکتاب له منلو انکار وکړ او بلاخره دمیانور او خوشال خان ترمنځ مناظره وشوه او شیخ میانور ډېره بده ماته وموندله بیا خلکو د دواړو ترمنځ صفايي وکړه. خوشال خان له شیخ میانور دا غوښتنه هم وکړه چې له مغلي حکومت سره به سازوباز نه کوي، په څرګنده خو شیخ میانور له مغلو سره دخط کتابت نه کولو وعده وکړه خو نیت یې ښه نه و او په پټه یې خپل کار کاوه.))

دا بیان او د مناظرې نور اړخونه خوشال په خپله یوه غرا مثنوي کې په ډېر ښه ډول بیان کړي دي. دا مثنوي ټول (۱۲۹) بیتونه لري او تاریخ مرصع ټوله په خپلو پاڼو کې خوندي کړې ده. دلته به ددې مثنوي ځینې بیتونه دمناظرې د ځینو اړخونو د روښانتیا لپاره راوړو:

یو کتاب دی دروېزه سره جوړ کړی
د سوات خلک یې له کل عمله موړ کړی

نامعقول مجهول بیان په کې بې ځایه
په کې بد دسید وایه یزید سایه

غه جاهل ملا چې داکتاب وه کښلی
ما په دا خبرو دی و ډېر ښکنځلی

مخامخ یې دا خبرې کړې نمایې
چې ته سکه رافضی یې چې دا وایې

رد بدل ددې خبرې ډېر مذکور شه
دا مذکور په واړه سوات کې مشهور شه

هغه نیم ملا روان شو ومیانور ته
خس خشاک یې سره ولوستل تنور ته

سرې لمبې دمیا په کور شوې بلې
نه وه څوک چې یې اوبه کړې باندې تلې

ملایان شیخان یې واړه سره ټول کړل
ګډ یې واړه په دا ویر په دا آشول کړل

میا نور وې چې اخون زموږ امام دی
درست مخزن پرې نازل شوی په الهام دی

په مخزن باندې چې بد وایې کافر دی
د کافر قتل په شرح معتبر دی

هر سړی چې په مخزن باندې څه وایې
په دنیا کې تر ساعته به څوک پایې

ملکان شیخان یې واړه سره ټول کړل
په خپل سحر او افسون یې کچ وګول کړل

خوشال خان په دې مثنوي کې وايي چې ددې ملکانو او شيخانو له ډلې څخه يو مياخان، بل ماڼکی او بل سنګر ماپسې راغلل او زه يې په سنګر ختټک کې له خوبه پاڅولم او راته يې وويل چې راځه مـوږ سـره لاړ شه او دميانور ځواب ورکړه، دې سپين ږيرو وويل چـې دسـوات د ټولو ملايانو همدا پرېکړه ده. خوشال بابا ورته په ځواب کې وايي چې ما د محمد(ص) دين منلی دی، له قرآن پرته بل کتاب نه منم، دروېزه نه کوم امام دی او نه هم مجتهد دی. خپله دروېزه هم يو خام شخص دی، تاسو هم خام ياستئ او د مخزن کتاب هم خـام او نيمګـړی دی. خـو لنډه دا چې خوشال ددې مشرانو په زيات ټينګار لـه ځايـه پاڅېـد او روان شو. بابا وايي:

مـــــلا مـــــې وتړلـــــه زه هـــــم ورروان شـــــوم
يـــک تنهـــا مواجهـــه پـــه ډېـــر خصـــان شـــوم
مخـــــامخ و بلـــــه کېناســـــتو پـــــه قهـــــر
پـــه خبـــرو مـــو ښـــکاره کـــړو ســـره زهـــر
ملکـــان شـــيخان عالمـــان واړه ســـره شـــول
دخپـــل لـــوري شـــک يـــې واخيســـت مســـخره شـــول
چـــې بـــه مـــا ورتـــه ويـــل کـــول دمشـــکو
ابلعـــانو بـــه ويـــل کـــول لـــه پشـــکو
نـــه يـــې علـــم، نـــه يـــې عقـــل نـــه يـــې پوهـــه

فضـــــلیت ورځنـــــې لـــــرې پـــــه ډېـــــر کروهـــــه

×××

خوشال بابا وايي، کله چې ما او میا مناظره پیل کړه، نو کوم منصف هئیت ولاړ نه و چې وروسته قضاوت وکـړي او نتیجـه اعـلان کـړي، دسوات شیخانو اکثره دمیا نور پلوي کوله، خو ځرنګه چې ماتـه دمیـا خط او کتابت، املا او انشا او ټوله پوهه معلومه وه نو ځکه مې لاس پرې بر و او بل زه په خپل اقرار کې صادق یم او دهمدې صداقت په وجه مې په لوی ذات ډېره لګوله، نو ځکه خو میان نور په خپلو خبرو کې راګیـر شو.

شیخ مـــــــیا نور په خپله په تقریـر کـې
مـا وده وتـه چـوټ ورکـړی پـه تحریـر کـې
ما وې ته لـکه ګیدړ پـه خـم کـې شـین یـې
خو بیـاهم هغـه ګیـدړ یـې کـه رنګـین یـې
ښاپېرک غونـدې پـه شـپه پـه هـوا درومـې
چـې سـبا پـه تـا راځـي هزعیـت مـومي
په خطونو کـــې چې ځـان و مـــاته سـتایې
ما هم پېژنـې چـې ځـوک یـم دا څـه وایـې
خپل صفت دې یوسفـــزیو وتـــه وایـــــه
زه دې پېژنم چې څـه یـې ځـان مـه سـتایه

پرمخزن باندې د خوشال دمانیز اعتراض یو ټکی دا و چــې اخونــد درویزه قصداً غوښتي د امام حسین(رض) د شهادت په پېښه کې یزید ته برائت ورکړي او داسې وښیي، چې ګڼې یزید نه غوښتل چــې امــام حسین(رض) شهید کړای شي، په همدې وجه یې هغو اشخاصو ته چې په دې کار یې لاس پورې کړی و ان دمرګ سزا ورکړه. خوشــال بابــا د اخوند درویزه دا ډول توجیهات او تعبیرات په کلکــه ردوي او ځــان د پیغمبر(ص) دسنتو ډېر ټینګ پابند ګڼي، په یوه بله مثنــوي کــې پــه همدې اړه وایي:

زه چــې چــون پــه اعتقــاد کــې پــاک ســني یــم
پــــه کنــــدن د رافضــــي د بــــېخ کنــــي یــــم
رافضــــي یــــې پــــه داهســــې اعتقــــاد کــــړم
په درست سوات یې په تکفیر پــه رفــض یــاد کــړم
د صــدیق او د فــاروق پــه عشــق کــې طــاق یــم
د عثمــــان او د حیــــدر بنــــده قلمــــاق یــــم
آل اولاد دپــــــاک رســــــول واړه منمــــــه
امامــــان نبیــــان هــــم ټــــول واړه منمــــه
د یزیــــد پلیــــد پــــه کــــار بانــــدې لعنــــت دی
چــــې د آل ســــره یــــې کــــړی شــــرارت دی
د بــــد ذات مکــــر پــــه علــــم کــــې لا بدشــــي
حبشي چــې پــه مــخ خــال کېــږدي لا بــد شــي.

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه شیخ میانور مخکې تر دې دمغلو په لمسه په سوات کې پر خوشال د (تکفیر) او (رفض) تورونه پورې کړي وو. خو خوشال دا ټول تورونه بې بنسټه وګڼل، برعکس یې په اخوند درویزه او میانور (یزید) ته په لېوالتیا او هغه ته په برائت ورکولو ګرم وګڼل. خوشال په خپله مناظره کې دمخزن او نورو دیني مسایلو په باب له میانور څخه پوښتنې وکړې، میانور سم ځواب ونه شو ویلای. خوشال بابا وایي:

| | |
|---|---|
| الغرض چې یې خبره کړه اغازه | ډېر یې وویل دخپلې نیا له نمازه |
| بیا یې وستایه نیکه په څو څو رنګه | مستمع شه درست عالم ورته په درنګه |
| خدای یې وتړله ژبه له افسونه | دا وینا دده له ژبې شوه بیرونه |
| مونږه کله وایو دا چې یزید ښه دی | په مخزن کې درویزه ستایلی نه دی |
| بل زمونږ مخزن نه شعر نه بیان دی | بیان شوی نظم نه دی په بل شان دی |
| که یې ګورې درست په شان دصحیفو دی | چې راتلې به له اسمانه له هغو دی |
| یو پښتو کلام موزون دی بیان شوی | په معنی کې دګرګون دی بیان شوی. |
| هغه ځای چې د رښتیا مهتاب ښکاره شي | دکتانو تاروپود پاره پاره شي |
| د رښتیاو کرامت لکه باران دی | د دروغو سحر دوړې د بیابان دي |
| چې دده دخولې نه دا خبرې وشوې | ته به وایې چې په هر چا اوبه توی شوې |
| پوهېدم چې زما ستاره وه پرې غالبه | له هیبته یې دا ووته له ژبه |
| که یې بیا کړه دافسون ښېوه اغازه | سود یې نه و دې ما ژبه شوه پرې سازه |
| ما وې بس دمامقصود مراد هم دادی | مدعي په دا خبرو خود اګاه دی |
| د یزید ستاینه ګورئ په مخزن کې | هم مخزن نه دی د شعر په هر فن کې |
| زه هم دا خبره وایم خلکه خامه | خو دیې وویل خبره شوه تمامه |
| چې هرڅوک په دا خبره خبردار شو | چې کینه وځي دروغې طلبګار شو |

شیخ میا نور چې خجل ورغی ترکـــــوره   په داخپل ویل پښـــېمان شـــو را شـــه ګـــوره

چې د خوشال او میان نور ترمنځ مناظرې دوام کاوه، د شیخ میــان نور منطق کمزوری کېده، په پای کې میان نور مات شو، ددې په خــاطر چې میان نور په سیمه تر دې زیات ونه شرمېږي او بیا دهغــه پلویــان، دیني او علمي مناظره په جنګ او جګړه وانــه ړوي خــو خوشــال پــر میانور بل هېڅ شرط کېښښود، یوازې دا شرط یې پرې کېښود چې نوره به دمغلو پلوي نه کوي، میان نور هم دا شرط قبول کړ، خو په زړه کــې یې بیاهم مغل پالنه وه او تر پایه خپلې دې ژمنې ته وفادار پاتې نه شو.

خوشال بابا نه یوازې د شیخ میانور له مناظرې سره مخامخ شــوی، بلکې د ژوندانه په اوږدو کې یې ډېر ځله له ډېرو کم علمه او کم سواده ملایانو او شیخانو سره مقابله او مناظره کړې چې دده ګــڼ ادبــي اثــار ددې مناظرو او ځوابونو ښکارندوی دي. کله چې موږ په دینپوهنه کې دخوشال بابا ژورلیدونو، علمي او اصولي دریــځ تــه متوجــه شــو نــو خوشال مو دستر اسلامپوه، اسلامپال او متبحر فقهي په توګه په ذهن کې انځور شي.

# ((ښه حاکم)) او د ښه حاکم په هیله

وايي اجتماعي مسايل د سانيسي هغو په شان نه دي، چې په وضع شويو فورمولونو حل شي، خو کله چې سړئ ولسي پوهې ، متلونو، د روزګار تجربو او د پوهانو پخو خبرو ته وګوري، نو له داسې کره خبرو او پخو تجربو سره مخامخېږي چې د ساینسي فورمولونو په شان د اجتماعي ستونزو د غوڅولو لپاره کار کوي. زما په اند استاد الفت د افغاني ټولنې هغه لیکوال دی، چې یوه ښه اجتماعي طبیب او حکیم ورته ویلای شو. الفت د افغاني ټولنې د ژوندانه بېلابېلو ناخوالو ته متوجه شوی، هغه یې په ډېر دقت څېړلي او د درملنې نسخه یې ورته وړاندې کړې ده. د استاد الفت د علاج نسخې ، ډېرې پیسې او ډېر لګښتونه نه غواړي؛ دهرې ناروغۍ لپاره یې په خپله ټولنه کې درمل په ګوته کړي، د ده د نسخې تطبیق یوازې فکر او سوچ غواړي، نور څه نه غواړي. الفت د یوې ټولنې د سلو مرضونو دوا یوازې دا ګڼي چې ((ښه حاکم)) پرې حکومت وکړي، د (( ښه حاکم)) په اړه کېدی شي، خلکو سره مختلف تصورات وي، خو د الفت په نظر

تر ټولو ښه حاکم (( قانون او عدالت)) دی. د الفت په نظرکه په هره ټولنه کې قانون او عدالت واکمن شو ، نو د ټولنې ډېرې ناخوالې پرې اوارېدی شي. ځکه چې قانون او عدالت نه چا نه رشوت اخلي ، نه د چا لیاز کوي، نه پر چا ظلم کوي، نه د چا سفارش کوي، نه چا سره کینه کوي، نه نفسي خواهشات لري، نه خپل پېژني او نه هم پردی. نو د داسې یوې وسیلې په واکمنۍ سره د هر چا حقوق خوندي کېږي او څوك د چا پر حق تېرې نه شي کولای. دلته به د استاد الفت د نثر دا وره، خو له مانا ډکه ټوټه کټ مټ راوړو او بیا به خپلې خبرې پرې وغځوو.

# ښه حاکم

هغه چې نه نفس لري ، نه نفسي خواهشات.

نه یې په زړه کې ډار شته ، نه طمع.

نه له موقوفۍ وېرېږي، نه د ترفیع پروا لري.

نه رشوت اخلي نه تنخوا.

نه له چا سره عناد لري، نه د چا مراعت کوي.

نه د چا مخ ګوري، نه د چا خټ.

نه زورور پېژني، نه غریب.

نه ځوك يې خپل دي او نه پردي.

نه چا ته خاندي، نه چا ته وچولی تریووي.

پوهېږئ د ا حاکم ځوك دی؟

هو! قانون او عدالت.

استاد الفت د بشري ټولنې د سوکالۍ لپاره قانون او عدالت تر ټولو ښه وسیله ګڼلې، چې هېڅ بل ځیز ورسره د پرتلې وړ نه دی، وګورئ لوی څښتن تعالی (ج) ،د بشر د لارښوونې لپاره وخت پر وخت خپل پیغمبران رالېږلي او هر پیغمبر خلکو ته د خدای (ج) د نظام او قانون د تطبیق سپارښتنه کړې ده. اسماني ادیان د بشر د ژوندانه د مهارولو، نېکمرغه کولو او هوساینې لپاره ستر قوانین دي. اکثره بشري قوانین د همدې قوانینو په رڼا کې وضع شوي دي، بشر د خپل ژوند د هر اړخ د انتظام لپاره بیلابېل قوانین وضع کړي، خو وضعي قوانینو تر هغه وخته دوام موندلی او تطبیق شوي چې عدالت ورسره ملګری وي. هغه وضعي قوانین چې ظلم او استبداد ور سره ملګري وو او د عدالت ځرك په کې نه وو، ډېر لنډ عمر لرلای دی او بیا هم د ډېر سخت فشار او لګښت په وسیله په ډېره سختۍ تطبیق شوي، خو کله چې زور ختم شوی قوانین هم له منځه تللي دي، خو استاد الفت د ښه او تلپاتي حاکمیت لپاره له ( قانون) سره ( عدالت) هم

ملګری کوي، د الفت په نظر (عدالت) د (قانون) ژوند تظمینوي او دواړه بیا د خلکو ژوند. د ټولنپوهانو په نظر له قانون پرته یوه ټولنه اصلاً ژوند نه شي کولای، د طبیعت ټول نظام د یوه نظم یا قانون تابع دی، که د یوې شیبې لپاره هم د کائینانو او ځمکې په نظم یا قانون کې ګډوډي را منځته شي نو دا نړۍ به د سترګو په رپ کې تباه شي، دغسې د بشري ژوند هره خوا چې محاسبه کړو که له قانون څخه خالي شوه، نو له سختې ګډوډۍ او انارشۍ سره به مخامخ شي، حتی د ځنګله د ځناورو تر منځ هم یو ډول قانون حاکم دی. استاد الفت د بشري ژوند دغه ستر ارزښت او ضرورت په ډېرو لنډو ټکو بیان کړی دی. پوهانو حتی د قانون پر تعریف غټې غټې لیکنې کړي او کتابونه یې پرې لیکلي، خو استاد الفت بیا په داسې یوه لنډه اعجازي کلام کې قانون او عدالت تعریف کړي او اهمیت یې ورته څرګند کړی چې سړی یې په یو وار لوستلو د مانا تل ته کوزېدی شي.

۱- نفس او نفسي خواهشات.
۲- ډار او طمع
۳- موقوفي او ترفیع
۴- رشوت او تنخوا
۵- عناد او مراعات

۶- مخ او شا
۷- زورور او غریب
۸- خپل او پردي

په بشري ټولنه کې چې هر څوک د پورتنیو مفاهیمو پر وړاندې ځان ټینګ نه کړي، یا د نفسي خواهشاتو تابع شي یا له چا څخه نامشروع طمع وکړي، یا وډار شي، یا د خپل ځان د موقف د لوړاوي لپاره کار وکړي او یا رشوت ته زړه ښه کړي، یا چا سره عناد او مراعات وکړي، چا ته مخ ښکاره کړي او چا ته شا، زورور او غریب ته په یوه سترګه ونه ګوري او له خپل واك و ځواك څخه د خپل او پردي پر وړاندې نا سمه ګټه پورته کړي، نو طبیعي خبره ده چې عدالت نه تطبیقیږي او ټولنه له توازنه وځي، کله چې په ټولنه کې بحران رامنځته شي، نو د ټولنې ټول وګړي ورسره زیانمنیږي او هېچا ته هم، بې ضرره ګټه نه رسیږي. نو استاد الفت په ټولنه کې د بحرانونو د ټولیز حل په خاطر وايي چې ټولنه باید

د ((ښه حاکم )) له خوا کنټرول شي او دا ((ښه حاکم)) دده په نظر ( قانون او عدالت ) دی، د مانیزې ښکلا تر څنګ د استاد الفت ددې نثر لفظي ښکلا هم د زیاتې ستاینې وړ ده.

دا نثر په حقیقت کې ټولې یوولس جملې لري، چې ټولې تامې جملې دي. داسې تامې جملې چې اوږدې نه دي، هره جمله په حقیقت کې له دوو برخو جوړه ده، دویمه برخه که څه هم پر (نه) باندې پیلېږي، خو له لومړۍ برخې سره ارتباط کې ده، د تاکید او خوند لپاره ښه پیوستون ښیي، په دې نثر کې لکه د لنډې کیسې په شان ښه تلوسه موجوده ده ، سړی په پیل کې نه پوهېږي چې (( ښه حاکم )) یانې څه؟ او څوك به وي؟ خو دا تلوسه او غوټه لکه د لنډې کیسې د اوج په شان په وروستۍ برخه کې خلاصېږي.

پوهېږئ! دا حاکم څوك دی؟

هو! قانون او عدالت.

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې شعري فورمونه

کله چې موږ په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د شـــعري فورمونـــو پـــه اړه خبرې کوو، نو پر دوو ډولو ادبیاتو له بحث ســره مخــامېږو: ۱- پښـــتو ګړني یا شفاهي ادبیات ۲- پښتو لیکني یا تحریري ادبیات.

۱-پښتو ګړني ادبیات: په پښتو ګړنیو ادبیاتو کې ګڼ شمېر شـــعري فورمونه شته، خو ددې شعرونو د زمان او مکان حد او برید ټاکل اسانه کار نه دی،د اکثرو صاحب او شاعر معلوم نه دی. ددې تـــر څنـــګ پـــه خپله د ګړنۍ شاعرۍ شعري فورمونه هم د لیکنۍ شاعرۍ په اندول لږ مشخص (ثابت) او کوټلي دي. یوازې لنډۍ په پښـــتو ګړنـــي ادب کـــې مشخص او ثابت شکل لري، نور اکثره یې دیوې یا څو مسرو، اوازونو یـــا اهنګ په تغیر او تبدیل سره خپل شکل بدلوي، خودابدلون دومره هم نه دی چې یو شعري فورم یا شکل له بل سره منطبق یا مدغم شـــي او یو بل سره یې توپیر ونه شي، په پښتو ګړنۍ شاعرۍ کې لنډۍ، کاکړۍ، نارې یا غړونه، لنډکۍ، ســـروکي، فالونـــه،د ښـــادۍ ســـندرې، نکلونـــه، چاربیتې یا بګتۍ او ځینې نور راځي، له لنډۍ پرته نور اکثره شـــکلونه بیا خپل منځ کې نور نور شکلونه یا لږ تر لږه د بنې تغیـــر لـــري. لنـــډۍ

یوازېنی شعري فورم دی، چې د اهنګ، د څپو د شمېر او د خج له پلوه یو ټاکلی شکل او چوکاټ لري، چې که یو هم پوره نــه وي، لنــډۍ نــه جوړېږي. د اهنګ له پلوه د لنډۍ وروستی توری(غږ) باید حتماً یو غږن اواز (واول) وي، په واولونوکې هم یو مشخص واول (ه=a) چې په پښتو کې د ګردې هې (ه) په نوم نومول شوی او زور(zwar) یې هم بــولي. د یادونې وړ ده چې تر زور(a) دمخه اواز هم باید یومتحرک غږ وي چې د دې دواړو غږونو له یو ځای کېدو څخه یو منظم اهنګ یا ریتم رامنځته کېږي، چې مسرې ته رنګ او خوند ورکوي او د وینا پر وخت د ســړي خوله پرې ډکېږي. د لنډیو بل خصوصــیت دا دی چـــې هــره څلورمــه مسره یې خجنه ده، یانې د هرې مسرې پر څلورمې څپې باید فشار یــا خج راشي، چې اصل اهنګ پــوره کــړي، البتــه د پښــتو شــاعرۍ پــر هرشعري فورم، خج درې څپې وروسته واقع کېږي، خو د لنډۍ تــوپیر له نورو شعري فورمونو سره دادی چې په نورو شعرونو کې کېدی شـــي خج د مسرې پر لومړۍ، دویمې، دریېمې، یا څلورمې مسرې راشـــي او تر هغې درې څپې وروسته څپه خجنه شي، یانې درې څپـــې وروســـته څلورمه څپه خجنه کېږي، خو په لنډیو کې د لومړۍ مســـرې څلورمــه څپه خجنه وي او بیا نور تر پایه همدا قاعده تعقیبوي او دا فورمول پر ټولو لنډیو یو شان د تطبیق وړ دی.

د څپو او د مسرو شمېر له مخې هم لنډۍ واحده قاعده لري، لنډۍ دوه مسرې لري، چې لومړۍ يې نهه څپې او دويمه يې ديارلس څپې ده، د لنډۍ د دواړو مسرو د څپو ټوليز شمېر دوه ويشتو (۲۲) څپو ته رسېږي، له نورو ټولو پښتو شعري فورمونو سره د لنډۍ توپير دادی چې ددې د مسرو او څپو شمېر مطلق او غوڅ دی او تر هغو زياتېدی او کمېدی نه شي، خو په نورو شعرونوکې دا مطلقيت عام نه دی، څرنګه چې دپښتو ګڼنې شاعرۍ د اکثرو شعري فورمونو وخت او شاعر معلوم نه دی، چې ايا په لرغونې دورې پورې اړه نيسي او که نه؟ او بل د ټولو ګڼيو شعري فورمونوشننه او څېړنه يوه اوږده بحث ته اړتيا لري، نو دابحث بل وخت ته پرېږدو او اوس راځو د خپل بحث دويمې برخې، د پښتو ليکنۍ شاعرۍ فورمونو او هغه هم د لرغونې دورې شعري شکلونو ته !

د پښتو ليکنۍ شاعرۍ لومړۍ لاسته راغلې بېلګه همغه د امير کروړ يو شعر دی، چې د محتوا له مخې وياړنه او د فورم له مخې داسې ډول شعري يا منظوم فورم دی چې نه په بشپړ ډول د پښتو ولسي شاعرۍ له پخو بېلګو يا شعري شکلونو لکه چاربيتو، بدلو، بګتيو، لوبو او کسرونو سره ورته والی ولري او نه هم له عربي ادبياتو او نورو ژبو څخه له راغلو شعري فورمونو لکه غزل، قصيده، مخمس، مسدس او نورو سره ورته وي، د څېړونکو په نظر دا شعر يا نظم زړو اريايي سندرو

ته ورته یو شعر دی، د ځینو څېړونکو پــه نظــر دا شــعر د زړو اریــایي سندرو او پښتو ولسي سندرو تر منځ د اتصال یوه کړۍ ګڼل کېږي.

د امیر کروړ شعر اته بنده لري چې په هر بند کې یــې درې مســرې دي، د سر بند درېیمه مسره یې بیا پــر دوو برخــو وېشــل کېــږي، پــه حقیقت کې دوه مسرې لري، چــې دواړه مقفــي دي، او د پورتنیــو دوه بیتونو د مسرو قافیه تعقیبوي د بند وروستۍ مسرې دویمه برخه بیا له نورو بندونو سره هم تکرارېږي:

زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند وسند پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته

په پورتنیو اتو بندونو کې د لومړي او شــپږم بنــد د مســرو د څپــو شمېر سره برابر(څوارلس څوارلس) څپې دی، او درېیمه مسره چې یوه برخه یې تکرار ده شپږ شپږ سېلابه دي، د نورو شپږو بندونو دمســرو شمېر (پنځه لس پنځه لس) څپې دی او ټول واړه بیتونه یې اووه څپې دي، چې په دې ډول یې په خپل منځ کې یو منظم اهنګ ټینګ کــړی دی، سر بېره پر دې د اول،دویم، درېیم، شپږم او اووم بندونو مسرې د قافیې تر څنګ ردیفونه هم لري او نور بیتونــه یــې یــوازې پــه قــافیو سمبال دي. داهنګ له پلوه دا شعر د پښتو له نورو ولسي شعرونو سره

چې تر امیر کروړ وروسته لاس ته راغلي، یو شان دی، یانې د پښتو ژبې له ځانګړي اهنګ سره سمون خوري. د تاریخي قدامت لــه مخــې بــل لاسته راغلی شعر هغه شعر دی چې ابوهاشم ابن الزید سرواني له خوا پښتو ته ژباړل شوی،او په دریمې هجري پېړۍ پورې اړه لري، دا شعر اصلاً د ابن خلدون و چې (ابي الینا) مشهور و ، د بغداد اوســېدونکی او په دواړو سترګو ړوند و، دا شعر د فورم له مخې غزل دی، خو محتوا یې اخلاقي مسایل دي، چې د درهم د ستاینې په بڼه خلکــو تــه وړانــدې شوی، که څه هم ځینو څېړونکو دا غزل نه دی ګڼلای او قطعه یې بللې خو کله چې موږ د شعر عربي متن ته مراجعه کوو، هلته د غزل د فورم له معمول تعریف سره سمون خوري، پښتومتن ته یې که هم وګــورو د غزل فورم څرګندوي. سره له دې چې لومــړی بیــت یــې مقفــی دی؛( وینه او درهمونه) په کې د قافیې کلمې دي، خو د قــافیې پــوهنې لــه مخې د دواړو قافیو تر منځ یوازې یو مشترک توری(ه=a) دی اوتــردې دمخه توري حرکت هم تغیر لري، نو( سسته او چسته قافیه یې سره یو ځای کړي)، نو ځکه سړي ته په پیل کې د اهنګ له پلــوه پــوره پــوره منطبق نه برېښي، دا کېدی شي د ژباړې ستونزه هم وي، لــه نظــم نــه نظم ته ژباړه څه اسانه خبره نه ده، نه یوازې په مطلع کې، بلکې په نورو بیتونو کې هم د قافیو هماهنګي سل په سلو کې منطبقه نه ده، د ابــو هاشم ابن الزید السرواني له خوا د ابن خلدون دا ژباړل شوی غزل اووه بیتونه لري، چې دسر او پای بیتونه یې دادي:

ژبــه هــم ښــه ویناکانــدي چــې یــې وینــه
د خاونـــد پـــه لاس کـــې زر او درهمونـــه
درهـــم ژبـــه ده کـــه څـــوک ژبـــور کېـــږي
ده وســـله کـــه څـــوک پـــرې کانـــدي قتالونـــه

**د بېت نیکه مناجات:** په پښتو لر غوني شاعرۍ کې یــو مطــرح شو د بیت نیکه مناجات دي، چې ټول دوه بنده لري او سربېره پــر دې یو بل بیت هم لري، چې د کسر یا تکرار په بڼه ورســره ویــل کېــږي، د دواړو بندونو د مسرو شمېر یې سره برابر،( شپږ شپږ) مســرې یــا درې درې بیتونه دي د او ټول شعر یا نظم د مسرو د څپو شــمېر هــم ســره مساوي دی، (اووه اووه) دی، د محتوا له مخې دا شعر دینــي مناجــات دي، خود فورم له مخې مثنوي ته ورته ښکاري، ځکه چې هر بیت یــې په خپل منځ کې مقفی دی، خو دا چې هر درې بیته وروسته یو بیــت د تکرار یا کسرپه بڼه لوېږي،له مثنوي څخه خپله بڼه بدلوي،مانا داچــې دمثنوي هغه فورم چې له عربي څخه پښتو ته راغلی هغه شان نه دی، نو ځکه ویلای شو چې دا هم د پښتو ولسي شاعرۍ په اهنګ پخوانیــو اریایي سندرو ته ورته دی، چې په پښتو ولسي شاعرۍ کې نور داســې شعرونه هم شته، د بیت نیکه مناجات:

لویه خدایه لویه خـــدایه    ستا په مینه په هر ځایــه
غر ولاړ دی درناوي کې    ټوله ژوي پــه زاري کـــــې
دلته دي دغرو لمـــــنې    زمور کېږدۍ په کې پلنې

دا وګړي ډېر کړې خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

**همداسې بل بند**

**د شیخ اسمعیل شعرونه:** د شیخ اسمعیل دوه شعرونه زموږ لاس ته راغلي دي. د شیخ اسمعیل یو پاړکی:

**تېښته وکړه له ابلیسه چې ابلیس لعین ښکاره شي**

دا ټول پنځه بیتونه لري چې محتوا یې له شیطان څخه د انسان د ژغورنې په اړه ده، د شکل له پلوه غزل ته ورته ده، خو یوازې په دې توپیر چې د سر بیت یې مقفی نه دی. بل نظم یې چې د خرښبون بېلتون ته ځانګړی شوی او بیا خرښبون په نظم د هغه غبرګون ښودلای، دواړه له عربي څخه د راغلیو فورمونو په چوکاټ کې نه راځي او د پښتو شاعرۍ د فورمونو رنګ پرې غالب دی خو دې سره سره سل په سلو کې په کوم ځانګړي چوکاټ کې نه ځايږي.

**که یون دی یون دی مخکې بیلتون دی**
**له کسي غره څخه ځي خرښبون دی....**

څلور څلور مسرې د یوه بند په شکل یو ځای شوي دي:

د خرښبون نظم:

**بېلتانه ناره مې وسوه په کور باندې**
**نه پوهېږم چې به څه وي پېښ په وړاندې**

**لــه خپلوانــو بــه بېلېــږم پــه ســرو ســترګو**
**دواړه ســـترګې مـــې پـــه وینـــو دي ژړانـــدې**

د شیخ رضی لودي او نصر لودي نظمونــه: دا دواړه نظمونــه چې د یوې لیکلې مشاعرې بڼه لري، د فورم له مخې غزل ته ورته دي، خو داسې غزل چې مطلع ونه لري، یانې بې مطلع غزل، نور نو د غــزل فورم ټول قواعد پرې تطبېقېږي، خو یوازې دومره توپیر لري چې د سر لومړۍ مسره یې بې قافیې ده او د نورو مسرو قافیه د لومړي بیــت د دویمې مسرې قافیه تعقیبوي.

د شیخ رضی لودي د نظم څو بیتونه:

**د الحاد په لور دې ترپـــلل ګروه دې زموږ وکوراوه**
**موږ روښلې پـــه زیـار نـه تا په توراوه پـــه تور او**

او د هـــغـــه پــه ځواب کې د نصرلودي دا نظم:

**د الـــــحاد په تور تورن سوم زه لرغون خو ملحد نه یم**
**زمادښنه هسې تور راکـــړي که ملحد یــم ددښنه یــم**

**په لرغوني ادب کې د قصــیدي فــورم:** پښــتو ادب تــه د قصیدې فورم له عربي ژبې څخه راغلی دی، چې لومړۍ بېلګــه یــې د شیخ اسعد سوري لاسته راغلــې قصــیده ده. د شــیخ اســعد ســوري

قصیدې له پوخوالي داسې برېښي چې پښتوادب کې به تــردې دمخــه هم زیاتې قصیدې پنځېدلي او په خپله شیخ اسعدسوري به هم ډېرې زیاتې قصیدې لیکلې وي، چــې د قصــیدود پخــوالي دې معــراج تــه رسېدلی دی، خو څرنګه چې تر ده دمخه او خپله دده نــورې قصــیدې عملاً په لاس کې نه شته، نو همدا لاسته راغلې قصیده پــه پښــتوادب کې لرغوني قصیده ګڼلای شو، قصیده هغه ډول شعري یا نظمي فــورم دی، چې د سر بیت یې مقفی وي، ردیف په کې اختیاري دی، قافیه پــه کې حتمي ده، د نورو بیتونود دویمو مسرو قافیه یې د لــومړي مقفــی بیت قافیه تعقیبوي، د بیتونو شمېر یې له پنځه لسو څخــه تــر ســوو بیتونو پورې اټکل شوی دی، د قصــیدې د معمــول تعریــف لــه مخــې قصیده درې برخې لري، چې د پیل برخې ته یې تشبیب یا تغزل وایــي او معمولاً د طبیعت ستاینه په کې کېږي، دویمې برخې ته یــې اصــلي موضوع وایي چې د ممدوح ستاینه په کې کېږي او درېیمه برخــه یــې دعائیه ده. د شیخ اسعد قصیده چې د محمد سوري (د سوریانو واکمن زنداني کېدو او وفات) ته ځانګړې شوې د محتوا له مخې یوه دردونکې ویرنه ده.

داقصیده د محمد سوري د مرګ رڼه انځورګري کوي او پــر ســړي باندې ډېر تاثیر ښندي، دا قصیده ټوله 44بیتونه لري چې دقصیدې لــه معمول تعریف سره سم ټول اړخونه یې رانغاړلي دي، دسر ، منځ او پای څو بیتونه یې دادي،:

د فـــلک لـــه چـــارو څـــه وکـړم کوکـار
زمولــوي هــر ګــل چــې خـــاندي پــه بهــار
هــر غــاټول چــې پــه بیــدیا غوړېــده وکــا
ریژوي یې پاڼې کــانـــدي تــار پـــه تــار

د منځ بيتونه:

زمورړ پر زړونو دې نن بيا يــو غشــى وويشــت
ودې ژوبلـلــــه پــــه دې غشــــي هـــزار
پــر ســوريو بانــدي ويــر پرېــوت لــه پاســه
محمـــد واكمـــن چـــې ولاړى پـــه بــل دار

د پاى څو بيتونه:

ســـخ پـــه تـــا اى محمـــده د غـــور لمـــر وې
پـــه نـــړى بـــه نـــه وي ســـتا د عـــدل ســـار
كه سوري دې پر ننگ وير كاندي ويرمن سول
هم به ويـاړي ســتا پــه نــوم ســتا پــه تبــار
پــه جنــت كــې دې وه تــون زمــورړ واكمنــه
هـــم پـــر تـــا دې وي ډېـــر لـــور دغفـــار

ددې قصيدې هندسي شكل په دې ډول دى:

+__________________

قافيه +__________________

__________________

+__________________

__________________

ترپايه +__________________

**د ښکارندوی غوري قصیده:** بله مهمه قصیده زموږ په لرغوني ادب کې د ښکارندوی غوري قصیده ده، چې پـر هنـد یـې د سـلطان شهاب الدین غوري د فتوحاتو په تعریف کې ویلې او د محتوا له مخــې یوه ستاینه بلل کېږي. دا قصیده ټوله (۴۵) بیتونه لري او د قصیدې له معمول تعریف سره سم درې برخې تشبیت یا تغزل اصلي موضــوع او د عائیه لري، دا قصیده هم لکه د شیخ اسعد سوري دهغې په شــان پــه قافیه پای مومي او ردیف نه لري. د سر، منځ او پای څو بیتونــه یــې دا دي:

د پسرلي ښکلوونکي بیــا کــړه ســینګارونه
بیــا یــې ولونــل پــه غرونــو کــې لالونــه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شــوې
طیلســـان زمـــردي واغوســـته غرونـــه

دمنځ بیتونه:

په زابل چې د بــري پــر نیلــي ســپور ســي
پـــه لاهـــور یـــې د مېړانـــې ګوزارونـــه
د اســلام د دیــن شــهاب دنــړۍ لمــر دی
تورســـتان یـــې کـــړه رڼـــا پـــه جهادونـــه

د پای بیتونه:

په رڼا اوسه ته تل د دین شهابه
نوم دې تل وه پر دریغ په نمزدکونه
ستا په زېرمه دې خاونده لوی ځښتن وي
مور خو ستا په نامه یونه څو چې یونه.

د شیخ اسعد سوري او دښکارندوی غوري قصیدې دواړه د انځورګرۍ او د طبیعت دمناظرو د ترسیم او د پېښو د واقعي ثبت له مخې داسې لوړې قصیدې دي چې تراوسه یې پښتو ادب کې ساری نه شته.

په لرغوني پښتو ادب کې غزل: سره له دې چې غزل ته ورته ځینې نظمونه په پښتو ادب کې تر اتمې هجري پېړۍ دمخه هم لیدل کېږي، خو پښتو ادب کې په منظم ډول غزل د اتمې هجري پېړۍ دویمه نیمایي کې، اکبر زمینداروي پیل کړی دی.

اکبر زمینداوری د دېوان خاوند و چې څو پاڼې یې استاد حبیبي ته لاس ته ورغلي دي. په دې لاسته راغلو پاڼو کې دوه غزلونه هم خوندي دي، چې دهنر، هغه وخت او شکلي سکښت له مخې ډېر اوچت غزلونه ګڼل کېږي، چې دلته یې یو څو بیتونه د بېلګې په توګه را اخلو:

د خپل ځـــان لـــه حیرانیـــه څـــه ویـــل کـــړم
د عشق ویر بـــه تـــل پـــه خپلـــه پټـــول کـــړم
مـــا مـــدام لکـــه بـــورا پـــر ګلـــو کشـــت کـــړ
اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کـــړم...

او وروستی بیت:

د بېلتـــون لـــه ویـــره ژاړم اوښـــکې وینـــې
زه اکبر پـــه خپـــل اشـــنا د سربښـــندل کـــړم

دا غزل پنځه بیتونه لري چې ( ویل، پټول، ښندل او...) یې د قافیې کلمې دي او ( کړم کړم) یې ردیف دی. د بیتونو دمسرو دڅپو شمېر یې دولس دولس څپې دی او د ټولو مسرو د څپو شمېر یې ســره مســاوي دی، مطلع او مقطع چې د غزل یوه ځانګړتیا ده، دواړه په کې خونــدي دي. دمحتوا له مخې هم له غزل سره پــوره منطبــق دی، ځکــه چــې موضوع یې تغزلي ده.

په لرغوني ادب کې مثنوي: په پښتو ادب کې د پوره مثنــوي او پوره غزل عمر سره تقریباً مساوي دي، دواړه شعري فورمونــه د اکبــر زمینداوري د دیوان په هغو پاڼو کې لیدل کېږي چې د اســتاد حبیبــي

لاس ته ورغلې وې، په دې پـانو کـې د زمینـداوري دوه مثنـوي هـم خوندي دي .

مثنوي هغه شعري فورم دی چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی، ځانګړتیا یې داده چې هر بیت یې ځانته ځانګړې قافیه لري، یـانې دوه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي، ردیـف پـه هـر بیـت کـې اختیاري دی، کېدی شي ځینې بیتونه ردیفونه ولري او ځینې یې ونـه لري.

د هر بیت  د مسرو شمېر یې په خپل منځ کې مسـاوي وي، خـو د ټولو بیتونو د مسرو د څپو شمېر یې د یوې یا دوو څپو په شمېر تـوپیر او بدلون موندلای شي.

البته تر اکبر زمینداوري دمخه مثنوي تـه ورتـه شـعرونه وو، خـو بشپړه مثنوي، ده لیکلې ده.

دلته یې د یوې مثنوي څو بیتونه را اخلو:

زه عاشق یم یار هم نیـــز　　　نــــور څه نه لــــرو تمـــــیز
یو پر بله عاشقـــان یـــو　　　په خپل عشق کې صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یــو　　　چې نــــــړدې نه یو مهجور یو

په پورته بیتونو کې اول بیت ردیف نه لـري او دوه نـور یـې لـري. دمثنوي فورم په دې ډول دی:

a________________

a __________________

ردیف اختیاري دی b ______________

b_______________

c ____________

c ____________

تر اکبر زمینداوري وروسته د زرغون نورزي ساقي نامه:

**ساقي راشه پياله راکړه ____ مرور يار مې پخلا کړه**

د زرغونې کاکړ د بوستان ژباړه:

**اورېدلې مې قصه ده ___ چې تر شاتو هم خوږه ده**

د دوست محمد کاکړ غربتنامه:

**له نيکانو روايت دی ____ هسې توګه حکايت دی**

ټول دمثنوي په فورم کې دي.

**په لرغونې ادب کې رباعي:-** تر غزل او مثنوي وروسته بل هغه شعري فورم چې له عربي څخه پښتو ته راغلی هغه (رباعي) ده چې دا فورم د ( خلیل خان نیازي) او ( سلطان بهلول لودي) له خوا په خپل منځ کې په ویل شویو شعرونوکې ګورو، رباعي هغه شعري فورم دی چې څلور مسرې لري، لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او دویمه مسره یې له قافیې څخه ازاده وي. ردیف په کې اختیاري دی او د څپو شمېر یې معمولاً مساوي وي.

خړې وربځې ژاړي له پاسه ـــــ کویله غږ کابېلتون له لاسه
یه هغه لوني ګوهرپه خول ستا ـــــ دامرحبا کا ستا زمور مواسه

د سلطان بهلول لودي رباعي:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه ـــ ګوره اوربځې د داد له پاسه
خول مې د عدل په درو روڼ دی ـــ جهان به زیب مومي زما له لاسه

د رباعي عام شکل دادی:

a______________

a __________ ردیف اختیاری دی.

____________

a_____________

## په لرغوني ادب کې د نورو شاعرانو شعرونه:

دنورو پاتې شاعرانو شعرونه اکثره دپښتو ولسي شاعرۍ په فورمونو کې راځي او همغه اريايي خصوصيت لري، چې د پښـــتو لــه ځــانګړي اهنګ سره مطابقت کوي. دا شعرونه دپښتو ولسي شاعرۍ لــه ثــابتو شعري فورمونو سره هم سلو په سلو کې منطبق نه دي او کېدی شــي هر يو جلا جلا وڅېړل شي، خو په لرغوني ادب کــې لــه عربــي څخــه راغلي ډېر مطرح شعري فورمونه، قصيده، غزل، مثنــوي او ربــاعي دي چې هر يوه ته پر خپل ځای اشاره وشوه.

# د استاد روهي له نظره د خوشال اخلاقي ایډیال

د خوشال بابا په باب تر اوسه پورې په سلګونو څه چې پــه زرګونــو لیکنې شوي دي، د خوشال بابا پــه اړه د مســتقلو اثــارو شــمېر هــم لسګونو عنوانو ته رسېږي، د خوشال په باب څېړنې په لومړي ګام کــې پر دوو کټګوریو وېشل کېدی شي، لومړی هغه څېړنې چــې د بهرنیــو پوهانو له خوا ترسره شوي او دویــم هغــه لیکنــې دي چــې د کورنیــو څېړونکو او پوهانو له خوا تر سره شوي دي، ددې څېړنو او لیکنو یــوه برخه دودیزه بڼه لري چې په ټولنه کې د خپل وخت د دودیزو علومــو او تعاملاتو په نتیجه کې یې خوشال مطالعــه کــړی او څېړلــی دی، د لیکنو دویمه برخه هغه ده چې خوشال یې د معاصرو علومو، کره کتنې او څېړنو په نتیجه کې له هر ډول سیاسي، ټولنیزو، قــومي او اخلاقــي تمایلاتو پرته، د نوې پوهې او د تحقیق او تحلیل د نویو میتودونو په رڼا کې څېړلای او تحلیل کړی دی، زموږ د هېواد له دغو معاصــرو پوهــانو څخه یو هم د هېواد ډېر ځیرمن لیکوال ، څېړونکی او کــره کتــونکی

کاندید اکاډمسین سرمحقق محمد صدیق روهي دی، چې په څو مقالو کې يې خوشال بابا په ناپېیلي (بې طرفانه) ډول څېړلای دی.

استاد محمد صدیق د ادبپوهنې په لړ کې په خپل مهم اثـر (ادبـي څېړنې) کې د خوشال په باب څلور ببلابېلـې لیکنـې: ((د خوشـال د ښوونې او روزنې فلسفه، د خوشـال ختـک سـوات نامـه د ټـولنیزو اصلاحاتو هنداره، ، د خوشال اخلاقـي ایـډیال او خوشـال د اخلاقـي ایډیال په حیث او د خوشال په اثارو کې د مضـمون او شـکل تنـوع)) چاپ کړي چې هره یوه د خوشال پېژندنې د مطالعاتو په لړ کې د خپـل ځانګړي او جلا ارزښت لرونکې دي، استاد روهي پر نو موړو لیکنو کـې سربېره د خوشال پر کلیاتو (د کابل چاپ) هم یـوه ارزښـتمنه سـریزه لیکلې، دغه راز د هېواد په ځینو علمي مجلو کې یې هم د خوشال پـه اړه علمي اوتحلیلي لیکنې راغلي دي.

((د خوشال اخلاقي ایډیال)) په نامه د استاد روهي یو مستقل اثـر هم چاپ شوی دی، چې همدا تېرې څېړنې په خپله لمن کې رانغاړي.

اوس راځو دې ته چې د استاد روهي دا لیکنې ولې د زیات ارزښـت وړ دي؟

استاد روهي د هغو پوهانو له جملې څخه دی، چې عصري زده کړې یې کړې وې، د ښوونې او روزنې په برخه کې یې ماسټري درلوده او په ادبپوهنه کې د زیاتې مطالعې خاوند و.

په کره کتنه او ادبپوهنه کې یې یو ډېر مهم اثر (ادبي څېړنې) لیکلی دی، استاد روهي د زیات علم او حلم خاوند و او همدا دوه عنصره یې په اکثرو لیکنو په تېره بیا په کره کتنه کې زیات لیدل کېږي، روهي صاحب په کره کتنه کې د هېڅ ډول احساساتو تر اغېز لاندې نه دی راغلی او هر څه یې چې شنلي نوهغه یې د دلیل او منطق په مټ واضح کړي دي، د خوشال په برخه کې هم استاد روهي د لیکنو چلند همدا ډول دی، استاد روهي سره له دې چې یوه ښه افغان او پښتون و، خو هېڅکله هم د خوشال پېژندنې په برخه کې د پښتونولۍ او افغانیت تر اغېز لاندې نه دی راغلی.

استاد روهي چې کله د خوشال ایډیال مطالعه کوي او پر هغه بحث کوي نو تر ټولو دمخه اخلاقي ایډیال تعریفوي، کله چې د یو شي تعریف مشخص شي، نوبیا د هغه شي پر ماهیت ښه پوهېدلای شو، استاد روهي وایي: ((اخلاقي ایډیال د کرکټرونو د هغو مثبتو اوصافو مجموعې ته ویل کېږي، چې د اخلاقي کمال د موډل بڼه ولري، اخلاقي ایډیال د یوې طبقې اجتماعي، اقتصادي شرایط منعکسوي او په اجتماعي ایډیال سره توافق پیدا کوي.)) استاد روهي د همدې

پورتني فورمول اوتعریف له مخې د خوشال د اخلاقي ایډیال پــه بــاب وایي: (( ځرنګه چــې خوشــال د فیــوډالیزم د اجتمــاعي- اقتصــادي فورماسیون محصول دی نو دا ډېره طبعــي ښــکاري، چــې د خوشــال اخلاقي ایډیال دې په یوه قومي مشر یا اشرافي شخصیت کې متبلــور شي.))

د استاد روهي له نظره خپله د خوشال په فکر د هغه اخلاقي ایډیال همهغه دی، چې ده په خپل اثر( دستارنامه) کې ښودلی دی او هغه تــه (دستار سړی) وایي، د استاد روهي په نظر دا ډېر مناسب نوم دی، ځکه چې له یوې خوا په پښتني قبیلو کې دا دود دی کله چې یو نوی قومي مشر یا خان د خلکو له خوا وټاکل شي، د هغه پر سر پګړۍ یــا پټکــی تړي او د پټکي تر تړلو وروسته خلک هغه ته مبارکي ورکوي، لــه بلــې خوا، په پښتنو کې پټکی یا دستار د عزت او وقار سمبول دی، اســتاد روهي زیاتوي: د اخلاقي موډل لپاره خوشال ( شل خصــلتونه او شــل هنرونه ټاکلي دي) که چېرې په یــوه شــخص کــې دغــه واړه هنرونــه موجود وي، نو هغه ته د اخلاقي کمال یوه نمونــه یــا اخلاقــي ایــډیال ویلای شو، استاد روهي زیاتوي: که موږ د اخلاقي ایډیال په برخه کې د خوشال ( دستارنامه) د (بلو تارک) او (کویټلیان) له اثارو ســره پرتلــه کړو ډېر ټکي به په کې مشترک پیدا کړو، نو ځکه استاد روهي وایــي، چې د خوشال اخلاقي ایډیال (دستارنامه) دیوه اخلاقــي ایــډیال پــه

حیث نوې څېره نه ده ، استا د روهي وايي: د خوشال موډل د لرغوني یونان موډل ( چې د مرییتـوب د دورې څرګنـدوی دی) نـه، بلکـې د رومیانو موډل دی، رومیان په علم او فلسفه کې ژور نه ځي، بلکې علم له عمل سره نږدې کوي.

استاد روهي وايي: « د خصوص د مقولې له نظره باید وویـل شـي، چې د خوشال اخلاقي ایډیال د پښتني چاپېریال کلتوري خصوصـیات منعکسوي، په دې ځای کې ددې ټکي یادونه هم ضـروري ده ، چــې د خوشال د موډل د پوره څېړنې لپاره باید یوازې پر (دستارنامه) بانـدې تکیه ونه شي، استاد روهي سره له دې چې د خوشال اخلاقي ایـډیال دپښتني چاپېریال څرګندوی بولي، خو بیا هم یادونه کوي، چــې ددې ایډیال لپاره چې خوشال کوم معیارونه ټاکلي، هغه د پښتني چاپېریال تر کلتور او مذهبي حدودو اوړي، استاد روهي په دې نظـر دی، چــې د خوشال ایډیال د کرکټر په لحاظ عمومي او خصوصــي اوصــاف لــري؛ عمومي اوصاف یې د ټولنې د ټولو افرادو لپــاره لازم دي، لکــه (د اولاد تربیت ، علم ، شجاعت ، سخاوت،راستي، خوشخویي، همت، غیــرت او نور...) خصوصي اوصاف یې صرف د دستار سړي ته ضروري دي، لکــه تادیب د خشم وخصم، د ملک د انتظام په عمــومي اوصــافو کــې یــې ځینې هنرونه اوخصلتونه تر زیـاتې انـدازې د ( دســتار ســړي) ســره

شباهت لري، لکه د ځان معرفــت، اســپ تــازي، تجــارت، موســیقي، شطرنج، نقاشي، عدل او انصاف، عفو وکرم، مشورت او نور...

استاد روهي د خوشال اخلاقي ایډیال د نړۍ د یو شمېر نورو پوهانو له اخلاقي ایډیال سره پرتله کوي او هغــو لارو چــارو تــه ګوتــه نیسي، چې یو شخص پرې دې معیار ته رسېدلای شي، اســتاد روهــي هغو دواړو معیارونو او لارو ته اشاره کوي، چې اخلاقــي ایــډیال پــرې جوړېږي، خو پرته له دې چې غوڅ حکم وکړي، قضاوت لوستونکو تــه پرېږدې، استاد رورهي وایي: د خوشال د ښوونې او روزنې موډل چې په دستارنامه کې راغلی دی، د لــوړې طبقــې ایــډیال دی، لــیکن دی د (اپلاتون) او ( ارسطو) په شان دغه ایډیال په کومې خاصې طبقې پورې نه منحصروي، (ارسطو) په صراحت ادعا کــوي، چــې غلامــان فطرتــاً غلامان پیدا شوي دي، دوی له مقدماتي زده کړې او سواد څخه زیــات څه نه شي زده کولای، خوشال البته پر وراثت باندې تکیه کوي، لــیکن دا وراثت طبقاتي نه ګڼي، د خوشال په نظر نه یوازې هنرونه د زده کړې له لارې لاس ته راځي، بلکې دی خصلتونه هم کسبي بولي، دی وایــي: (( امیر لره بویه چې ځان په شرع اراسته کا، بیــا د ولایــت ظــاهري، د سیاست هنرونه، خویونه، خصلتونه زده کا. )) سره له دې چــې پورتــه بحث کې استاد روهي د کوم نظر پلوي نه کوي، خو د متن لــه قرینــې څخه داسې ښکاري چې استاد د یوه ټولنپوه، ښوونپوه او کره کتونکي

په توګه د خوشال نظر تائیدوي، خوشال د اخلاقي ایډیال یا شخصــیت د جوړېدو لپاره ټول شرایط کسبي بللي، چې هر څوک یــې تــر لاســه کولای شي، خو په دې چاره کې ارث او د شخص خپل زیــار او زحمــت هم دخیل ګڼي او دا یې هم په ګوته کړې، چې هر څــوک دا معیارونــه پوره کړي، نو بیا (د دستار سړی) ترې جوړېدی شي او د ( دستار سړی) طبعاً هغه مقام دی چې بیا د ټولې ټولنې په لوړې یا اولې طبقې پورې اړه پیدا کوي او دا ځکه چې همدا شخص دی ، چې د ټولنې د مشــرۍ وړتیا پېدا کوي، نو باید د ټولنې په راس کې واقع شي.

د ارسطو نظریه چې پر طبقاتي بنسټ ولاړه ده، تــر ټولــو د مخــه د سقراط له علمي نظریاتو سره چې وایي: انسان د تحول په حال کې دی او د اصلاح وړ دی، متضاده ده، د ښوونې او روزنې اوسنۍ میتودولوژي هم دا حکم نه کوي چې د ټیټــې طبقــې خلــک دې د لــوړو زده کــړو قابلیت ونه لري او یا دې ترې لوی شخصــیتونه نــه شــي جوړېــدلای، خوشال البته د شخصیت په جوړونه کې ارثیت ځکه دخیل بولي، چــې دا د شخصیت جوړونې منشا ده، اوسنۍ ارواپوهنه هم دا تائیدوي، چې د انسان د شخصیت وده د نطفې له تشکل څخه راپیلېږي، محیطــي او بیا اجتماعي شرایط په کې اساسي نقش لري.

استاد روهي د خوشال د اخلاقي ایډیال په لیکنه کې دې نتیجې ته رسېدلی دی، چې د خوشال د ښوونې او روزنې موډل د اخلاقي ایډیال د جوړونې لپاره مناسب دی، استاد روهي د (دستارنامې) د معیـارونو له مخې د اخلاقي ایډیال لپاره تر ټولو غوره ، ښه او عملـي بېلګـه پـه خپله (خوشال) بولي، چې د دستارنامې اکثره معیارونه (شل هنرونه او شل خصلتونه) یې په وجود کې لیدل کېږي، نو موږ هم د استاد روهـي د تحلیل له مخې دې نتېجې ته رسېږو چې د خوشال د اخلاقي ایډیال یوه عملي بېلګه په خپله لوی خان خوشال خان دی او بس.

# ((شاهنامهء احمدشاه ابدالي)) ویاړنه ده که حماسه؟

((شاهنامهٔ احمدشاه ابدالي)) د حافظ ګل محمد مرغزي منظوم داستاني اثر دی، چې په هند کې یې د احمد شاه بابا د فتوحاتو او برياوو په باب ليکلی دی. دا اثر لومړی ځل پر (۱۹٦٥ م) کال د يو زړ تهوکو په شمېر د مشتاق احمد مشتاق په تدوين او د مولانا عبدالقادر په ((پېژندګلو)) چاپ شوی دی.

د مدون په وينا ددې اثر اصلي نوم ((شاهنامهٔ احمديه)) و، خو دوی ورته ځکه د ((شاهنامهٔ احمدشاه ابدالي)) نوم غوره کړ چې دې نوم ورسره ډېر اړخ لګاوه.

حافظ ګل محمد مرغزي، دمرغز د کلي اوسېدونکی و او د شاهنامې له متن څخه داسې ښکاري چې دی د احمد شاه بابا د وخت سړی او په جنګونو کې د هغه له لښکرو سره ملګری و، دده په خپله وينا ددې شاهنامې د ليکلو حکم هم ورته پخپله د بادشاه (احمدشاه بابا) له خوا شوی و، دی وايي:

چـــــې فرمـــــــان د شهریـــــــار و
پــــه زیـــــبا ښکلـــــی گفـــــتار و
چـــې حـــافظ دې شاهنامـــه کـــه
پـــه جـــهان دې دا نـامـــه کـــه
شاهنامـــــه دې کــــــه رنگـــــین
جـــــور زیبـــــا در ثمـــــین
پکـــــې حـــال دې د جـــــهان وي
ښــــه گنـــجونه دې عـــــیان وي
شـــه مذکـــور دې کـــه د جـــنگ
چـــې پـــرې صـــاف شـــي دزړه زنـــگ
د بادشـــــاه دې حـــــال بیـــــان کـــه
دا چـــې ســـیر یـــې پـــه جهـــان کـــه
د احـمـدشـــــــــــــــــاه دُر دوران
پـــــکې حـــال مـــې کـــړ بیـــان...

حافظ مرغزي دا کتاب پر یو زرشپږاویایم (۱۰۷۶) هـ ق کـال بشپړ کړی دی. د کتاب په پای کې ددې خبرې یادونـه کوي او وایـي چې دا شاهنامه یې د پښتنو لپاره بشپړه کړې ده:

د پـښتنـو د پـاره یـاره مـــــاخواري وکـــــړه بســـــیاره
که ښه وکړې پرې نـــظر تـــه بـــه شـــېر ســـې د کشـــور

چې زرسل وو اویا کـــاله　　　ســــن د هجـــر زمـــا لالـــه
شپږ ته نور کړه سره ضـم　　　چــې تــاریخ نــه شــي تــرې کــم
زما عمر دی پنځـــوس　　　ځــه لـــه مـــا وشـــو افســـوس

په پورتنیو څو بیتونو کې ددې اثر(شاهنامې) د لیکلو وجه او علت څرګند شول، خو اوس راځو دېته چې دا اثر د ادبي اثارو په کومو معنوي او شکلي ډولونو یا انواعو کې حسابېږي؟ اکثره شاهنامې چې لیکل شوي په هغوی کې تاریخي کیسې، د پاچایانو اتلولي، توره او مېړانه او جنګي پېښې بیان شوي، نو ځکه خو اکثره شاهنامې په حماسو او یا هم په حماسي اثارو کې شمېرل کېږي. اوس چې زموږ تر بحث لاندې موضوع د ((احمدشاه ابدالي شاهنامه)) ده، په دې کې له څو پوښتنو سره مخامخېږو او یا هم څو پوښتنو ته باید ځواب ورکړو، تر ټولو د مخه کېدی شي دا پوښتنې مطرح شي چې ایا دا شاهنامه ویاړنه ده که حماسه؟ یو حکایتي داستان دی که حماسي نظم یا شعر؟ د کوم یو معنوي ډول خصوصیات په کې زیات دي؟ د فورم له مخې په کوم ډول نظمونو کې راځي؟ ایا د حماسې د لیکلو لپاره مناسب فورم دی که نه؟ ایا نورو شاعرانو هم د شاهنامې د لیکنې لپاره له دې ډول فورم څخه کار اخیستی که نه؟ او که اخیستی یې وي وجه یې څه ده؟ خو ددې ټولو پوښتنو په منځ کې دوه پوښتنې چې تر نورو زیاتې مطرح دي دادي چې دا شاهنامه ، ویاړنه ده که حماسه؟ ددې لپاره چې دې پوښتنو ته معقول او

مناسب ځوابونه پیدا کړو، ښه به دا وي چې د حماسې پېژندنې د اصولو او معیارونو په رڼا کې د ا اثر مطالعه او تحلیل کړو:

((حماسه په ادبي ډولونو کې ډېر لرغونی ډول دی. په حماسه کې تر تاریخي دورانه وړاندې زمانې وقایع راغلي وي او په حقیقت کې د لومړنیو زمانو ګزارش دی. حماسه په هغه دوران کې د یوه ملت ارمانونه بیانوي چې تاریخ، اسطوره، خیال او حقیقت ټول پکې سره ګډ وي)).

ځینې کسان کله کله په ادبي څېړنو کې د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې (فخریې) تر منځ توپیر نه کوي، په داسې حال کې چې دا درې واړه جلا جلا معنوي ډولونه دي، توپیر سره لري.((حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی، چې د یو ملت، قوم، قبیلې یا شخص د مېړانې او تورې کیسې او جنګي کارنامې په حکایتي ډول بیانوي، هر ډول جنګي او حماسي اشعار حماسه نه شي جوړولای، که څه هم حماسه له حماسي او جنګي اشعارو څخه جوړېږي، خو هر حماسي شعر یا ویاړنه حماسه نه ده.د حماسې یو شرط دادی چې پېښې په کې په داستاني ډول بیان شوې وي.)) خو په حماسي شعر او یا هم ویاړنه کې دا شرط حتمي نه دی. یو رزمي شعر کېدی شي هېڅ اتل ونه لري اوشاعر خپله خلك د رزم او جنګ خوا ته راوبولي او په ویاړنه کې هم یو شاعر کولای شي د خپل ځان پر بریاوو

او یا هم د خپل تېر پر برياوو او لاسته راوړونو وویاړي، لکه د امیر کروړ شعر چې د خپل ځان د اتلولیو په باب ویاړ کوي، په حماسي شعر او ویاړنه کې مهمه نه ده چې شعر دې داستاني او یا حکایتي بڼه ولري. په ویاړنه یا حماسې کې دا هم مهمه نه ده، چې یو شاعر دې لرغونې زمانې ته لاړ شي او د هغو پېښو بیان دې وکړي، خو حماسه کې بیا د لرغونو پېښو بیان هم راځي. د دوکتور سیروس سمیسار په نظر: ((حماسه قدیمترینه او مهمترینه ادبي نوع ده چې د قبل التاریخ زمانې تاریخ بیانوي.))

(( څنګه چې حماسې دډېرو لرغونو او لومړیو وختونو خاطرې دي، نو په دې حساب د شفاهي کیسو او نکلونو په شکل سینه په سینه رانقل شوي او تر هغې چې په یوه زماني مقطع کې یې څوك لیکلو ته پیدا شوي او لیکلي یې دي.))

د ادبپوهانو په نظر د نړۍ په حماسو کې ځینې داسې خصوصیات شته چې هغه دنړۍ په اکثرو حماسو کې مشترك دي او ځینې داسې ځانګړتیاوې هم شته چې هغه د همغې یوې ژبې په حماسو پورې محدودې دي. پښتو حماسې د نړۍ د حماسو د عامو ځانګړنو تر څنګ ځینې داسې ځانګړتیاوې هم لري چې هغه د نړۍ په نورو حماسو کې نه تر سترګو کېږي، دا ځانګړتیاوې د پښتنو د عام کلتور تابع دي

او له همدې کلتوري، قومي، قبیله یي تعاملاتو یې ا لهام اخیستی دی.

دا ډول خصوصیات بیا د نړۍ د نورو ژبو په حماسو کې نه تر سترګو کېږي او یا هم لږ تر سترګو کېږي، اوس راځو دېته چې د حماسې د عامو خصوصیاتو له جملې څخه کوم خصوصیات تر زیاته او کوم خصوصیات تر کمه بریده پر (احمدشاهي شاهنامې) د تطبیق وړدي؟

۱- د حماسې په عامو ځانګړتیاوو کې یوه دا ده چې (( د جنګ، بهادرۍ، مېړانې، پهلوانۍ او شهسوارۍ کیسې په کې راغلي وي.))

د پورتني معیار له مخې که موږ (احمدشاهي شاهنامه) ارزوو، نو په دې معیار خو پوره ځکه ده چې د احمدشاه بابا په شمول د هغه د لښکرو د بېلابېلو لښکر مشرانو د تورې، بهادرۍ او جنګي اتلولیو کیسې په کې بیان شوي دي.

مثلاً د شالامار باغ د جنګ داستان داسې بیانوي:

ښه ځوانان دې شي تیار    ازموده د جنګ په کار
په دا لور د شالامار    چې ازبک هم د حصار

د راوي پـــه دا ګفتـــار       د قـرغـــــز ځوانـــــان تیــــار

۲- د حماسې یوه بله ځانګړنه دا ده چې حیوانات په کې ستر نقش لري، حتی کله کله دا نقش ډېره اخلاقي بڼه هم لري، په دې شاهنامه کې هم د آسانو او فیلانو یادونه شوې او جنګ کې د هغوی رول په ګوته شوی او خپلې لښکرې یې له بازانو سره تشبه کړې، خو لکه د نورو حماسو په شان حیوانات په دې اثر کې هغه رول نه لري لکه په نورو حماسو کې چې خارق العاده رول لري.

۳- د حماسو یوه ځانګړنه دا ده چې اتلان په کې له هیولاوو او وحشتناکو حیواناتو سره مقابله کوي.

په احمدشاهي شاهنامه کې سره له دې چې وحشتناکو حیواناتو سره د انسانانو تن په تن جګړې کیسې نه دي راغلي، خو په جګړه کې ډېر ځایه د جنګي وسیلو په توګه د حیواناتو یادونې راغلي، خو ددې پر ځای د خپلو لښکرو د اتلانو ډېر توصیف شوی او د حماسې هغه بله خوا یې پوره کړې چې تر حده زیاته مبالغه په کې وي، لکه غلو او اغراق، مثلاً له درانو لښکرو څخه د صمد خان یادونه کوي چې د خپل ورور (شفیق) په مرګ یې سینه کباب وه، خو بیا یې هم پر دښمن سختې حملې کولې او هغوی یې تار و مار کړل اویا هم د نورو جنګیالیو یادونه.

۴- په حماسه کې یاد شوي بوتي، ونې او مېوې زیاتره جادويي او خارق العاده خصوصیات لري.

د حافظ ګل محمد مرغزي په اثر (احمدشاهي شاهنامه) کې سره له دې چې د حماسې ګڼ شمېر خصوصیات لري، خو د ونو، بوټو او مېوو د داسې کومې خاصې خارق العاده پېښې کیسه یا داستان په کې نه دی راغلی چې د سړي پام ځان ته واړوي.

۵- د حماسو اتلان معمولاً ما فوق الطبیعي انسانان ښودل کېږي.

په دې شاهنامه کې انسانان ما فوق الطبیعي انسانان نه دي ښودل شوي، خو د هر جنګ د داستان اتل طبعاً تر عادي انسانانو لوړ ښودل شوی دی. خو دا لوړتیا دومره نه ده چې افسانه يي برید ته ورسېږي.

۶- د حماسو د اتلانو کارونه اکثره خارق العاده وي او د منطق په تله نه تلل کېږي.

د مرغزي په احمد شاهي شاهنامه کې د اتلانو کارونه د منطق له معیاره دومره لرې نه دي خو داسې هم نه دي چې سل په سلو کې دې له منطق سره برابر شي، د فرعي اتلانو رول هم له عادي منطقه وځي او هغه مهال چې د جنګ کوم حالات وو او سیاسي تاریخونو ثبت کړي، تر هغو معیارونو لوړ دي.

۷- د حماسو اتلان د خپل ژوند په برخه کې له خپل يو ضد قهرمان سره مخامخېږي.

په دې منظوم داستان کې طبعاً قهرمانان له خپل ضد سره مخامخ شوي، خو په دې شاهنامه کې مرکزي اتل احمدشابابا دی چې فتوحات د هغه په امر تر سره کېږي، خو دی په مستقيم ډول له خپل کوم ضد اتل سره نه مخامخېږي او نه په دې داستان کې دده د معادل کوم اتل يادونه شوې ده، البته د احمدشاه بابا د لښکرو قومندانان له خپلو معادلو قومندانانو سره مخامخېږي او هغوی ته ماتې ورکوي لکه د احمد شاه بابا د لښکرو قومندانان حاجي جمال، صمد خان او نور چې د هندوستان د لښکرو له ځينو قومندانانو لکه منو، خسرو، شهنواز او نورو سره مخامخېږي او له يو وزير سره تن په تن جګړه کوي، حاجي جمال چې د درانو لښکرو مشر دی په دې اثر کې راغلي چې عسکر يې د مستو خوني فيلانو په شان د دښمن پر لښکر حملې کولې، په دې جګړه کې د هندوستان د وزير پر سر د توپ ګولۍ لګېږي او زبر وزبر کېږي، دې جنګ کې چې د هند کوم لښکر راغلی و هغه د درانو له خوا ټول زبر وزبر شو. د همدې جنګ په خاطر کله چې احمدشاه بابا د سر هند پر لوري د تګ نيت وکړ نو د جنګ تدبير يې ونيو:

چـــې تـــدبیر وشــــه د جــــنګ
تمـــام ورك شــــه د زړه زنــــګ
تمـــام فـــوج پـــه جـــنګ تـــیار
ســــپین بازونـــه شـــوه د ښکـــار
لــــــه لاهـــــوره شـــــو روان
پـــــــه دا لار د هندوســـــــتان

۸- د حماسو اتلان اکثره په یوه اوږده او خطرناك سفر وځي.

احمدشاه بابا (د احمدشاهي شاهنامې) د اتل په توګه د هندوستان پر یوه اوږده سفر وځي، د هندوستان تر فتحې وروسته مشهد ته ځي، د مشهد واکمن یې تابعدار کېږي او بیا نیشاپور ته مخه کوي، هلته له یوه سخت ژمي سره مخامخېږي، خو دی په خپل تدبیر مخکې تر دې چې د ژمي یخني یې لښکرې تباه کړي، له نیشاپور څخه لښکر کندهار ته لېږي او له مرګه ژغورل کېږي، دا ژمی دومره سخت و چې ډېر کم ژوندي موجودات ورڅخه پاتې شول.

۹- د حماسو اتلان ډېرې کارنامې کوي چې زیاتره ملي او معنوي ارزښتونه لري.

په احمد شاهي شاهنامه کې هم چې د جنګ کوم داستانونه راغلي هغه اکثره ملي او اسلامي ارزښتونه لري، ملي ارزښت یې په دې کې و

چې د هغه وخت د شاو خوا دولتونو او زور واکو څخه یې خپل هېواد خوندي کاوه او هغه جنګونه چې دوی په نورو هېوادونو کې کول، که هغه یې هلته نه وای کړي، نو دا جنګونه به یې په خپل هېواد کې کول، د هغه وخت سیاسي او نظامي خصوصیات دا وو چې هېڅ هم په خپل څنګ کې مستقل او قوي ګاونډی نه شو زغملای، که احمدشاه بابا خپل هېواد غښتلی او یو موټی کړی نه وای او دغلیمانو نیتونه او قوتونه یې تر هېواده لرې خنثی کړي نه وای، نو جنګ به د افغانانو په کور کې بل شوی وای.

احمدشاه بابا د خپل جنګي تدبیر تر څنګ یو سوله دوست، زاهد او صوفي مشر و. د یو مشهور روایت له مخې یو وخت یې د کندهار ښار د ساتنې لپاره دفاعي دیوال شروع کړ، نو مور یې (زرغونې انا) ورته وویل چې زویه دا څه کوې؟ هغه ورته وویل چې دښار د دفاع لپاره دیوال جوړوم، هغې ورته وویل دښمن چې تر ښاره راغی نو بیا دفاع مانا نه لري، دښمن باید له ښاره لرې له منځه یوسې. دې خبرې د احمدشاه بابا په ذهن کې تغیر راووست او په هغو سیمو کې خطر ته متوجه شو چې خطر ترې راولاړېدلای شو. ځینې تنګ نظره متعصبین د احمد شاه بابا پراخو فتوحاتو ته د کینې په سترګه ګوري، واقعیتونه تحریفوي او وایي چې ضرور نه و هغه نورې سیمې فتح کړې وای، ځینې نور بیا ځان د وطن ډېر "خواخوږي" ګڼي او وایي چې احمد شاه

بابا باید کورنیو اصلاحاتو ته ډېره پاملرنه کړې وای نظر فتوحاتو ته! خو هغه تاریخپوهان او ټولنپوهان چې د احمد شاه بابا د زمانې ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، پوځي، مذهبي، کلتوري او نور حالات ورته ښه معلوم دي، هغوی د هغه وخت د سیاسي ټولنیزو تعاملاتو په رڼا کې د احمدشاه بابا تدبیر او عمل ته په ډېره درنه سترګه ګوري او افرین ورته وايي، د دوی د نظرونو د یووالي نتیجه او نچوړ دا دی چې احمدشاه بابا په خپلو فتوحاتو کې دا ستر بریالیتوبونه لاسته راوړل چې یې په کور دننه بېلابېلې افغاني قبیلې د ملت او مملکت په لوښي کې سره راټولې کړې اودوی ته یې د داخلي اختلافونو د را برسېره کولو فرصت او مجال ورنه کړ، بل یې شاوخوا غلیمان دومره کمزوري کړل چې دده رامنځته کړی دولت یې ډېر موده له ګواښه خوندي پاتې شو.د احمدشاه بابا د فتوحاتو ملي ارزښت همدا و چې زموږ ټولنې ته یې درلود، ددې تر څنګ احمدشاه بابا یو صوفي مشربه او پر اسلام مین پاچا و، د شاوخوا ټولو مسلمانانو ورځخه د مرستې هیله وه، په همدې خاطر د بخارا مسلمان پاچا ورځخه د تزاریانو له ظلمه د خلاصون غوښتنه وکړه، دهند د مسلمانانو مشر شاه ولي الله ورځخه له مرهټیانو څخه د هند د مسلمانانو دخلاصون هیله وکړه او احمد شاه بابا دا دواړه کارونه ترسره کړل، یانې احمدشا بابا د اسلام د بري په خاطر هم زیاته اتلولي وښوده، د ایران پر لوري لښکرکشي هم

په دې نیت وه چې د ایران د سیاسي او مذهبي نفوذ مخنیوی وکړي او که چېرې یې دا کار نه وای کړی، نو ددې احتمال و چې ایرانیان د نادرافشار او ګرګین د وختونو په شان بیا افغانستان د خپل ظلم تر سیوري لاندې راولي. تر احمدشاه بابا د مخه دوران تاریخ لیکونکو ته معلوم دی چې څومره ظلم پر دې خاوره واکمن و، حافظ ګل محمد مرغزي هم په خپل اثر کې تر احمدشاه بابا دمخه د نادر افشار د ظلم کیسه کړې ده او فکر کوم چې د همدغه یوه حالت بیان هم کولای شي په دې برخه کې د معترضینو غرضي پوښتنو ته یو ښه ځواب شي. مرغزي په احمدشاهي شاهنامه کې وایي:

هلاکو صفت عیان شه
نمودار په دا جهان شه
په شکست بلند شه اور
خلاص تري نه شو د چا کور
سند یې درست زېروزبر که
بې بالینه یې بستر که
په هر ملك په هر دیار
دده ظلم و بسیار

خو د نادر افشار تر مرګ وروسته د احمد شاه بابا په باب وایي:

احـــــمد شـــــــاه دُر ابـــــــدار
پـــــه جلـــــوه شــــــه نـــــمودار
چـــــې لبــــاس یـــــې سلـــــطاني و
مرصـــــــع پـــــه خاقانـــــــي و
دا جامـــــه شـــــوه پـــــه ده جـــــوړه
د قســـــمت پــــه ځــــای کـــې یـــوړه

۱۰- د حماسو اتلان تن په تن جنګونو کې له بېلابېلو وسلو څخه کار اخلي لکه نېزه، خنجر، توره، غشي، لیندۍ او نور ، د جنګ په اوزارو کې غولونه او فرېب هم شامل دي.په احمدشاهي شاهنامه کې پر پورته ذکر شویو جنګي وسایلو سربېره د جنګ له عصري وسایلو لکه توپونو څخه هم کار اخیستل شوی او د سرهند په یوه جګړه کې دهند یو وزیر د توپ په ګولۍ الوزول شوی و، خو جعل، تذویر، فرېب او غولونه چې په اکثرو حماسو کې یې یادونه راغلې ده ، دې کې هم له دې اوزارو څخه کار اخیستل شوی دی.

په احمدشاهي شاهنامه کې یو داستان داسې راغلی دی: کله چې احمد شاه بابا ظل سبحاني د لاهور خواته متوجه کېږي او د هغه ځای د نیولو نیت کوي، نو هلته یو شخص د شاهنواز په نامه چې ډېرې لښکرې او جنګي وسایل لري، احمد شاه بابا ته د مرستې وعده

ورکوي، خو د احمدشاه بابا لښکر، بابا ته وویل که شهنواز درغلي وکړي، نو موږ به بیا څه وکړو؟ احمدشاه بابا خپلو لښکرو ته په ځواب کې وویل:

که خلاف که شهنواز
دی به شي په غم ګداز
چې اقبال لرم بلند
و هر چا وته څرګند

وروسته شهنواز سره داسې فکر پیدا شو، چې د احمدشاه بابا لښکر کم او بې تجربه دی، خزانې او وسلې نه لري، نو راځه د جنګ تیاری ورته ونیسه، ګوندې که فتح دې نصیب شي، نو هماغه و چې د جنګ تیاری یې ونیو.

د شاهنواز ګوره بد قول
په دا قول وکړه بول
ده وې اسباب لرم د جنګ
ښایسته توري تفنګ

نو نواب شهنواز خان هغه راز چې تر دې وخته یې په پرده کې ساتلی و، هغه راز څرګند کړ او جنګ ته یې تیاری ونیو، دا جګړه د

(شالامار) په نامه یادېږي، په دې جګړه کې شهنواز ماتې خوري، لښکر یې تار ومار کېږي او داحمد شاه بابا لښکرې بریالۍ کېږي.

په جګړه کې د فرېب او درغلۍ بله بېلګه دا ده کله چې احمدشاه بابا له هند څخه کندهار ته متوجه کېږي، د (منو) په نوم یو شخص او د هغه (وزیر) زوی چې پخوا یې جنګ کې ماتې خوړلې وه، د هند د یو واکمن (خسرو) له خوا ورته ویل کېږي، چې تا به د لاهور حاکم کړو، (منو) په ډېره خوشالۍ لاهور ته راغی او غوښتل یې کابل او کندهار ته هم لاړ شي. خو دې وخت کې احمدشاه بابا له هندوستانه د کابل پر لوري خطر ته متوجه کېږي، نو له کندهاره د هندوستان پر لوري حرکت کوي، کله چې پنجاب ته داخلېږي، نو پر دښمنانو ماتم راځي، د (منو) لښکر ماتېږي ، سره له دې چې (اووه زره) سکان یې ملاتړ ته راغلي وو، خو بیا یې هم ماتې وخوړه. (منو) چې کله د جنګ حالات ولیدل چې ټول پنجاب تباه کېږي، نو سولې ته لېوال شو، نو احمدشاه بابا ته یې د ایلچي(استازي) په لاس پیغام راولېږه، احمدشاه بابا دا سوله قبوله کړه، (منو) یې وبابښه او دې سره (منو) زیات خوشاله شو. (منو) د هندوستان د والي په توګه پاتې شو، خو (منو) ته یې دا وویل که له تابعدارۍ څخه دې سرغړونه وکړه، نو بیا به ټول پنجاب تباه شي.

تر دې وروسته احمدشاه بابا د مشهد په فکر کې شو ، کله چې د (مشهد) پر لوري رهي شو، نو دهغه ځای واکمن (شاه رخ خان) ډېر

وارخطا شو او احمدشاه بابا ته يې يو استازی ورولېږه او ويې ويل که موږ معاف کړي. تردې وروسته داحمد شاه بابا لښکرو (نیشاپور) ته مخه وکړه خو دې وخت کې یو سخت ژمی راغی، احمدشاه بابا په دې خاطر چې په ژمي کې يې لښکر تلف نه شي، بېرته د کندهار پر لوري وخوځېد. دا ژمی ډېر سخت و ان تر دې چې اکثره ژوندي موجودات يې تباه کړل، دې کې د هند والي (منو) داسې فکر وکړ چې د احمد شاه بابا لښکر په نیشاپور کې تر واورو لاندې شو، نو څه ضرورت دی چې باج او خراج ورکوم، ښه دا ده چې مخالفت يې وکړم، (منو) خپل لښکر ته هم ډېر فریاد وکړ، هغو ټولو ورته ډېرې لافې ووهلې چې موږ ستا ملاتړ کوو.

د احمدشاه بابا له خوا (خانجان) ته امر وشو چې دې جنګ ته لاړ شي. ددې جنګ له امله پر لاهور سخته قحطي راغله او خلك ډېر په تنګ شول، بالاخره د (منو) لښکرو ماتې وخوړله او (منو) وتښتېد،خو بیا يې خپله پړه ومنله او دربار ته په ننواتو راغی، نو شهریار(احمدشاه بابا) هغه وبانښه.

د بادشـــــاه شـــــه دا فرمـــــان
چـــــې ســـــردار بـــــه شـــــي روان
د مـــــنو تقصـــــير معـــــاف شـــــه
کـــــه بـــــلند تـــــر کـــــوه قـــــاف شـــــه

چـــــې اخـــــــلاص و د ســـــــــردار
منــــــو راغــــــی پــــــه دربــــــار
پـــــه خــــــلعت د شـــــاه ممتازشـــــه
پـــــه جـــــهان کــــې سرفرازشـــــه

کله چې بیا لاهور د احمدشاه بابا د لښکرو په لاس فتح شو نو هلته بېرته ژوند له سره پیل شو اوښېرازي رامنځته شوه.

چـــــې فـــــارغ شــــو شهریـــــار
پـــــه رونـــــق شـــــو تمـــــام کـــــار
پـــــه تـــــنظیم راغــــــی لاهـــــور
ګلـــــستان شـــــه پـــــه هـــــر لـــــور

دغه راز په دې شاهنامه کې دجمناترخنګ جګړه، دشاهجهان- اباد تاراج کېدل، شاهدرې ته تګ، د پاني پت د جنګ داستان او د نورو جنګونو بیانونه هم راغلي دي.

له نواب ناصرخان سره د جنګ داستان هم راغلی دی، سره له دې چې هغه سره اته زره قزلباش هم ملګري وو، خو بیا هم افغاني لښکرو ماتې ورکړه.

۱۱- په حماسي او حماسي شاعرۍ کې معمولاً د کلام لفظي ښکلا ته ډېره پاملرنه نه کېږي او د مانا پر انتقال ډېر زور راوړل کېږي، خو کله کله کلام ځینې داسې برخې هم لري چې هنري خوا یې هم د پام وړ وي.

پر احمدشاهي شاهنامه هم همدا معیار تطبقېږي، ددې اثر اکثره بیتونه له ژبني پلوه هنري یا لفظي ښکلا نه لري، ځینو ځایونو کې وزني ستونزې اوتېروتنې هم لري، اکثره بیتونه یې سپوره او وچ دي، خو ځینې بیتونه داسې هم دي چې هنري جوهر لري او لفظي ښکلا په کې ښکاري لکه دا لاندې بیتونه:

چـــې وچـــا تـــه مـــخ کـــه غـــم
وچـــــوي د زړګـــــــي نـــــــم
ځـــــه دی غـــــم ګـــــوره بـــــلا
نـــــه پـــــرېږدي د هـــــوش کـــــلا
چـــــې روان شـــــه ستاســـــې رور
د فـــــنا پـــــه بادشـــــه ســـــور
و دانـــــا تـــــه دنـــــیا خـــــس ده
پـــــه ځـــــو ورځـــــې د هـــــر کـــــس ده
نـــــه مظبـــــوط لـــــري بنیـــــاد
چـــــې بنایـــــې ده پـــــه بـــــاد...

په احمد شاهي شاهنامه کې حافظ ګل محمد مرغزي د جنګ د هر داستان په پیل کې بېلابېل مسایل مطرح کړي، اکثره دیني مسایل، بیايې یوه جنګي پېښه، په پای کې یې خپل لقب یا تخلص (حافظ) یاد کړی ، د ځان او خپل شعر ستاینه یې کړې ده، دا یادونه بیا بیا تکرار شوې ده. څو بیتونو ته یې د بېلګې په توګه وګورئ:

زمـــا شـــعر تـــه کـــه څـــوك ګـــوري
د بـــــاران پـــــه دود بـــــه اوري
ســـوړ مـــزاج بـــه یـــې کانـــدي اور
پـــرې بـــه راشـــي د عشـــق زور
پـــه مـــزاج بـــه یـــې راســـي جـــوش
نـــه یـــې عقـــل وي نـــه هـــوش

همداسې ډېر ځایه د خپل شعر ستاینه کوي.

د فورم له پلوه دا منظوم داستان یوه مثنوي ده، چې معمولاً د اوږدو حماسو، تاریخي کیسو او یا هم پېښو د بیان لپاره کارول کېږي، فردوسي هم د خپلې شاهنامې لپاره له همدې فورم څخه کار اخیستی دی.

حافظ ګل محمد مرغزی هم د احمدشاهي شاهنامې د لیکنې لپاره مثنوي فورم ځکه غوره کړی چې همدا فورم د اوږدو پېښو د بیان صلاحیت لري. له ځینو برخو او ځایونو پرته نوره دا مثنوي په (۷) څپو

کې ویل شوې ده. لفظي ښکلا په کې دومره نه شته، د کلام موضوع ته یې د کلام ښکلا په اندول زیات ارزښت ورکړی دی، چې دا خصوصیات په نورو حماسو کې هم شته. پر دې حماسه نورې خبرې هم کېدی شي خو بیا هم که په مجموعي ډول څوك احمدشاهي شاهنامه ارزوي په دې اثرکې د حماسې خصوصیات تر بل هر معنوي ډول زیات لیدل کېږي، البته د یوې ښې حماسې ټول خصوصیات پر یوې حماسې هم سل په سلو کې نه شي تطبیقېدلای، عام نظر او حکم دادی چې هر هغه اثر چې د حماسې زیات خصوصیات پوره کړي، نو د حماسو په ډله کې شمېرل کېږي. احمد شاهي شاهنامه هم د نورو معنوي ډولونو؛ ویاړنې او ویرنې په اندول د حماسې زیات او غالب خصوصیات لري، نو ځکه یې حماسه ګڼلای شو.

# په لغمان کې د شولو کر

**دا لیکنه چې په انگازه مجله کې چاپ شوې ده، د معلوماتي انشاء یوه بېلگه ده، هغه ځوان لیکوال چې غواړي معلوماتي او تشریحي لیکنې وکړي دا او دېته ورته لیکنې ورسره مرسته کولای شي. دا لیکنه هنري او ادبي ارزښت نه لري خو د یوې ټاکلې موضوع د سپړنې لارې چارې په گوته کوي. ځوانو لیکوالو ته د معلوماتي لیکنو د برابرولو په برخه کې یوه بېلگه گڼل کېدی شي.**

د افغانستان په مهمو کرنیزو محصولاتو کې یو هم (شولې) دي چې وریجې ورڅخه لاسته راځي. شولې اکثره په هغو گرمو سیمو کې کرل کېږي، چې پرېمانه اوبه لري، د شولو کرنه او له هغوی څخه بیا د وریجو لاسته راوړنه یوه اوږده پروسه ده، چې بزگر تر بل هر کرنیز محصول ډېر زیات زیار او زحمت ته اړباسي. زه دلته غواړم د هېواد له هغو ولایتونو او سیمو څخه چې شولې په کې کرل کېږي او بیا پر وریجو بدلېږي، یوازې په لغمان ولایت کې دا بهیر په ترتیب سره تشریح کړم. په دې لیکنه کې به د شولو دکښت پر څرنگوالي سربېره د شولو او وریجو پر ډولونو او همدارنگه د وریجو د پخولو پر څو ډولونو هم رڼا واچوم:

۱- د شولو بزغلی: د شولو درشې پر مهال یو معـین مقـدار شـولې (دځمکې د ضرورت په انډول) بېلېږي او په ځانګړي جوال یا بوجیو کې ساتل کېږي. تر شپږ میاشتني ځنډ وروسته د لمریز کال د ثور میاشتې په لومړیو کې په داسې یوه ځمکه کې چې همـدا مهـال ورتـه کولبـه شوې، دواله شوې، منډاوو شوې وې او اوبه په کې ډنډ وي، د غنمـو د کښت په شان شیندل کېږي، خو په دې تفاوت چـې د شـولو بزغلـي زیات ګڼ شیندل کېږي ان تر دې حده چې نږدې ټوله ځمکه په شـولو پوښل کېږي.

۲- د بزغلي د رسېدو وخت: د بزغلي کښت چې د ثور میاشتې پـه لومړیو لسو ورځو کې ترسره کېږي په عمومي ډول د څلوېښت ورځـو په شاوخوا کې موده نیسي او معمولاً د جوزا تر شـلمې او یـا لـږ څـه وروسته نېټې پورې رسېږي، په دې کې یو یا دوه ځلي کیمیـاوي کـود هم ورکوي. د شولو بزغلي وده دا مهال نږدې پینځـه ویشـت دېـرش سانتي متره وي.

۳- د شولو د کښت مهال: د جوزا د میاشتې په بهیر کې د شـولو د کښت لپاره ټوله ځمکه تیاره شوې وي. مانا دا چې ځمکه لومړی کولبه او بیا دواله شوې وي. په لغمان کې ځمکه لاتر دې وروسـتیو وختونـو پورې اکثره د غویو په واسطه کولبه کېدله. یوازې په وروستیو دوه درې کلونو کې د غویو د کولبې ترڅنګ د ماشین یا تراکتور په واسطه کولبه

هم دود شوې ده، کله چې ځمکې تر کولبې وروسته د جوزا تــود لمــر وخوړ نو په اصطلاح ټولې ناروغۍ یې له منځه لاړې، د جوزا په وروستۍ لسیزه معمولاً د جوزا تر شلمې نېټې وروسته نهالونه پیلېږي.

۴- د شولو نهالونه: د جوزا په وروستیو کې اکثره ځمکې نهــال تــه تیارې وي، د نهال د تیاري وروستۍ مرحله پر ځمکې د اوبو ســورول او تر هغې وروسته، منډاوو دی، منډاوو داسې یوه وسیله ده چې زیاتره د توت له لرګي څخه د نږدې یو متر په عرض او د دوه مترو په اوږدوالي او د نږدې لسو سانتي مترو په پنډوالي جوړېږي، په لاندینۍ برخه کــې د لوټو د ماتولو لپاره د اوو یا لسو غاښونو په اندازه غاښونه هــم لــري، د غویو تر شا تړل کېږي او ډنډ شوی پټی پرې اوارېږي، له منــډاوو ســره نږدې هم مهال د پټي پولې هم جوړېږي، نوې ختې پرې اچــول کېــږي چې دې ته (تپیاري) وایي، تپیاري له پټي سره دا مرسته کوي چې اوبه پکې په دایمي ډول ایسارې کړي، پر کومه ورځ چې پټی منډاوو شو پــر همغه مازیګر د بزغلي له پټي څخه بزغلی ایســتل کېــږي او د لاســي ګېډیو په شان ګېډۍ ګېډۍ تړل کېږي، که چېرې پټی نږدې وي، نــو د بزغلي ګېډۍ په لاسونو او که چېرې لرې وي نو پــه کجــاوه کــې وړل کېږي او هلته پر همغه مازیګر په ټاکلې اندازه، په پټي کې وېشل کېږي. د نهال لپاره معمولاً اشرګر، چې په کلیوالي اصطلاح ورته (انشرګر) یــا انشروالا وایي موجود وي، نهال کې اشر یو حتمي کار ګڼل کېږي، چــې

د کلي اکثره ځوانان، تنکي ځوانان او سپین ږیري په کې ګډون کوي. د سهار تر لمانځه وروسته نهال شروع کېږي او ضرور یې تر غرمې خلاصوي، نهال ټول په لاس کېږي او په ډېر سرعت سره ترسره کېږي، نهالګر په منظم ډول یو د بل ترڅنګ ولاړ وي او تر یوه متر زیاته اندازه ساحه رانغاړي، نهال په ډېر شوق او ذوق پرمخ ځي او د بزغلي هغه ګېډۍ چې مخکې تر مخکې تقسیم شوې وي، پرله پسې خلاصېږي، که کوم پټي کې د بزغلي کمی احساس شي، نو د بزغلي مسوول کس چې هغه په نهال کې برخه نه اخلي او پټي ته بزغلي رسوي، د هغه کمی پوره کوي. د سهار د چای تر مهال پورې چې هوا خورا ملایمه وي نهال ښه په درز کې روان وي، سهار اته، اته نیمې بجې په پټي کې د کومې ونې یا انځر تر سیور لاندې سباناري کې چای او شړومبی حتمي وي او ددې ترڅنګ تازه انځر، مستې، پنېر، د پنېر اوبه او ځینې نور ملحقات هم ورسره مله وي. د تناره پرېمانه ګرمه ډوډۍ پر دسترخوان خوره وي او نهالګر چې خورا اشتاه نیولي وي، په دومره خوند ډوډۍ خوري چې سړی ورته حیرانېږي، تر سباناري وروسته نهال بیا پیلېږي او تر غرمې دوام کوي، دا مهال نهالګر په خپل منځ کې په لوړ اواز یوه نیمه سندره هم وايي، اکثره یو نیم سروکی وايي او یوه یوه لنډۍ یې په منځ کې تاووي. کله کله د دوو کسانو ترمنځ لنډۍ تبادله کېږي او په دې ډول د نهال ګرمي او سختي په خوند سره پایته رسېږي. د غرمې ډوډۍ چې معمولاً یو یا دوه وطني چرګان په کې وي، له نورو ملحقاتو

سره ښه مکلفه او خوندوره وي، مستې، شړومبی او ترکاري هــم پکــې وي، تر غرمې پوره اکثره نهال خلاصېږي، که چېرې یو نیم پټــی پــاتې وي هغه بیا خپله د نهال خاوند یا بزګر ترسره کوي، اشرګر معمــولاً تــر غرمې وروسته رخصتېږي. پخوا یو بل دود هم و او هغه دا چې د ځمکې د خاوند له کورنۍ ښځه یا خپله د کورنۍ مشر او یا د هغه زوی به یې د نهال په پای کې د بزغلي په پټي کې ټولو اشرګرو په زور رانیــوه او پــه ختهو یې لړه، دا کار یې د خوند او د نهال د ((حسن اختتام)) او یــا پــه اصطلاح د تېر کال لپاره کاوه، خو په وروستیو وختونو کــې دا دود لــه منځه تللی او یا هم ډېر کمزوری شوی، هغه څوک چې پــه ختــو لــړل کېده، هغه په دې کار چندان نه خفه کېده او دا یې دود ګاڼه.

۵- د شولو د رسېدو مهال: کلــه چــې د جــوزا پــه وروســتیو او د سرطان په لومړیو کې نهالونه ختم شي، نو بیا له هماغه پیلــه د شــولو پټي له اوبو ډنډ شي، نو اکثره وخت دا پټي له اوبو ډنډ وي، د میزان په اواخرو کې شولې په صافېدو شي او په دې بهیر کــې یــو یــا دوه ځلــه کیمیاوي کود ورته ورکوي؟ په هغو سیمو کې چې پټي شالیزار او د اوبو څه کمی وي، د اوبو پر سر څه ستونزې راولاړېږي، خو پــه لغمــان کــې چې د الینګار بهانده او د الیشنګ نیم بهانده ســیندونه لــري، د اوبــو ستونزه د ځینو نورو ولایتونو په انډول کمه ده، پــه لغمــان کــې بیــا د الیشنګ په انډول په الینګار کې د اوبو ستونزه کمه ده.

د شولو د رسېدو ټوله موده نږدې څلور میاشتې ده، کله چې د عقرب میاشت رابره شي او د عوامو په اصطلاح د عقرب ستوری شولې ووهي، نو شولې په پخېدو شي. د عقرب څو ورځې لاوتې نه وي چې لوونه ګډ شي، په څو ورځو کې ټول لوونه ترسره شي او ټوله سارا (کرونده) سپېره مېره شي.

۶- د وریجو د ایستلو پړاو: د وریجو د رایستلو بهیر څو ستونزمن پړاوونه لري، چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو:

**الف- د شولو د لمدولو پړاو:** کله چې د شولو غوبل خلاص شي او راشه تیاره شي، شولې راساً هغې لویې ډنډې ته وړل کېږي چې لا تر دې دمخه کنبل شوې وي او داسې بنه لري چې روانې اوبه پکې داخل او خارج شي، دا شولې اکثره خپله بزګران او یا هم نور هغه اشخاص چې (پایکوټان) ګنل کېږي، په اجاره اخلي. په لغمان کې معمولاً یو خروار شولې له څلوېښتو تر څلور څلوېښتو منو وریجو پورې اخلي او د شولو خاوند ته په پای کې همدا مقدار وریجې ورسپاري.

شولې په عادي ډول له (۱۵-۳۰) ورځو په ډنډ کې پاتې کېږي. که هوا یخه وي شولې نږدې دېرش ورځې او که هوا ښه یا نرمه وي، نو د پنځه لسو ورځو په شاوخوا کې پاتې کېږي.

**ب- د شولو پخولو پړاو:** کله چې د شولو لمــدولو معــين پــړاو ترسره شو، نو بيا د شولو پخولو مرحله پيلېږي، شــولې پــه بټــۍ کــې پخېږي، پخوا به يې په يو ډول ځانګړو متېونو کې پخولې چې هغه خــورا سخت کار وو، په هر مټ کې ايله اووه اته منه شولې ځايېدلې. ترمتېونو لاندې به يې اوربلوه او تر معين حرارت وروسته به شولې پخېدلې، خــو وروسته به يې يو ډول سرخلاصي ديګي کې راوتل چــې هغــو تــه يــو ځانګړی ځای ژوروي، ديګی پرې له پاسه ږدي، لاندې ورځخه اوربلوي او د سون د هغو موادو په واسطه اور بلېږي چې (سيکه) يې ګڼي او پــه حقيقت کې د وريجو هغه پوټکي دي چې تېر کــال لــه وريجــو څخــه لاسته راغلي او په همدې نيت يو کال ساتل شوي دي، د بټۍ کار هم د نهال په شان په اشر ترسره کېږي او معمولاً د شپې له خوا وي، که هــوا ډېره يخه هم وي کوم تاثير ځکه نه لري، چې د بټۍ کار ټول له اور سره وي او داسې وي لکه سړی چې په ژمي کې دننه په نانوايي کې ناســت وي. په يوه ساعت کې نږدې پنځه لس منه شولې پخېدی شــي او کــه اشرګر تکړه وي، تر دې زياتې هم پخولای شي، مانا دا چــې پــه پنځــو ساعتونو کې نږدې يو خرورا شولې پخېدی شي.

**ج- د شولو د وچولو پړاو:** کله چې شولې په بټــۍ کــې پخــې شي تر هغې وروسته يې پر داسې يوه اواره ځمکــه اواروي، چــې لمــر ولري. په لغمان کې عموماً بامونه د شولو د وچولو لپاره کارول کېــږي،

ځکه چې له کورنیو چرګانو او خطرونو څخه هم خوندي وي. د ورځـــې دوه یا درې ځله په شولو کې په دې نیت پښه وهل کېږي چـــې شـــولې یوه خوا او بله خوا واړوي او لمر ته مخامخ شي. که هوا لمرینه وي نو په پنځه شپږ ورځو کې شولې وچېږي او که اسمان وریځ وي تر دې زیـات وخت غواړي.

**د- د پایکو یا ماشین پړاو:** کله چې شولې وچې شي، نو بیا یې پایکو ته وروړي، پایکو کې مخکې تر مخکې نوبت نیول کېـږي، پـایکو کې په یوه شپه کې تر یوه خروار زیاتې وریجې ایستل کېدی شي. پایکو داسې یو سیستم دی چې د لرګي د یو غټ تیر پواسطه چې (لټ) یـې بولي او د لرګي لویې پرې پکې نصب وي، دا پرې د اوبو د انرژۍ یا فشار پواسطه چې له یوې جګې ناوې څخه راشېوه کېږي، تاوېږي، د لټ پـه تاوېدو سره د پایکو دوه ستنې چې پایې یا څپېړې یې بولي له ځمکــې څخه د دوه مترو په لوړوالي جګېږي او بېرته هر یوه په خپل معین ځای کې چې د یوه متر په اندازه ژور وي او (بغرۍ) یــې بــولي لګېــږي، پـه همدې بغریو کې د درې یا څلور منو په اندازه وچې شولې پرتې وي او د څپېړو په ګوزار له دې شولو پوټکي بېلېږي او وریجې راځرګندېږي. بیا دا وریجې د چج پواسطه پاکېږي، میده او ناپاکې وریجــې یــوه خـــوا او پاکې یې بله خوا اچوي، د پایکو د خاوند له خوا پر یوه خـــروار وریجـــو یونیم من مزد دی، د یادونې وړ ده چې اوس په ټول لغمان کې ایله کــه

ځو د ګوتو په شمار پایکوګانې پــاتې وي. پــه وروســتیو کــې د اکثــرو پایکوګانو ځای نویو عصري ماشینونو نیولای چې د وریجو د را ایستلو کار یې ډېر اسانه کړی دی، خو ماشین بیا د پایکو په انډول زیات مــزد اخلي، یانې په یوه خرورا وریجو څلور منه وریجې مزد اخلي. د لغمــان خلک وایي چې د پایکو د وریجو په انډول د ماشین وریجې بې خونــده دي، ځکه چې ماشین د وریجو غوړ زبېښي او له منځه یې وړي، خــو د ماشین ښه والی بیا دا دی چې وریجې یې صفا او میده په کې کمې وي.

په لغمان کې د شولو ډولونه: په لغمان کې د شولو بېلابېل ډولونــه کرل کېږي، چې غټې او مهینې دواړه پکې شاملې دي، په غټــو شــولو کې بنګلدېشی، جاپانی، پرګانې او پرملۍ شاملې دي او په مهینــو کــې سیله، بېسودی، باړه یا تورشغه او پشدۍ شاملې دي، له پرګــانو پرتــه چې اوس معمولې نه دي، د نورو ټولو شولو کرل یــو شــان دي، یــوازې پرګانې د بزغلي په شان کرل کېږي او نهال نه لري.

د یادونې وړ ده چې غټې شولې د مهینو هغو په انــډول دوه برابــره زیاتې خېږي. یو جریب ځمکه له یو نیم خروار څخه تر دوه نیم خــروار پورې غټې شولې کولای شي او مهینې بیا ددې مقدار نیمایي خېږي. د مهینو وریجو قیمت او خوند بیا د غټو هغو په انــډول دوه برابــره دی، غټې او مهینې شولې چې په کوم نامه یادېږي وریجې یې هم په هماغه نامه یادېږي.

۸- په لغمان کې د وریجو پخولو ډولونه: په لغمان کې لکــه څنگــه چې څو ډوله وریجې دي، دغسې په څو ډوله پخېږي هم، چې پــه هــر ډول کې بیا څو نور ډولونه هم لري، چې د وریجو پخولو بېلابېلې کورنۍ دي، دلته یې څو غټو کورنیو ته اشاره کوو:

**الف- داوگرې کورنۍ:** په لغمان کې د وریجو د پخولو عام ډول همدا اوگره ده، چې سپینه اوگره گڼل کېږي. په جوش کــړو اوبــو کــې پخېږي او اکثره غټې وریجې په کې کارېږي. دا په ټول لغمان کې عامــه ده او په اصطلاح د لغمانیانو ملي غذا گڼل کېږي، په پخوانیــو وختونــو کې به سهار پخېدله خو اوس تر ډېرې زیاتې کچې یــوازې غرمــه یــې پخېږي او ډېره کمه د شپې له خوا هم پخېږي. سپینه اوگــره یــوه بلــه ضمیمه هم لري چې هغه یې په اصطلاح کتغ گڼل کېږي، هر کتغ چــې ورسره مل وي د همغه په نامه یادېږي، لکه پیتــې او اوگــره، مســتې او اوگره، شړومبې او اوگره چې (نرۍ) هم ورته وایــي، شــیدې او اوگــره، کورت او اوگره او داسې نور.

**ب- د ناکې کورنۍ :** د اوگرې په کورنۍ کې مو یادونه وکړه چې اوگره ځانته او کتغ یې ځانته وي، بیا د دواړو په نومونــو یــادېږي، خــو اوگره ځانته او کتغ یې ځانته تیارېږي، یو له بله جلا وي او گډ نــه وي، خو د ناکې کورنۍ بیا په ترکیب کې تقریباً همداسې ده خــو فــرق یــې دادی چې دلته اوگره او کتغ دواړه سره یوځای پخېــږي. مانــا دا چــې

اوګره یا وریجې په کتغ کې پخېږي، بل فرق یې دادی چې پر غټو وریجو سربېره مهینې وریجې هم په کې کارېږي. د ناکو په کورنۍ کې سبوناکه، شړومبي ناکه، پیاوه ناکه او سرنجي ناکه مشهورې دي، سرنجي ناکه هغه ډول وریجې یا اوګره ده چې کله له کوچو ثخه غوړي وباسي، له هغو ثخه شړومبي ته ورته مایع پاتې کېږي، په همدغه مایع کې چې وریجې پخې کړي، یو ډول تریو خوند لري، همدغې ته سرنجي ناکه وایي، سبوناکه په وچو سبو کې پخېږي، شړومبي ناکه په شړومبو کې او پیاوه ناکه په بې غوښې پیاوه کې چې معمولاً له وچو پیازو جوړه وي.

ج- **شوله:** په ټول لغمان کې معمولاً یو ډول شوله پخېږي، چې اکثره په غریبو ودونو او خیراتونو کې پخېږي. د غټو وریجو او میو یو ګډ ترکیب وي، د شولې نور ډولونه په لغمان کې زیات باب نه دي.

د- **د شکربتې کورنۍ:** شکربته معمولاً له مهینو وریجو پخېږي، په لغمان کې دوه ډوله شکربته باب ده، یو هغه ډول شکربته چې صافې کړې سپینې وریجې تیارې شي اوله پاسه پرې بوره ودوړول شي او بل هغه ډول دی چې له پاسه پرې د ګوړې میده ګې یانې شکره ودوړول شي، شکربتې لغمان کې اکثره په روژه ماتي او چرګ بانګونو کې پخېږي او کله کله که عاجل مېلمانه پیدا شي او د غوښې د

پیداکېدو امکان کم وي، نو په عاجل ډول ورته شکربته تیاره کــړي، د لغمان شکربته ډېره مشهوره ده، چې سندرغاړي یې هم ارمان کوي، د تګاب غیاث استاذ چې ځان د لغمانیانو خوری بولي، د لغمان د شکربتو ډېر ارمانجن دی او وایي:

نه خو به بیا لغمان ته لاړ شو - نه به هغه شکربتې وخورو مینه

**هــ- پلوونه:** په لغمان کې په کورونو او بازارونو کې معمولاً هغــه ډول پلوونه پخېږي چې ډېر عام دي، صافې کړې وریجې (سپین پلــو)، سبزي پلو، دمپخ او قابلي پلو، دا ډول پلوونه د لغمان پــه بــازارونو پــه تېره بیا په مهترلام ښار کې پخېږي. هر ډول پلو د هېواد د نورو بازارونو په اندول ارزانه دی. په همدې هیله چې د هېواد هر وګړي تــه پــه هــر ګوټ کې هر ډول پلوونه ورسېږي، دا لیکنه پایته رسوم.

# پټه خزانه: تر عظیم الشان قرآن وروسته

((پټه خزانه))، په پښتو ادبیاتو کې هغه خورا مهم، تاریخي او ادبي اثر دی، چې په ټولو پښتو اثارو کې پښتنو ته بل هېڅ ادبي اثر دومره منښت، ګرانښت او تقدس نه لري، لکه پټه خزانه. قرآن عظیم الشان چې د ټول بشر د نېکمرغۍ او د ټولو مسلمانانو لپاره تر تصوره پورته جامع خدایي کتاب دی او ټول بشر ته د لمر د رڼا حیثیت لري او پښتانه د قرآن پر تقدس، سپېڅلتیا او روښانتیا تر هر چا زیات باوري او ګروهمن دي، خو که تر قرآن عظیم الشان او څو نورو مذهبي کتابونو وروسته په عامه روښنفکري پښتني ټولنه کې د کوم کتاب د ګرانښت، تقدس او درناوي ارزونه، پرتلنه او تلنه کوو، نو بیا خو هېڅ کتاب هم د (پټې خزانې) مقابله نه شي کولای او نه دې سره د ګرانښت او محبوبیت په تله تلل کېدی شي. ددې ګرانښت علت څه دی؟ ولې ټول ولس ورته د تقدس په سترګه ګوري؟ او بیا هغه ولس چې له ځینو خاصو مذهبي او عقیده یي ارزښتونو پرته پر بل هېڅ شي په اسانۍ توافق نه کوي، ولې (پټه خزانه) مني؟ ولې یې درناوی کوي؟ ولې پرې متفق دي؟ ولې ترې خوند اخلي؟ او ولې پرې باور کوي، هر

کله که مو دا او دېته ورته پوښتنې مطرح کړې او معقول ځوابونــه مــو ورته پیداکړل، کېدی شي پر (پټه خزانه) د څــو شــکمنو ((لیکوالــو)) شکونه راته خپله ځواب شي. زه نه غواړم دلته د ځینــو نــورو ښــاغلو لیکوالو په شــان د (پټــې خزانــې) پــه اړه تــاریخي، ژبنــي، ادبــي او کرونولوژیک دلایل راوړم او د هغو لپاره ګنې شمېر اخځونه د ملاتړ پــه توګه کتار کړم، یوازې له خپل لید لوري غــواړم پــه عــام ډول د پټــې خزانې د حقانیت، ماهیت او ارزښت په اړه خپل نظر څرګند کړم:

**د پټې خزانې تاریخي ارزښت:** (پټې خزانې) په حقیقت کې د خپلې ښکلا له امله یو شمېر مخالفین پیدا کړل، ددې مخــالفتونو یــو غټ علت دادی چې په (پټه خزانه) کې د جهــان پهلــوان امیــر کــروړ سوري یوشعر (ویاړنه) راغلی، دا شــعر د تــاریخي قــدامت لــه مخــې (۱۳۹هــ ق) کال ته رسېږي، ددې شعر له امله د پښتو ادبیاتو د لاســته راغلي لیکلي شعر نېټه د ګاونډیو ژبو په تېره بیــا د فارســي ژبــې لــه لومړي لاسته راغلي شعر څخه نږدې یوه نیمه پېړۍ (۱۵۰کاله) دمخــه ځي. د ایران یو شمېر فارسي ژبي لیکوال وو چې د فارسي ژبې د بډایه ادب له مخې په سیمه کــې د فارســي ژبــې د تفــوق روحیــه پــالي او افغانستان هم د خپلې ژبې او فرهنګ د نفوذ ساحه (!) ګڼي، د پښــتو ژبې او ادب دا تاریخي قدامت او قوت نه شو زغملای، نو ځکه یــې پــه

عمومي ډول له پټې خزانې او په خاص ډول له دې شعر سره حســادت او حساسیت وښود او ورو ورو یې پر پټه خزانــه د ((جعــل او تــذویر)) تورونه پورې کړل. یانې ددې تورونو اساسي سرچینه د ایران ملتپــالي او ژبپالي لیکوال وو. دوی ددې کــار لپــاره پــه لــومړي ګــام کــې پــه افغانستان کې یو څو فارسي ژبي لیکوال د پټې خزانــې مخالفــت تــه راوپارول او بیا د وخت په تېرېدو سره یو څو ((پښــتانه لیکــوال)) هــم ددې لړۍ برخوال شول.

**د پټې خزانې سیاسي ارزښت:** په مجموعي ډول ټول افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه چې د علامــه اقبــال پــه وینــا د اســیا زړه تشکیلوي، په وروستیو، درې، درې نیم سوو کلونو کــې لــومړی د یــو محلي او ورپسې بیا د یو ملي حکومت خاوندان شول او لــه دې ســره سم له ځینو ګاونډیو هېوادونو ســره د سیاســي رقابــت ترڅنــګ پــر فرهنګي سیالۍ هم اخته شول، نو د یو شــمېر ګاونــډیو هېوادونــو او قومونو سیاستوال او لیکوال چې افغانان او په تېره بیا پښتانه یــې د (( یو وحشي او یرغلګر)) (!) قــوم پــه توګــه معرفــي کــول، د پښــتنو د فرهنګي شتمنۍ راسپړل او ځلول ورته د زغملو نــه وو، دوی غوښــتل چې فرهنګي محکومیت د سیاسي محکومیت وسیله کړي، نو پــه دې خاطر یې د پټې خزانې، فرهنګي، ادبي او علمي ارزښــت لــه سیاســي

هغو سره مخلوط کړ او د سیاسي انګېزنو پر بنسټ یې د (پټې خزانــې) مخالفت ته راودانګل.

**د پټې خزانې متني ارزښـــت:** څرنګـه چــې د پټــې خزانــې لیکوال ( محمد بن داود هوتک) یو پوخ، فطــري، کســبي او مســلکي لیکوال و او د شاه حسین هوتک د دربار منلی منشي و، نــو پــه خــورا دقت او انتظام یې د تاریخي تسلسل او اخځونو په ښودلو ســره د (۵۰) تنو په ګډون د شاعرانو تذکره ترتیب کړې ده او د یو ښه، پوخ او کــره متن په ترڅ کې یې هغوی معرفي کړي دي، نو د متن دغې ښــکلا هــم ځینې منفي باف لیکوال راپارولي چې ولې یې پر هغه وخت داسې پخه تذکره لیکلې ده. دوی په عام ډول د پښتنو او په خاص ډول د ( محمد بن داود هوتک) پر استعداد شک ښکاره کوي چې پښتانه! هغه وخــت او داسې کتاب!!؟

دوی دېته پام نه کوي چې تر همدې تذکرې څخه نږدې اووه ســوه کاله دمخه د غزنویانو په دربار کې د ((شاهنامې)) په شان یو مهم اثــر لیکل کېدی او زړې افسانې په نظم کېدی شي، په دې دربار کې پر یوه وخت شاوخوا (دوه نیم سوه) لیکــوال پالــل کېــدی او د شــعرونو پــه لسګونو دېوانونه رامنځته کېدی شي، خو د هوتکیانو په دربار کــې دې یو محمد هوتک ددې استعداد نه پیدا کوي چې یوازې د تېــرو او هــم مهالو شاعرانو یوه تذکره ترتیب کړي؟ ځکه چې د دوی په نظر دا قــوم

د فرهنګ او ادب پنځونې استعداد نه لري!؟ که چېرې پټه خزانه د یــو ځلور پنځو شاعرانو له ګډو وډو سوانحو جوړه وای نو بیــا خــو کېــدی شول چا پرې انتقاد نه وای کړی. اوس د پټې خزانې (منتقدین) د خپل استعداد له لید لوري د پټې خزانې متن ګوري، دوی فکر کوي چې ولې دومره پوخ متن؟ که هر ((نقاد)) د خپل استعداد له زاویې څخه د بــل لیکوال اثر ته وګوري، نو بیا خو د ډېرو نړیوالو لیکوالو پر اثارو هم شک کولای شو، ولې هومر؟ ولې هوګو، ولې بلزاک، ولې ټاګور، ولې خوشال او داسې نورې ډېرې ولې ولې.

**د پټې خزانې اروایي ارزښت او اغېز:** په یوه ادبي اثر کــې د لیکوال او لوستونکي ترمنځ یوه پټه رابطــه وي، د همــدې رابطــې پــر بنسټ د دواړو فکري او اروایي اړیکې ټېنګېږي، دا رابطه پــه حقیقــت کې د هغه (صداقت) بیان دی، چې لیکوال یې په خپل اثر کې وړانــدې کوي. هر څومره چې د لیکوال په اثر کې د صداقت او رښتینولۍ جوهر زیات وي، په همغه اندازه د لیکوال او لوستونکي رابطه زیاته ټینګېږي او نږدې کېږي، که لیکوال په خپل اثر کې د صداقت پرځای د مفاهیمو په انتقال کې له تصنع، تکلف او لفظــي درغلــۍ څخــه کــار واخلــي، لوستونکی به یې یو ځل اثر ولولي، بیا به یې هم ولولي خو هېڅکله به یې زړه ته لاره پیدا نه کړي، په همدې وجــه تکلفــي، تصــنعي او نــړه

اکتسابي لیکوال کامیاب لیکــوال نــه دي او نــه هــم هېڅکلــه عــام محبوبیت پیداکولای شي. ادبي اثر داسې یوه پدیده نه ده چې څــوک یې په زوره پر چا ومني او نه هم د کره کتنې پــه شــان علــم دی چــې ځینې کره کتونکي په پای کې یو حکم صادوري. زه وایم چې پــه پټــه خزانه کې کوم قوت موجود دی چې پر عام ولس او پــه تېــره بیــا پــر لیکوالو یې ځان د تقدس تر سرحده منلــی دی؟ نــه محمــد بــن داود هوتک ( د پټې خزانې مولف) او نه هم پوهاند عبدالحی حبیبي ( د پټې خزانې شارح) کوم زور درلود او نه هم د پټــې خزانــې تــر شــاه د زور لښکرې ولاړې وې چې پر خلکو یې ومني. زما په فکر په دې اثــر کــې صداقت، د لیکوال احساس، عواطفو د لیکــوال لــه فنــي قــوت ســره ملګري کېږي او په پای کې اثر هغومره قوت پیداکوي چې ان د خلکــو پر زړونو د یو سپېڅلي ادبي اثر په توګه حکومت وکړي. د دنیا په ټولــو ادبي اثارو کې دا خبره تراوسه نه ده پېښه شــوې او حتــی دا بــه یــوه معجزه وي چې یو څوک یا لیکــوال دې نــن کېنــي، درې ســوه کالــه وړاندې د یوه بل لیکوال په نوم دې تذکره ولیکي او هغې کــې دې بیــا ان تر یو زر کلونو پورې په بېلابېلو دورو کې د هر پــړاو لــه تــاریخي او اجتماعي حالاتو سره سم لیکوال او ادبي بهیر داسې معرفي کړي، چې د خلکو پر زړونو دې د نورو ټولو ادبي اثارو په انــډول زیــات حکومــت وکړي.

که موږ فرضاً د يو څو شېبو لپاره دا فرضيه ومنو نو بيا خو دغه بـل ليکوال تر محمد بن داود هوتکه هم د زياتې ستاينې او شاباسۍ وړ دی چې په شلمه پېړۍ کې داسې يو اثر ليکلای شي چې د پېړيو پــه بهيــر کې د يوې ژبې مطرحو شاعرانو ته شعرونه هم منســوب کــړي، ادبــي ژوند، مبارزې او وياړونه هم ورپه برخه کړي او بيا نور ليکوال، سياســي او ادبي تاريخونه هم ددې ليکوال خبره تائيد کړي.

تراوسه پورې د بشر د ادب تاريخ په ټولــه دوره کــې دا ډول ادبــي معجزه چا نه ده تخليق کړې، هو داسې شوي چې يو شاعر يا ليکوال د بل نومورکي، نومور، مړ يا ژوندي شاعر يا ليکوال کلام پــه خپــل نامــه کړی وي، خو دا ډول غلا هم ډېره ژر رسوا شــوې ده، خــو دا بــل ډول معکوس کار چې څوک دې خپل اثر بل چاته منسوب کړي او خپله دې ترې دفاع هم وکړي، په ادبي تاريخ کې يې بېلګه نه لرو.

**پټه خزانه د هغې انډول، بديل يــا مثــل:** د پټــې خزانــې مخالفين چې پر پټه خزانه يې متضاد شکونه څرګند کړي دي، د هغــو لپاره به يو منطقي دليل دا وای چې دوی پټې خزانې ته ورتــه يــو بــل تاريخي اثر يا تذکره جوړه کړې وای، تر هغه وروسته يې پر خلکو منلې او بيا يې له پټې خزانې سره پرتله کړې او خلکو ته يې ويلي وای چې دا دی د دا ډول ((جعلي)) اثارو ليکل او پر خلکو يې منل ګــران کــار نــه

دی. که دا کار يوه يا دوو ليکوالو نه شو کولای، نو بيا دې د پټې خزانې ټول مخالفين، په ښکاره او پټه سره ناست وای پــه شــپو، مياشــتو او کلونو دې کار کړی وای او بيا دې خپل لاسوند (سند) خلکو ته وړاندې کړی وای او ولې ډېر وخت او ډېر کلونه؟ ځکه د يو ((جعلي)) اثر لپــاره خو ډېر وخت ته اړتيا نه شته، هغه خو د تخيل، احساس او عواطفو پــه زور نه رامنځته کېږي، بلکې فکر، مهارت او چل ول ته ضرورت لري، نو د پټې خزانې ټولو مخالفينو بايد د زياتې انرژۍ د لګولو پرځای دا کار ژر تر ژره ترسره کړی وای. د منفي بافانو او شکاکانو دا خاصيت دی چــې تر خپل فکر او استعداد پورته اثر باندې ضــرور شــک ښــکاره کــوي، مشرکينو به پر قرآن کريم هم شک کاوه، د قرآن کريم ايتونه به يــې شعر باله او ځينو به سحر و جادو. کله چې د لوی خدای ج له لــوري پــه همدې اړه د ( انا اعطينا...) ســوره نــازل شــو او لــه مشــرکينو څخــه وغوښتل شول چې تاسو ددې کلام معادل يا مثل جوړ کړئ، نو هغــوی چې هر څومره زور وواهه څه يې ونه کړای شول نو تر هغه وروسته يــې بيا اعتراف وکړ چې دا واقعاً هم د الله ج کلام دی، نو پټــه خزانــه خــو د بشر د ذهن يوه راټوله کړې ادبي تــذکره ده، نــو د پټــې خزانــې ټولــو مخالفينو ته يو چيلنج دی چې په انفرادي يا ډله ييز ډول دې ته ورتــه يو اثر رامنځته کړي.

**پټهٔ خزانه، د شک او ثبوت مقابله:** پر یوه شي باندې شــک ښکاره کول اسانه دي، خو د هغه پر وړاندې د ثبوت وړاندې کــول بیــا هغومره اسانه نه دي. پر پټه خزانه هم شک ښکاره کول اسانه کار دی، لکه چې دا شکونه د هر شکاک له خوا شوي هم دي، خو د خپل شک د اثبات لپاره یوه هم غوڅ ثبوتونه نه دي وړاندې کړي، د شکاکانو پــر وړاندې هم چې کوم اسناد او دلایل وړاندې شوي هغه هم شکاکانو ته د منلو وړ نه وو هغوی پر هغو بیا هم شک ښکاره کړی دی. خو زما پــه نظر پټه خزانه خپله یو ثبوت دی، یو شتوالی او موجودیت دی، د ثبوت له پاسه بیا ثبوت وړاندې کول څه مانا نه لري.

لوی خدای(ج) په طبیعت کې ډېر رازونه اچولي، له هغو رازونو څخه یو دادی چې (( هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه))؛ یو څوک بــه کار کوي بل به نیوکه کوي، یو څوک به یو اثر لیکي بل بــه پــرې نقــد کوي، یو څوک به د ښه خوی او ښو اخلاقو خاوند وي او بل پرې شــک کوي او وایي به چې دا چلند یې د قوت د نشتوالي له امله دی، په اصل ماهیت کې داسې نه دی، یو څوک به ښه صادق مسلمان وي، بــل بــه منافق او شیطان وي، یوه خوا به حق وي بله خوا به بطلان وي او ژوند به ترپایه همداسې د متضادو لوریو په مقابله کې روان وي.

پټه خزانه هم دغسې یو ثابت حقیقت او واقعیت دی، په دې لړ کې شکاکان هم حق لري دخدای(ج) د پنځول شوي طبیعت مطابق خپــل

شک ښکاره کړي. ځینو لیکوالو د رحمان بابا د ژوند او مرګ د کلونو په باب شک ښکاره کړی او هغه یې سم نه دی بللی او په دې باب یو شمېر لیکوالو لیکنې هم کړي، دا چې رحمان بابا پر کوم کار مړ دی او پر کوم پیدا؟ دا ددې مانا نه لري، چې د رحمان بابا له شتوالي منکر شو، د رحمان بابا د شعرونو شتوالی خپله د رحمان بابا د اثبات لپاره کفایت کوي، نو د پټې خزانې د اثبات لپاره هم غټ دلیل په خپله د هغې متن دی چې د سالم عقل او فکر خاوند ترې انکار کولای نه شي. ځینو لیکوالو او په اصطلاح ((تېزبینو)) لیکوالو دا د ځان د تبلیغ او اطراح لپاره یوه ښه وسیله ګڼله چې پر یو مشهور اثر، پر یوې مشهورې تاریخي پېښې او یا مطرح لیکوال وپېچي، پر هغو شک ښکاره کړي او ځان مطرح کړي.

یو وخت موږ په پېښور کې غوښتل د خوشال بابا د زوکړې د څلورسومې کالیزې په ویاړ یو علمي سیمینار جوړ کړو، د سیمینار تر جوړولو وړاندې د سیمینار د مقالو د وېش لپاره یو بورډ یا جرګه ګۍ جوړه شوې وه، په جرګه ګۍ کې یو تن مطرح لیکوال وویل زه غواړم د خوشال بابا د ژوند یانې تولد پر کال لیکنه وکړم، ده وویل زما د لیکنې عنوان دی: خوشال بابا پر کوم کال پیدا دی؟ یو زرو دوه ویشت که یو زرو یوویشت؟ ده وویل ما سره ګڼ شمېر داسې دلایل، مدارک او اسناد شته؛ دا ثابتوي چې بابا پر یو زرو یوویشت کې پیدا دی نه په یو

زرو دوه ویشت هــ ق کې. موږ وویل دا یوه اتفاقي موضوع ده او واضــح ده، ضرورت نه شته چې پر دې لیکنه وشي، د بابا د ژونــد او اثــارو پــر هغو اړخونو باید خبرې وشي چې تراوسه لا مبهم دي او څېړنې ته اړتیا لري، خو لیکوال صیب بیا ټینګار وکړ څوک وایي چې د خوشال بابــا د ژوند کال اتفاقي دی؟ هېڅ اتفاقي دی نه، تاسې یو ځل زمــا منــابع او اسناد وګورئ بیا به مو باور پرې راشي، پرېږدئ چې موږ لوستونکو تــه واقعیت وایو، کله چې لیکوال پر خپلې خبرې تر حده زیات ټینګار وکړ، نو ماته هم یو څه غوصه راغله ما ورته وویل: د خوشال بابا په بــاب تــر ټولو کره، معتبره او باوري اسناد کوم دي؟

ده وویل خپله د بابا اثار. نو ما وویل کله چې خپله بابا وايي:

(( د هجرت زر دوه ویشت سن و ـــــ چې زه راغلم په میان)) نو بیــا ته څوک یې چې د بابا د ژوند په هکله خپله د بابا خبره رد کــړې، دې سره زموږ بحث نور پای ته ورسېد.

نو اوس راځو خپلې خبرې ته چې پر یوه شي د شک ښکاره کول او د هغه لپاره د یو څو مرتبو او نا مرتبو، وړاندې او وروسته دلایلــو راوړل او د عادي لوستونکو د ذهنونو ګډوډول اسانه کــار دی، خــو د خپــل ناسم شک اثباتول ساده کار نه دی.

**د پټې خزانې له مخالفینو څخه یو:** پټې خزانې په پیل کې د سیاسي او کلتوري سیالیو له امله بهرني مخالفین درلودل، وروسته وروسته بیا د مخالفتونه په کورنۍ کچه هم څرګند شول، خو د کورنیو مخالفینو د مخالفت علتونه ډېر زیات سیاسي او کلتوري نه وو؛ اکثره د حقارت له رواني عقدو او په فرهنګي چاپېریال کې د سالم رقابت له لارې لوړ شهرت او مقام ته د نه رسېدو له امله پیدا شول. د کورنیو مخالفینو سرخېل ښاغلی قلندر مومند دی چې په پښتنو لیکوالو کې نسبتاً پام وړ مقام لري. دقلندر مومند د شهرت یوه لویه وجه همدا د پټې خزانې مخالفت دی، سره له دې چې هغه په شعر، لنډه کیسه، تنقید او تحقیق کې هم مشهور دی، خو په دې هره برخه کې دده همعصره داسې نور پښتانه لیکوال وو چې له قلندر مومند څخه یې اول مقام نیولی و او زیات شهرت ته رسېدلي وو، د بېلګې په توګه که څوک د غزل نوم اخلي، نو د حمزه بابا، که د تحقیق نوم اخلي نو کامل مومند، که د لنډې کیسې نوم اخلي نو مهدي پاچا او که د انقلابي شاعرۍ نوم اخلي نو د اجمل ختټک نومونه یې اول په ذهن کې راګرځي. قلندر مومند ته دده د فرهنګي شخصیت د خړوب او مطرح کېدو یوازینۍ لاره همدا ((تنقید)) پاتې وه. نو ده باید داسې یو څه ته ګوتې وروړې وای چې دده د فرهنګي شخصیت د شهرت غوښتنې دا غریزه یې خړوب کړې وای. د قلندر مومند دا پټه تلوسه هغه وخت د فوران حالت ته ورسېده چې پر (۱۳۴۵ل، ۱۹۶۶م) کال کابل کې د

خوشال بابا په یاد جوړ شوي نړیوال سیمینار ته رابلل شوی و، دا هغه مهال و چې د پټې خزانې له لومړي چاپ څخه نږدې (۲۵) کاله تېرېدل، ددې سیمینار علمي مشري د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي پر غاړه وه. دې سیمینار ته پر قلندر مومند سربېره حمزه بابا او څو نورو لیکوالو لیکنې وستایل شوې، لوی استاد پوهاند علامه حبیبي چې نه یوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سیمې په کچه یو لوی عالم و، هم زیات وستایل شو او درناوی یې وشو، قلندر مومند په دې سیمینار کې دده له خپلې توقع او شان سره برابر ونه ځلېد، نو له همدې ځایه ده د داسې یو ناسم رقابت لاره ونیوه چې پخوا یې دومره جوش نه و. دا وخت د قلندر مومند د قلم نوکه او ذهن د (استاد حبیبي) لوري ته واوښتل او په دې کې یې لومړی کتاب چې لوی استاد پرې حاشیې، تعلیقات او شرحې لیکلې وې هغه (پټه خزانه) وه، نو همدا کتاب هدف یا ټارګېټ شو، ولې پټه خزانه هدف شوه؟ ولې د حبیبي صاحب خپل تالیفات تر برید لاندې رانغلل؟ ددې پوښتنې ځواب دادی چې د پټې خزانې د تردید لپاره لا تر دې دمخه بهرني ذهنیت کار کاوه، هغوی هم یو کورني شکاک او کورني شکاک هم یو بهرني ملاتړ ته اړتیا لرله، مشترکې ګټې د دوی د ګډې همکارۍ سبب شوې. ښاغلي قلندر مومند تر هغه وروسته پر پټه خزانه څو انتقادي لیکنې وکړې او د پېښور په چاپي خپرونو کې یې خپرې کړې.

قلندر مومند نږدې شل کاله پر پټه خزانه ((تحقیق او تنقید)) وکـړ او په پای کې یې (( پټه خزانه فی المیزان)) کتاب چاپ کړ، هغه وخـت چې لوی استاد عبدالحی حبیبي ژوندی و، نو د پټې خزانې د بهرنیو او کورنیو شکاکانو د شکونو په اړه یې خپل مستند دلایل ولیکل، دلـوی استاد تر مړینې وروسته قلندر مومند ته لاره نوره اواره شوه، وروسـته ده یو شمېر هغه لیکوال په تېره بیا د پېښور ځینې ځوان لیکوال چـې دده پر چاپېریال راټول وو او په یو نه یو ډول یې ده د شخصیت په وده کې رول درلود، په زړه نا زړه ډول د قلندر مومند فکر تعقیب کړ، خو بیا هم په پېښور او کوېټه کې ډېر نور داسې لیکوال وو چې د قلندر مومند د نظریاتو خلاف یې لیکنې وکړې. ښاغلي همېش خلیل د قلندر مومند د (( پټې خزانې فی المیزان)) په ځواب کې د (( تول پارسنګ)) په نامه یو مستقل اثر ولیکه. د پټې خزانې د مخالفت لړۍ په پای کې د ابتــزال داسې یو حالت ته ورسېده چې ان ځینې داسې کسان چې اصلاً یې په خپل ټول عمر کې یو ځل هم پټه خزانه لوستې نه وه، هغوی هم د پټې خزانې په اړخ خپل نظرونه څرګند کړل. یوه ورځ له پېښوره (ټل) ته په یوه مشاعره کې د ګډون لپاره روان وو، د کوزې پښتونخوا یــو ځــوان لیکوال له ما څخه وپوښتل (( یون صاحب دا د پټې خزانې په باب ستا رایه څه ده؟)) ما ویل له رایې څخه دې مطلب څه دی؟ ده وویل منــې یې که نه؟ ما وویل زه یې ومنم که ونه منم هغه خپله داسې یو اثــر دی چې ځان یې پر خلکو منلی او بل دا خو څه د عقایدو مسله نه ده چــې

که څوک يې ومني نو له ګناه به خلاص شي او که ويې نه مني نو ګناهکار به شي. منل نه منل دهر چا خپل کار دی خو واقعيت په خپله واقعيت دی. ده وويل بيا هم مطلب مې همدا و. ما ويل ستا رايه څه ده؟ ده وويل زه خو يې مخالف يم. ما ويل پټه خزانه دې لوستې؟ ده وويل نه جي! ما ويل چې لوستې دې نه ده نو بيا مخالف يې په څه يې؟ ده وويل: دا قلندر صاحب او نور چې کوم دي، هغه يې نه مني که نه ما ويل ... ما وويل د واقعيت خبره بېله ده او د منلو يا نه منلو خبره بېله. ما ويل اسلام د خدای(ج) يو کامل دين او قرآن د خدای(ج) اسماني کتاب دی، بيا يې هم د نړۍ نا مسلمان وګړي او همدارنګه يو شمېر منافق مسلمانان عملاً نه مني نو دا خو ددې مانا نه لري چې اسلام او قرآن کې نيمګړتيا ده، نيمګړتيا خپله زموږ په ذهن کې ده. پټه خزانه يو واقعيت دی چې پټېدلای نه شي، د منلو او نه منلو خبره د هغې د واقعيت مانع کېدلای نه شي...

د قلندر مومند ترخنګ يو شمېر نور ليکوال چې د هغه لاره تعقيبوي، هغوی له معقولې لارې او د فرهنګي کارو هڅې په وسيله د شهرت او مقام لوړو پړاوونو ته نه شي رسېدلای، نو دوی دا لاره غوره ګڼلې چې داسې يو ادبي اثر ته لاس وغځوي چې هغه د خلکو زړونو ته لاره پيدا کړې وي، دوی فکر کوي په دې کار سره به د خلکو حساسيت راوپارېږي او زموږ ليکنه به ولولي، بيا به مو پر ضد ليکنه

وکړي او که ځواب رانه کړي نو بیا به ووایو ګوره چې زموږ دلایل پاخه وو چا یې ځواب ونه شو ویلای. دا ډول لیکوال چې د شهرت د فقر پر غریزې اخته دي، په هر ځای کې شته؛ په جلال اباد کې یو ځوان عادي او مبتدي لیکوال په یوه نوې راوتې سیمه ییزه مهالنۍ عادي جریده کې پر یوه ډېر پاخه او مطرح لیکوال په دې نیت بې ځایه، نامعقوله او له واقعیت څخه لرې انتقادي لیکنه وکړه چې مطرح لیکوال به یې ځواب ووایي او دې سره به ((منتقد)) او ((جریده) دواړه شهرت ته ورسېږي او په پینځوو کې به یاد شي. خو مطرح لیکوال هغه لیکنه ډېره بابیزه وګڼله او هېڅ ځواب یې ور نه کړ، یو بل لیکوال ورڅخه وپوښتل چې د هغه لیکنې ځواب دې ولې ور نه کړ؟ هغه وویل: دا ځوانان دي، دوی د شهرت غریزې پسې اخیستي، زه نه غواړم په خپل ځواب دوی خپل هدف ته ورسوم. دا مسله همداسې غلې پاتې شوه، څه موده وروسته هغو ځوانانو له هغه مطرح لیکوال څخه بښنه وغوښته. نو د پټې خزانې د کورنیو مخالفینو یوه غټه ستونزه او ناروغي همدا ده چې د شهرت غریزې پسې اخیستي دي. که موږ د ښاغلي قلندر مومند ټول لیکلي اثار سره وارزوو نو راته معلومه به شي چې هغه په غزل کې د حمزه بابا، په انقلابي شاعرۍ کې د اجمل خټک او په تحقیق او تاریخ لیکنه کې د کامل مومند او استاد عبدالحی حبیبي مخکښي نه شوه زغملای. د ارواپوهنې له نظره هغه اشخاص

چې د ژوند په یو لړ سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي چارو کې ناکــام او یــا هم تر خپلو محسوسو او نامحسوسو سیالانو پاتې راشــي، معمــولاً پــر منفي کرکترونو بدلېږي، هغه لیکوال چې په لیکوالۍ کې د تخلیــق او تحقیق په دواړو برخو کې پام وړ او مطلوب پرمختګ ونه کړي معمــولاً دربیمه لار (تنقید) غوره کــوي. کلــه کلــه بیــا دا تنقیــد د اصــلاح او لارښوونې پر محور راڅرخي، خو کله کله بیا د منفي بــافۍ د نــاروغۍ ښکار شي او هرې مثبتې پدیدې ته ضرور د شک او تردید په ســترګو ګوري، ښه کره کتونکی همغه دی چې یو اثر مخکې تر مخکــې د ښــه والي او بدوالي د ټاکلې فرضیې له مخې ونه رازوي. یانې فرضیه مخکې تر مخکې قید نه کړي، چې حتماً به دا اثر ښه ثابتوم یا بد او کمــزوری. ښه لاره داده چې اثر څنګه دی همغسې یې وارزوي، خپل شخصي نظر او عواطف په کې دخیل نه کړي. زه فکر کوم چې قلندر مومند مخکــې تر مخکې د پټې خزانې په اړه د (رد) فرضیه ټــاکلې وه او خپلــه ټولــه انرژي یې د همدې (رد) لپاره راټوله کړې وه. د قلندر مومند د لیکنــې تر شا څه رواني مشکلات پراته وو، چې ده نږدې شل کاله د هغه اثــر د تردید لپاره کار وکړ چې محمد هوتک هغه په دوو کلونو کې لیکلــی و. کېدی شي محمد هوتک د پټې خزانې پر لیکلو دومره نه وي په تکلیف شوی لکه قلندر مومند یې چې په تردید کې په تکلیف شو.

قلندر مومند په خپله لیکنه کې په اصطلاح له نجومي علـم څخـه هم ګټه اخیستې او په اصطلاح له بېلابېلو جنتریو یې استخراج کـړی چې د پټې خزانې د متن په پای کې یوه راغلې نېټه غلطه ثابته کړي.

محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکي: (( کتاب تمام سو، پـه ورځ د جمعې (۲۴) د شوال المکرم (۱۱۴۲) هجري په قنـدهار کـې او مولـف محمد هوتک هم فارغ البال سو الحمدلله حمداً کثیراً))

خو قلندر مومند په دې نظر دی چې د شوال (۲۴) د جمعې ورځ نه ده، له همدې پورتني ټکي سره په ارتباط کې د ښاغلي قلندر مومند د یوې مرکې یو ټکي ته ستاسو پام را اړوم.

د قلندر مومند تر وفات نږدې درې کاله وړانـدې، ښـاغلي حنیـف خلیل له ښاغلي قلندر مومند سره یوه مرکه کړې وه، دا مرکـه همغـه مهال له پېښوره خپرېدونکې (وحدت) ورځپاڼه کې چاپ شوې وه. پـه دې مرکه کې ښاغلي حنیف خلیل له ښاغلي مومند څخه پوښـتلي وو چې ستاسو د پیدایش کال کوم دی؟ هغه ورته په ځواب کې ویلـي وو ((... زما د پیدایش کال ماته معلوم نه دی، ځکه چې هغه  وخت مـور و پلار د پیدایش کال نه لیکه او که چا لیکه هم نو په یوه کاغذ کې به یې لیکه بیا به یې د قرآن  شریف په منځ کې ایښوده، نو پـه دې وجـه زه تاسو ته د خپل پیدایش کال سم نه شم ښودلای))

اوس دلته د خپل پیدایښت د کال په اړه دومره بې تفاوته او یــا نــا خبره دی، نو بیا کوم دلایل او مهم عوامل وو چې دی یې دېتــه هڅــوه چې درې دربنیم سوه کاله دمخه له نــورو ســره د ورځــو او ســاعتونو حساب، هغه هم په خپله خوښه وکړي؟ پر (۱۱۴۲هــ ق) کــال د شــوال (۲۴) د جمعې ورځ وه او که نه وه؟ دا او دې ته ورته پوښتنې سړي تــه ددې لاره اواروي چې په خپله د شکاکانو پر نظرونــو او شــکونو شــک وکړي او ووايي چې دا ډول شکونه لــه سیاســي، کلتــوري ســیالیو او شخصي عقدو څخه راټوکېدلي دي او پر واقعیت ولاړ نه دي. که د پټې خزانې د بهرنیو او کورنیو مخالفینو ټول نظرونه راټول کړو نــو کېــدی شي دې نتیجې ته ورسېږو چې دا ټول نظرونــه د سیاســي، کلتــوري، ژبنیو او تاریخي ناوړه غرضونو او د ځینــو ځانپــالو او شــهرت خوښــو لیکوالو د شهرت د غریزې او شخصي عقدو یو ګــډ امتــزاج دی چــې علمي معیارونه نه لري او پر پورتنیو یادو عواملو ولاړ دي او بس.

# ((د ځانځاني ښامار)) سفر

(د استاد مجروح د ځانځانی ښامار- د ځينو منظومو برخو منثوره بڼه)

د انسان ځانغوښتنه او نفسي خواهشات داسې غريزيي عناصر دي چې هر وخت له انسان سره ملګري وي، د انسان نفس اصلاً د لايتناهي هوسونو مجموعه ده. که ددې هوسونو او نفسي غوښتنو مشروع علاج او کنترول ونه شي او هغه په سم ډول مهار نه شي، نو د انسان له نفس څخه خپله يو لوی ښامار جوړېږي، داسې يو ښامار چې ټول عمربه د مثبتو انساني ارزښتونو پر له منځه وړلو او خوړلو مصروف وي، تر ټولو د مخه يې خپله همغه انسان ته خطر او زيان تر ټولو زيات دی او د غتوالي او ودې په حالت کې يې مقابله هم ورته ډېره ګرانه ده. استاد سيد بهاوالدين مجروح په ((ځانځاني ښامار)) کې د نفس د همدغه ښامار کيسه کوي چې په څه ډول په انسان کې عواطف، مينه، صميميت او خواخوږي له منځه وړي او په هغه کې د لوړتيا ، ځانغوښتنې او ځانخوښونې غريزه پياوړې کوي.

دماسترۍ دورې په بهیر کې داستاد مجروح پر دې اثر باندې پر ګڼو تبصرو او لیکنو سربېره، پر منثوره بڼه منظوم اړول هم شامل و، ما دا اثر په لنډیز سره په منثور ه بڼه واړاوه، داسې چې محتوا یې هم خوندي شوي دي او خپله د استاد الفاظ هم کارول شوي دي او د روایتي داستان بڼه یې هم په پام کې نیول شوې ده.

استاد مجروح خپل دا اثر ((د ورك سمندر غاړې)) څخه پیلوي او په یوه ښار کې د ژوند په باب د یوه عالم د خولې خبرې بیانوي، دا عالم په خپلو خبرو کې وایي: ((تر هغه چې دا ځمکه او اسمان وي، تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي)). عالم وایي ((دا ژوند یو مرموزه سمندر دی، جهنم په بل جهان کې چېرته لرې نه دی، بلکې د هر انسان په ځان کې د هغه جهنم دی.)) بیا د ښار د وګړو کیسه کوي چې له یو بل څخه ډارېږي، له ځانه جګ دېوالونه راتاووي، یو بل سره اخته دي خو له توپانه نه دي خبر چې را روان دی، خو ددې تر څنګ پوهه سړی وایي چې زه له توپانه نه ډارېږم خو د خپل زړه د ژورو په تل کې له ښاماره ډارېږم، عالم سړی په دې سوچ کوي چې د ښار خلکو ته څنګه خپل پیغام ورسوي.بیا د ژوند لومړی څرخ تاوېږي او ښامار د مرګ پر لوري ځي، دلته په لومړي پړاو کې د هغه ښار کیسه کوي چې ټول ښاریان یې رنځوران دي. دلته د هغه ښار کیسه

کېږي چې خلکو يې يو بل سره په صميميت او دوستۍ کې ژوند کاوه، د باداري او غلامۍ چل يې زده نه و. څاروي له حيواناتو نه ډارېدل او مرغانو خپلې خوږې نغمې غږولې، په همدې وخت کې د ټول جهان لوی فاتح را څرګندېږي ، يو سرې پر تور اس سپور وي او تورې جامې يې اغوستي وي او ځان ته د ((ايګو)) ياني (زه) خطاب کوي، دې سره پر ښار د فرماندار واکمني شروع شوه، نوي واکمن ښځې په کور کې دننه بندې کړې، ځوانان يې پر سختو کارونو وګمارل، هوسۍ او مرغان يې په غشو وويشتل او څارويو ټولو له ښار کډه وکړه، په همدې وخت کې د ښار خلك له وېرې د اژدها(ښامار) ستاينې پيلوي، د فرماندار مجسمه جوړېږي، لوی راهب د ښامار له ژونده خبر و او خلکو ته د هغه کيسه کوي، راهب د چينجي کيسه کوي چې څنګه په لوی ښامار او قوت بدل شو. بيا دښامار بد او بې درمانه انځور تشريح کوي، غم، قهر، غضب، ډار او وهم د هغه غټ مرضونه ګڼي، ښامار د خپلې واکمنۍ په دويم پړاو کې يو دمه ځای لټوي، خو هېڅ داسې دمه ځای نه شي پيدا کولای چې دی په کې دمه شي، نو ځکه خو د يوازېتوب احساس کوي او ښار کې هېڅوك داسې نه پاتې کېږي چې دده خدمت وکړي، نه مينځه وه نه نوکر و چې دی پرې فرمان وچلوي، ټول ښار مړ و، چوپه پوپتيا وه او له ښاره هديره جوړه شوې وه.

بیا هغه تېر وختونه ورپه یاد شول، د عشق او میني ښاپېرۍ، د ژوندون د سیند پر غاړه خوبونه، خو اوس نه نارنج و او نه یې ګل، نه یې بویونه، نه د مرغیو ډلې ډلې وې چې د ښار خلك یې ننداري ته ولاړ وي، بیا د سیند په منځ کې یو مار تېرېږي او پر سر یې د لعل په شان رڼا بلېږي، د ښار د خلکو منځ کې ګونګوسي پیلېږي، دې سره د ښار قهرمان د ژوندون د سیند له غاړې جلا کېږي او د ژوندون د چینې پر لوري نه ستنېږي. بیا له ځان تپوس کوي (( هغه ورکه نامعلومه هستي هڅه ده چې دا هسې سرګردانه ورپسې ګرځم، په دښتو په بیابانونو؟))

قهرمان به په سوچونو کې ډوب و. دې وخت کې د سپرلي الهه ورته خبرې کوي چې ((بې له ما به ستا باغونه، چمنونه ټول خزان شي او ستا رودخانې به هم وچې شي...)) قهرمان بیا په خپله هسکه ماڼۍ کې اوسېده خو د اوږدو فکرونو په تال کې زنګېده، خو یوه ورځ ماښام چې توره خړه را دبره شوه نو یوه زړه بوډۍ له کومه ځایه ، پټه پټه او غلې غلې راغله او د ښار د دروازې خواته ودرېدله، ډېره بده څېره یې درلودله، توري جامې یې اغوستې وې، له اجازې او زنځیر شرنګولو پرته د قهرمان ماڼۍ ته ننوته او له هغه سره یې ملاقات وکړ. د بوډۍ تر ملاقات وروسته درېم پړاو پیلېږي "د دوزخ له درشل دېخوا". په دې

وخت کې فرماندار یا قهرمان هغه وخت په یادوي چې ده د خپل زړه ښکلې ماڼۍ جوړوله، بیا د عشق رب النوع او الهه ددې ماڼۍ د ښکلا کیسه کوي چې دا ماڼۍ د عواطفو او هیجانونو معمارانو جوړه کړې ده او ډېر ښکلي نقشونه او نګارونه یې درلودل او د دې لپاره یې تیاره کړې وه چې کله به ورته ستر واکمن د عشق او مینې رب النوع او الهه رارسېږي، خو څومره چې شپې اوږدېدلې د ده د راتګ انتها ورکېدله. خو په اخر کې هغه نا اشنا سړی چې تورې جامې یې پر تن او پر تور اس سپور و راښکاره شو- او ماڼۍ ته پورته شو او د ښار خلکو ته یې په خطاب کې وویل: " زه خو زه یم ، زه " "ایګو" یم. زه فاتح د لوی جنګونو د جهان یم ستاسو ښار زما تابع دی". د ښار خلك له ظلم نه فراري شول او ښار د سکوت خواته روان شو. فرماندار په ښار کې یوازې پاتې شو، په ښار کې یوازې دده د ستاینې تابلوګانې ځوړندې وې. یوازې به یې آئینې ته کتل او چې کله به یې ځان ونه لید وارخطا به شو چې ځان ترې ورك شوی، خو خبر نه و چې ائینه خو د دوزخونو دروازه ده او له آئینې څخه اخوا تېرېدل د اوهامو جهنم ته کوزېدل و. قهرمان د اوهامو جهنم ته ولوېد، د لحظو په پټ دام کې ګیر شو او د زمانې په شمېرنه کې ډوب شو او هره شپه ورته یوه بې اغازه او بې پایانه څېز ښکارېده، بیا په دې

سوچ کې ډوب شو چې که څوک په دې پوهېدلی چې څښتن ددوی روح اخلي نو هېڅکله به یې د ژوند ارمان کړی نه وای.

او پـه دې توګـه قهرمـان د تجریـد او تنهـایي ژورې کنـدې تـه پرېوته، خو یوازې احساس یې ورسره ملګري کوله او دده د ذهن پر دېوالو به ګرځېده. دې کې ده ته دا درد پیدا شو چې زمانـه بیـا نه راګرځي او پرونی سهار بیا نه راغبرګېږي.

یو وخت داسې هم راغی چې له قهرمان څخه خپل سیوری ورك شو او هرې خواتـه یې چې کتـل خپـل سیوری یې نـه لیـده او دې پېښې ډېر مظرب کړ. بیـا یـې وویـل: " اوس پـه کـار دي چـې زه لاړ شم او هرومرو پیدا کړمـه خپـل سیوری"، بیـا ورتـه تشـویش پیـدا شو هسـې نـه چـې زه خپلـه سیوری یـم، داسـې سـیوری چـې اصـلي وجـود یـې ورك وي. بیـا ورتـه پـه زړه کـې وهـم پیـداکېږي هسـې نـه چې پر کومه بله لاره تللی یم. هغه په دښتـو کـې هـم سـوچونه کـوي او د ازادۍ د مانا او مفهوم په لټه کې دی.

دې کې څلورم پړاو تـه ورداخلېږي او " د دوزخ لـه درشـل اخـوا" کیسه پیلېږي. قهرمـان تـر دې وروسـته خـوب هم پـه ارامـه نـه شـو کولای او پـه خـوب کـې بـه ډېـر زیـات وېرېـده، یـوه ورځ لـه خوبـه پاڅېده، ګوري چې ښار کې پرته له ده څخه هېڅوك نه شته بیـا بـه

وهم اخیسته او له ګونګسیو به وېرېده. بیا یې د یو توپان یا جکړ د راتلو خبر واورېد او لـه دې جکړ څخـه یـې د قهـر یـو اواز هـم واورېد ، په همدې وخت کې په جکړ او توپان کې قهرمان تـه ویـل کېږي چې تا تـه مـوږ د خپـل ټول وجود او هستـۍ اختیـار درکړ، خو تا ځانته داسې نوم غوره کړ چې تاوې زه یم نـوم مـې "زه " دی "موږ" او "تاسې" یـوه پـرده ده. دا پـرده مـو کړلـه ورکـه. مونـږه ټولـو ستا پـه "زه" کـې کـړو ځـان محـوه. تـه مغـرور او متکبـر شـوې تـا د ازادۍ جذبې بندې کړې، خو اوس هغـه ټولـې بـل شـانې څېـرې دي او نـن ځانتـه "روحـي اضـطراب" وايـي. اوس بـه د تـر وږمیـو پرښتـه راځي. بله ورځ چې قهرمان لـه خوبـه پاڅېـد ، آئینـې تـه یـې وکتـل، ځان یـې ونـه پېژانـده خـو د همـدې ورځـې پـه ماښـام کـې چـې تـوره تیاره شوه، بیا یوه زړه بوډۍ پیدا شوه، د تـور لـوګي تـورې جامـې یـې اغوستـې وې او د همغـې هسـکې مانـۍ پـر لـوري د قهرمـان ملاقـات تـه لاړه او قهرمـان تـه یـې د تلـو بلنـه ورکـړه. خـو قهرمـان ورته وویل چې زه همدلته خوښ یم. خو بوډۍ ورته وایي چې اوس په تا ناوخته شوی اوس زه تا ځان سره بیایم هغه ځای تـه دې بیـایم چې د ځان له جهنمه خلاص شې، کلـه چـې قهرمـان پـه حسـاب پـوه شو چې څوك له خپل قسمته تښتېدلی نه شي نـو د خپلـې هسـتۍ پـه ژور تـل کـې یـې دا احسـاس وکـړ چـې مطلـق یـوازې پـاتې دی

یوازې، نو بیا د تورې مانۍ له کنډوالو نه راروان شو او له بوډۍ سره کومې نامعلومې خواته لاړ.

تر دې وروسته ځانځاني ښامار به دویم څرخ کې یو ځل بیا راستنېږي.

" د ژوندون د چینې غاړه په تورتم کې " د پنځم پړاو برخه ده چې په دې کې یو حکیم د انسان شخصیت تشریح کوي چې دی اصلاً خپل ځان نه ګوري، بلکې خپل سیورى ګوري او پر دې سیوري د حقیقت ګومان کوي. تر دې وروسته له لرې ملکه د یوه مسافر راتګ ته انتظار ایستل کېږي چې د ورك سمندرغاړې کیسې او احوال ورته راوړي.

"د نیمو شپو لاروى" د غار تورې خولې ته ناست و او ځان ته یې وینا کوله چې ډېرې مزلې مې وکړې خو لاره مې پیدا نه کړه، ځکه ما سره چې څوك د سفر ملګرى و، هغه یوازې د ځان په باب فکر کاوه او پر ځانځانۍ اخته و. خو لاروى وروسته مجبورېږي د ځانځانۍ له ملګري خپله لاره بېله کړي او د سبا په تمه منتظر کېني تر څو چې پسرلى په دنیا راشي. په داسې حال کې چې د بېلتون شپه تورتم نه وه، لاروى له خپلې ځانځانۍ " زه" نه راجلا شو. دې سره نو دى له زړو ایرو راولاړ شو، له خپل ځانه یې د

خپل وجود یو زوړ قالب وویست او دورې یې ګوزار کړ. بیا یې د اوښکو څاڅکي روان شول، نو دې سره یې وویل اوس به نو د خوړ په وچ بستر کې د اوبو ډك رودونه روان شي. خو لا هم د ښار پر لوري د لاروي سفر ته ډېره لاره پاتې وه.

نو ځکه باید د تورتم ژور تل ته کښته شي که د رڼا څرك ولګوي. لاروي تر اوږده مزله وروسته د تورتم په ژورتیا کې یوه کوچنۍ شانته رڼا ولیدله. لاروی بیا یو تور ډنډ ته رسېږي، هلته ګوري چې واړه واړه چینجیان د یوه بل پر ځان اخته وو، یو بل به یې خوړ، په دې کې به یو غټ شو، نور چینجیان به یې وخوړل، بیا به ترې ماهی جوړ شو، مارماهی به شو او بیا به ترې نهنګ جوړ شو، بیا به یې وزرونه او تېره تېره غاښونه پیدا کړل.

له واړه چینجي به غر جوړ شو. نور به په ډنډ کې نه ځایېده. دې کار به لاروي ته ډېرې پوښتنې پیدا کړې خو لاروي چې به هر څومره د رڼا لټه کوله، رڼا به لرې لرې ځلېدله.

لاروی بیا مزل کوي، جزیرې او ټاپوګان یې ولیدل، د هرې زرې زړه کې ننوت، هره زره لکه یو بحر نامحدوده وه، خو ده ته په دې ټولو کې یو لوی حایل او مانع دا و چې دا حایل فقط د مانا او مفهوم نشتوالی و، دا داسې یو دېوال و چې له ټول عالمه

راچاپېر و خو لاروی په اخره کې یوه شو چې عالم او هستي واړه بې معنی او بې مفهومه دي.

شپږم پړاو د هغه ښار سفر دی چې تور ښامار وربانديې ناست و. لاروی بیا په یوه تونل کې د رڼا په څرك پسې روان شو او په دې نیت یې عجله کوله چې څنګه د ښار خلك خبر کړي چې ښامار بیا راروان دی. بلاخره ښار ته ورسېد او هلته یې یوه نازنینه پېغله ولیده، چې شین بخن زوړ کمیس یې اغوستی و. لاروي یې په سترګو کې د خپل ورك سمندرغاړه ولیده. پېغلې ورته له خپل منګي اوبه ورکړې او هغه پرې خپله تونده ماته کړه. د ښار خلکو دې پېغلې ته لیلې ویله. لاروی ځي هغه ښار ته چې د زړه په سترګو ړوند و. کله چې ښار ته راځي نو ښار کې چوپه چوپتیا ده، ماشومان نه ګرځي، یوه سپین ږیري ړوند په ملا کړوپ نه تپوس کوي، هغه ورته وایي چې دا هرڅه د واکمن په امر شوي. لاروی چې له اوږده سفره ښار ته راغلی و او په سمڅه کې یې وېښتان او نوکان ډېر لوی شوي وو او هم یې جامې په اوږده سفر کې ډېرې څیرې څیرې شوې وې او بدن یې ترې ښکارېده، نو په ښار کې په لېوني مشهور شو او خلکو به مجنون باله. رښتیا هم په ړندو کې دی یو بینا و چې نوم یې مجنون و. لاروي چې د ښار د خلکو ژوند ولید چې د قهرمان یا ستر پهلوان ستاینه کوي، یا پرې

خوشالي کوي نو ده پرې خندل نو د ښار خلکو به ویل چې دا سړی خو رښتیا لېونی او مجنون دی. نو ولې یې په زنځیر نه تړي، خو ځینو نورو به ویل چې لېونی دی، خو د زنځیر لېونی نه دی او چاته ضرر نه رسوي، خو لاروي به خلکو ته خپل پیغام اوراوه که څه هم له ماشومانو پرته لویانو ورته غوږ نه ایښوده، ده به خلکو ته ویل:"دا عالم او هستي واړه بې معنی ده بې مفهومه." د ښار ساده ګانو به لاروی ځوروه او ورته ویل به یې خبر نه یې لیلې څه شوه؟ دیدار ته یې لاړ شه! سره ډولۍ سنباله شوې ده، ستا لیلې په کې سینګار کړې ناسته ده، خو لاروي به ورته ویل چې لیلې زما په زړه کې ناسته ده. یوه شپه لاروی د خرابات پر کوڅه برابر شو، ټنګ ټکور جاري و، لاروی چې وردننه شو هغو ورته هر کلی ووایه، لاروي ورته وویل چې تاسې ټپوسان او ګیدړان یاست، هغه څه چې باید ښکاره وي ولې په دې ښار کې پټ دي او هغه څه چې باید پټ شي هغه په رڼا کې بې پردې ګرځي. لاروی بیا مستانو سره خوندور سوال او ځواب کوي. یو مست پوښتنه کوي چې ولې د جهان ټول فرمانداران له مستانو ډارېږي؟ لاروی ځواب ورکوي ځکه چې ددوی په خبرو کې د راستۍ خطر وي. بیا لاروی مستانو ته وایي: " لږ راپاځئ راولاړ شئ، ددې دښتې وچ ځنګلونه او بې ثمره ونې له منځه یوسئ ریشې یې وباسئ، هغه مستان چې په تورتمخانو کې تړلي هغه را ازاد کړئ او کوم ښامار

چې په کې ناست دی هغه ترې رابهر کړئ او بیا یې حلال کړئ او وینه یې په دې دښتو تویه کړئ، ځکه طبیعت تاسو نه د ښامار قرباني غواړي! مستانو د لاروي خبرې د زړه په غوږو واورېدې او د لومړي ځل لپاره یې د خپلې مستۍ په نشه کې یو نا اشنا مزه وموندله. دا د ازادۍ خوند او لذت و.

د مرګـي سـیوري روان و، ژونـدي سـري ورپسـې تلـل. د ښـار خلکو یو کالبوت پر اوږو ایښی و، د خلکو سیوري تر دوی دمخه روان و، کله چې خلك هدیرې ته ورسېدل نو ستر راهب د مړي جنازه په ډېرو ښو الفاظو ترسره کړه، بیا لاروي پاڅېد او د مرګ په باب یې وویل چې لـه مرګ سره د نېکۍ او بدۍ څه پروا نه شته، دی لـه خیراو شره ماورا دی، مرګ د ښو او بدو نیستي ده. لاروي خلکو تـه وایـي چـې نیکـي او بـدي پـه دې جهـان کـې موندل کېږي نو باید چې مکافات او مجازات هم همدلته وي. بیا د ښار خلکو ته خطاب کوي کـه تاسې مړه نـه یاست او د ژونـدون څه شوق درسره وي نـو دا مړی لږ څه هېر کړئ او ژونـدون پسـې روان شئ، خو د ښـار خلکـو بیـا هـم لاروي چـور لېـونی وبالـه او د ماښام په خړه کې د خپلو کورونو پر لوري روان شول، خـو لاروي هلته یوازې پاتې و. خبرې یې کولې، یوازې یـو سـپی هلتـه پـاتې و او د ماښام ورېمې دا خبرې د مشرق پر لوري وړلې.

دا وخت د ړندو ښار له خطر سره مخامخ و، خو لاروی د ښار ټولو خلکو پېژندلو، ځینو لېونی باله او بندي کول یې ضروري ګڼل خو ځینو نورو بیا ویل چې دا یو روحاني شخص دی او عادي شخص نه دی. یوه ورځ لاروی د ښار په منځ کې خلکو ته وینا کوي او د ښار تېر برم یادوي او پوښتنه کوي چې چا دا تباه کړل؟ د ښار خندوقونو اودېوالونو ته ضرورت نه شته، ځکه چې غلیم په بهر کې نه دی د ښار په داخل کې دی، دا پخوانی ښایسته ښار اوس په کنډوالو بدل شوی او ښامار په دغو کنډوالو کې پروت دی. بله ورځ بیا ښاریانو ته خطاب کوي او وایي چې یو وخت ددې سیمې زمامداره د نوبهار الهه وه. هغې سره په دې ښار کې لویه نېکمرغي او خوشالي وه، خو تاسو اوس هغه هېره کړې او په اوهامو اخته شوي یاست. ایا تاسو نه ګورئ چې ځوانان، ماشومان، ښځې او بوډاګان مو په کومو رنځو اخته دي؟ نو بیا ورته وایي چې غوږونه مو بیدار او سترګې مو بینا کړئ نو ددې علاج دادی چې تاسې د لیلې د پښو خاورو ته سر کښېږدئ او سجده ورته وکړئ، خو خلکلو به خندلې او ویل به یې دا سړی ریښتیا مجنون دی.

د زمانې یو دفتر په ختمېدو و، یوه ورځ بیا لاروي د ښار منځ کې خلکو ته خطاب وکړ او ورته یې وویل چې ستاسو ستر واکدار

بادار خو تور ښامار دی. دا ښامار وینو ته تږی دی او زړه یې لکه سندان کلك دی. څومره چې خوراك او څښاك کوي هغومره وږی او تږی کېږي، خو دا بلا او ښامار ستاسو په خپله پر ځان مسلط کړی او له بل ځایه نه دی راغلی، تر څو چې دا ښامار په خپلو زړونو کې مړ نه کړئ خلاصېدی ورڅخه نه شئ.

په دې وخت کې ستر راهب چې د لاروي خبرې واورېدې نو یې وویل چې دا سړی خو رښتیا لېونی دی ځکه دا رازونه څوك ویلای شي. زه حیران یم چې ده دا رمز څنګه پیداکړی دی. راهب وویل چې دا خبرې ددې ښار د عالم نه دي دا د بل جهان اواز دی ، یوه دنیا په رڼګېدو ده. د ښار خلك ورو ورو د مجنون په خبره پوهېدل او یوه فرصت ته منتظر وو.

یوه ورځ لیلې او مجنون د ښامار دربار ته لاړل، همغه پېغله چې د لارې پر سر به منګي سره ناسته وه او تږو مسافرو ته به یې اوبه ورکولې، هغه د ښامار ماڼۍ ته لاړه، فرماندار لومړی خپل مخ مجنون ته واړوه: زه خبر یم چې ته له بل ځایه راغلی یې او موږ پناه درکړې ده؛ د دې ښار خلك خپلو عقایدو پرېښودو ته رابولې او وایې چې د دې ګدایي ګرې پېغلې پرستش وکړئ دا رښتیا ده؟ لاروي ورته ځواب ورکړ: ای فرمانداره ستا معبد لا نوی دی او دېوالونه یې پاخه نه دي، ددې سیمې رښتیني واکداره

اصلاً د عشق او میني الهه او رب النوع وو، د هغو په واکمنۍ کې دلته خوشالي وه، مینه وه، خو اوس چې زه ګورم هره خوا ریګستان دی، د زړه خوني رنګې بنګې دي او تور ښامار په کې ناست دی. زه اوس همدا حقیقت هر چاته بیانومه.

د واکدار وچولی تریو شو، د غضب اور یې په سینه کې لمبه شو، بیا یې وویل څه پروا مه کړه دا بې قدرته لېونی دی. بیا یې لاروي ته وویل چې تا د ښار په پېغلو کې دا سوالګره څنګه غوره کړې او زما د ښار خلك یې ولې سجدې ته رابولې، لاروی ورته وایي چې د ښار خلك خو د ښامار له وهمه ډارېږي که دا واهمه ختمه شي نو ښامار یو دم سقوط کوي. خو د بهار د رب النوع قوت په زړونو کې پروت و. دا لیلې خو په یو وخت کې د نوبهار الهه وه او دا هغه وخت و چې واهمه پر خلکو حاکمه نه وه، کله چې خلکو د ښامار پرستش پیل کړ، نو هغه بهر ته ووتله او د ورك مسافر لاره یې څارله، خو دا مسافر اوس راستون شوی خو افسوس چې دلته سترګې نا بینا دي او څوك یې نه ویني. ای واکداره زه ستا په وېره او ډار کې ستا سقوط ښه وینم- ښه خبر شه، دا شور ما شور چې ته یې اورې دا به نور هم زیات شي. ستر واکمن چې دا خبرې واورېدې نو له مجنونه ورته ډار پیدا شو. بیا یې په ډېر غضب پېغلې ته غږ کړ چې وایه ته څوك یې؟ " زه

خو زه یم! زه لیلي یم! زه د میني رب النوع، الهه د نوبهار یم." زه به له ښاره بهر هر ماښام ناسته وم او د خپل مسافر لاره مې څارله. هغه زه پېژندلم او لټولم. خو خبر شه چې نور به کوم مسافر دلته سفر ونه کړي، ځکه ټولې لارې بندې شوي او په ځوزانو پټې شوي. څو موده به تېره نه وي ته به هم د خپل پلار نیکه په لار روان شې، زه به بیا د بهار لاره څارمه. فرماندار چې دا ګفتار واورېد ، نو ډېر په غصه او په لړزه شو. ده فکر کاوه چې دا خبرې یې کوم چېرته اورېدلي دي. واکدار بېرې او واهمې واخیست او ویې ویل دا خو دواړه لېوني دي. زه وېرېږم چې د دوی لېونتوب ساري نه وي او د ښار نورو خلکو ته انتقال نه شي او بیا یې فوراً لاروی او لیلي له خپل درباره وشړل. فکر یې وکړ که مړه یا زنداني یې کړي نو ښار کې به شورش جوړ شي، پېغله بېرته له ښاره ووتله او لاروی د ښار په کنډوالو کې د عالم په تماشه شو، د ابدي څرخ وخت راغی، مجنون د ښار په وېرانه کې د جهان فرماندار په ماڼۍ کې دځان تماشا کوله. لاروي ولیدل چې د ښار پېغلې، ځوانان او کوچنیان پر بېلابېلو ناروغیو اخته دي او بې وخته مري، خو یوازې راهب ډېر عمر وکړ خو هغه هم بلاخره خپل روح خپل نا اشنا ښتن ته تسلیم کړ، معبد ورو ورو شړېده ځکه بل ښامار پرست پاتې نه و.

د راهب شاګردان هم چېرته لرې لاړل، د ماڼۍ په دېوالونو کې لوی چاودونه پیدا شول، اغزن بوټي شنه شول او په پای کې ښایسته قصر ویجاړ شو.

یوازې لاروی او فرماندار پاتې وو، لاروی په وېرانه کې او فرماندار په خپله ماڼۍ کې، هېڅا دلته ګذر نه کاوه څکه ټولې لارې بندې وې، یو ماښام چې توره تیاره شوه یوه زړه، مرموزه بوډۍ راپیدا شوه د لوګي کمیس او پرتوګ یې پر تن و، بوډۍ ښار ته ننوته، بوډۍ ته هر څه په خپل سر خلاص شول، دا بوډۍ لاروي سره اشنا وه او هغه پوهېده چې دا د څه لپاره راغلې ده، اوس په قصر کې دننه ده د بوډۍ او بادار په منځ کې څه خبرې کېږي. څو شېبې وروسته دواړه د ماڼۍ له کنډوالو راووتل، بوډۍ مخکې او قهرمان یې تر شا روان وو. کومې نامعلومې خواته لاړل، خو مجنون هلته یوازې پاتې و، د زمانې دفتر ورته له اغازه تر انجامه پروت و. موسمونه او فصلونه تلل راتلل، یوه شپه یې کتل چې د افق په تورو لمنو کې رڼاګانې راښکاره شوې، دی په رڼا پسې روان شو. ډېر مزل یې وکړ د سیند غاړې ته نږدې شو، د سیند غاړې ابادې وې، هره خوا خوشالي وه، د پېغلو او ځوانانو راز او نیاز وو، مشران په دېره کې ناست وو، مرکې وې، مشورې وې، ماشومان د سیند پر غاړه لوبېدل او هغه نا اشنا پېغله مستته

خرامانه ګرځېدله، د وحشي ګلونو تاج يې پر سر پروت و، د بهار د ورږمې په شان الوتله، لاروي د نیمو شپو چې دا حال ولید بې اختیاره په خندا شو ځکه پوه شو چې یو ځل بیا د ستر قهرمان او پهلوان او د عشق او مینې د ښکلې رب النوعې، ا لهی داستان شروع شو او یو ځل بیا د تور ښامار مار لویه او اوږده افسانه له سره پیل شوه.

# د خوشال د قصایدو روح

**دا لیکنه له پېښوره خپرېدونکې د دانش خپرندویه ټولنې خپرني ارګان الفت مجلې په پرله پسې (۲۲)مه ګڼه کې خپره شوې ده.**

قصیده په پښتو نظم کې یو ځانګړی جلا فورم دی، چې اساساً له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلی دی، خو د قصیدې ځای په پښتو نظم کې دومره جوت او ټینګ دی، چې سړی فکر کوي بولله یا قصیده خپله کوم ځانګړی پښتو شعري فورم دی. له عربي ژبې څخه پښتو ته په راغلیو شعري فورمونو کې تر (غزل) وروسته د قصیدې فورم زیات کارول کېږي، د پښتو په لاسته راغلې لرغونې شاعرۍ کې د ښکارندوی غوري او شیخ اسعد سوري پخې قصیدې ددې ادعا ښکارندوی دي. څه ناڅه په روښاني پېر او بیا تر هغه وروسته د پښتو په نوره کلاسیکه شاعرۍ کې د قصیدو دود ښه پالل شوی دی، په پښتو اوسنۍ معاصره شاعرۍ کې هم د قصیدې ویلو دود پال شوی او پالل کېږي ؛ خو که موږ په ټولیز ډول د پښتو شاعرۍ ټول بهیر ته نظر وکړو او ټول شاعران د قصایدو د څرنګوالي او څومره والي له پلوه سره پرتله کړو؛ نو د لوی خان (خوشال خان بابا) ځای او مقام به په کې په ډېر جوت او ځلند ډول را تر سترګو شي. خوشال بابا په لسګونو قصیدې لیکلي، چې زیاته

برخه یې تر موږ رارسېدلې ده. دا ټــولې قصــیدې د یــو ژور سیاســي، ټولنیز، عرفاني، اخلاقي او ملي فکر لېږدوونکــې دي، چــې هــره یــوه ځانګړې او جلا خوند لري او زموږ په ذهن کې یــوه ځــانګړې پېښــه او موضوع روزي او تداعي کوي، خو ټولې یــې د قصــیدې لــه معمــول او دودیز تعریف سره پوره پوره سمون نه خوري. د قصیدې دودیز تعریــف دادی:

هغه نظم، چې لومړی بیت یې مقفــی وي او د نــورو بیتونــو د هــرې دویمې مصرې قافیه یې د مقفی بیت د قافیې تابع وي، د بیتونو شــمېر یې له (۱۵) څخه پیل بیا تر (۲۰۰) بیتونو هم زیاتېدی شي، ردیف په کې اختیاري دی، خو قافیه په کې حتمي ده. هره قصیده له معمول تعریــف سره سم د مانا له پلوه پر دریو برخو وېشل کېږي:

۱- تشبیب یا تغزل، چې د قصیدې پیل ګڼل کېږي او معمولاً په کې تر اصلي مطلب دمخه د سریزې یا پیلامې پــه ډول د طبیعــت د منــاظرو ستاینه کېږي.

۲- اصلي مطلب، چــې شــاعر غــواړي د خپــل زړه خبــره همدلتــه راوسپړي، خپل ممدوح توضیح، تشریح او توصیف کړي.

۳- د قصیدې(۳) برخه، هغه وروستۍ برخه ده، چــې شــاعر خپــل ممدوح په ژوندانه کې سوکال، سر لوړی او بریمن غواړي او پــه اخــرت

کې ورته د خدای(ج) له درباره د ښښنې، مغفرت او د جنتونو هیله کوي. که موږ د شیخ اسعد سوري:

د فــلک لــه چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

او هم د ښکارندوی غوري بوللــه:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړل سینګارونه
بـــــــــیا ولونل په غــرونـــو کې لالونه

دواړو ته نظر وکړو؛ نو ګورو، چې لومړی د مانا له پلوه ویرنه او دویمــه هم ستاینه-ویاړنه ده، چې دواړه د قصیدو له معمولــو تعریفونــو ســره سمون لري، خو خوشال بابا لکه څرنګه چې غزل یې پښتون او ملتپال کړ او له دودیز حالته یې راوویست، دغسې یې قصیدې ته هم نوی رنګ او خوند ورکړ، د یوې ځانګړې پېښې یا شخص د تائیــد او توصــیف لــه حالت نه یې راوویست، ټولنیز، سیاسي او عرفاني یــې کــړ. د پخوانیــو قصیدو یوه ځانګړنه دا وه، چې د ټولو یا زیاترو بیتونو مانا یې له یوه بل سره په ارتباط کې وه. د مانا له پلوه هر بیت له بل څخه متاثر و، یانې دا چې د غزل په شان یې هر بیت پوره او خپلواکه مانا نه لرله، خو خوشال بابا دا دود هم مات کړ، کله چې د خوشال بابا ګڼې بوللې مطالعه کــوو، نو د قصایدو د نوي رنګ او خوند ترڅنګ مو پــرې د غــزل مینــه هــم ماتېږي، سړی فکر کوي یو اوږد غزل لــولي، ځکــه چــې دده قصــیدې

داسې ځانګړنه لري، لکه د غزل په شان، چې هر بیت یې یوه مستقله مانا ښندي.

## اوس راځو د خوشال بابا د بوللو فکري یامانیز اړخ ته:

شعر پوهان (فکر) د (شعر روح) ګڼي، چې بې له هغه شعر ژوند نه شي کولای، بې فکره شعر داسې دی، لکه بې روحه جسم او جسم، چې هر څومره ښکلی وي، چې روح ونه لري، ژوند نه شي کولای، خو د فکر تر څنګ شعر پوهان د شعر پر ښکلا هم ډېر ټینګار کوي او هغه د شعر د بقا اساسي عنصر بولي. د شعر ښکلا په رنګینو او لطیفو کلمو، تخیل، عواطفو او د هغو په منظم او موزون استعمال تضمینېږي او تامینېږي.

ډېر شعر پوهان پر شعر باندې د زیات فکر بارونه د شعر ښکلا ته زیان رسوونکي ګڼي او وایي، چې دا کار د شعر (شعریت) له منځه وړي او کله چې د یوه شعر شعریت له منځه لاړ، هغه خپل هنري ارزښت له لاسه ورکوي او او پر تشو خبرو بدلېږي.

د افغانستان د یوه ادیپوه او کره کتونکي کاندید اکاډیمیسن محمد صدیق روهي له نظره: په (شعر) کې (شعریت) دومره مهم دی، لکه په (سړي) کې (سړیتوب). لکه څنګه چې (سړیتوب) د سړي جوهر دی، دغسې (شعریت) هم د شعر جوهر دی، د روهي صاحب په نظر ( د هر ښه فکر بیان شعر نه دی) د بېلګې په توګه هغه وایي: که یو څوک د

هېواد پنځه کلن اقتصادي پلان په نظم کړي، نو ایا هغه به ښه شعر وي؟ سره له دې چې ښه فکر دی، د روهي صاحب د نظر وروستۍ نتیجــه دا ده، چې هر ښه فکر باید شعر ته تر ورداخلېدو واردمخــه ښــه صــیقل شي، د شعر له نورو تلازماتو (ښکلا) سره غاړه غړۍ شي او بیا شعر تــه ورداخل شي. لنډه دا چې پوهانو د شعر پر ښکلا ییزو او فکري خــواوو دواړو باندې په متوازنه توګه ټینګار کړی دی.

خوشال بابا د یو ادبپوه او شاعر په توګه د شعر د رغنده توکونو انډول ته ډېره پاملرنه کړې ده، په تېره بیا په خپلو غزلو کې، سره له دې چــې په بوللو کې د فکري برخې وزن تر ښکلاییزې هغې یو څه زیــات دی او یوه وجه یې هم کېدی شي دا وي، چې دا فورم د ښکلا په انډول د فکر د انتقال لپاره زیاته وړتیا لري.

د خوشال بابا په بوللو کې د طبیعي پېښو انعکاس، ټولنیزې ناخوالې، سیاسي او پوځي پېښې، ملي او عرفاني مسایل، ځاني او کورنۍ پېښې، ستونزې او کشمکشونه او نور په لسګونو ډوله پېښې او مســایل بیــان شوي دي، خو که دا ټول مسایل او پېښې سره پرتله او انډول کړو، نو د خوشال د ملتپالنې احساس او فکر به په کې تر ټولــو زیــات پــه نظــر راشي، په حقیقت کې همــدا ملتپالنــه او ملــت جوړونــه د خوشــال د قصایدو اساسي روح دی.

د خوشال په ټوله شاعرۍ، په تېره بيا په قصايدو کې ملتپالنه داسې حيثيت لري، لکه په (شمسي نظام) کې چې يې (لمر) لري. (لمر) د شمسي نظام چورليز (محور) دی او ددې لمريز نظام نورې ټولې سيارې د همدې لمر پر محور راڅرخي، د خوشال په شاعرۍ او په همدې قصيدو کې هم، ملتپالنه او ملت جوړونه همدا حيثيت لري. د خوشال د قصايدو روح همدا ملتپالنه ده، خو نور ګڼ ټولنيز، عرفاني، اخلاقي او غنايي مسايل، چې په قصايدو کې راغلي بيا هم په يو نه يو ډول له ملتپالنې او ملت جوړونې سره ارتباط لري او پر همدې محور چورلي.

دلته به د خوشال بابا پر ځينو قصيدو او دهغو پر مانيزو خواوو لنډه رڼا واچوو:

د خوشال خان خټک په کلياتو کې لومړۍ ثبت شوې قصيده داده:

ای چې خيال کړې په دنيا
دنيا څه ده بې وفا
که دې يو زمان زړه ښه کا
بيا دې ژر کا په ژړا
که رضا په قضا ورکړې
نور خوشال يې په رښتيا.

خوشال په دې (۱۲۳) بيتيزه قصيده کې دا نړۍ يوه فاني دنيا ګڼــي، چې راحت په کې نه شته او د ده په نظر يوه ((دارالبلاد)) ده، چې هــره يې د لايتناهي هوسونو يوه ټولګه ده، چې هېڅ خړوب او پوره کېدنه نه لري. خوشال پــه دې قصــيده کــې د ســليمان(ع)، بهــرام، جمشــيد، سامانيانو، عباسيانو، غزنويانو، سلجوقيانو، دارا، سکندر او نورو نړيوالو شخصيتونو نومونه اخلي، چې يو وخت يې ښه شان او شوکت و، خــو د زمانې د جبر قانون، له مخې لرې کړل. د خوشال دا قصيده له اخلاقــي نصيحتونو او عرفاني ورمونو ډکه ده او په پــای کــې لوســتونکي تــه دا نتيجه ورکوي، چې ازل او تقدير ته ورتسليم شي او څه چې په قضا کې ليکل شوي، د بدلون وړ نه دي او نېکمرغه انسان هماغه دی، چــې پــر قضا باور لري. د (قضا) او (قدر) مسله په اسلامي فقه کې يــوه پېچلــې مسئله ده، خو خوشال بابا اسلامي شرعې ته د يو ژمن شخص په توګــه پر دې باور دی او دده په نظر خوشال او نېکمرغه انســان هماغــه دی، چې خپل برخليک له (قضا) سره تړلی وګڼي، پر (قضا) باور د انســان د روحي تسکين لپاره داسې يوه اساسي سرچينه ده، چې هېڅ بله مرجع يې بديل کېدلای نه شي.

خوشال د (پوه او ناپوه) ترنامه لاندې په خپله يوه بله اتلــس بيتيــزه قصيده کې، د پوهې او بصيرت ارزښتمندۍ ته اشاره کوي، پوه او نــاپوه شخصيتونه سره پرتله کوي، خوشال په دې بوللــه کې لوستونکي ته دا

ثمره او نتیجه وړاندې کوي، چې (ناپوهي) د انسان لپاره مړینه، ان تر هغې هم بدتره ده. دی په خپله قصیده کې په ډېر ظریفانه ډول د عیسی(ع) معجزې ته اشاره کوي، چې خدای(ج) عیسی(ع) ته دومره واک و ځواک ورکړی و، چې پخپله امسا به یې مړي راژوندي کول، خوشال بابا وايي، چې عیسی(ع) خو ډېر مړي راژوندي کړل، خو ددې مثال موږ نه دی لیدلی، چې کوم (ناپوه) یا نادان یې (عالم) کړی وي. په دې قصیده کې خوشال بابا په ټولنه کې د پوهې ضرورت او اهمیت په ګوته کوي او دا ګڼي، چې پوهه ټولنې ته د نوش دارو یا ((آب حیات)) ارزښت لري او ناپوهي د مرګ معادله او یا هم تر هغه بدتره ده:

که دروغ کړي که رښتیا
هر څه ښه دي د دانا
مړه یې پاڅول له ګوره
نابینا یې کړل بینا
یو نادان یې دانا نه کړ
په درست عمر مسیحا.

لکه څنګه چې پوهېږو، انسان یو ټولنیز موجود دی او څه چې په ټولنه کې پېښېږي، له هغو څخه متاثر کېږي، شاعر بیا د یوه حساس انسان په توګه تر هر چا زیات د ټولنې ناخوالو ته متوجه وي او له هغو څخه اغېزمن کېږي. پر (۱۰۹۷هـ ق) کال د پښتونخوا پر زیاترو سیمو،

یوه لویه وبا خوره شوه، لومړی وچکالي راغله، بیا وړپسې قحطي راغله، چې وروسته وړپسې د وبا ناروغي خوره شوه او په زرګونو خلک یې تباه کړل، په دې ناروغۍ کې د خوشال یو زوی (بخت ناک) او د هغه مور هم وفات شول او همدارنګه د خوشال یو لسمی، چې د قرآن کریم حافظ هم و، د دې ناروغۍ له کبله د یوه لېوني شوي سپي د داړلو له کبله ومړ، دا یوه ډېره دردونکې غمیزه وه، چې له دکنه تر کابله ټوله سیمه یې وځپله، خوشال بابا همدا پېښه په (۲۳) بیتیزه قصیده کې په ډېر درد او سوز رانغاړلې او په همدې قصیده کې یې خوندي کړې ده:

د غــــــواص د کـــــــال وبـــــــا
خـــــدای یـــــې مـــــه راولـــــه بیـــــا
اکوړخېـــــل مـــــې پـــــه کـــــې ومـــــړل
لـــــوی هلـــــک مـــــرد و نســـــا
پـــــه لکونـــــو عـــــالم ومـــــړ
چـــــې ښـــــارونه شـــــول صـــــحرا
کـــــال حصـــــغ شـــــو وبـــــا لاړه
هـــــم عســـــرت کـــــړه راتـــــه شـــــا.

( غواص) د ابجد په حساب (۱۰۹۷هــ ق) کال کېږي او (حصغ) (۱۰۹۸) کال کېږي، یانې دې وبا یو کال دوام کړی و.

خوشال د خپلو ګڼو نورو ځانګړنو ترڅنګ دا ځانګړنه هم لري، چې دی یو ښه بشرپوه او ټبرپوه هم و، انسان پېژندنه ډېره سخته ده، د انسان د پېژندنې لپاره د هغه علمي، ټولنیز چاپېریالیز شالید ډېر مهم دی، خو خوشال بابا ددې ځانګړنو ترڅنګ د انسان د شخصیت په پېژندنه کې د هغه ارثیت یا اصل او کورنی عنصر ډېر مهم ګڼي، سره له دې چې ځینې بشرپوهان د انسان په وده او د شخصیت په ټاکنه کې محیط یا چاپېریال اساسي عنصر ګڼي، ارثیت ته ډېر اهمیت نه ورکوي، خو ځینې ارواپوهان بیا په دې نظر دي، چې د انسان د شخصیت وده د مور په رحم کې د هغه د نطفې له تشکل سره سمه پیلېږي او د مور او پلار جنتیک، اروایي او نور ټولنیز خصوصیتونه مستقیماً د هغوی اولادونو ته انتقالېږي.

خوشال بابا وایي: د هغه چا چې ذات خطا وي یا کمذات وي، له هغوی سره باید دوستي ونه شي.

چې یو ځل ښېګڼه ووینې له چا
په یوه یې شل بدې کړه تر شا
له کمذات سره یاري اشنایي مه کړه
له کمذاته به بیا نه مومي وفا
چې د سپي په پیو لوی کا خوک ورغومی
لکه سپی هسې ورغومی کا غپا
په ویل ښېیل به هېڅکله ښه نه شي

چــې بــدبخت لــه مــوره پــلاره شــي پیــدا.

خوشال په خپلو قصایدو کې د انسان پر ذاتي پېژندنې سربېره، ګڼـو عرفاني، شرعي او نورو مسایلو ته اشاره کړې او هغه یې په خپلو بوللـو کې رانغاړلي دي، خوشال د دنیا بې وفایي په خپلو قصـیدو کــې ځــای ځای غندلې ده:

زړه ســــــفر لــــــه دې دنیـــــا
پــــه تحقیـــق دی پـــه رښـــتیا
کـــه څـــه زر کالـــه پـــایېږي
هـــم دې نـــه ویـــنم احیـــا
د خوشـــال ژونـــدون پـــه خـــدای دی
نـــه شـــهباز ده نـــه یحیـــا.

خوشال د اسلامي شرعي لارښوونو د یوه پلوي شخص په توګه خپــل مذهبي احساسات په څرګندو الفاظو، قصایدو ته ورداخــل کــړي دي، وایي:

دا همـــه واړه د شـــرعې خـــدمتګار دي
محتســـب، قاضـــي، مفتـــي، مـــلا خطیـــب
په جهـان کـې بـل رقیـب د شـرعې نـه شـته
کـه رقیـب دی یـو شـیطان یـې دی رقیـب

رنځ، زحمت دې خدای ور نــه کانـدي خوشــاله!
ګنــه کـــړه دارو د شـــرعې پــــه طبیـــب.

خوشال د اسلامي شرعې ترخنګ ګڼ نور نصیحتونه او پندونه هم په خپلو قصیدو کې ځای کړي او د پیغمبر حضرت محمد(ص) په ســتاینه کې یې هم یوه (۱۹) بیتیزه قصیده ویلې ده. هغه د خپلو نصیحتونو پــه لړ کې وایي:

درتــــه وښــــیم کیمیـــا د ســــعادت
لـــه بـــدانو ســـره مـــه کـــوه صـــحبت
د نمانځـــه تـــر قضـــا ګرانـــه دا قضـــا ده
چـــې قضـــا شـــي د څلـــورو مصـــلحت
چې جامه یې پاتې نه شي مـرده شـوی تـه
خدایه! ورکـړې و خوشــال هســې رحلــت.

خان زموږ د پیغمبر حضرت محمد(ص) د ستاینې په باب وایي:

د خدای عرفــان چــې وشــو پــه عرفــان د محمــد
پـــاک دی محمـــد پـــاک دی ســـبحان د محمـــد
ډېـــر خلـــک پیـــدا دي انبیـــا کـــه اولیـــا دي
نه شــته پــه خلقــت کــې پــه بــل شــان د محمــد

دا جهـــان هغـــه جهـــان کـــه واړه ســـره یـــو کـــړې
لا تـــر دا نـــــه لـــوی دی بـــل جهـــان د محمـــد.

د خوشال په بوللو کې د ګڼو افاقي مفاهیمو تر څنګ له خپلو زامنــو بېزاري، ګڼ کورني مسایل، د ځان پېژندګلوي او ځینې نور ذاتي مسایل هم ځای شوي دي، خو د خوشال د قصایدو درنه مانیزه برخه هماغه د ده او دده دملګرو د سیاسي، پــوځي او ملــي مبــارزو نچــوړ دی، چــې بېلابېلو قصیدو ته یې لاره پیدا کړې او په هغو کې انځور شوي دي.

ددې قصیدو له جملې څخه یوه هم (له پښتون نه ګیله) نومېږي، چې ټول (شپږ څلوېښت) بیته لري او په دې مطلع پیلېږي:

بیـــا لـــــه کومه راپیدا شو دا بهار
چې په هر لوري یې ملک کړ یو ګلزار

دا قصیده د دودیزو قصیدو په شان لــومړی د طبیعــت پــه ســتاینه پیلېږي، بیا وروسته اصلي موضوعګانې راسپړي او د هغــو څرګندونــه کوي:

پښـــتنو زلمیـــو بیـــا لاســـونه ســـره کـــړل
لکه باز منګولې ســرې کــا پــه خپــل ښــکار

سپيني توري يې ګلګوني کړې په وينو
په اهار کې شګفته شو لاله زار
ايمل خان دريا خان دواړه مرګ يې مه واى
هېڅ تقصير دواړو، ونه کړ وار په وار
د خيبر دره يې سره کړله په وينو
په کړپه يې هم روان کړ دندو کار.

خوشال په دې قصيده کې د خيبر په دره کې د تاترې د تاريخي جګړې، چې څلوېښت زره مغول په کې تباه شول، انځور کښلى او همدارنګه د (کړپې) جګړه، چې پښتنو توريالیو په کې خپله اتلولي او مېړانه څرګنده کړه. دغه راز په دې قصيده کې د تاترې پر جنګ سربېره، د (دوابه)، (د نوښار د کوټ)، (ګنداب)، (خاپښ) او نورو جنګونو يادونه شوې او د هغو د اتلانو يادون په کې راغلى دى، دا قصيده په حقيقت کې يوه حماسه او وياړنه ده، چې خوشال پکې د خپل ولس او خپلو اتلانو د جنګونو يادونه او ستاينه کوي او ددې ستاينو ترڅنګ د پښتنو ځينو نيمګړتياوو ته د انتقاد په سترګه ګوري او د هغوى يادونه کوي:

اول جنګ د لوړې شا د تهترو و
چې څلوېښت زره مغول شول تار په تار

خویندې لونـه یـې پـه بنـد د پښـتنو شـوې
اس اوښـــان هاتیـــان ولجـــه کتـــار کتـــار
دویـم جنـــګ میرحســـیني و پـــه دو آب کـــې
چـــې یـــې وتکېـــده ســـر لکـــه د مـــار
بیـــا لـــه پســـه د نوښـــار کـــوټ جنـــګ و
چـــې مـــې وکـــېښ تـــر مغولـــو خپـــل خمـــار
بیا له پسه جسونت ســنګه، شــجاعت خــان و
چـــې ایمـــل یـــې پـــه ګنـــداب ویوســـت د مـــار
شپږم جنګ مکرم خـان شمشـېر خـان دواړه
چې ایمل کـړل پـه خـاپښ کـې تـار پـه تـار
چـــې زمـــا پـــه یـــاد دي لـــوی جنګونـــه دادي
د هلکـــو پـــه هـــر لـــوري نـــه شـــته شـــمار.

په دې قصیده کې خوشال د پښتنو د اتلولیو تر څنګ د اورنګزېـب د مکر و فریب، ظلم او ستم انځور هم کښلی دی او وایي، چـې لـه ډېـر ظلم، ستم او خصومت څخه یې خپل پلار هم بنـدي کـړی و. خوشـال خان په دې قصیده کې د پښتنو نیمګړتیاوو ته هـم ګوتـه نیسـي او د خلاصون لارې چارې هم په ګوته کوي:

په داهسې وخت چې وخت د نـام و ننـګ دی
دا بـــې ننګـــه پښـــتانه کـــا څـــه رفتـــار
پښـــتانه چـــې نـــور څـــه فکـــر کـــا نـــاپوه دي

بې د تـــورې خلاصــی نــه شــته پــه بــل کــار
تـــر مغولـــو پښـــتانه پـــه تـــوره ښـــه دي
کـــه پـــه پوهـــه پښـــتانه وای څـــه هوښـــیار
اولســـــونه چـــــې ســـــند وبلـــــه وکـــــا
بادشـــاهان ورتـــه ســـجود کانـــدي اختیـــار
همېشه بــه پــه جهــان کــې ژونــدون نــه وي
د خوشـــال ختــک بـــه پـــاتې شـــي یادگـــار.

خوشال د ټولنیزو او سیاسي مسایلو ترڅنګ د شعر په باب هم څـو قصیدې لیکلې او دا چې شعر په کـوم حالـت کـې و او کـوم تـه یـې راورساوه، په دې باب یې څرګندونې کړي. لـومړۍ قصـیده یـې (۲۵) بیتونه لري او د ځینو مطرح شاعرانو او د هغو د ادبي موقف یادونه هـم په کې شوې ده:

پـــه پښـــتو شـــعر چـــې مـــا علـــم بلنـــد کـــړ
د خبـــرو ملـــک مـــې فـــتح پـــه ســـمند کـــړ
مـــــدعي د تـــــورې شـــــپې اور اور کـــــی و
د سهیل غوندې مــې ځــان بانــدې څرګنــد کــړ
د میـــرزا دېـــوان مـــې ومانـــده پـــه ګـــوډې
مســـخره مـــې ارزانـــي خښـــکي زمنـــد کـــړ
دروېـــزه مـــې لـــه مخزنـــه ســـره ونغـــړ
پیر روښان مې یـاوه ګـوی سـرهماننـد کـړ
کـــه دولـــت و، کـــه واصـــل و، کـــه دا نـــور وو
پـــه خبـــرو مـــې د هـــر یـــوه ریشـــخند کـــړ

قتلمـــې مـــې ورتـــه ســـازې کـــړې د قنـــدو
د اوربشو په ډوډیــو چـــې چـا شـــخوند کـــړ
پـــه تـــازه تـــازه مضـــمون د پښـــتو شـــعر
پـــه معنـــی مـــې د شـــېراز او د خجنـــد کـــړ.

خوشال د شعر په باب په خپله دويمه قصيده کې، چې (۱۳۸) بيتونه لري، نه يوازې په پښتو شعر کې د خپل دريغ او خدمت په باب خبـرې کوي، بلکې د هغې بلې قصيدې په شان د نورو شـاعرانو د موقـف او د نورو ژبو د شاعرانو يادونه هم کوي، دغه راز خوشال په دې قصيده کې د شعر د ماهيت، تعريف او ارزښتمندۍ پــه بــاب هــم خــورا تفصــيلي څرګندونې کړې دي او دا قصيده په حقيقت کې د شعر پوهنې په برخه کې خپله د يوه لوی شاعر يو ښه تېزس او لارښود ګڼل کېږي. د شعر په برخه کې دا قصيده ځکه زيات ارزښت لري، چې خپله د يوه لوی شاعر او يوه لوی ادبپوه او شعر پوه له خوا ليکل شوې او وړاندې شوې ده:

زه د شعر پـــه کـــار هـــېڅ نـــه يـــم خوشـــال
ولـــې خـــدای مـــې کـــړ پـــه غـــاړه دا مقـــال
نـــه پـــه فکـــر نـــه پـــه ذکـــر رابرســـېر شـــي
ناګهــــــان لکـــــــه اوره د پشـــــــکال
چې د شعر فکـــر ورشـــي پـــه مجلـــس کـــې
نـــور عـــالم خـــلا هـــوس کـــا دی مـــلال
شـــعر کـــار د هـــر فاســـق د فـــاجر نـــه دی
نـــه د هـــر يـــوه وړ ســـترګي د کنګـــال
د هغـــه شـــاعر دانـــې وشـــه پـــه ژبـــه

چــې د شــعر دردانــې پلــوري پــه مــال.

که موږ د خوشال د قصیدو معنوي اړخونه تحلیل او تجزیه کړو، نو دا خبره به راته لا ښه څرگنده شي، چې دا قصیدې په حقیقت کې د مانــا (کانونه) دي، چې بېلابېل او رنگارنگ غمي په کې تر ســترگو کېــږي، د خوشال د قصایدو څېړنه خورا زیات کار، کتاب او کتابونه غواړي، پر یوه قصیده یې هم کېدی شي کتاب او کتابونه ولیکل شي، خو که په لنډیز سره د خوشال د قصیدو مانیزو خواوو ته اشاره کوو، نو ویلای شو چــې په دې قصیدو کې عرفاني، ټولنیز، سیاسي، پوځي، ذاتي، اروایي، دیني او نور رنگارنگ مسایل تحلیل شوي او مطرح شوي او لوستونکي ته یوه مثبته نتیجه په مخ کې ایښودل شوې ده. د خوشال د قلم او فکر قوت او مهارت په دې کې دی، چې ډېره لویه موضوع یې په ډېرو لنډو او کمو الفاظو کې خلاصه کړې او لوستونکي ته یې وړاندې کــړې ده، یــانې دا چې د موضوع کوچ او غوږ یې لوستونکي ته وړاندې کړي دي. خوشــال ته لوی رب داسې یو لوی او خارق العاده استعداد ورکړی و، چې ((بحــر یې په کوزه کې را ایسارولای شو)).


Yoon Cultural Foundation
افغاني
اوسنۍ رسنۍ
(۱۳۸۰-۱۳۸۷)
PRESS
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# افغاني اوسنۍ رسنۍ

## (۱۳۸۰-۱۳۸۷ل کلونه)

## ( د ماسټرۍ دورې تېزس)

## لیکوال

## محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | افغاني اوسنۍ رسنۍ |
| لیکوال: | پوهندوی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۳۱) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۳۱) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

# ددې اثر پر لومړي چاپ څو خبرې

د څومره والي له پلوه څو تېر (۷-۸) کلونــه د افغــاني رســنیو لپــاره طلایي کلونه دي. ما د همدې کلونو په بهیر کې د هېواد رسنیز بهیر له نږدې څارلی او په خپله مې هم د رسنیو د یو غړي او همکار پــه توګــه کار کړی دی. کله چې د ماسترۍ دورې په پــای کــې د تېــزس لیکلــو موضوع مطرحه شوه، نو ما د همدې رسنیز بهیر د څېړنې موضوع ځکه غوره وګڼله، چې زیات اهمیت یې درلود. په دې څېړنه کــې بــه درانــه لوستونکي د لومړي لاس داسې مواد ولولي، چې د لومړي ځــل لپــاره خپاره شوي دي. کله چې ما دا اثر تر نسبي بشپړاوي پورې ورسوه او یو شمېر لیکوالو او فرهنګیانو ته مې د لیدلو لپاره ورکړ، نو اکثــرو خــوښ کړ او د عاجل چاپ غوښتنه یې هم وکړه. ما د موضوع د اهمیت او زما د ګرانو قدرمنو لیکوالو د غوښتنې له مخې دا اثر چاپ ته ورکړ، پر دې هم پوهېږم، چې زما له دېرو هڅو سره سره بیا هم په دې اثر کې ګڼــې نیمګړتیاوې او تېروتنې شته، خو تر هغه پورې چې یو اثر چاپ نه شي، لوستونکي او خپله لیکوال یې بیا ونه ګوري، ټولې نیمګړتیاوې یې نــه څرګندېږي.

نو زه يې اوس په همدې نيت لومړي چاپ ته لېږم، چې نيمګړتيــاوې يې لا ښې ځرګندې شي، له درنو لوستونکو هيله من يم، چې تر چــاپ وروسته يې نميګړتيــاوې راپــه ګوتــه کــړي، خپــل نــور معلومــات او وړانديزونه يوځای ماته راولېږي، چې تر دويم چاپ دمخه له هغو څخــه ددې اثر په بډاينه کې ګټه واخلم.

په مينه او درناوي

په هېواد کې د يو ګټور ملي رسنيز بهير

د غوړېدو په هيله

پوهندوی محمد اسمعيل يون

ارګ- د جمهوري رياست ودانۍ

کابل- افغانستان

د ۱۳۷۸ل کال د کب ۲۵مه نېټه

# افغاني اوسنۍ رسنۍ او یوه لنډه یادونه

څه موده پخوا د هند په یوه لرې پرته سیمه کې یوه تن غوښتل، یوه غیر دولتي موسسه، له کلیوالو سره د مرستې په مقصد پرانیزي. ددغه ټولنیز کار لپاره یې هغه څه او شرایط چې اړین وو، هم پوره او برابر کړل، یوه سلاکار دده د دغو هڅو ټول اړخونه مثبت وارزول، خو یوه خبره یې دا هم ورته وکړه، چې که په دغه کار کې له صداقت څخه کار وانخلې، نو ټولې هڅې به دې له خاورو سره برابرې شي، په دې چې نن سبا په هند او نړۍ کې د ډله ییزو رسنیو بهیر دومره پیاوړی شوی، چې یو ووړ خیانت هم ترې پټېدلای نه شي...

د سړي چې دغه ټکي ته پام شو او خپل درغل نیت ته یې وکتل، نو په ډاګه یې اعتراف وکړ، چې دی د دغه ازاد بهیر د ځواب ویلو نه دی، ځکه یې د هغه کار لارښوونه یوې مېرمنې ته پرېښوده.

خبره داده، چې په اوسنۍ نړۍ کې رسنۍ او مطبوعات د هرې ټولنې په جوړښت کې د رګونو ځای او دنده لري، داسې چې هغې ټولنې ته وده ورکوي او د پرمختګ پر لوري یې لار پرانیزي. د انګرېزانو په اړه، چې یو وخت یې د نړۍ لارښوونه کوله اوس دا خبره ویل کېږي، چې که په اوسني عصر کې همدغه رسنیزه وړتیا ترې لرې کړې، نو د ځان د لوړتیا ښودنې لپاره به په نړیواله کچه بل هېڅ لامل له ځان سره ونه لري.

رسنۍ که له یوې خوا په نړۍ کې د ډیموکراسۍ او ازادۍ له بهیر سره جوړه روانې دي، نو له بلې خوا یې روزنیزه دنده هم په ځانګړې توګه دومره د یادونې وړ ده، چې د ټولنیز سمون او هڅون ستنې، چې د اوسنۍ پرمختللې ټکنالوژۍ پر بنسټونو باندې ولاړې دي، پیاوړي کړې دي.

یون صیب په (افغاني اوسنۍ رسنۍ) اثر کې، چې ټول اووه څپرکي لري، په افغانستان کې د مطبوعاتو د بهیر پر ودې، سالمیت، ارزښت، اهمیت، اغېز او نورو وړتیاوو باندې ژوره رڼا اچولې او هغه یې په هر اړخیزه توګه څېړلي او معرفي کړي دي. په سریزه کې یې، په اویایمو کلونو کې د افغاني رسنیو بهیر ته کتنه کړې، په لومړي څپرکي کې یې د اوسنیو رسنیو د رامنځته کېدو عوامل، په دویم څپرکي کې یې د هغو ډولونه، په دریېم څپرکي کې یې د رسنیو تمویلي سرچینې، په څلورم څپرکي کې یې د رسنیو فکري تمایل، په پنځم څپرکي کې یې پر افغاني ټولنه د رسنیو اغېز، په شپږم څپرکي کې یې رسنۍ او ادبیات په مستنده او علمي توګه څېړلي او په اووم څپرکي کې یې د رسنیو د پرمختګ او اغېز لپاره خپل وړاندیزونه وړاندې کړي دي.

ددغه اثر یوه جالبه او د پاملرنې وړ برخه د هغه شپږم څپرکی دی، چې د هغه په ترڅ کې د ژورنالیزم او ادب دواړو پر اړیکو، پولو او دندو باندې هم غږېدلی دی. هغه موضوع چې نن سبا په نړۍ کې ددغو دواړو علومو په اړه لا هم د پوښتنې وړ موضوع ده، په دې مانا چې یو ژورنالستیک اثر څومره ادبي دی او یا دا چې څومره باید ادبي وي. په همدې شان یو ادبي اثر باید څومره ادبي وي او څومره باید ژورنالستیک وي یا نه وي؟ زموږ په ادبي څېړنو کې ډېر ځله ادبپوهانو

د معاصر افغاني ادبتاریخ پیل او معاصر افغاني ژورنالیزم تاریخ سره ګډ کړي دي، لکه چې وايي: ((زموږ معاصر ادبیات د سراج الاخبار له خپرېدو سره سم راپیل کېږي...)) په داسې حال کې چې د سراج الاخبار برخلیک تر ادب زیات له افغاني ژورنالیزم سره تړاو لري.

په هر ډول، موضوع په هر اړخیزه توګه نوې او لیکنۍ تګلاره (میتود) یې هم علمي او د نویو څېړنو پر وړتیاوو برابره ده. سربېره پر دې چې دا اثر په پښتو ژبه لیکل شوی، نو په دې کې شک نه شته، چې دا په خپله په پښتو کې یو بل علمي زیار او زیاتونه ده، چې باید په درناوي سره یې یادونه وشي، ځکه نو زه د ګران یون صیب ددغې بریالۍ هڅې ستاینه کوم او له لوی خدای(ج) څخه یې د پښتو او پښتنو د علمي خدمت په لاره کې د لا روښانه او بریمونو هڅو او یونونو هیله من یم.

په درناوي

پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشید

نوی ډیلی- هندوستان

۱۳۸۷ل کال، د کب (۲۰)مه نېټه

## د لاربښود استاد نظر:

# د اوسنیو رسنیو ارزونه یوه ګټوره هڅه

د طالبانو رژیم تر له منځه تګ وروسته په افغانستان کې رسنۍ پــه یو ناڅاپي ډول راټوکېدې، ددې کار یو علت دا و، چې په نوي رژیم کې رسنیو ته ډېره ازادي ورکړل شوه، د رســنیو قــانون جــوړ شــو، مــالي امکانات هم زیات شول او تخنیکي وسایل هــم ډېــر شــول. د رســنیو ډېرښت نه یوازې ددې سبب شو، چې خلک او چارواکي خپل نظرونــه او پیغامونه یو بل ته ورسوي، بلکې رســنیو د افغــاني ټــولنې د ژونــد بېلابېلې خواوې هم تر خپل پوښښ لاندې راوســتې او د ژونــد ډېــرې برخې، بریاوې او ناخوالې یې منعکس کړې.

ادبیات چې له رسنیو سره ډېر نږدې اړیکي لري او په واقعیت کــې د ادبیاتو د ودې، خپراوي او پرمختګ دروند بار د همدې رسنیو پــر اوږو پروت دی، نو رسنیو د ټولنې د ژوندانه دې مهم ډګر او اړتیا ته هم ډېــر پام راواړوه. ټولو رسنیو په خپلو خپرونو کې ادبیاتو ته ځانګړی ځای او وخت ورکړ، دا کار ددې سبب شو، چې زموږ ادبیات هــم ورســره ځــلا ومومي او وده وکړي. د رسنیو د ودې چټک بهیــر ددې ایجــاب کــاوه، چې دا مهم پرمختیایي بهیر باید له هر اړخیــز پلــوه وڅېــړل شــي او وارزول شي، له ادبیاتو سره یې اړیکي او د ادبیاتو پــه وده کــې د هغــو نقش هم وڅېړل شي. له نېکه مرغه د هېواد تکړه او ځیرمن لیکوال او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیــاتو پــوهنځي د پښــتو څــانګې اســتاد پوهندوی محمداسمعیل یون، لکه د نورو مهمو علمي او ادبي مســایلو

په شان دې مسئلې ته هم په دقیق ډول متوجه شو. د ماسټرۍ دورې په پای کې یې د خپل تېزس لپاره همدا موضوع وټاکله. د موضوع د ټاکنې پر مهال یې له ما سره مشوره وکړه، ما هم دا موضوع خوښه کړه او د کابل پوهنتون د ماسټرۍ دورې ژوري هئیت (علمي جرګې) هم دا موضوع تائید کړه. پوهندوی محمد اسمعیل یون د نږدې یو کال په بهیر کې خپل دا تېزس بشپړ کړ او ماته یې د بیا کتنې لپاره راکړ، ما چې دا اثر وکوت، نو د یون صیب زیار او زحمت، هڅه او دقت راته په کې له ورایه څرګند شول. دا راته هم په ډاګه شوه، چې ددې ډول لومړي لاس موادو راټولول دا مهال له پوهندوی یون پرته د هر چا لپاره ممکن نه وو. یون د دولتي مقام او د څېړنې د امکاناتو له مخې هم په داسې حالت کې دی، چې ددې ډول درانه تحقیق بار اوچتولای او هغه ډول اسناد ترلاسه کولای شي، چې هر چاته یې دا مهال ترلاسه کول اسانه نه دي. یون خپل دا اثر په اوو څپرکو کې اوډلی دی. په لومړي څپرکي کې یې د اوسنیو رسنیو د ټوکېدو عوامل، په دویم کې د رسنیو ډولونه، په درېیم کې له پانګیز پلوه د رسنیو وېش، په څلورم کې د افغانستان د اوسنیو رسنیو فکري لورې، په پنځم کې پر افغاني ټولنه د رسنیو اغېز، په شپږم څپرکي کې یې اوسنۍ رسنۍ او ادبیات په هر اړخیز ډول څېړلي دي. د اثر په وروستي یا اووم څپرکي کې یې د افغاني رسنیو د ښه پرمختګ او اغېز لپاره خپل ګټور وړاندیزونه او نظریات وړاندې کړي، چې که چېرې عملي شي، نو د رسنیو اعتبار، شفافیت او پرمختګ ته ډېره ګټه رسولای شي.

په مجموعي ډول دا اثر په تېرو څو کلونو کې د افغاني رسنیو یو ښه جاج خلکو ته وړاندې کوي. دا اثر د رسنیو د څرنګوالي د تشریح ترڅنګ د اوسنیو رسنیو د کمیت پېژندنې لپاره د یو ښه ډېټابیس

حیثیت هم لري. ددې اثر بله ښېګڼه دا ده، چې یون د ادبیاتو او رسنیو اړیکي هم په ښه ډول تشریح کړي دي.

زه په داسې حال کې چې د یون دا ګټور اثــر د ده د ماســټرۍ دورې لپاره پوره او کره ګڼم، له اړوندو مقامونو څخه هیله کوم، چې نه یوازې دده دا اثر د ماسټرۍ دورې لپاره یو پوره اثر وګڼي، بلکې د ټول هېــواد په کچه یې په ښو څېړنیزو، تحلیلي او ګټورو اثارو کې محاســبه کــړي. ددې ترڅنګ خپله له ښاغلي پوهندوی محمداسمعیل یون څخه هیله کوم، چې د خپلو نورو اثارو په شان دا اثر هم ژر تر ژره د چاپ په ګاڼــه سمبال کړي، چې ګټه یې عامه او ټولو افغانانو ته ورسېږي.

په پای کې یون تــه د لــوی خــدای(ج) لــه دربــار څخــه د لازیــاتو بریالیتوبونو هیله کوم، ددې ترڅنګ له یون څخه غوښتنه کوم، چــې وخت پر وخت نور دا ډول ګټور او څېړنیز اثار خپلې ټولنې ته وړانــدې کړي.

په درنښت

پوهنوال محمد صابر خویشکی

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو

پوهنځي د پښتو څانګې استاد

# سریزه

رسنۍ د یوه هېواد او ټولنې په ذهني وده او فکري تګلوري کې اساسي رول لري. په همدې خاطر په دودیزه اصطلاح، رسنۍ یا میډیا د یوه دولت څلورم قوت یا ستن ګڼل کېږي، خو د اوسنیو تخنیکي امکاناتو او د نړۍ د بېلابېلو ملتونو د زده کړې د کچې د اوچتیا له مخې رسنۍ، په یوه دولت کې تر خپل څلورم دریځ یا موقف څخه نورې هم د مخه شوي او ان اغېزې یې تر دې حده زیاتې شوي، چې د دولت د نورو درېواړو څواکونو (اجرائیه، مقننه او قضایه) دثبات او تزلزل سبب هم ګرځي. په وروسته پاتې او نا لوستو ټولنو کې رسنۍ هغومره رول نه لري، لکه په پرمختللو او لوستو ټولنو کې یې چې لري. پر هغو ټولنو، چې اختناقي رژیمونه واکمن وي، هلته پر رسنیو هم د سانسور خپسه ناسته وي، رسنۍ یوازې ناسیاسي تګلوری لري او له واکمن فکري جریان سره سم حرکت کوي، خو کله چې اختناق ختم شي، د ژوند د نورو ډګرونو په شان رسنۍ هم په کې وغوړېږي او د وخت په تېرېدو سره د ژوندانه د بېلابېلو ډګرونو د اړتیاوو د خړوب جوګه شي. افغانستان چې یو وروسته پاتې ساتل

شوی او جګړې ځپلی هېواد ګڼل کېږي او بېلابېلو کینهو او ښي افراطي نظامونو ښه کړولی دی، تر یوه ځپونکي ګډوډېز اختناق وروسته دا دی نیم ازاد یا نیم اختناقي حالت ته راوتی دی. له رسنیز پلوه ورته نیم اختناقي حالت ځکه وایو، چې اوس لا هم ځینې مړه او ژوندي جنګسالاران له انتقاده معاف دي او د نیوکو تېره توره یې یوازې هغو ډلو ټپلو یا لوریو ته اړم ده، چې یا پوره مات شوي او یا هم نیم مات دي، یانې د محکومیت په حالت کې دي، خو دې سره سره بیا هم د طالبانو تر افراطي واکمنۍ وروسته، په یو ناڅاپي ډول د دومره رسنیو راټوکېدل، د جګړې ځپلو او مخ پر ودې هېوادونو په تاریخ کې یوه بېساري رسنیزه پېښه ده، چې هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا لري. له هغې ورځې چې د طالبانو نظام ړنګ شوی، ان تر هغه دمخه او تر دې دمه زه د افغانستان د چاپي، لیدنیو او اورېدنیو رسنیو د یوه غړي، ملګري، همکار، لېوال او مینه وال په تو ګه پاتې شوی یم. د (هیلې)، (شمشاد) او (کابل پوهنتون) مجلو د چلوونکي ، د (قلموال جریدې) د موسس او کتونکي په توګه مې کار کړی. د ګڼو نورو چاپي رسنیو د چاپ لپاره مې له فکري او مالي پلوه هلې ځلې کړي او په لسګونو نورو چاپي خپرونو ته مې خپلې او د نورو لیکوالو لیکنې ورلېږلې دي. له ګڼو راډیوګانو او ټلویزیونونو سره

مې په لسګونو مرکې کړي او په ګردیـو مېزونــو کــې مــې ونــډه اخیستې ده. په دې ډول د افغانستان د رسنیو کمیت او کیفیت راته د دې تېرو څو کلونو په اوږدو کې ښه څرګند شوی دی. پــه داسې یو حالت کې، چې یو څوک خپله د یوې مسئلې په داخل کې واقع وي، د هغې مسئلې څېړنه او شننه ورته تر هغه چا زیاته اسانه او دقیقه وي، چې مسئلې ته له بهر څخــه ګــوري، نــو پــه همدې خاطر ما د ماسټرۍ دورې د تېزس لپاره همــدا موضــوع ((افغاني اوسنۍ رسنۍ)) غوره کــړه، لارښــود اســتاد او د کابــل پوهنتون استاد ښاغلي پوهاند محمــد صــابر خویشــکي هــم دا موضوع غوره وبلله او د ماسټرۍ دورې ژوري هئیت یا کمیسیون هم تائید کړه. افغاني اوسنۍ رسنۍ مــا پــه اوو څپرکــو کــې تــر بېلابېلو عنوانونو لاندې څېړلي دي. څرنګه چې زمــوږ اوســنۍ رسنۍ لا اوس هم د نورې چټکې ودې په حال کې دي؛ هــره ورځ یې په کمیت، فکري ارتقا او رنګارنګۍ کې بدلون راځي او تر اوسه یې لا د نوي ژوند لسیزه پوره کړې نه ده، نو په دې خاطر تــر دې لیکنــې وروســته پــر راتلــونکي مهــال د نــورو چاپېــدونکو او خپرېدونکو نویو او چټکو رسنیو په اړه څه نه شي ویل کېدی، خو وړاندوینه یې کېدی شي، دلته یوازې پــر هغــو رســنیو بحــث او

خپرنه کېږي، چې د طالبانو د نظام ترسقوط وروسته سم له لاسه پيل شوي او ددې اثر تر ليکلو پورې خپرېږي.

که زه په دې اثر کې خپلو قدرمنو لوستونکو ته د خپل هېواد د رسنيو يو روښانه تصوير وړاندې کړم، نو دا به زما لپــاره د بــري زېــری وي. د لارښــود اســتاد ښــاغلي پوهنــوال محمــد صــابر خويشکي لارښوونې د قدردانۍ او مننې وړ بولم، کور ودانی ورته وايم، دغه راز له خپلو نورو ليکوالو ملګرو څخه، چې ما سره يې د ماسترۍ دورې د تېزس د بشپړاوي په برخه کې مرسته کړې، يوه نړۍ مننه کوم. د ټولو دې کور ودان وي.

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعيل يون

# لومړی څپرکی

## د اوسنیو رسنیو د راټوکېدو عوامل

څرگنده خبره ده یو شی؛ یو سیاسي، علمي، خپرنیز جریان، چې په طبیعي او یا هم په یو ناڅاپي ډول را ټوکېږي، خپل طبیعي، تصنعي، کورني او بهرني عوامل لري. په افغانستان کې زموږ د اوسنیو رسنیو راټوکېدنه هم له پورتنیو عواملو خالي نه ده. که بېلابېل او ان مختلف لاملونه نه وای، نو د رسنیو اوسنی سېلاب به په دومره چټکۍ سره روان نه وای، ددې سېلاب تر شا چې زور نه وي په دومره چټکۍ حرکت نه شي کولای. موږ غواړو دلته زموږ د اوسنیو رسنیو د یو ناڅاپي را زرغونېدو او پراختیا همدغه عوامل یو په بل پسې وڅېړو.

### ۱- د نظام بدلون او د اختناق ختمېدل:

مخکې تر دې چې د اختناق پر ختمېدلو بحث وکړو، لازمه ده چې په خپله پر اختناق خبرې وشي. اختناق او فشار، څومره؟ څه وخت؟ څه ډول او پر چا باندې؟

په افغانستان کې اختناق، د سیاسي رژیمونو په بنې، فکري تگلوري، د حکومت د حاکمیت په ساحې او قوت پورې اړه پیدا کوي. د طالبانو نظام چې د ۱۳۷۵ل کال د تلې یا میزان پر ۶/۵ نېټه پر کابل واکمن شو، له همغه پیله بیا له یوه اختناق او سیاسي قتله پیل شو.

که څه هم د طالبانو اختناقي رژیم تر هغه وړاندې ګـډوډېز نظـام څخه ډېر ښه و، خو فکري سانسور او نور ډول ډول بندیزونه په کې تر دې حده زیات وو، چې قطعاً په کې چاته د ازاد تنفس مجال نه پیـدا کېده، همدې حالت خلک له روحي او فکري پلوه دومره سترې کـړل، چې په عوامو کې د طالبانو نظام ته د ((رنځ او عذاب)) نظام اصطلاح دود شوه. د طالبانو په نظام کې پر موسیقۍ او دښځو پر تعلیم سـخت بندیز ولګېد، ږیره پرېښودل اجباري شول او د دوی پـه خپـل تعبیـر سخت شرعي قوانین نافذ شول. رسنۍ چې هغه وخت یوازې په چاپي رسنیو کې رالنډېدې، له سختو ستونزو سره مـخ وې. پـر تصـویري او لیدنیو رسنیو چورلټ بندیز و، څو اورېدنۍ او څو چاپي رسنۍ وې، چې د دولت په انحصار کې وې؛ ((د شریعت غـږ)) پـه نامـه څـو راډیـویي ستېشنونو او څو چاپي خپرونو فعالیت درلـود. پـر ژونـدي (زیـروح) تصویر، هر چېرته او هر ځای کې سخت بندیز و او هېڅ چاپي خپرونـې حق نه درلود، چې زیروح تصویر چاپ کړي. یوازې د قبـالې، تـذکرې، پاسپورټ او ځینو نورو املاکي اسنادو لپاره عکس کارونې جواز درلـود او بس.

د ټول هېواد په کچه یوه نا دولتي رسنۍ فعاله نـه وه او نـه ورتـه د فعالیت اجازه وه. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یوازې دوه ډوله رسنۍ؛ اورېدنۍ او چاپي رسنۍ فعالې وې، چې پر هغو هم ډول ډول بندیزونـه لګېدلي وو او د هېواد د خلکو اړتیاوې یې نه شوې پـوره کـولای. پـه راډیویي رسنیو کې دغه لاندې رسنۍ فعالې وې:

شریعت غږ مرکزي راډیو، کابل راډیو، ننګرهار راډیـو، کـونړ راډیـو، غزني راډیو، ګردېز راډیو، خوست راډیو، کندهار راډیـو، تخـار راډیـو،

پروان راډیو، بغلان راډیو، کندز راډیو، هرات راډیو، بلخ راډیو او ځینې نورې.

په راډیویي رسنیو کې پر موسیقۍ ټینګ بندیز و او مجموعي نشرات یې هم ډېر زیات نه وو.

په چاپي رسنیو کې د ټول هېواد په کچه دغه لاندې رسنۍ فعالې وې:

| | |
|---|---|
| شریعت اخبار | پکتیا |
| ننګرهار اخبار | ننګرهار |
| ننګرهار مجله | ننګرهار |
| اتفاق اسلام اخبار | هرات |
| طلوع افغان اخبار | کندهار |
| کندهار اخبار | کندهار |
| بلخ اخبار | بلخ |
| سنايي اخبار | غزني |
| قلم اخبار | کابل |
| خوست مجله | خوست |
| خلافت مجله | کابل |
| فرهنګ مجله | کابل |
| کتاب مجله | کابل |
| طالبان اردو مجله | کابل |
| الامارات مجله | کابل |

او ځینې نورې.

په چاپي رسنیو کې بیا د نورو فکري بنــدیزونو ترڅنــګ د ژونــدیو تصویرونو پر خپراوي سخت بندیز و. لنډه دا چې نه راډیویي رســنۍ او نه هم چاپي رسنۍ د کیفیت او صحافت له مخې د رسنیو پر معیــارونو برابرې وې.

پر دې مهال ازادو رسنیو ته د چاپ اجازه نه وه او نه د رسنیو کــوم قانون موجود و، کوم شی، چې پر دې مهــال زیــات و، هغــه د هېــواد بېلابېلو ولایتونو کې د بېلابېلو مناسبتونو په ویــاړ، د ادبــي غونــډو او مشاعرو جوړول وو، په کابل، کندهار، ننګرهار، خوست او نــورو ســیمو کې ګڼې مشاعرې جوړېدلې، چې شاعرانو به په کې په ډکلمې او ترنم کې خپل شعرونه اورول. څرنګه چې هغه وخت پر لیــدنیو رســنیو او موسیقي چورلټ بندیز و، نو یو نیم کس به چې په ترنم کې خپل او یــا هم د کوم بل چا شعر یا نظم وایه، د خلکو د موسیقۍ ذوق به یې تر یوه بریده خړوباوه؛ بندیز تر دې حده سخت و، چې په تش ترنم هم د خلکو د موسیقۍ تنده ماتېدله. ځینو طالبانو او ازادو شاعرانو به پــه پټــه د مشهورو سندرغاړو کېسټونه اورېدل، له هغو څخه به یــې کمپوزونــه زده کول او بیا به یې خپل شعر په هماغه سُر او تال کې اچوه. دغســې یو سخت او تنګ حالت کې خلک طبعاً د یــوې نســبي ازادۍ ارمــان کوي او که چېرې بشپړه ازادي ورته میسره شي، نو دا خو ورته بېخي د یو نعمت غوندې ښکاري.

د سپټمبر د۱۱مې نېټې تر پېښې وروسته، د طالب نظام د ړنګېدو باور پوخ شو، د یو دوو میاشتو په بهیر کې د امریکایي ځواکونو له خــوا د

طالبانو نظام نسکور شو او پخوانۍ ملېشې او جنګسالاران یې پر ځای کېنول شول.

د طالب نظام سقوط داسې و، چې یو څوک له خوټېدونکي دیګي یا کټوې څخه برغولی پورته کړي، یو دم له کټوې ټول بخار پورته شو، د طالبانو نظام له سقوط سره سم په ملیونونو جبري ږیرې کلې شوې، پر همغو لومړیو ورځو ځینو خلکو په کابل او نورو سیمو کې د خپلو کورونو له پاسه ډېش انټنونه نصب کړل، د موسیقۍ دوکانونه او ویډیو ګیمونه ژر ژر پرانیستل شول، په راډیو کې د ښځینه ویندویانو غږ اوچت شو او ټلویزیون بېرته فعال شو. د ازادۍ دا سرعت دومره چټک و، چې پخواني افراط خپل ځای یو بل تفریط ته پرېښود، ناکنټروله او بې سروبوله رسنۍ راوټوکېدې او داسې ښکارېدله، چې زموږ ټولنه افراط ته په تفریط ځواب ورکوي او یا هم یو افراط د بل افراط ځای نیسي.

څومره چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال پر رسنیو فشار زیات و، دومره دا مهال د رسنیو د مهار رسۍ وشلېدله، خو دا مهال هم رسنۍ لکه څنګه چې باید په رښتینې توګه ازادې وای، ازادې نه وې او نه دي، د واکمن جګړه مار ګروپ پر جنګسالارانو انتقاد د ژورنالیست له مرګ او پرغملتیا سره معادل دي؛ رسنۍ که له یوه اختناقه خلاصې شوي، نو د یوې بلې مافیا په منګولو کې راګیر شوې دي.

## ۲- د مصنوعي اقتصاد راټوکېدل:

د طالبانو تر سقوط وروسته سملاسي افغانستان تــه د نــړۍ د ګڼــو هېوادونو مرستې راماتې شوې. سره له دې چې دا مرستې پــه مــوثر او عادلانه ډول ونه کارول شوې، خو بيــا هــم د افغــاني ټــولنې د ژونــد بېلابېلو برخو ته يې نوی ځواک او تحرک ورکړل. رسنيز ډګر ته هم لــه بېلابېلو لارو دا مرستې را ورسېدې؛ د دولتي خپرونــو د تقــويې لپــاره مرستې وشوې او له ازادو رسنيو سره هم کومکونه وشول. لــه دولتــي رسنيو سره د مرستو په باب يو بهرني (ريکارډوګراسي) د رويټر پــرېس سروېس په استازی په کابل کې په يوه علمي ورکشاپ کې وويل: ((لــه ځينو دوه اړخيزو مرستندويانو پرته، چې په خپلو کې څه نا څه همغږي لري، نور په افغانستان کې د مرستندويانو د مرستو په منځ کــې هــېڅ همغږي نه شته، مرستندويانو د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۴م کلونو ترمنځ موده کــې رسنيو په ځانګړې توګه د حکومت تر واک لاندې باختر خبري اژانس او د افغانستان راډيو ټلويزيون ته خواوشا (۶۰) مليونــه امريکــايي ډالــر ورکړي دي.))[1] دغه راز د ولايتي رسنيو د ژورناليستانو د روزنې لپــاره د هېواد په داخل کې لنډ مهالي او اوږد مهالي کورسونه جوړ شول، پــه سلګونو ژورناليستان وروزل شول، د جرمني هېواد په مرسته نه يوازې د راډيو ټلويزيون ودانيزې برخې ورغول شوې، بلکې ددې هېــواد پــه مرسته ګڼ شمېر افغان ژورناليستان هم وروزل شــول، جاپــان هېــواد هم، له ملي راډيو ټلويزيون او د دولت له ځينو رسنيزو ادارو سره مالي مرسته وکړه.

[1] رسنۍ يعني پرمختګ، کليد ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۵۲مخ.

د ازادو رسنيو د پياوړتيا لپاره هم د (( ائينه)) په نامه يــوه ځــانگړې نادولتي اداره جوړه شوه، چې له يو شمېر ازادو رسنيو سره يې مرسته کوله،په ټوليز ډول دغو لاندې نادولتي موسســو د ازادو رســنيو مــالي ملاتړ کړی دی:

۱- ائينه رسنيز او کلتوري مرکز

۲-سهار نېکمرغه افغانستان راډيو

۳- انټرنيوز موسسه

۴- د جگړې او سولې د راپور ليکنې انسټيټيوټ

۵- د رسنيو، پاليسۍ او مدني ټولنې انسټيټيوټ

۶- د افغانستان د ازادو رسنيو بنسټ

۷- طنين نيټورک[1]

په دې نادولتي موسسو کې ائينې موسسې دغو لاندې چاپي رســنيو سره مالي مرسته کړې ده:

۱- کابل؛ اوونيزه، ۲-ملالۍ؛ مجله، ۳-سيرت؛ ښــځينه اوونيــزه، ۴-پرواز؛ د ماشومانو درې مياشتنۍ، ۵- ائينه؛ خبري اوونيزه، ۶-زمبېــل غم؛ مهالنۍ، ۷- ليس نيوليس؛ د کابل مياشتنۍ، ۸- سباوون؛ ولسي او کلتوري اوونيزه.

پر پورتنيــو موسســو ســربېره د امريکــا متحــده ايــالاتو د نړيوالــو پرمختيايي ادارې (USAID)، د ځينو بهرنيو هېوادونو سفارتونو او ځينــو

[1] Afghan Media Directory, first Edition, March, ٥،٢٠٠٤

نورو نادولتي موسسو هم په مستقیم او نامستقیم ډول د افغاني چاپي، انځوریزو، برېښناییزو رسنیو او خبري اژانسونو مالي ملاتړ کړی دی.

سربېره پر دې، دولتي او نا دولتي موسسو ته د نړۍ د بې دربغه مالي مرستو رسېدل، هم دولتي اداري، هم یو شمېر انجوګانې او هم یوشمېر اشخاص، چې ددې پیسو زیاته برخه یې په برخه شوې، هم ددې جوګه کړل، چې د رسنیو په زیاتوالي کې اساسي ونډه واخلي، له ځینو مشخصو اشخاصو سره د زیاتو پیسو راټولېدنه، بل عامل شو، چې هر چا له خپل شوق او ذوق سره سمې رسنۍ میدان ته کړې. له ځینو اشخاصو او تنظیمواکو سره د ځینو ګاونډیو هېوادونو پخواني او اوسني پټ او ښکاره روابط او مالي امکانات هم ددې سبب شول، چې رسنۍ زیاتې شي او د رسنیو بازار یا مارکېټ پراختیا ومومي.

د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته د افغانستان اقتصاد په ناخاپي او تصنعي ډول لوړ شو، دا لوړتیا که څه هم طبیعي نه وه او د عوامو پر ځای یې د خواصو ژوند ډېر لوړ کړ، خو د ژوند د کچې همدغې لوړتیا د رسنیو پراختیا ته لاره اواره کړه. څرنګه چې د رسنیو له بېلابېلو ډولونو، په تېره بیا له چاپي رسنیو سره د عوامو او نا لوستو خلکو ډېر کار او رابطه نه شته او دا کار په خواصو او په تېره بیا په لوستې ښاري ټولنې پورې اړه پیدا کوي او دا خواص یا ښاري ټولنه د کلیوالي سیمو په انډول د نړیوالې ټولنې له مرستې زیاته برخمنه شوې، نو ځکه خو په ښارونو کې رسنیو زیاته وده وکړه او د کنټرول کیلي یې هم د خواصو په ګوتو کې پاتې شوه. په ټولیز ډول ویلای شو، که چېرې د نړیوالې ټولنې بې دربغه مرستې نه وای او بیا دا مرستې له حساب او کتاب پرته

د ټولنې د ځينو مشخصو اشخاصو لاسو ته نه واى ورغلې، نو پوره باور دى، چې زموږ رسنۍ به د كميت له پلوه، پر دومره لږه وخــت ، دومــره لوړې كچې ته نه واى رسېدلې.

د پنځو شپږو كلونو په بهير كې ځينې هغه رسنۍ، چې د نړيوالو پــه مرستو پيل شوې وې، د هغو د مرستو په بندېدو سره بېرته بندې شوې او پر ټپه ودرېدلې. ددې مانا دا ده، چې زموږ يو شمېر رسنۍ په تصنعي ډول رامنځته شوي او د ټولنې او يا په هغې كې د ځينو مطرحو څېرو د مصنوعي اقتصاد زېږنده دي. خو كه چېرې زموږ اكثره رسنۍ د ټــولنې له نورمال او طبيعي اقتصادي، سياسي، ټولنيز او فرهنګــي پرمختــګ سره سمې رامنځته شوې واى، نو ژوند او بقا به يــې هــم د ټــولنې لــه طبيعي حركت سره سمون درلود، په ټوليز ډول ويلاى شو، چې زموږ د رسنيو يو زيات شمېر اوس هم، د همدغه مصنوعي او موقتي اقتصاد په زور رامنځته شوي، چلېږي او كله چې دا حالت ختم شــي، نــو لــه دې ډول رسنيو به ډېرې كمې خپل ژوند تضمين كړي او اكثره به بېرته لــه منځه لاړې شي.

## ۳- سياسي عوامل:

د افغانستان د اوسنيو رسنيو په غوړولو كې سياسي عوامــل هــم ستر نقش لري، كه چېرې تر هر څه دمخه، پــه سياســي نظــام كــې بدلون نه واى راغلى، نو طبيعي خبره ده، چې د طالبانو په سرسختي مذهبي نظام كې د دا ډول رسنيو هېڅ امكان نــه و؛ هغــوى نــه لــه سياسي، نه له مذهبي او نه هم له ذهني او فكري پلــوه د رســنيو دې

ډول حاکمت او محتوا سره جوړ وو او نه یې هم ددې زغم درلود. سیاسي بدلون ددې لاره اواره کړه، چې نوې رسنۍ له خپل دې تول کمیت او کیفیت سره را وټوکېږي. په موقته، انتقالي او بیا انتخابي اداره کې د نړیوالې ټولنې غوځ دریځ دا و، چې رسنۍ باید په پراخه کچه وده ومومي، د دوی ټینګار ان تر دې بریده و، چې که ځینې رسنۍ د افغانستان اسلامي، ملي او دودویزو ارزښتونو ته زیان هم واړوي، نو دوی یې په کیسه کې نه دي. د نظام تر سیاسي بدلون وروسته د ((ولسواکۍ))، د ((بیان ازادي)) او ((د ښځو حقوق)) شعارونه تر هرڅه زیات مطرح شول، دې شعارونو د رسنیو له طبیعي او تصنعي ودې سره مرسته وکړه. د ګڼ شمېر هېوادونو سیاسي استازیو او نادولتي موسسو په مستقیم او نا مستقیم ډول د افغانستان دولتي او ازادې رسنۍ له مالي او سیاسي پلوه ونازولې؛ نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د رسنیو رنګارنګي او ازادي خپل یو ستر بری وباله، په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونو حکومت دا کار د خپل ځان لپاره ویاړ وګاڼه. پر (۲۰۰۳ م) کال د افغانستان لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي استازي لخدر ابراهیمي ((د افغانستان اساسي قانون او مدني ټولنه)) په نوم په جرمني کې د جوړ شوي سیمینار برخوالو ته په ډاګه وویل، چې موږ په افغانستان کې د رسنیو له ودې څخه ډېر خوشاله یو، زلمي خلیلزاد وویل چې دا مهال نږدې (۲۲۰) چاپي رسنۍ په ټول افغانستان کې خپرېږي او دا زموږ لپاره د خوښۍ زېرى دی. که څه هم په سیمینار کې یو شمېر برخوالو د ښاغلي زلمي خلیلزاد پر خبرو اعتراض درلود او د رسنیو دا شمېر یې طبیعي نه، بلکې تصنعي باله، خو بیا هم زلمي

خلیلزاد او لخدر ابراهیمي د چاپي رسنیو کمیــت د نړیــوالې ټــولنې لپاره یو ښه پیغام باله. د ازادو رسنیو د پیاوړتیا په همدغه ((گرم)) او(( طلايي)) عصر کې یو شمېر رسنۍ پر دې بریالۍ شوې، چې د نړیــوالې ټولنې، په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونو وړیا مرستې را جلب کــړي. (افغان ټلویزیون) لومړنی ټلویزیون و، چې د یو څه مالي مرســتې پــه راجلبولو سره یې د لومړني ازاد ټلویزیون په نامه، په کابل کې خپرونې پیل کړې، ورپسې د (طلوع ټلویزیون) چلوونکي پر دې بریــالي شــول، چې د امریکا د متحده ایالتونو د پرمختیایي اداري(USAID) نږدې یو نیم ملیون ډالره وړیا مرستې په راجلبولو سره خپل نشرات پیــل کــړي او وروسته بیا د خپل دوراني حرکت په واسطه پر دې بریالي شول، چــې د خپلې گټې له لارې خپل ژوند ته دوام ورکړي. د نړیوالې ټولنې د هر اړخیز ملاتړ په برکت په افغانستان کــې د نړیوالــو راډیوگــانو او ازادو اژانسونو له خوا پــه ســلگونو ژورنالیســتان وروزل شــول، د مرکــز او ولایتونو په کچه د ژورنالیستانو او د ژورنالیســتانو د حقوقــو د ملاتــړ ټــولنې جــوړې شــوې، لکــه د افغانســتان د ژورنالیســتانو ټولنــه، د افغانستان د ژورنالیستانو ملي اتحادیه، د افغانستان د ژورنالیســتانود حقوقو د ملاتړ ټولنه، د جنوبي اسیا د ژورنالیستانو ټولنه او همدارنگه په سیمه ییزه او ولایتي کچه په لسگونو دا ډول ټولنې جوړې شــوې. د افغانستان ژورنالیستانو ته ددې لاره اواره شوه، چې بهرینو هېوادونو او همدارنگه د نړۍ گڼ شمېر ژورنالیستان افغانســتان تــه رســمي او کاري سفرونه وکړي. په افغانستان کې د ژورنالیستانو د بېلابېلو ټولنــو رامنځته کېدل، د هغو فعالیت، د ژورنالیستانو له نورو ســیمه ییــزو او نړیوالو ټولنو سره د هغو روابط ددې سبب شول، چې تر ډېرې کچې د

ژورنالیستانو حقوق خوندي شي. د تېرو څو کلونو په اوږدو کې د ژورنالیستانو سیاسي ملاتړ تر دې حده زیات و، چې بېلابېلو ژورنالیستانو د دولت لومړۍ درجه ديموكرات واكمن هم تر سرسختو پوښتنو او گروپړنو لاندې راوستلای شول.كه څه هم د یو شمېر ژرونالیستانو لپاره فوق العاده ازادي رامنځته شوه، خو دا ازادي هغه ډول ژورنالیستانو ته ډېره زیاته وه، چې په حاکم نظام کې یې له تظیمي زورواكو سره نږدې پیوند درلود او په اصطلاح د یو ډول ازادو خپرونو تر چتر لاندې یې تنظیمي، سمتي او گوندي مسایلو ته لمن وهله؛ اساسي زورواکي د دې ډول خبریالانو له انتقادونو معاف وو. د دولت او ملت په کچه د ازادیو ددې ډول مختلف كچ و مېچ یا گراف په پام کې نیولو سره یو شمېر ژورنالیستان د دې تېرو څو کلونو په بهیر کې زیانمن شول او د ژورنالیستانو پر وړاندې د زور زیاتي بېلگې هم د دولت او هم د مخالفینو له خوا رامنځته شوې. د نړیوال ژورنالیزم د مرکز رئیس ښاغلی رحیم الله سمندر د ژورنالیستانو پر وړاندې د پېښو په باب وایي: (( په ۲۰۰۶م کال کې د گواښلو او ځورولو ۵۰ قضیې ثبت شوي او د رسنیو درې کارکوونکي وژل شوي دي. تر دې چې د پارلمان غړو دغه چلند کړی دی.))[1] دا گواښونه له یوه کاله بل ته توپیر كوي. (( د ۲۰۰۴م کال په پیل کې د انټرنیوز د رسنیو د څارنې لومړۍ ګڼې د خپرونو او راډیو ستېشنونو پر ضد د وېرولو نهه پېښې لست کړي، گواښونه د پولیسو، جنایي جرمونو سره د مبارزې د ادارې، د عدلیې وزارت د وسلوالو استازو، د افغانستان د سترې محکمې، د کابل

[1] رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۴۷مخ.

ښاروال او د هرات او ننګرهار د سيمه ييزو واکمنو په شمول له ښلابښلو سرچينو څخه شوي دي. د ۲۰۰۶م کال په مارچ کې ښارونکي د کابل د عامه امنيت د محکمې، د ولسمشر د دفتر، نامعلومو بم چوونکيو، ښلابښلو پوليس افسرانو او حتی د امريکايي ځواکونو له خوا د ګواښولو د شپږ پېښو په هکله راپورونه ورکړل.

د افغان ژورناليستانو د اتحاديو په وينا په ۲۰۰۵ کال کې د ژورناليستانو پر ضد د وېرولو او عمل ۴۵ قضيې ثبت شوي دي. د يوې ښځينه ژورناليستې په شمول دوه وژنې هم شوې دي.))[1] د ژورناليستانو پر وړاندې د ناوړه چلند د اکثرو پېښو رپوټونه نه ورکول کېږي، خو که په اټکليز ډول مو‌ږ ددې اټکل وکړو، نو هر کال د ژورناليستانو پر وړاندې د ناوړه پېښو مجموعي شمېر تر سلو پېښو هم اوړي.

لکه څنګه چې په دې دوره کې يو شمېر کورنيو او بهرنيو سياستوالو په افغانستان کې د رسنيز بهير مادي او مانيز ملاتړ وکړ. دغسې يو شمېر ژورناليستانو هم د سياستوالو ملاتړ ته راودانګل، يا په بله وينا يو شمېر سياسي اشخاصو د ليکوالۍ او ژورناليزم له دې خلاصې فضا نه ګټه پورته کړه او د ژورناليزم تر چتر لاندې يې سياسي فعاليتونه پيل کړل ، دا هڅې تر دې حده ورسېدې، چې که چېرې د دولت يا هم کوم بل ارګان له خوا پرې فشار راته، بيا نو دوی د ژورناليزم له ماسک نه ګټه پورته کوله او ويل به يې، چې دولت د ژورناليستانو خونديتوب ته پام نه کوي، په دې توګه، دې ډول اشخاصو د

---

(۱) رسنۍ يعنې پرمختګ، کليد ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۷۴ مخ.

افغانستان د رسنیو ناپیېلتوب پیکه کړ او یو شمېر رسنۍ په نا مستقیم ډول د پخوانیو سیاستوالو او زور واکانو په خدمت کې بوختې پاتې شوې. د نړۍ، سیمې او خپله په کورنۍ کچه د رسنیو له دې هر اړخیز سیاسي ملاتړ سره سره بیا هم تراوسه د رښتینو او ازادو رسنیو تصویر تت دی او زموږ رسنۍ یو ډېر څرګند، روښانه او شفاف تګلوری نه لري. که څه هم زموږ اوسنۍ رسنۍ د محتوا له پلوه روښانه حرکت نه لري، خو د کمیت او صحافت له مخې یې دهمدې خلاصې سیاسي فضا له امله ډېر پرمختګ کړی دی، دا چې دا اوسنی کمیت به په پای کې پر یو مثبت کیفیت بدل شي که نه؟ رسنۍ به د خپلو محتویاتو له مخې یو بل سره اخته شي او یا به خپل مسیر روښانه کړي که نه؟ هېواد ته به یې ګټه زیاته وي که زیان؟ دا هغه پوښتنې دي، چې وخت به یې ځوابوي.

## ۴- د ټولنې د عمومي ظرفیت لوړتیا:

دطالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته، نه یوازې د افغاني ټولنې په سیاسي ژوندانه کې بدلون راغی، بلکې په اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ژوندانه کې هم زیات بدلونونه پېښ شول، همدې بدلونو د رسنیز بهیر غوړېدو ته لاره اواره کړه او تر یوه حده د رسنیو د دوراني حرکت سبب شول؛ هر څومره چې په ټولنه کې مثبت سیاسي بدلونونه پېښېدل، په هماغه کچه د رسنیو لپاره د ازاد تنفس زمینه برابرېده، څومره چې فرهنګي او علمي پرمختګونه رامنځته کېدل، همدومره د رسنیو مینوال او لېوال زیاتېدل او څومره چې د خلکو د اقتصاد کچه لوړېدله، همدومره یې رسنیو ته قوت او حرکت باښه. که اوسنۍ دوره

یو ځل بیا دطالبانو له واکمنۍ سره پرتله کړو، نو ډېر زیات توپیر به راته څرګند شي؛ د ساري په توګه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان ټوله رسمي دولتي بودیجه نږدې (یو پنځوس میلونه ډالره) وه، چې د مامورینو پر معاش، دولتي لګښتونو او نورو جګړه ییزو چارو لګېدله، خو اوسمهال که د رسنیو په چارو کې د ټولو لګېدونکو لګښتونو یوه اټکلي محاسبه وکړو، نو یوازې په همدې رسنیزه برخه کې لګېدونکې پیسې هر کال تر (پنځوس میلونو ډالرو) اوړي.

پر ۱۳۷۱ل کال په کابل کې د ((مجاهدینو)) او ((ملحدینو)) تر ائتلاف او اختلاف دمخه نږدې پنځه لس لویې او وړې چاپخونې فعالې وې، چې ټولې د جګړه مارو ډلو له خوا پو پناه شوې، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال خو اصلاً لیدنیو رسنیو ته اجازه نه وه، د چاپي خپرونو په برخه کې هم ډېر محدودیتونه وو، دا مهال هېواد ته عصري چاپخونې هم را نه وړل شوې او څو د ګوتو په شمار چاپي رسنۍ، چې چاپېدلې د همغو زړو چاپخونو په پاتې وسایلو چاپېدلې. د طالبانو د واک تر سقوط وروسته هېواد ته ګڼ شمېر چاپخونې له خپلو عصري وسایلو سره راوړل شوې او دلته یې پر فعالیتونو پیل وکړ، تر اوسه پورې په لسګونو لویې او وړې چاپخونې یوازې په کابل ښار کې فعالیت کوي، چې دګنبوکتابونو او نورو ډول ډول خپرونو د چاپ ظرفیت لري، دولتي چاپخونه، د پوهنې چاپخونه، نبراسکا، بهیر، سحر، دانش، احمد او نورې ددې چاپخونو له جملې څخه دي. پر چاپخونو سربېره د هېواد په مرکز او ولایتونو کې ګڼ شمېر خپرندویې ټولنې تاسیس شوې، چې پر ډېر کم وخت یې په سلګونو عنوانونه نوي اثار چاپ کړل. لکه په کابل

کې: رسالت، الازهر، سیرت، اقرا، نور، کوثر، صمیم، سعید، دانش، خاور، میوند، سېلاب، فرهنګ، پامیر، خیبـر، مسـتقبل، سـالنګ، سـعادت، خیري، امیري، فیصل، چنار، ګهیځ خپرندویې ټولنې. پـه هــرات کــې: احمدشاه ابدالي، مومیني، امام ابوحنیفه، فاضــلي، فیضــي، شــفیقي، عرفان او نعماني خپرندویې ټولنې. په ننګرهــار کــې: مومنــد، ګــودر، هارون، افغان، ناګار خپرندویې ټولنې او همدارنګه په نورو ولایتونو کې په مجموعي ډول نورې په لسګونو خپرندویې ټولنې جوړې شوي چــې هرې یوې یې په خپل نوبت سره ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي دي. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، د خلکو اقتصادي پیاوړتیا، د رسنیو له پیاوړتیا سره مستقیماً ارتباط لري، د خلکو د تعلیمي کچې اوچتیــا هم ددې لامل شوه، چې خلک رسنیو ته لېــوال کــړي. چــاپي رســنۍ طبعاً له لوستي پاړکي سره اړه پیدا کوي، سره له دې چې د تېرو اوو کلونو په ترڅ کې تر دې دمه ( ۱۳۸۷ل کال وروســتیو پــورې) نــږدې (۶۲۵) ښوونځي سوځول شوي او تړل شــوي دي، خــو ددې ترڅنــګ نږدې (۵۰۰۰)ښوونځي نور جــوړ شــوي دي. اوس د ټولــو زده کوونکــو شمېر تر اوو ملیونو کسانو اوړي. دولتي پوهنتونونه رغول شوي او نــور په لسګونو ستر علمي او فرهنګــي مرکزونــه هــم جــوړ شــوي دي. د خپلواکوفرهنګي ټولنو شمېر هم سلګونو ته رسېږي. یوازې ((د افغــان کلتوري ټولنو ګډه جرګه)) کې نږدې دوه سوه فرهنګي ټــولنې راټالــه دي. په مجموعي ډول په هېواد کې د تعلیم کچــه لــوړه شــوې، د زده کړې تر څنګ د خلکو اقتصادي ودې، په ښارونو، په تېره بیا په لویــو ښارونو کې، خلک د ددې جوګه کړي، چې پر رسنیو لګښت وکړي، پــه تېره بیا چاپي رسنۍ راونیسي. پخوا د خلکو د اقتصاد کچــه ټیټــه وه؛

ډېرو کمو کسانو ددې وس پیدا کاوه، چې چاپي رسنۍ واخلي، هغه وخت خلکو د خپلو لومړنیو ضرورتونو د پوره کولو او د ژوند د بقا لپاره خپل ټول وس کاوه، دې ډول چاپي رسنیو د خرڅلاو له لارې خپل دوراني حرکت نه شو تر سره کولای، نو ځکه خو اکثره چاپي رسنۍ یا په کم قیمت او یا هم دسبسایډۍ په زغملو خرڅېدلې او یا هم وړیا وېشل کېدلې. د وړیا وېش کلتور هم د چاپي رسنیو ارزښت راټیټ کړی و، اکثره خلک به تر هغه وخته منتظر وو، چې چاپي رسنۍ په وړیا ډول تر لاسه کړي، ډېر کمو خلکو پر کتاب او چاپي رسنیو پیسې ورکولې. پر وروستیو کلونو، چې لیدنۍ رسنۍ زیاتې شوې، دعامو لیدونکو او نالوستو دواړو لپاره یې د وړیا لید زمینه برابره کړه او ټول کولای شي ګټه ترې پورته کړي. د افغانستان په ګڼو لیدنیو، اورېدنیو او چاپي رسنیو کې د زرګونو افغان ژورنالیستانو ګډون او فعالیت هم د خپل ژوند د خړوب لپاره ګڼ شمېر افغانان له رسنیو سره وتړل. اوس رسنۍ نه یوازې د تبلیغ او خبر وسیلې دي، بلکې په زرګونو افغانانو ته د کار وبار او ګټې وټې وسیلې هم دي. یو زیات شمېر رسنۍ اوس په ټولنه کې د اقتصاد د عمومي کچې د لوړتیا له امله کولای شي، د ګڼو اعلانونو او نورو ګټېندویو خبرتیاوو له لارې خپل ژوند ته دوراني حرکت ورکړي. د افغاني رسنیو د مالي ملاتړ په پیاوړتیا کې نه یوازې د افغاني ټولنې د اقتصادي، فرهنګي او علمي ظرفیت لوړتیا ونډه لري، بلکې په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو سیاسي او پوځي حضور، دهغوی مرستې او ضرورتونه هم لوی اغېز لري. په ټولیز ډول هر څومره چې دټولنې عمومي ظرفیت لوړېږي، په

همغه کچه رسنۍ هم پیاوړې کېږي او د پرمختګ پر لوري ګامونه اخلي.

## ۵- د رسنیو قانون:

په هره ټولنه کې د رسنیو د ودې یو عامل د رسنیو قانوني مشروعیت او قانوني تضمین دی. که په یوه ټولنه کې د رسنیو لپاره قانوني او حقوقي ملاتړ نه وي، د رسنیو چلوونکي په ډاډه زړه کار نه شي کولای؛ یوازې هغه رسنۍ به کار وکړي، چې له واکمن نظام سره اړخ لګوي او فکري خواخوږي ورسره لري، خو یوازې رسنیز قانون هم د رسنیو له ودې سره سل په سلو کې مرسته نه شي کولای؛ کېدی شي په هغو ټولنو او هېوادونو کې چې مذهبي او ډیکتاتوري نظامونه واکمن وي، د رسنیو لپاره هم خپل خپل قوانین ولري، خو په دې قوانینو کې به داسې قیدوبند وي، چې رسنۍ بشپړې خپلواکۍ ته پرېنږدي. د ځینو ټولنو کلتوري، مذهبي او ټولنیز جوړښت هم کېدی شي داسې وي، چې د رسنیو پوره ازادي ونه شي زغملای، ځینې نورې ټولنې او هېوادونه، چې تازه په کې زورواکي رژیمونه پرځېدلي او د ازاد فکر وړمه په کې نوې چلېدلې وي، هلته هم د رسنیو د ازادۍ پر وړاندې ستونزې وي، د یو اړخیزو زورواکو نظامونو له خوا، د ټولنې دودیز کنټرول او له بلې خوا د رسنیو له یونا ځایۍ ازادۍ څخه د لیکوالو او ژورنالیستانو ناسم تعبیر او تفسیر، د تجربو کموالی او له هغو څخه ناسمه ګټه اخیستنه هم ددې سبب کېږي، چې د رسنیو د ودې طبیعي بهیر له ځنډ و خنډ سره مخامخ کړي. په هر حال د رسنیو قانون د رسنیو د قانوني فعالیت لپاره اساسي لاره ده، چې هم د رسنیو

د ودې بهیر ته زمینه برابروي او د نیمګړتیاوو او تېروتنــو د مخنیــوي لارې چارې یې هم په ګوته کوي. په افغانستان کې د رسنیو قانون ډېره اوږده سابقه نه لري، ان د چاپي رسنیو ترچاپ، لسیزې وروسته مــوږ د مطبوعاتو د قانون څښتنان شو، د (۱۳۴۳ل) کال تــر اساســي قــانون وروسته، چې د دیموکراسۍ لسیزه پیل شوه، نــو پــه دې لســیزه کــې مطبوعاتو هم ښه وده وکړه، پر همدې مهال یو شمېر ازادو، ګونــدي او نا دولتي خپرونو د چاپ مجوز ترلاسه او پر فعالیت یې پیل وکړ. تر هغه وروسته بیا ان د طالبانو تر راتګ پورې د کاغذ پرمخ د مطبوعاتو قانون و، خو د رسنیو لپاره عملــي او رښــتیني ازادي نــه وه. د طالبــانو پــه واکمنۍ کې خو په اساسي مانا نه رسنۍ وې او نه هم د رسنیو قــانون؛ پر تصویري رسنیو چورلټ بندیز و، یوازې څو د ګوتو په شمار طبــاعتي خپرونې وې، چې په هغو کې هم د ژیروحو تصویرونو پر خپراوي بنــدیز و. د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته چې یوه نابېره، ناڅاپي او نا طبیعي دیموکراسي رامنځته شوه، نو له دې سره جوخت د رسنیو قانون چــې موقته بڼه یې لرله، هم رامنځته شو، خو کله چې پــر (۱۳۸۳)ل کــال د افغانستان نوی اساسي قانون جوړ شو، نو په دې قانون کــې تســجیل شول: ((د بیان ازادي له تېري څخه خوندي ده. هر افغان حق لري، چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعایت، څرګند کړي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بــې لــه دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو تــه وښــیي، خپــاره او نشــر کړي.

د مطبعو، راډيو او ټلويزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لیارې تنظیمېږي.))(۱) نو د همدې اساسي قانون په رڼا کې رسنیز قانون کې يو څه بدلون راغی. د رسنیو ددې اوسني قانون په لومړۍ ماده کې راغلي دي:

(( دغه قانون د اساسي قانون د څلوردېرشمې مادې د حکم له مخې او دبشر د حقوقو د نړيوال میثاق د نولسمې مادې په رعايتولو سره سم د فکر او بيان د ازادۍ د حق د تامين او په هېواد کې دټوليزو رسنيو د فعاليت د تنظيم په موخه وضع شوی دی....))(۲)

د افغانستان د رسنیو قانون ټولې (۴۳) مادې لري، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا ولسي جرگې ته وړاندې شوی دی. د ولسي جرگې غړو دا قانون څو ځله په خپل منځ کې واړاوه راواړاوه، خو کوم توافق ته ونه رسېدل، د (۱۳۸۷ ل) کال د وږي پر میاشت ولسي جرگې دا قانون له يو لړ بدلونونو سره پاس کړ، البته دا قانون لا تر دې دمه د (سنبلې تر ورستيو) د مشرانو جرگې له خوا نه دی تصويب شوی، د مشرانو جرگې له خوا د احتمالي تغيراتو په پام کې نيولو سره کېدی شي، دا قانون بېرته ولسي جرگې ته لاړ شي او بيا وروسته ورته د اختلافي ټکو د حل په خاطر د دواړو جرگو له خوا د مساوي غړو په تعداد کميسيون وټاکل شي او تر هغه وروسته بيا جمهور رئيس ته د توشيح لپاره لاړ شي. په هر حال هغه متن چې د حکومت له خوا ملي شورا ته وړاندې شوی، د رسنيو د ازادۍ د تضمين لپاره ډېر قوي ټکي

(۱) د افغانستان اوسنی اساسي قانون، ۳۴مه ماده.

(۲) د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون، لومړۍ ماده.

لري، ان تردې حده چې ځینې برخې یې زموږ د ټولنې د دودیز جوړښت د هضم تر کچې هم اوچتې دي، ددې قانون غټې موخې دادي:

((۱- د فکر او بیان د ازادۍ د حق دودول او له هغه څخه ملاتړ، د خبريالانو (ژورنالیستانو) له حقوقو څخه دفاع او د هغوی د ازاد فعالیت لپاره د وړ شرایطو برابرول.

۲- د ازادو، خپلواکو او زیات پلویو (کثرت گرا) رسنیو دودول او پرمختیا.

۳- د وینا، لیکنې، رسم، انځور(تصویر)، د فیتې پر مخ د ثبت، تمثیل، خوځښت (حرکت) او د نورو علمي، هنري او چاپي پدیدو په مرسته د هېواد د اتباعو د فکر او احساس د څرگندولو لپاره د زمینې برابرول.

۴- د اسلام د مبین دین د حکمونو په پام کې نیولو سره ، د بشر د حقوقو په نړیوال میثاق کې مسجل شوی د بیان او ټولنیزو رسنیو د ازادۍ د اصل رعایتول.

۵- د ټولیزو رسنیو د سالمې ودې په موخه داسې مرسته چې وکړای شي په هېواد کې د ثقافت د خپرېدو اغېزناکه وسیله شي او عامه رایې په رښتینې او گټوره توگه ټولنې ته منعکس کړي.))[1]

(۱) د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون، دویمه ماده.

ددې قانون په درېیمه ماده کې د رسنیو اصطلاحات، لکه خپله رسنۍ، مطبوعات، خبریال، چاپخونه، چاپوونکی، خپروونکی، د امتیاز خاوند، مسئول مدیر، خپرول، راډیو، ټلویزیون، کېبلي شبکه او نور تعریف شوي دي. د درېیم څپرکي څلورمه ماده بیا د رسنیو د چلوونکو پر حقوقو او وجایبو غږېږي، وایي:

(۱) هر کس د فکر او بیان د آزادۍ حق لري. د دولتي مسوولینو له خوا له مداخلې او محدودیت پرته، د معلوماتو او نظریو غوښتل، ترلاسه کول او انتقال په دې حق کې شامل دي او د بیان او د معلوماتو د خپرولو،وېش او تر لاسه کولو د وسایلو آزادي هم په خپله لمن کې رانغاړي.]

(۲) دولت د ټولیزو رسنیو د آزادۍ ملاتړ کوي او پیاوړې کوي یې . هېڅ رښتینی یا حکمي کس د دولت او دولتي ادارو په ګډون نه شي کولای د خبري او یا معلوماتي رسنیو فعالیت منع، تحریم، سانسور یا محدود کړي او یا په بل ډول سره د ټولیزو او معلوماتي رسنیو په چارو او خپرونو کې لاسوهنه وکړي.

پنځمه ماده:

هر څوک حق لري معلومات وغواړي او لاسته یې راوړي. دولت د هېواد اتباعو ته هغه معلومات برابروي، چې غواړي یې، خو هغه وخت له دې کار څخه ډډه کوي، چې غوښتل شوي معلومات پوځي محرم راز وي او په ډاګه کول یې ملي امنیت او ګټې له خطر سره مخامخ کړي.

**شپږمه ماده:**

(۱) خبريالان (ژورنالیستان) د رپوټونو او انتقادي نظريو په ګډون د خپلو مسلکي فعالیتونو په ترسره کولو کې د قانوني ملاتړ وړ ګرځي.

(۲) خبريالان (ژورنالیستان) حق لري د خپلو کاري سرچینو له ښکاره کولو (افشاء کولو) څخه ډډه وکړي، خو هغه وخت باید دا سرچینې پټې ونه ساتي، چې واکمنې محکمې د هغو د ښکاره کولو حکم کړی وي.

**اوومه ماده :**

خبريالان او د ټولیزو رسنیو نور غړي کولای شي، له خپلو ټولیزو ګټو څخه د دفاع په موخه، د دې قانون له حکمونو سره سم خپلواکې اتحادیې جوړې کړي.

**اتمه ماده:**

(۱) د هېواد اتباع کولای شي، په دریمه ماده کې د ټولیزو رسنیو خوندي شوي وسایل، د دې قانون له حکمونو سره سم تأسیس کړي.

(۲) بهرنۍ سیاسي نمایندګۍ، نړیوالې موسسې او په افغانستان کې د هغو نمایندګۍ کولای شي د ډیپلوماتیکو اډولونو په رعایتولو سره، د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر اجازې وروسته د خبري توکو په چاپ او خپرولو لاس پورې کړي.))[1]

دریم څپرکی په مجموعي ډول د مطبوع وسایل را پېژني، څلورم څپرکی پر چاپخونې( مطبعې)، د طباعت وسایلو د امتیاز او جوړښت پر ځرنګوالي رڼا اچوي، پنځم څپرکي سمعي او بصري وسایل پېژني، شپږم څپرکی د امتیاز خاوند، شرایط او مکلفیونه راپېژني، اووم

[1] د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون.

ځپرکی د مسئول مدير شرايط او مکلفيتونه په ګوته کوي، اتم ځپرکی ممنوعه خپروني، نهم ځپرکی جزايي حکمونه او لسم ځپرکی وروستني متفرقه حکمونه تشريح کوي.

په ممنوعه خپرونو کې يوازې دغه خپرونې جواز نه لري:

((۱- هغه ليکنې چې د اسلام د اصولو مغاير او نورو دينونو او مذهبونو ته سپکاوی وي.

۲- هغه ليکنې چې د اشخاصو د سپکاوي او پرهغو باندې د افتراء لامل شي.))[۱]

دا د افغانستان د رسنيز قانون عمومي محتوا وه. دا چې د تېرو اوو کلونو په ترڅ کې دا قانون يا نور رسنيز قوانين څومره عملي شوي او څومره نه دي عملي شوي، په دې برخه کې بايد ووايو، که د رسنيو قانون له نورو قوانينو، د افغاني ټولنې له عمومي هضم او ظرفيت او همدارنګه د حکومت اجرايي ځواک له تعميل سره پرتله کړو، نو د رسنيو قانون د نورو هغو په اندول زيات تطبيق شوی دی. ددې تطابق علت دا نه دی، چې حکومت او يا د دولت نورو درې ګونو ځواکونو دا قانون تطبيق کړی دی، بلکې ددې قانون تر شا په خپله د ټولنې څلورم قوت (د رسنيو چلوونکي او کارکوونکي) ولاړ دي، د هغوی ګټې، فعاليت او رسنيز ژوند ددې غوښتنه کوي، چې دا قانون بايد تطبيق شي. په هر حال رسنيز قانون او رسنوال يو له بل سره لازم او ملزوم دي او يو د بل د رسنيز ژوند بشپړوونکي او تنظيموونکي دي.

[۱] د ټوليزو رسنيو قانون، اتم ځپرکی، ۳۱مه ماده.

# دویم څپرکی

## د اوسنیو رسنیو ډولونه

پخوا به یې رسنیو ته د (مطبوعاتو) اصطلاح کاروله. څرګنده خبره ده؛ (مطبوعات) یوه عربي کلمه ده، چې د طباعتي یا چاپي خپرونو لپاره راځي. د وخت په تېرېدو سره اورېدنۍ او بیا لیدنۍ رسنۍ هم رامنځته شوې، خو تر اورېدنیو او لیدنیو رسنیو، چاپي رسنۍ اوږد تاریخ لري، چې د چاپ تر ماشین وروسته یې زیات پرمختګ کړی دی. کله چې راډیويي ستېشنونه جوړ شول، اورېدنیو رسنیو ورسره وده وکړه، خو په افغانستان کې د چاپي او اورېدنیو رسنیو له نسبتاً موازي ودې سره سره بیا هم د دواړو لپاره د (مطبوعاتو) همدا عربي اصطلاح کارېدله، نو ځکه خو یې د رسنیو تر اوسني قانون دمخه، د رسنیو قانون ته ((د مطبوعاتو قانون)) اصطلاح کاروله. په افغانستان کې د (رسنیو) اصطلاح یوازې په دې وروستۍ نیمه لسیزه کې دود شوه او ددې علت دا و، چې د (رسنیو) اصطلاح ، د رسنیو د اوسني او پراخ مفهوم په توګه، ټولې هغه ماناوې او ځانګړتیاوې رانغاړي، چې اوسنۍ رسنۍ یې لري. په اوسنیو رسنیو کې نه یوازې چاپي رسنۍ راځي، بلکې اورېدنۍ (راډیويي)، لیدنۍ (ټلویزیوني) او کتنۍ (برېښناییزې-انټرنټي) رسنۍ هم راځي. موږ دلته په افغانستان کې د اوسنیو رسنیو پر همدغو ډولونو او د هغو پر کمیت او کیفیت تر خپله وسه رڼا اچوو:

## ۱- چاپي رسنۍ:

د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته په افغانستان کې چاپي رسنیو په یو ناڅاپي ډول دومره وده وکړه، چې نه یې د افغانستان تېر تاریخ




مثال لري او نه هم تر بحرانه وروسته د نړۍ په نورو ټولنو او هېوادونو کې د رسنیو دا ډول چټکه وده لیدل شوې ده. ددې چاپي رسنیو د

ودې او ټوکېدنې عواملو ته مو دمخه اشاره وکړه، خو اوس دلته دکمیت له پلوه د چاپي رسنیو یادونه کوو:

د چاپي رسنیو ډېره درنه برخه اوس په کابل کې خپرېږي، ددې یو علت دادی، چې کابل کې د چاپ او خپراوي امکانات زیات دي او هم د لوستو خلکو کمیت لوړ دی، طبیعي خبره ده، چې د چاپي رسنیو وده، د لوستو خلکو له شمېر او د هغو له اقتصادي حالت سره مستقیم ارتباط لري، نو ځکه په کابل کې د رسنیو کمیت ډېر زیات دی. د بهرنیو ځواکونو، بېلابېلو انجوګانو او نړیوالو سازمانونو شتوالی هم د چاپي رسنیو اړتیا زیاته کړې ده، په عمومي ډول د تقاضا لوړتیا هم په دې برخه کې خپل تاثیرات لري، خو د وروستیو کلونو په بهیر کې د ولایتونو په لویو او وړو ښارونو کې هم چاپي رسنیو وده کړې، چاپشمېر او مینوال یې ورځ پر ورځ زیاتېږي.

دلته به موږ په لومړي ګام کې د مرکز او ولایتونو هغو چاپي خپرونو ته اشاره وکړو، چې په رسمي ډول یې له اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه خپل جواز ترلاسه کړی دی، په دې کې دولتي چاپي رسنۍ هم شته او نادولتي هم. په نادولتي هغو کې ټولې ډول ډول نادولتي چاپي رسنۍ شاملې دي؛ تنظیمي، ازادې، انجیوزې هم په دې کټه ګوری کې دي، چې وروسته به پرې رڼا واچوو.

# دولتي چاپي رسنۍ

## الف- په پلازمېنې کابل کې دولتي چاپي رسنۍ:

| گڼه | نوم | ډول او مهال | ژبې | د امتیاز خاوند | گڼشمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | خدمت | جریده- میاشتنۍ | دري، پښتو | اداري اصلاحاتو مستقل کمیسیون | ۱۰۰۰ |
| ۲ | پرواز اریانا | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو، انگلیسي | اریانا افغان هوایي شرکت | ۱۰۰۰ |
| ۳ | روغتیا او استقلال | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو، دري، انگلیسي | اسقلال روغتون | ۱۵۰۰ |
| ٤ | وطنداران | جریده- اوونیزه | پشه یي، نورستان، ازبکي، ترکمني، بلوڅي | اطلاعاتو او فرهنگ وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۵ | خورشید | جریده- میاشتنۍ | دري،پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ٦ | فرهنگ | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۲۰۰ |
| ۷ | کابل ټایمز | ورځپاڼه | انگلیسي | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۹۰۰ |
| ۸ | اصلاح | ورځپاڼه | پښتو، دري | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۷۰۰ |
| ۹ | انیس | ورځپاڼه | دري، پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۵۰۰۰ |
| ۱۰ | هېواد | ورځپاڼه | پښتو، دري | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۲٦۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | د کمکیانو انیس | مجله | دري، پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۱۲ | د افغانستان کالنۍ | کلنۍ | پښتو، دري | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۱۳ | باستانشناسي | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۱۴ | مطبوعات | اوونیزه | پښتو، دري، انګلیسي | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۸۰۰ |
| ۱۵ | اطلاعات | جریده-نیم میاشتنۍ | پښتو، دري | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۱۶ | کتاب | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۱۷ | وطنداران | جریده- اوونیزه | پښتو، دري | اطلاعاتو کلتور وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۱۸ | افغان اعلانات | جریده-نیم میاشتنۍ | پښتو، دري | افغان اعلاناتو ریاست | ۲۰۰ |
| ۱۹ | افغان کارپوهان | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو، دري | افغان اعلاناتو ریاست | ۵۰۰ |
| ۲۰ | اواز | مجله- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو | افغانستان ملي راډیو ټلویزیون | ۱۰۰۰ |
| ۲۱ | اقتصاد و انکشاف | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | اقتصاد وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۲۲ | ورزش | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو او انګلیسي | المپیک ملي کمېټه | ۶۰۰۰ |
| ۲۳ | انتخابات | مجله- میاشتنۍ | پښتو، دري | انتخاباتو مستقل کمیسیون | ۱۰۰۰ |
| ۲۴ | عرفان | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | پوهنې وزارت | ۵۰۰۰ |
| ۲۵ | معارف | جریده-نیم میاشتنۍ | دري، پښتو | پوهنې وزارت | ۵۰۰۰ |
| ۲۶ | تفتیش | مجله- درې | دري، پښتو | تفتیش او کنټرول | ۵۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | میاشتنۍ | | اداره | |
| ۲۷ | چاپېریال ساتنه | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | چاپېریال ساتنې مستقله اداره | ۱۰۰۰ |
| ۲۸ | پیام حق | مجله- دوه میاشتنۍ | پښتو، دري | حج او اوقافو وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۲۹ | برېښنا | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | د اوبو او انرژۍ وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۳۰ | مبارزه با حوادث | جریده- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو او انګلیسي | د پېښو پر وړاندې د تیاري اداره | ۱۰۰۰ |
| ۳۱ | اقتصاد | مجله- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو او انګلیسي | د تجارت او صنایعو خونه | ۱۸۰۰ |
| ۳۲ | جرګه | مجله- دوه میاشتنۍ | پښتو | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۳۳ | هموطن | مجله- درې میاشتنۍ | په اوو ژبو | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۳۴ | غرجستان | مجله- درې میاشتنۍ | دري- هزارګی | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ٤۰۰ |
| ۳۵ | جاش | مجله- درې میاشتنۍ | نورستاني، پښتو، دري | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۵۰۰ |
| ۳٦ | تارا | جریده- نیم میاشتنۍ | پشه یي | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۵۰۰ |
| ۳۷ | وطن | جریده- نیم میاشتنۍ | پښتو، دري | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۳۸ | یولدوز | جریده- نیم میاشتنۍ | ازبکي | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۳۹ | ګوراش | جریده- نیم میاشتنۍ | ترکمني | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ۱۰۰۰ |
| ٤۰ | ارمان شهدا و معلولین | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت | ۲۰۰۰ |
| ٤۱ | کار و اجتماع | مجله- دوه | دري، پښتو | د کار او ټولنیزو | ۵۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | میاشتنۍ | | چارو وزارت | |
| ٤٢ | کرنه | مجله- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو | د کرنې وزارت | ۱۰۰۰ |
| ٤٣ | امنیت | جریده- مهالنۍ | دري، پښتو | د ملي امنیت لوی ریاست | ۱۰۰۰ |
| ٤٤ | هوا | مجله- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو | ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت | ۱۰۰ |
| ٤٥ | اردو | مجله- میاشتنۍ | پښتو، دري | دفاع وزارت | ۲۵۰۰ |
| ٤٦ | دفاع | جریده- اوونیزه | پښتو، دري | دفاع وزارت | ۳۰۰۰ |
| ٤٧ | ژورنالیزم | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | ژورنالیزم پوهنځی | ۵۰۰ |
| ٤٨ | قضا | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | ستره محکمه | ۵۰۰ |
| ٤٩ | میزان | جریده- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو | ستره محکمه | ۱۰۰۰ |
| ۵۰ | سره میاشت | جریده-نیم میاشتنۍ | پښتو، دري | سره میاشت | ۳۰۰۰ |
| ۵۱ | سواد اموزی | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | سواد زده کړې معینیت | ۱۰۰۰ |
| ۵۲ | سیمه ییز مطالعات | فصلنامه- درې میاشتنۍ | پښتو، دري، انگلیسي | سیمه ییزو مطالعاتو مرکز | ۱۰۰۰ |
| ۵۳ | صحت | مجله- دوه میاشتنۍ | دري، پښتو | عامې روغتیا وزارت | ۵۰۰ |
| ۵٤ | رسمي جریده | مجله- میاشتنۍ | پښتو، دري | عدلیې وزارت | ۵۰۰ |
| ۵۵ | عدالت | مجله- میاشتنۍ | دري، پښتو | عدلیې وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۵٦ | اگاهي حقوقي | جریده- میاشتنۍ | دري، پښتو | عدلیې وزارت | ۳۰۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۷ | اريانا | مجله- درې میاشتنۍ | دري | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ۵۸ | پښتو | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو او انګلیسي | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ۵۹ | تبیان | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو، دري او عربي | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۰ | تحقیقات کوشاني | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو او انګلیسي | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۱ | طبیعت | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۲ | افغانستان | مجله- درې میاشتنۍ | انګلیسي | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۳ | خراسان | مجله- دوه میاشتنۍ | دري | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦٤ | کابل | مجله- دوه میاشتنۍ | پښتو | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۵ | زيرى | جريده- اوونیزه | پښتو | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦٦ | تفکر | جريده- میاشتنۍ | پښتو، دري | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۷ | تفکر | جريده- نیم میاشتنۍ | دري، پښتو | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۸ | اخبار ساینس و تکنالوژي | مجله- شپږ میاشتنۍ | پښتو، دري، انګلیسي | علومو اکاډمي | ۱۰۰۰ |
| ٦۹ | قانونیت | مجله- فصلنامه | پښتو، دري، انګلیسي | فساد پر وړاندې د مبارزې مستقل رياست | ۱۵۰۰ |
| ۷۰ | فواید عامه | مجله-نیم میاشتنۍ | دري، پښتو | فواید عامې وزارت | ٤۰۰ |
| ۷۱ | علم وتکنالوژي | مجله- دوه میاشتنۍ | دري | کابل پولیتخنیک | ۵۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷۲ | صدای پوهنتون | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو، دري | کابل پوهنتون | ۱۰۰۰ |
| ۷۳ | راهیان ابنسینا | جریده-نیم میاشتنۍ | دري، پښتو | کابل طب انستیتیوت | ۵۰۰ |
| ۷۴ | پامیر | جریده- اوونیزه | دري، پښتو | کابل ښاروالي | ۱۳۰۰ |
| ۷۶ | پولیس | مجله- میاشتنۍ | پښتو، دري | کورنیو چارو وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۷۷ | مبارزه باجرایم | جریده- اوونیزه | پښتو، دري | کورنیو چارو وزارت | ۱۵۰۰ |
| ۷۸ | څارنوال | مجله- درې میاشتنۍ | دري،و پښتو | لوی څارنوالي | ۵۰۰ |
| ۷۹ | باز سازي | مجله- درې میاشتنۍ | دري، پښتو | لوړو زده کړو وزارت | ۵۰۰ |
| ۸۰ | ثروت | مجله- دوه میاشتنۍ | پښتو، دري | مالیې وزارت | ۷۰۰ |
| ۸۱ | اطلاعات مالي | جریده- میاشتنۍ | پښتو، دري | مالیې وزارت | ٦۰۰ |
| ۸۲ | اړیکه | مجله- درې میاشتنۍ | پښتو، دري | مخابراتو وزارت | ۲۰۰۰ |
| ۸۳ | مخدرات | جریده- مهالنۍ | دري، پښتو | مخدره توکو پر ضد کمیسیون | ۱۰۰۰ |
| ۸٤ | سالنامه احصاییوي | مجله- کلنۍ | دري، پښتو | مرکزي احصائیه | ۱۰۰۰ |
| ۸۵ | عودت | مجله- میاشتنۍ | پښتو دري، انګلیسي | مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت | ۲۰۰۰ |
| ۸۷ | مهاجر | جریده- مهالنۍ | دري،پښتو | مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت | ۱۰۰۰ |
| ۸۸ | ولسي جرګه | جریده- میاشتنۍ | دري، پښتو | ولسي جرګه | ۵۰۰ |
| ۸۹ | فصلنامه ولسي | مجله- درې | دري، پښتو | ولسي جرګه | ۱۰۰۰ |

| | | | میاشتنۍ | جرګه | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | ټرانسپورټ وزارت | پښتو، دري، انګلیسي | مجله- میاشتنۍ | ترانسپورت | ۹۰ |
| ۱۰۰۰ | ښاري پراختیا وزارت | دري، پښتو | مجله- میاشتنۍ | انکشاف شهري | ۹۱ |
| ۵۰۰ | ښکلو هنرونو پوهنځی | دري، پښتو | مجله- دوه میاشتنۍ | هنر های زیبا | ۹۲ |
| ۱۰۰۰ | ښځو چارو وزارت | دري،پښتو | جریده- اوونیزه | ارشاد النسوان | ۹۳ |

پر پورتنیو چاپي خپرونو سربېره په کابل کې یو زیات شمېر نورې دولتي چاپي رسنۍ هم شته، چې د بېلابېلو دولتي ارګانونو او علمي مرکزونو له لارې خپرېږي. دې ډول رسنیو یا ډېر پخوا د چاپ امتیاز اخیستی، د جګړو پر مهال اکثره پر ټپه ودرېدلې وې، خو اوس یې بیا پر خپرونو پیل کړی او یا هم ځینو یې اوس تازه د خپراوي جواز ترلاسه کړی دی، په مجموعي ډول ددې خپرونو شمېر په ټول کابل کې په سلګونو بېلابېلو عنوانو ته رسېږي، چې تراوسه لا هېڅ کوم ارګان سره ددې ټولو خپرونو منظم لست او ځانګړتیاوې نه شته، ددې ټولو د نومښود او ځانګړتیاوو ترتیب اسانه کار ځکه نه دی، چې اکثره یې یوه دوه ګڼې خپرونې وکړې، نورې یې بېرته بندې شي او یا په کې ډېر ځنډ راشي.

د پورتنیو یادشویو خپرونو د ژبنۍ کچې په اړه باید وویل شي؛ اکثره خپرونې چې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ثبتېږي، هغوی د ثبت پر وخت لیکي چې په پښتو، دري، انګلیسي او یا هم پر کومې بلې ژبې به هم نشرات کوي، خو لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، په عملي

٩- د کليواو پراختيا وزارت: د کليو او پراختيا وزارت رسمي وېبپاڼه ده، چې د همدې وزارت د فعاليتونو په اړه معلومات خپروي.
١٠- د ماليې وزارت: د ماليې وزارت رسمي پاڼه ده، چې په درېو ژبو (پښتو،دري او انګرېزي) معلومات خپروي، د (ثروت) مجله هم دلته ليدلای شئ.
١١- د مخابراتو وزارت: دادمخابراتو وزارت رسمي وېبپاڼه ده، چې دهمدې وزارت په اړه معلومات اوهم دهمدې وزارت ځينې خبرتياوي خپروي.
١٢- داطلاعاتو کلتور وزارت: دهمدې وزارت وېبپاڼه ده، په درېو ژبو( پښتو ، دري او انګليسي) د نوموړي وزارت په اړه معلومات خپروي.
١٣- دعدليې وزارت:د افغانستان د عدليې وزارت رسمي وېبپاڼه ده، چې په درېو ژبو (پښتو، دري، انګرېزي) د همدې وزارت د فعاليتونو په اړه معلومات خپروي.

**۱٤- دکانو او صنایعو وزارت:** دافغانستان د کانو او صنایعووزارت انټرنټ پاڼه ده، چې د همدې وزارت د کارونو په اړه معلومات خپروي.
**۱۵- دلوړو زده کړووزارت:** د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت رسمي وېبپاڼه ده، چې د همدې وزارت په اړه معلومات خپروي.
**۱٦- دمخدره موادو دکنټرول وزارت:** په افغانستان کې د نشه يي توکو او مخدره موادو د کنټرول وزارت معلوماتي وېبپاڼه ده.
**۱۷- دولسمشر رسمي پاڼه:** د افغانستان دجمهور ریس رسمي پاڼه ده، چې د ولسمشر د دفتر او مشرتابه دکتنو په اړه معلومات په کې خپرېږي.
**۱۸- کندهار راډیو ټلویزیون** - دنوموړي ټلویزیون خپرونې، کندهار راډیو ،طلوع افغان ورځپاڼه او نور په زړه پورې مواد په کې موندلای شئ.

## ب- خپلواکې کتنې رسنۍ:

**۱- اریا نټ-** د جمشید شفق په مسولیت پر ۱۳۸۳ل کال تاسیس شوی، په دري ژبه پر خبرونو سربېره د بېلابېلو سیاسي، ټولنیزو او کلتوري مسایلو په باب لیکنې خپروي.
**۲-اراکوزیا** - دارکوزیا افغان اعلاناتو تجارتي پاڼه ده، چې د همدې شرکت په اړه او هم دارکوزیا مشورتي گروپ معلومات خپروي.
**۳- اریایي:** د عزیز جرئت په مسولیت په دري ژبه خپرېږي، چې مختلف سیاسي، ټولنیز او نور مطالب لري.
**٤- الامارت:** په افغانستان کي د طالبانو تحریک دفرهنگي چارودکمیسیون پاڼه ده، چې سیاسي او جگړیزې پېښې، لیکني او شننې په کې خپرېږي.
**۵- ازادي:** د نجیب روشن په مسولیت په دري ژبه ډول ډول مطالب خپروي.

٦- ازمون ملي: د ويس ناصر په مسوليت، په دري ژبه خپرونې کوي.
٧- استادگل پاچا الفت - د ستر ليکوال اروابناد استاد گل پاچا الفت پاڼه ده، چې د استاد د ژوندليک ترڅنگ د هغه يو شمېر ادبي ليکنې خپروي.
٨- اسد٢٨- دا يوه خپلواکه ادبي،کلتوري اوتاريخي پاڼه ده، چې د افغانستان او سيمي په اړه خبرونه، مقالې اونور مطالب خپروي.
٩- اسمايي: د ديپلوم انجنير حميدالله عبيدي په مسوليت خپرېږي، چې خبري، معلوماتي، کلتوري او سياسي مطالب خپروي. اکثره ليکنې يې په دري ژبه دي.
١٠- افغان ادبي بهير: د افغان ادبي بهيرځانگړې وېبپاڼه ده، چې د نوموړي ادبي بهير د غونډواو فعاليتونو په اړه معلومات او همدارنگه ادبي او فرهنگي ليکنې خپروي .
١١- افغان بېسيم: دهمدې مخابراتي شرکت پاڼه ده، چې دشرکت معلومات او هم د همدې شرکت مخابراتي سامان الات په کې تر لاسه کولای شئ.
١٢- افغان جرمن انلاين: له جرمني هېواد څخه په پښتو ، دري او جرمني ژبو خپرېدونکی وېبپاڼه ده .
١٣- افغان رساله - په کاناډا کې د خپرېدونکي اخبار افغان رسالې پاڼه ده، چې د نوموړي اخبار مطالب او نور مواد په کې لوستلای شئ.
١٤- افغان فرهنگي يون: کابل مېشتو او پېښور مېشتو افغان ليکوالو له خوا خپرېدونکې په زړه پورې ادبي، کلتوري وېبپاڼه ده .
١٥- افغان کلتور: په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې وېبپاڼه ده، چې د همدې ټولنې د فعاليتونو او نورو کلتوري مسايلو په اړه معلومات خپروي.

۱٦- افغـان لینگـویجز: د جـان محمـد پـه مسـولیت پـه پښـتو، دري او انگرېزي ژبو خپرونې کوي.
۱۷- افغان ملت: د افغان ټولنپال ولسواک گوند ځانگړې خپرنیـزه وېبپاڼـه ده، چې د دغه گوند د تاریخچې ، کار او مبارزو په باب معلومات لري.
۱۸- افغان نټ: یوه کلتوري او تاریخي وېبپاڼه ده، چـې پـر نـورو پـه زړه پورو معلوماتوسربېره د پښتنود تاریخي او فرهنگي نومیالیو څېرو دپېژندنې برخه یې هم شتمنه ده .
۱۹- افغانستان: د اروابناد کاندید اکاډمیسین اسـتاد محمـد انـور نومیـالي فرهنگي ژوند ، لیکنو او اثارو ته ځانگړې شوې وېبپاڼه ده.
۲۰- امـین زی: د همـت الله امـین زي وېبپاڼـه ده، چـې بېلابېـل مسـایل خپروي.
۲۱- برېښـــنا: د برېښـــنایي کتـــابتون او پـــه نـــوې او اســـانه بڼـــه د پښـــتو کتابونو جوړولو او لوستلو لپاره لاربښوونې، مینوالو ته وړاندي کوي.
۲۲- بېنوا: په پښتو ژبه یـوه غنـي او پـه زړه پـورې وېبپاڼـه ده، دورځنیـو خبرونواو کلتوري موضوعاتو په خپرولو، د لوستونکو تنده ماتوي.
۲۳- پسرلی: استاد محمدصدیق پسرلي ته ځانگړې شوې وېبپاڼـه ده، چـې د نوموړي د ژوند، لیکوالۍ او اثارو په اړه معلومات خپروي.
۲٤- پندار: مسول مدیر یې عظیم بابک دی، په دري ژبـه بېلابېـل مطالـب خپروي.
۲۵- پوهانـد دوسـت - د اروابنـاد پوهاند دوسـت شـینواري پـه نامـه یـوه تخنیکي معلوماتي پاڼه ده، چې دکمپیوټر په اړه معلومات خپروي.
۲٦- پیام مجاهد:د پیام مجاهد اخبار وېبپاڼـه ده، چـې د نومـوړي اخبـار لیکنې او نور مختلف سیاسي مطالب په کې راځي.

۲۷- پیام وطن: د ایمل پېروز په مسولیت خپرېږي، په دري ژبه ټولنیز، سیاسي او نور مطالب خپروي.
۲۸- پښتانه - داپاڼه تر اوسه پورې پر پښتنو له راغلو سترو غمیزو څخه د خلکو د خبرولو په موخه د هرې موضوع لپاره، تر یوه وخته ځانګړې کېږي.
۲۹- پښتو اسلام – دا د (نفیس علمي ټولنې) اسلامي پاڼه ده، چې په خپل وارسره په پښتو ژبه داسلام دمبارک دین په اړه معلومات خپروي.
۳۰- پښتو سافټ: پښتو سافټ نومي د ښاغلي کمپیوټر پوه اسرار احمد کریمزي له خواخپرېدونکې ښکلې وېبپاڼه ده، چې د نومونړي له خوا جوړ شوي پښتو پوستکالي هم ترې دګتې لپاره راکښته کولای شو .
۳۱- پښتو: دا یوه اسلامي او نیمه تجارتي پاڼه ده، چې د اسلام تبلیغي کسټونه په کې اورېدلای شئ او هم یې رانیولای شئ.
۳۲- پښتونخوا: د پښتنو ټولنیز ولسیز ګوند په زړه پورې وېبپاڼه ده، چې مینه وال په کې سیاسي، ټولنیزې او کلتوري لیکنې موندلای شي.
۳۳- پښتوټکی نېټ - دا یوه خپلواکه ادبي پاڼه ده،چې په انګلیسي- ژبه د پښتو اوپښتنو په اړه معلومات، تر بهرمېشت ځوان کهول پورې رسوي.
۳٤- تاند- دا یوه کلتوري پاڼه ده،چې د ورځنیو خبرونو تر څنګ بېلابېلې ادبي اوهنري لیکنې او نور مواد خپروي.
۳۵- ترقي: د دکتور محمدسالم سپارتک په مسولیت خپرېږي او په دري ژبه بېلابېل مطالب خپروي.
۳٦- تل افغان - له مسکوه خپرېدونکې خپلواکه ، نا پیېلې ، فرهنګي، ټولنیزه وېبپاڼه ده، چې کلتوري توکي او خبرونه خپروي.
۳۷- جوانان بیدار: د طارق پیکار په مسولیت، په دري ژبه خپرونې کوي.

۳۸-جاوېدان- په دري ژبه پر خبرونو سربېره سیاسي، کلتوري، ټولنیز او تاریخي مطالب هم خپروي.
۳۹- خیبر: دا هم یوه ناپیېلې هنري او کلتوري وېبپاڼه ده، چې په پښتو اوانګرېزي ژبو خپرونې لري.
٤٠-خاوران- د ضیا رهین په مسولیت په دري ژبه، سیاسي، کلتوري او ټولنیز مطالب خپروي.
٤١- د افغانانو ټاټوبی: یوه خپلواکه ادبي او معلوماتي وېبپاڼه ده، چې د افغانستان او افغانانو په باب معلومات خپروي.
٤٢- د افغانستان کتابتون: په دې وېبپاڼه کې د افغانستان هغه کتابونه ځای پر ځای شوي، چې د امیر عبدالرحمن خان په دارالاسلطنت مطبعه کې چاپ شوي دي.
٤٣- داستانونه: د انټرنټ پرمخ له کابله خپرېدونکې داستانونو مجلې وېبپاڼه ده، چې له ګڼو ژبو پښتو ته داستاني اثار را ژباړي او هم د کیسې اړوند مواد مینه والو ته وړاندې کوي .
٤٤- دعوت: له ناروې څخه د (دعوت) نومې میاشتنۍ جریدې وېبپاڼه ده، چې د انټرنېټ پر مخ هم په زړه پورې سیاسي، ټولنیزې او کلتوري لیکنې خپروي .
٤٥- دیدګاه: د فیاض نجیمي په مسولیت په دري ژبه د بېلابېلو مسایلو په اړه نشرات لري.
٤٦- راه روشنایي: د فرید فرخزاد په مسولیت په دري ژبه ډول ډول مطالب خپروي.
٤٧- رشاد: ارواښاد اکاډمیسین استاد عبدالشکور رشاد ته ځانګړې شوې وېبپاڼه ده، چې د نوموړي ارواښاد استاد اثاراو د هغه په اړه لیکنې خپروي .

٤٨- روزنه: د نورمحمد عطازی په مسولیت خپرېږي، په دري ژبه ټولنیز او نور مطالب خپروي.
٤٩- روشن شرکت: داپه افغانستان کې د ټلیفون د دویم نړیوال شرکت پاڼه ده،چې دشرکت گرځنده ټلیفونواوسیم کارتونو په اړه معلومات خپروي.
٥٠- روشنایی: یو مدیره هئیت لري او ډول ډول ټولنیز، سیاسي او ادبي مسایل خپروي.
٥١- روشنک: د انجنیر سید مهران په مسولیت په دري ژبه نشرات کوي.
٥٢- روغتیا- دافغان ډاکترانو له خوا جوړه شوې وېبپاڼه ده، چې د روغتیا په هکله تازه معلومات ، لیکنې او څېړنې په پښتو ژبه خپروي .
٥٣- روهي: ارواښاد کاندید اکاډمیسین استاد محمد صدیق روهي ته منسوبه پښتو وېبپاڼه ده، چې ادبي کلتوري،سیاسي او ټولنیزې لیکنې خپروي .
٥٤- رښتیني افغانان: یوه کلتوري وېبپاڼه ده، په پښتو او دري ژبو خپرېږي، د خبرو اترو د تالار او د افغانستان د نومیالیو څېرو د پېژندنې برخه یې خورا په زړه پورې ده .
٥٥- زموږ افغانستان: د ښاغلي اکمل ساپي له خوا یوه شخصي- وېبپاڼه ده، چې ډېر په زړه پورې معلومات لري .
٥٦- زنده گي: د فرید سیاوش په مسولیت په دري ژبه د بېلابېلو مسایلو په اړه نشرات کوي.
٥٧- زیار ټکی نټ: د هېواد نامتو لیکوال او ژبپوهاند، د کابل پوهتنون پخواني استاد ښاغلي پوهانددوکتور مجاور احمد زیار وېبسایټ دی، چې د نوموړي استاد لیکنې، څېړنې او شعرونه په کې خپرېږي .

**۵۸- ژواک: د کبیر شاغاسي په مسولیت خپرېږي او بېلابېل مطالب خپروي.**
**۵۹- سباوون انلاین: یوه خپلواکه کلتوري او ټولنیزه وېبپاڼه ده، چې په پښتو او انګریزي ژبو خپرونې لري.**
**٦۰- سپرغۍ: د سیاسي، ادبي، علمي او هنري افکارو او نظریو د خپرولو خپلواکه او ناپیيلې وېبپاڼه ده.**
**٦۱-سپېده دم: د واحد فیضي وېبپاڼه ده، چې په دري ژبه نشرات کوي.**
**٦۲- ستوری: د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند د پخواني مشر، ارواښاد ډاکتر کبیر د اند و ژوند په اړه بشپړ او په زړه پورې وېبسایټ دی، چې د نوموړي د سیاسي ژوند، لیکوالۍ او اثارو په اړه معلومات خپروي .**
**٦۳- سلام فرهنګي ټولنه: د هالنډ مېشتې سلام فرهنګي ټولنې وېبپاڼه ده، چې د هېواد د تاریخ،کلتور او لرغونپوهنې په باب څېړنیزې لیکنې خپروي.**
**٦٤- سمسور: یوه هنري پښتو وېبپاڼه ده، چې د پښتو موسیقۍ او افغاني هنر د وړاندې کولو تر څنګ، ځینې ادبي مواد هم خپروي .**
**٦۵- سورغر اوونیزه - دارکوزیا افغان مشورتي ګروپ له خوا خپرېدونکې اوونیزه ده، چې په کندهار کې په لوړ کیفیت او تیراژ خپرېږي .**
**٦٦-سیمه ییز مطالعات: د افغانستان د علومو اکاډمۍ دسیمه ییزو مطالعاتو د مرکز وېبپاڼه ده، چې د دغه مرکز د فعالیتونو او د سیمې د حالاتو په باب معلومات په کې خپرېږي .**
**٦۷-شاخه: د فضل الرحیم رحیم په مسولیت، په دري ژبه بېلابېل مطالب په کې خپرېږي.**

٦٨- **شبکه غروة الوثقی:** د افغانستان لپاره د قرآنکریم تر ټولو لومړۍ او ستره انترنتي شبکه ده، چې د قرآنکریم په اړه هر راز معلومات او نورې اسلامي لیکنې خپروي .

٦٩-**طنزونه:** طنزونو ته ځانګړې شوې وېبپاڼه ده، چې د هېواد د غښتلي طنز لیکونکي ښاغلي محمود نظري له خوا خپرېږي.

٧٠- **علامه حبیبي** - دا د اروابښاد لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي وېبپاڼه ده، چې د علامه استاد اثار په کې خپرېږي.

٧١-**فریاد ازادي:** د جلیل پرشور په مسولیت خپرېږي او بېلابېل سیاسي او ټولنیز مطالب خپروي.

٧٢-**کابل ناته:** د ایشرداس وېبپاڼه ده، چې ډول ډول مطالب خپروي.

٧٣- **ګفتمان:** د انجنیر عبدالله الم په مسولیت په دري ژبه سیاسي، ټولنیز او نور مسایل خپروي.

٧٤- **لر او بر:** له هالنډ څخه خپرېدونکې په زړه پورې وېبپاڼه ده، چې د لر او بر افغانستان د ورځنیو پېښو په هکله ، خبرونه،انځورونه او ویډیویي کلپونه خپروي .

٧٥- **لوی افغانستان-** یوه ازاده او خپلواکه وېبپاڼه ده، چې د افغانستان او په سر کې دلوی افغانستان بېلابېل مسایل په پښتو ژبه وړاندې کوي.

٧٦-**لیکوال** - دلیکوالو لپاره دخالدهادي په زیارجوړه شوې ځانګړې پاڼه ده، چې دافغان لیکوالو په اړه مواد او معلومات خپروي.

٧٧-**لیکوال:** د افغان لیکوالواود هغوی د اثارو په اړه د معلوماتو خپراوي ته ځانګړې شوې وېبپاڼه ده.

۷۸-لېوال نټ: د لېوال شرکت وېبپاڼه ده، چې نوموړی شرکت په ارزانه بیه پښتوپوستکالي، د انټرنټ اسانتیاوې او کمپیوټر اړوند سامانونه مینه والوته وړاندې کوي.
۷۹- مسافر: یوه خپلواکه ادبي او هنري وېبپاڼه ده، چې پښتو موسیقۍ تـه هم په کې ډېرځای ورکړشوی دی .
۸۰-مستانه: په انټرنېټ کې د افغاني موسیقۍ او هنر تر ټوله شتمنه پاڼه ده، چې په وړیا توګه خپلو مینه والو ته موسیقي وړاندې کوي .
۸۱-مشرق سافټ: دا یوه تخنیکي او معلوماتي وېبپاڼه ده، چې په پښتو ژبه د کمپیوټر او انټر نېټ په اړه معلوماتي مواد خپروي.
۸۲-ملالۍ جویا: د ملالۍ جویا د ملاتړ کمېټې په مسولیت، سیاسي او ټولنیز مسایل خپروي. اکثره لیکنې یې په دري ژبه دي.
۸۳-مهر: د انجنیر عبدالقیوم میرزاده په مسولیت، په دري ژبه خپرونې کوي.
۸٤-نهضت اینده افغانستان: د پوهندوی دوکتور بسم الله شیوامل په مسولیت، په دري ژبه بېلابېل مسایل خپروي.
۸۵-نورالانوار: د دوکتور عبدالستار سیرت ځانګړې وېبپاڼه ده.
۸٦-نوید فردا: د فاروق فردا په مسولیت خپرېږي، په دري او پښتو ژبو نشرات کوي او ډول ډول خبري، سیاسي، ټولنیز او کلتوري مطالب خپروي.
۸۷-هېواد افغانستان - دا یو خپلواکه وېبپاڼه ده، د پښتو موسیقۍ او هنر تر څنګ نور کلتوري مواد هم خپروي.
۸۸- هېواد: د ښاغلي هېواد شېرزاد له خوا یوه شخصي- ادبي، کلتوري وېبپاڼه ده، چې د پښتو ادب او کلتور په اړه لیکنې په کې خپرېږي.

۸۹-وربل- دافغان ولسپال ځوانانو له خوا د ښځو لپاره ځانګړې شوې پاڼه ده، چې په پښتواو انګليسي ژبو خپرونې کوي.
۹۰- وطندار: د انجنير نجيب په مسوليت خپرېږي او په دري ژبه نشرات کوي.
۹۱-وړانګه: دا يوه ادبي او کلتوري وېبپاڼه ده، چې تاريخي او کلتوري مسايل په کې خپرېږي .
۹۲- ټول افغان: يوه په زړه پورې کلتوري وېبپاڼه ده، چې د بحث فورم، الکترونيکي لوبواو تخنيکي ستونزو د حل لپاره، موادو ته هم په کې ځای ورکړل شوی دی.
۹۳- ټيک افغان: د کمپيوټر د زده کړې يوه بډايه وېبپاڼه ده چې دافغانستان له هرات ښار څخه خپرېږي.
۹٤- ګوربت: دګوربت فرهنګي ټولنې وېبپاڼه ده، چې د ورځنيو خبرو تر څنګ نورادبي، کلتوري مواد هم په کې خپرېږي .
۹۵- ۲٤ ساعت: د مهدي بشير په مسوليت په دري ژبه نشرات کوي، خبري او نور مطالب خپروي.
پر پورتنيو خپلواکو وېبپاڼو سربېره نورې ازادې وېبپاڼې هم شته، چې تر دې دمه يې په باب معلومات زما لاس ته رانغلل. دغه راز کتنې رسنۍ په تېره بيا وېبپاڼې په ډېرې چټکۍ سره د زياتېدو په حال کې دي، چې د ټولو راټولول يې اوسمهال ماته ممکن نه و.

# خبري اژانسونه او خبرپاڼې

پر پورتنیو وېبپاڼو سربېره د دولتي اژانس ترڅنګ یو شمېر نور ازاد اژانسونه هم فعالیت لري، دا اژانسونه نه یوازې نورو رسنیو ته خبرونه او نور خپرنیز مواد ورکوي، بلکې خپله هم ځانګړې وېبپاڼې لري، چې اکثره یې په خپلو نومونو دي، چې دلته ورته اشاره کېږي:

۱- افغان اسلامي اژانس - دا اژانس، چې پر ۱۹۸۲ م کال د یعقوب شرافت له خوا رامنځته شوی، په افغاني رسنیو کې دپام وړ رول لري.

۲- باختر اژانس - دافغانستان د اطلاعاتو اوکلتور وزارت اړوند خبري اژانس دی،چې د افغانستان، سیمې او نړۍ په اړه خبرونه او نور معلومات خپروي.

۳- پژواک خبري اژانس - خپلواک خبري اژانس دی، چې په پښتو،انګلیسي اودري ژبو، دافغانستان د ورځنیوخبرونوترڅنګ دکلتوري خبرونوبرخه هم لري.

٤- ققنوس خبري اژانس- دا هم یو نوی خبري اژانس دی، چې د خبري اژانس تر څنګ نور کلتوري فعالیتونه هم لري.

٥- کوکچه خبري اژانس- نوی جوړ شوی خبري اژانس دی، چې د هېواد د بېلابېلو پېښو په اړه خبرونه خپروي.

٦- هندوکش خبري اژانس- له څو کلونو راهیسې فعالیت لري، د بېلابېلو پېښو په اړه خبرونه خپروي.

۷- وخت خبري اژانس - په هېواد کې یو نوی جوړ شوی ازاد خبري اژانس دی، چې له ټول افغانستان څخه په درېو ژبو(پښتو،دري، انگرېزي) خبرونه خپروي.

۸- روز خبري اژانس- په هېواد کې یو نوی خبري اژانس دی، چې د صفيې میلاد له خوا جوړ شوی او پر خبرونو سربېره د نورو مسایلو په باره کې هم مطالب خپروي.

د یادونې وړ ده، چې د ټولو اژانسونو وېبپاڼې هم په همدې نومونو نومول شوي دي.

# درېیم څپرکی

## له پانګیز یا تمویلیز پلوه د رسنیو وېش

کله چې د افغانستان اوسنیو رسنیو ته ګورو، نو طبعاً د هغو د تمویل د سرچینو په باب هم د سړي په ذهن کې پوښتنې راټوکېږي، له لیدنیو او اورېدنیو رسنیو پرته، چې هغه هم په پیل کې یو ډول مخنۍ پـانګې ته اړتیا لري او یو شخص په اسانۍ سره نه شي کولای، دومـره درونـد مالي بار اوچت کړي، نورې رسنۍ په تېره بیا چاپي رسنۍ له چاپه بیا تر نشره پورې اکثره د زیان په زغم چلېږي. لیـدنۍ او اورېـدنۍ رسـنۍ د وروستیو څو کلونو په بهیر کې د خپل دوراني حرکـت لــه لارې خپـل ژوند تضمینوي، یانې دا چې د ګڼو اعلانونو د خپراوي او نورو ګټـنـدویو پروګرامونو د جوړولو له لارې تر یوه زیاته بریده خپل لګښت پوره کوي، خو چاپي رسنۍ بیا په ټولنه کې د لوستي قشر د کمي له امله پــه دې دریځ کې نه دي، نو ځکه د رسنیو پر مالي لګښت د خلکو شـک پیـدا کېږي. د افغانستان اساسي قانون او د رسنیو قـانون ددې اجـازه نــه ورکوي، چې کوم ګوند، شخص یا ډله دې د خپلو سیاسـي او رسـنیزو فعالیتونو لپاره له بهرنیو سرچینو څخه نامشروع مالي پانګــه ترلاسـه کړي، خو څرنګه چې تراوسه پورې زموږ په ټولنه کې قانون پــه بشــپړ ډول واکمن نه دی، نو د قانون له دې نیمګړي حاکمیت او خلا څخه یو

شمېر کورني اشخاص او د رسنیو چلوونکي هڅه کوي، د ځان لپاره ګټه پورته کړي او یو شمېر لرې او نږدې هېوادونو او نړیوالو سیاسي او ناسیاسي، خیریه او نا خیریه موسسو څخه مغرضې او نا مغرضې مرستې ترلاسه کړي. دلته به له پانګیز پلوه د رسنیو پر څرنګوالي لنډې خبرې وکړو:

**۱- دولتي رسنۍ:** هغه رسنۍ دي، چې د دولت له خوا تمویلېږي او د دولت افکار ځلوي. دا رسنۍ په عمومي ډول د خپل لګښت ډېره کمه برخه هم نه شي پوره کولای او دولت د پخواني دود له مخې مجبور دی، په دې برخه کې زیان وزغمي. کله چې په هېواد کې ازادې رسنۍ رامنځته شوې، د دولتي رسنیو انحصار هم ختم شو، نو د لیدونکو، اورېدونکو او لوستونکو شمېر یې هم څه ناڅه کم شو. د باور له پلوه هم دولتي رسنۍ د پخواني تاریخ او دود له کبله په ښه دریځ کې نه دي، که څه هم د وروستیو څو کلونو په بهیر کې دولتي رسنیو ته هم د ځینو بهرنیو هېوادونو له خوا په رسمي ډول ډېرې مرستې شوي او لا هم دا لړۍ روانه ده، خو په مجموعي ډول دولتي رسنۍ اساساً د دولت له خوا تمویلېږي. د جاپان، جرمني، هندوستان، د امریکا متحده ایالاتو او ځینو نورو هېوادونو، د افغانستان د دولت له سراسري او ولایتي ټلویزیونونو او راډیوګانو سره په لسګونو ملیونه ډالره مرسته کړې، دغه راز د ځینو خیریه موسسو له خوا له چاپي رسنیو سره هم مرسته شوې ده. لویې دولتي رسنۍ؛ ملي ټلویزیون او د هغه مربوط ولایتي ټلویزیونونه، همدارنګه راډیو افغانستان او ولایتي راډیو ستیشنونه دي، په چاپي خپرونو کې هېواد، انیس، اصلاح ، کابل

ټایمز، افغانستان ټایمز ورځپاڼې او د دولتـــي ارګــانونو نــورې اړونــدې مرکزي او ولایتي خپرونې (اونیزې، میاشتنۍ او کلنۍ) راځي.

**۲- تنظیمي یا ګوندي رســـنۍ:** هغــه رســنۍ دي، چــې د بېلابېلو سیاسي ډلو او ګوندونو له خوا خپرېږي، د تمویل سرچینې یې هم د همدې ګوندونو مشروع او نامشروع مالي منابع دي.

په افغانستان کې د چاپي رسنیو په برخه کې ددې ډول رسنیو شمېر زیات دی، تنظیمي یا ګوندي رسنۍ هم د دولتي هغو په شان د فکــري انحصار پر ناورغۍ اخته دي، ډېر مینــه وال نــه لــري، یــوازې د خپلــو ګوندي ګټو او نظرونو پر محتوا راڅرخي. که څه هم ظاهراً ددې رسنیو لګښت د اړوندو ګوندونو له خوا ورکول کېږي، خــو څرنګــه چــې پــه افغانستان کې اکثره سیاسي ډلې له کورنیو مالي ســرچینو څخــه نــه خړوبېږي او یا خپل کورني امکانات ورته پوره نه دي، نو دوی له ځینــو هغو بهرنیو سرچینو څخه، چې دوی ورځنې په سیاسي برخه کې الهام اخلي، ددې رسنیو لپاره هم پیسې ترلاسه کوي، خو لکه څنګه چې په سیاسي برخه کې دا ډلې ټیلې خپل بهرني روابــط ردوي، دغســې پــه رسنیزه برخه کې هم دوی دېته تیارې نه دي، چې خلکــو تــه رښــتیا ووایي. په افغانستان کې د داسې یو قوي او قانوني حکومت تر رامنځته کېدو پورې، چې دولت د هېواد پر ټول جوړښت بشپړ حاکمیت ولري او ټولې بهرنۍ مرستې له یوه فلتره تېرې کړي، دا ډول ستونزې بــه وي او د بهرنیو په مرسته د جوړو شویو ګوندونو رسنۍ به همدا ډول فعالیــت کوي. یو شمېر سیاسي ډلې او ګوندونه اوس خپلې خپلې رسنۍ لــري، د بېلګې په توګه:

اقتدار ملي، پيام مجاهد، محاذ، مجاهد جريدې، تمدن، فردا، نور، ټلويزيونونه، ملي جبهه، تکبير، افغان ملت جريدې او نورې رسنۍ د ګوندي يا تنظيمي رسنيو له جملې څخه دي.

جمهوري غږ، همبستګي غږ، نويد فردا، پيام ملي، يووالی، ميلاد وحدت، راه ازادی، ارمان مردم، نخبه او ځينې نورې هم، دا ډول رسنۍ دي.

**۳- ازادې رسنۍ:** هغه رسنۍ دي، چې په رښتيا هم د فکر او مالي امکاناتو له مخې ازادې وي. دا ډول رسنۍ د خپل دوراني حرکت له مخې خپل لګښت پوره کوي او په دې ډول خپل ژوند غځوي، خو په افغانستان کې ددې ډول رسنيو په تېره بيا د ازادو چاپي رسنيو ستونزه داده، چې تر ډېره وخته دوام نه کوي، اکثره له ځنډ او خنډ سره مخامخېږي، کله کله د مالي سرچينو د وچېدو له امله پر ټپه ودرېږي، کله د مسئولو چلوونکو د وظيفې د بدلون، کله د چلوونکو د زياتې ستړيا او کله هم د خپلمنځي اختلافاتو له امله له منځه ځي. په افغانستان کې د اوسنيو ازادو رسنيو بهير که څه هم له ځنډ و خنډ سره مل دی او اوسمهال له ځينو دولتي او تنظيمي رسنيو سره د صحافت او مالي امکاناتو له پلوه رقابت نه شي کولای، خوپر ازادو رسنيو د باور تله ورو ورو درنېږي، د ازادو رسنيو د ودې بهير طبيعي دی، خو د تنظيمي هغو تصنعي؛ هر کله چې د قانون حاکميت رامنځته شي او د ټولو اشخاصو، سياسي ډلو او ګوندونو پانګه رڼه شي، نو هغه وخت کېدی شي ډېرې ګوندي خپرونې يا رسنۍ له ستونزو سره مخامخ شي. دا به هغه حالت وي، چې د ازادو رسنيو د نورمالې ودې

لپاره ښه زمینه برابره شي، خو په تېر څو کلن بهیر کې هم دولتي، هـــم ګوندي او هم ازادو رسنیو بهرنۍ مالي مرستې ترلاسه کړي دي:

(( تر ۲۰۰۶ کال پورې له خپلواکو رسنیو سـره د متحـده ایـالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې او اروپـایي کمیسـیون مرسـته ۳۰ ملیونـه امریکایي ډالره وه، چې شـاوخوا ۱۵ ملیونـه امریکـایي ډالـره یـې د ولسمشرۍ ټاکنو پورې په اړوند فعالیتونو باندې لګېدلې وو.

په ۲۰۰۶م کال کې له خپل خپلواکو رسنیو سره مرسـته خواوشـا ۳ ملیونه امریکایي ډالرو ته راکښته شوه او په ۲۰۰۷م کال کې دغـه ډول بودجه نه شته. په ۲۰۰۳م کال کې له رسنیو سره د اروپایي کمیسـیون مرسته ۵ ملیونه یورو وه، چې په ۲۰۰۶ کال کې ۲۰۱ ملیونو یـورو او پـه ۲۰۰۷م کال کې ۳۰۰۰۰۰ یورو ته راکښته شوه)).[1] دلته به د ځینـو ازادو رسنیو نومونه واخلو:

شمشاد، سبا، لمر، افغان، طلوع، امروز ازاد ټلویزیونونه دي، سره لـه دې چې دا ټلویزیونونه ازاد دي، خو له فکري پلوه یې اکثرو لا تراوسـه خپل ناپېیلتوب پوره نه دی جوت کړی. د ازادو ټلویزیونو په نـوم نـور ټلویزیونونه هم شته، خو اکثره یې تنظیمي لېوالتیا لري.

اکثره هغه راډیوګانې چې د انټرنیوز په مرسته جوړې شـوي، اوس د مشخصو افرادو له خوا پر کار مصروفې دي. ټولیز شـمېر یـې تـر اویـا سټېشنونو هم اوړي. اکثره یې په بېلابېلو ولایتونـو او ولسـوالیو کـې فعالیت کوي.

[1] ریکارډ ګراسي، رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۵۲مخ.

ویسا، اراده ورځپاڼې، ګنج اونیزه، ائینه زن، هشت صبح، چراغ، عصر جمهوریت او ځینې نورې د ازادو رسنیو لــه جملــې ځخــه دي. ازادې چاپي خپرونې په سوونو دي، خو په دې کې داسې چاپي رســنۍ چــې ناپېيلتوب یې ډېر ځرګند وي ډېرې زیاتې نه دي.

**۴- انجیویزې رسنۍ:** یو شمېر داسې چاپي رسنۍ هــم شــته، چې د مشخصو انجیوګانو یا نادولتي موسسو لــه خــوا تمــویلېږي او د هغوی د فکر، نظر او فعالیتونو ښکارندویي کوي. که څــه هــم ځینــې انجیوګانې له ځینو دولتي، تنظیمي او ازادو رســنیو ســره هــم مــالي مرستې کوي او تر یوه بریده پرې د خپلو هدفونو ځینــې قیدونــه هــم مني، خو ددې ترڅنګ خپله هــم چــاپي رســنۍ لــري. ددې رســنیو صحافت د ازادو، تنظیمي او دولتي چاپي رسنیو په پرتله په لــوړه بیــه پرېوزي، ددې یو علت دادی، چې دا رسنۍ د چــاپ او خپــراوي لپــاره پراخې سرچینې لري. ددې ډول رسنیو عمر هم ډېر دوام نه کوي، عمر یې د خپروونکو موسسو له عمر او فعالیت سره مستقیماً ارتباط لــري، که دا موسسې ژوندۍ او فعالې وي، نو دا رسنۍ هم کېدی شي فعــالې وي، کله کله د رسنیو پانګه زیاته او کله کمه شي، دا حالت هــم د دوی د چاپي رسنیو پر ژوند متناسب تاثیر لري. له فکري پلوه دا رســنۍ پــر سیاسي چارو ډېرې مصروفې نه دي، کله کله د ښځو د حقوقو او نــورو مدني مسایلو په باب تبلیغاتي هڅې کوي، خو اکثــره خپرونــې یــې د خپلو صنفي او مسلکي فعالیتونو په باب دي. دغه څــو چــاپي رســنۍ دلته د بېلګې په توګه راوړو:

پیوستون، ډالۍ، کلید، صبا، همکاري، حقوق مـردم، جامعـه مـدني، دموکراسي، مرسل او ځینې نورې.

**۵- د ازادو رسنیو په نوم نا ازادې رسنۍ:** د تېرو دېرشو کلونو پر مهال په افغانستان کې له ځینو نومونـو او اصـطلاحاتو سـره عجیبه لوبه شوې؛ نومونه بـه یـو ډول وي، عملونـه بـه بـل ډول. تـر ۱۳۵۷ل کال وروسته په افغانستان کې د خلکو، مزدورانـو، کـارګرانو، کارګرې طبقې، د خلکو حکومت، د وطن ابادي، انقلاب، هېواد پالنــه او داسې نور شعارونه له یوې خوا ګرم وو، خو دا چې ددې شعارونو پلویانو څومره خپل شعارونه عملي کړل او څومره خپلو شعارونو ته ژمن پـاتې شول، هغه ټولو خلکو په خپلو سترګو ولیدل. هغه بل لـوري تـه بیـا د هرې ډلې ټپلې او تنظیم له نامه سـره ضـرور ((اسـلامي)) روسـتاړی ملګری کېده؛ له ((اسلامي)) لفظ پرتـه د یـوه حرکـت پیلـول هلتـه ناشوني وو، دا چې هغه ډلې څومره اسلام ته متعهدې وې او بیا یـې د خپلې واکمنۍ پر مهال په کابل او نورو سیمو کې څه وکړل، هغـه هـم ټولو خلکو ولیدل. د طالبانو نظام خو خپل بېل خصوصـیات درلـودل؛ هغوی له رسنیو په تېره بیا تصویري رسنیو سره نه پخلا کېدونکی واټن درلود، کله چې د طالبانو نظام ختم شو، ګڼو ډلو ټپلو خپل ((اسلامي)) روستاړي لرې کړل او د هغو پرځای یې ((ملي)) اصـطلاح وکارولـه، دا چې دا ډلې ټپلې څومره ملي دي، دا اوس خلکو ته ښې معلـومېږي. د رسنیو په برخه کې هم یوه داسې اصطلاح، چې تر نورو جالبــه وه او د

ورځپې مــود و، وکارېدلــه ((ازاده، مســتقله، خپلواکــه، غیــر وابســته، ناپیېلې...)) څرنګه چې په افغانستان کې دا وخت نوې ((دیموکراسي)) راټوکېدلې وه او د رسنیو قانون هم نوی جوړ شــوی و، نــو هــر چــا د ((ازاد)) له کلمې څخه د خپل تعبیر، خپل استعداد او خپلــې خوښــې مطابق معقوله او نا معقوله ګټه پورته کولای شوه. یــو شــمېر سیاســي اشخاصو، چې دا مهال خپل ګوندونه یا پخوانۍ ډلې ټپلې ولیدل، نو په دې لټه کې شول، چې د ازادو رسنیو له لارې په ((ازاد سیاسي بــازار)) کې ځان مطرح کړي. په همدې خاطر یو شمېر داسې چاپي رسنۍ هــم رامنځته شوي، چې ظاهراً د ازادو رسنیو په نوم خپرېږي، خو واقعیــت کې خپل سیاسي، قومي، ژبني او سیمه ییز لیدلوري لري.

دوی تر ډېره حده کوښښ کوي، چې جنجالیز مسایل په یــو اړخیــز ډول مطرح کړي او په دې ډول ځان د شهرت پړاو ته ورســوي. دا ډول رسنۍ اکثره د هېواد د بېلابېلو شخصیتونو پر ضد تبلیغات کوي، خــو اسلامي جمعیت تنظیم او د هغو په شان نورې ډلــې، چــې د جګــړو د اصلي لوبغاړو په توګه مطرح وو او همدارنګه د هغوی د لوړ پوړو غړو په باب ځکه څه نه وایي، چې له هغوی سره فکري لېوالتیا او ارتباط لري، د بېلګې په توګه به د یو څو دا ډول خپرونو نومونه واخلو:

ملي ارمان، پیمان ورځپاڼې، اګاه، کابل اونیزې، نور، نورین ټلویزیونونه او داسې نورې رسنۍ. دا رسنۍ که څه هــم پــه نــورو مســایلو کــې د خپراوي ازاد لاس لري، خو کله چې خبره د اسلامي جمعیــت او نظــار

شورا په باب راشي او بیا د هغو د تېرو ناوړه عملونو په باب د لیکنــو او ویناوو خپراوي ته، نو بیا دوی په اسانه زړه نه ښه کــوي، چــې دا ډول لیکنې او ویناوې خپرې کړي. د دوی د خپرونــو لیــدلوری لــه ورایــه معلومېږي.

**۶- د افغانستان لپاره نړیوالې رسنۍ:** لــه نــړدې شــلو کلونــو راهیسې یو شمېر نړیوالې رسنۍ د افغانستان لپاره خپرونې لري، خو د دې وروستیو څو کلونو په بهیر کــې دا خپرونــې نــورې هــم زیــاتې او ځانګړې شوې دي ، په دې کې راډیویي او ټلویزیوني خپرونې په تېــره بیا راډیویي هغه زیاتې دي. ددې خپرونو او رسنیو ټول لګښت د همغه مربوطه هېواد له خوا ورکول کېږي. طبیعي خبــره ده، چــې دا رســنۍ یوازې د افغانانو د اذهانو د خبرتیا او روښانتیا لپــاره کــار نــه کــوي، د پردې تر شا خپل هدفونه هم لري، خو په هر ترتیب زموږ د ټــولنې پــه خبرتیایي بهیر کې یې کارنده ونډه اخیستې ده. دلته به ددې رسنیو د ځینو لنډه یادونه وکړو:

**ازادي راډیو:** د افغانستان لپاره په شپه او ورځ کې (۱۲) ساعته په پښتو او دري ژبو نشرات لري او داسې اټکل کېږي، چې په افغانســتان کې تر ټولو زیات اورېــدونکي لــري، دا راډیــو ددې وس لــري، چــې د ورځنیو پېښو په باب تازه رپوټونه په مستقیم ډول خلکو ته ورسوي او نورې ژوندۍ خپرونې هــم جــوړې او خپــرې کــړي، نــو ځکــه یــې د

اورېدونکو شمېر هــم زيــات دی. ددې راډيــو مرکــزي دفتــر د چــک جمهوريت په مرکز (پراګ) او سيمه ييز دفتر يې پــه کابــل کــې دی او مالي لګښت يې د امريکا متحده ايالاتونو د کانګرس لــه خــوا ورکــول کېږي.

**بي بي سي:** تر ټولو مشهوره او موثره راډيو ده، چې له دوو لسيزو راهيسې د افغانستان لپاره خپرونې کــوي. ددې راډيــو پښــتو او دري خپرونې په افغانستان کې خپل خاص اغېز لري او د خلکو د باور کچــه پرې ډېره اوچته ده. ددې راډيو مرکزي دفتر په لندن او سيمه ييز دفتر يې په کابل کې دی. د تمويل چارې يې طبعاً د انګليستان د حکومت او خپلو ګټندويو منابعو څخه سمبالېږي.

**امريکا غږ اشنا راډيــو:** دا د امريکــا دولتــي راډيــو ده، چــې د افغانستان لپاره په پښتو او دري ژبو خپرونې کــوي، پخــوا ((د امريکــا غږ)) په نامه يادېده اوس ((د امريکا غږ اشنا راډيو)) په نامــه يــادېږي. ددې ترڅنګ دوی د ((ډيوه راډيو)) په نامه بل راډيويي پروګــرام هــم لري، چې اکثره د کوزې پښتونخوا د پښتنو لپاره خپرونې لــري، خــو د افغانستان سياسي او ټولنيز مسايل هم په کې خپرېږي. سربېره پر دې د امريکا غږ اشنا ټلويزيون هم ټول ټال يو ساعت د افغانستان لپاره په پښتو او دري ژبو خپرونې کوي، چې د افغانستان د ملي ټلويزيــون لــه

لارې خپرېږي. یو مهال د جرمنـــي هېــواد هــم د افغانســتان د ملــي ټلویزیون له لارې په پښتو او دري ژبو همدومره نشرات درلودل.

**ځینې نورې بهرنۍ راډیوګانې:** ایران هم په پښتو او دري ژبــو د افغانستان لپاره نشرات لري، چې دا نشرات ټول د ایران د حکومت پــه انحصار کې دي او د همغه دولت د فکــر ځرګندونــه کــوي. د وچویلــه المان غږ، چین راډیو ، مسکو راډیــو، ال انــډیا راډیــو، همدارنګــه پــه افغانستان کې د ایساف له خوا خپرېدونکې (ازادۍ غږ راډیو) او ځینې نورې راډیوګانې هم د افغانستان لپاره په پښــتو او دري ژبــو خپرونــې کوي، ددې راډیوګانو د تمویل سرچینې د همغو هېوادونو دولتونه دي.

د اغېز او موثریت له مخې په بهرنیو راډیو ګانو کې (ازادي)، (بي بي سي) او (امریکا غږ) تر نورو زیات تاثیر او زیات اورېدونکي لري؛ ددې راډیوګانو تاثیرات دومره زیات دي، چې په اورېدنیو رسنیو کې تر کورنیو دولتي او نا دولتي راډیوګانو هم ډېر تاثیر ښندي.

# څلورم څپرکی

# د اوسنيو رسنيو فکري لوری

د تېرو اوو اتوو کلونو په ترڅ کې افغاني رسنۍ، د سیاست، اقتصادي اړو پېچ او خپلو تجربو تر بېلابېلو پړاوونو تېرې شوي او لا تېرېږي. په دې رسنیو کې له شخصي عقدو نیولې، تر رغوونکو ټولنیزو او سیاسي نیوکو پورې ډېر مسایل نشر شوي دي. تخصصي او علمي رسنيو البته په خپله برخه کې خپل رول ادا کړی او هغه رسنیزه خلا، چې د نږدې دوو لسیزو په بهیر کې رامنځته شوې وه، تقریباً ډکه شوې، خو په مجموعي ډول دا ډېره سخته خبره ده، چې ټولې رسنۍ دې له فکري پلوه، په څو فکري لیکو کې مطالعه او وارزول شي. هره رسنۍ په واقعیت کې خپل یو جلا فکر او لید لوری لري او که چېرې د یوې رسنۍ فکر له بلې سره هماهنګ او منطبق وای بیا خو نو بلې ته اړتیا نه پیدا کېدله. که موږ غواړو پر هر اړخیز ډول د رسنیو فکر وشنو نو اړ یو چې هره رسنۍ په جلا جلا ډلو تحلیل کړو، ان په دې حالت کې هم کېدی شي یوې واحدې نتیجې ته ځکه ونه رسېږو، چې د هرې رسنۍ فکر له پیله یو ډول، د کار په یو څه بهیر کې بل ډول او د نور وخت په تېرېدو سره یې لا هم تغیر موندلای دی. ځینو رسنیو د خپل ژوند په بهیر کې له فکري پلوه منحني حرکت کړی، ځینو منکسر او یو شمېر

رسنۍ بیا داسې دي، چې خپل خاص تنظیمـــي، ســـیمه ییـــز او قـــومي اهداف تعقیبوي او په فکري لوري کې یې چندان بدلون نه دی راغلی.

له دې ټولو متضادو او متغیرو نظرونو او لیدلوریو څخه یو څـــو مهمـــو مسایلو ته اشاره کوو، چې ځینو رسنیو رانغاړلي او پر همدې محور یـــې لیکنې او مطالب خپاره کړي دي.

**۱- ملتپالنه:** په پرمختللو، مخ پر ودې او ان پـــه وروســـته پـــاتې هېوادونو کې ملتپالنه د هېواد د ملي ارزښتونو او مقدســـاتو پـــه توګـــه مطرح وي؛ د یوې ټولنې رسنۍ، علمي او مدني مرکزونه، سیاستوال او لیکوال، روڼ اندي، روحانیون او عـــوام ځانونـــه د ملـــي ګټـــو او ملـــي ارزښتونو پر پالنې او ساتنې مکلف ګڼي. سیاسي ګوندونه او اشخاص د قدرت پر سر د مناقشې او مناظرې مشروع او نامشـــروع لارې کـــاروي، خو هېڅوک هم د ملي هویت او ملي ګټو پر وړاندې ودرېدلای نه شـــي. په هغو ټولنو کې چې جګړې ځپلې وي او ګڼې ناروغۍ په کې ټوکېدلي وي، یوه ناروغي په کې همدا وي، چې ځینې خلک هسې د ملي ګټـــو د تعریف او تشخیص لپاره پلمې لټوي او دوی په دې پلمه، چې اول بایـــد ملي ګټې، ملي هویت او ملي ارزښت تعریف شي، بیا پرې توافق وشـــي تر هغو وروسته به بیا موږ پرې بحث وکړو.

دا نو هغه پلمه ده، چې د معقول زور له استعمال پرته بل ځـــواب نـــه شي لرلای، ځکه په ټولنیزو علومو او سیاسي چارو کې د یوې پدیـــدې تعریف هغسې مشخص نه دی، لکه دساینسي هغو په شان، چې څوک بیا په کې دویمه خبره نه شي کولای، نو کله که په ټـــولنیزو علومـــو او چارو کې خبره د تعریف پر سر توافـــق ورســـېدله، نـــو بیـــا خـــو پلمـــه

جوړونکي پر هېڅ ډول تعریف موافقې ته حاضر نه دي. زمــوږ پــه نظــر ملي ارزښتونه همغه دي، چې د پېړیو په اوږدو کې د ملت بېلابېلو وګړو او اقشارو پرې له کومې سیاسي لاسوهنې او فشار پرته توافق درلــود، دوی دا ارزښتونه درانه ساتلي او چا یې چې پر وړاندې دریځ نیــولی، د هغو پر وړاندې ودرېدلي دي.

زموږ ځینو رسنیو د ملت ددغو ملي او طبیعي ارزښتونو خیال ساتلی او کوښښ یې کړی داسې څه خپاره کړي، چې پــه ملــت کــې د ملــي روحیې د پیاوړتیا سبب شي، د کمترۍ او پردیپالنې احساس له منځــه یوسي او د ملت د ارزښتونو دفاعي جوړښت ټینګ کړي. که څه هم په تېر اوه کلن بهیر کې د فعالو ملتپالو رسنیو شمېر د ناملتپــالو او ملــت ضد رسنیو تر شمېره کم و او لا کم دی، خو بیا یــې هــم ځینــو ملــي رسنیو په دې برخه کې د دفاعي او تعرضي رسنیو رول اجرا کــړی دی. په چاپي رسنیو کې ویسا، ارادې، کلید خپرونو، پخلاینې جریــدې، یــو زیات شمېر ولایتي راډیویي او چاپي خپرونې او همدارنګه ځینو دولتي لیدنیو، اورېدنیو او چاپي خپرونو د دې وروستیو څو کلونو په بهیر کــې تر یوه حده خپل ملي مسولیت ترسره کړی دی.

اریانا ټلویزیوني شبکې هم تر زیاته حده د ملي ارزښتونو ملاتړ کړی، شمشاد، امروز او لمر ټلویزیونونو هم په دې برخه کــې مناســبه ونــډه اخیستې او افغان ټلویزیون هم تر خپله وسه کار کړی دی.

## ۲- سمون او ولسواکي:

د رسنیو یا مطبوعاتو په اړه دا خبره عامه ده، چې د ټولنې یا هېواد د څواک څلورمه قوه ده، طبعاً په هغو ټولنو کې، چې د دولت نــورې درې

ګونې قواوې پر خپل ځای، پر فعالیت بـوختې وي، یـوه بلــې سـره د همکارۍ او ارتباط له مخې په خپل حقوقي او قانوني مسـیر کــې کــار کوي، ټولنه یې تر مستقیم کنټرول لاندې وي او د هــېڅ ډول انارشــۍ وېره نه وي، نو په داسې حالاتو کې که رسنۍ د یوه څلورم رکن یا قوت په توګه مطرح شي، نه یوازې دا چې ټولنې ته یې هېڅ خطر نه شــته او یا هم ډېر کم ګواښ ورڅخه متصور دی، بلکې د زیاتې ګټې، ســمون او هر اړخیزې ذهني رغونې او فکري پرمختیا اټکل یې شته. خو زموږ پــه ټولنه کې چې د دولت نورې درې ګونې قواوې لا تراوسه د اســتحکام، قوت او پوخوالي ټول ممیزات نه لري، نه یــې ټــول هېــواد تــر بشــپړ کنټرول لاندې دی او نه هم پــه خپــل مــنځ کــې پــوره همــاهنګي او همکاري لري، اداري فساد یې تــر ســتوني رســېدلی او د پــوره اداري کفایت د نشتوالي له ستونزې سره هم مخ دي، نو په داسې حالت کې د ډله ییزو رسنیو پوره خپلواکي او بشپړه ازادي له خطرونو خالي نــه ده. په هر حال دې ډول خطرونو او پردیپالنې ته به هم، لــږ څــه وروســته اشاره وکړو، خو د اټکلــي او بلفعلــو خطرونــو ترڅنــګ د افغانســتان اوسنیو رسنیو، د هېوادنیو چارو په سمون، د ځینو چارواکو د زیاتو او نامشروعو غوښتنو په مهارولو او د ولسواکۍ په پراختیــا کــې کارنــده رول لوبولای دی. همدا رسنۍ دي، چې د حکومت کړنې یــې څــارلي، ارزولي، د خلکو غږ یې دولت ته رسولی او د دولت فعالیتونه یې ولــس ته ورڅرګند کړي دي. د دې تېرو اوو کلونو په واټن کې هېڅ بله داسې مرجع یا سرچینه، چې د حکومت د درېواړو ارګانونو سترګه دې له هغو څخه وسوزي، له رسنیو پرته بله نه وه. یوازې همدا رسنۍ وې، چــې دا ارګانونه یې تر یوه حد تر تاثیر لاندې راوستي وو. په ټولیز ډول د هغــو

نظرونو، مرکو او لیکنو شمېر لکونو ته رسېږي، چې په هغو کې د دولت پر کړنو نیوکې شوي او د همدې ازادو رسنیو له خوا خپاره شوي دي. که چېرې همدا کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ نه وای نو خدای (ج) خبر، چې د افغانانو پر ستوني به د ظلم څومره خطرناکه خپسه ناسته وه، هم به ولس کړول کېده، هم به وژل کېده او هم به ټکول کېده، خو د فریاد او چغې ایستلو توان او امکان به یې هم نه درلود، اوس که له یوې خوا په دولت کې د فساد، رشوت او خیانت بازار ګرم دی، نو نادولتي موسسې او ان نړیوالې خیریي او نادولتي موسسې هم د لوټ او تالان په دې پړاو کې تر دولتي چارواکو او مامورینو کمې نه دي او ولس د فساد د ژرندې ددغو دواړو پلونو ترمنځ ګیر دی، همدا رسنۍ دي، چې له دې فساد څخه پرده پورته کوي، که څه هم فساد تر دې حده لوړ او د مهارت تر وروستۍ کچې رسېدلی، چې خپله کله کله یو زیات شمېر رسنۍ هم د هغوی تر انحصار لاندې راځي او اوس لا هم، لوی، اصلي او ستر فسادګر، مفسدین، جنایتکار او محتکر د انتقاد له څپې معاف او خوندي دي او لا هم په اکثرو رسنیو کې ددې وس نه شته، چې هغو ته ګوتې وروړي، خو بیا هم ځینې رسنۍ شته، چې ددې ډول اشخاصو د لسګونو ډول ډول فسادونو له یونیم څخه پرده پورته کوي. یوه غټه مغالطه داده، چې خپله مفسدین، محتکرین او جنایتکاران د رسنیو خاوندان شوي او د ازادو رسنیو په نوم یې خپلې تنظیمي او شخصي رسنۍ فعالې کړي او پر دې بریالي شوي، چې عامه ذهنیت ګډوډ او ابهام رامنځته کړي، دا کار ددې سبب ګرځي، چې ځینې خلک د رښتینو او نا رښتینو ازادو رسنیو توپیر ونه کړای شي، خو دې سره سره افغاني ازادې رسنۍ ورو ورو د پوخوالي پر لوري ګامونه اخلي او

ورځ پر ورځ نوې تجربې ترلاسه کوي. د همدې ازادو رسنيو اغېــز دی، چې په يو زيات شمېر دولتي موسسو کې په ښکاره ډول د فساد مخــه نيول شوې ده، همدا رسنۍ وې، چې د هېواد له بېلابېلو ګوټونو څخــه يې په خپلو راپورونو، د ولس د مظلوميت غــږ، د حکومــت لــوړ پــوړو چارواکو ته رسولای دی. ما څو ځله د ولسمشر له خولې په رسنيو او له خلکو سره په غونډو کې اورېدلي، چــې زه د رســنيو لــه لارې پــر دې ستونزه خبر شوم او بيا مې د هغه ځای مشران او حکــومتي چــارواکي راغوښتي او مشکلات مې حل کړي دي. په لسګونو ځله داســې پــېښ شوي، چې په يوه سيمه کې کوم دولتي چارواکي پر خلکو ظلم کړی او يا يې له خلکو سره ناوړه چلند کړی، مخکې تــر دې چــې د حکومــت نورې اړوندې ادارې، لوړ پوړي حکومتي چارواکي خبــر کــړي، ميــډيا مخکې ترمخکې د خلکو غږ خپور کړی، جمهــور رئــيس څــو ځلــه د همدې رسنيو له لارې د خپاره شوي رپوټ پر بنسټ خپل ځينې محلي چارواکي له دندې لرې او يا يې بدل کړي دي. همدا راز دا رســنۍ وې، چې دولتي چارواکي، مخــور شخصــيتونه او د ولــس اســتازي او ان د دولت سياسي مخالفين يې مخامخ سياسي بحثونو ته ســره کېنــول او قضاوت يې ولس ته پرېښود، سره له دې چې په ځينو دا ډول بحثونــو کې به د ازادو رسنيو په نامه ځينې نا ازادو رسنيو خپل ليدلوری هم پر بحثونو تحميل کړی وي، خو بيا هم ډېرې داسې ازادې رسنۍ وې، چې د ناپيېلتوب اصل يې مراعت کړی دی. ازادو رسنيو ولس لــه دولــت او دولت له ولس سره وصل کړی او يو بل ته يې د هغوی پيغامونه رسولي دي، ولس د ازادو رسنيو له لارې خپل فريادونه او غوښتنې حکومت ته رسولي، دغسې حکومت هم خپل غږ او هغه غوښــتنې، چــې د خپلــو

دولتي رسنیو له لارې یې د رسولو جوګه نه و، د همدې ازادو رسنیو له لارې، هم خپل ولس ته، هم خپلو مخالفینو، هم ګاونـډیو هېوادونـو او هم خپلو نورو سیالانو ته رسولي دي. دولتي رسنۍ، چې په افغانستان کې له لسیزو راهیسې د باور پر بحران اخته دي، په خپل هېواد، سیمه او نړۍ کې یې اغېز کم دی، ځای یې همدې ازادو رسنیو ډک کړی دی. د ازادو رسنیو رول دومره زیات و، چې کله به هم په افغانستان کـې د پاکستان د پوځي مداخلې موضوع مطرح کېدله، نو د افغانستان دولت به زیاتره د همدې ازادې رسنۍ له لارې خپل پیغام، ولس او نړیوالو تـه رسوه. همدې ازادو رسنیو به دا موضوع ډېره ګرموله، ان تـر دې حـده چې یو وخت د پاکستان حکومت رسماً له نړیوالې ټولنې وغوښتل، چې حامدکرزی دې نور په میډیا کې په مورِ پسې تبلیغ نه کوي. په مقابـل کې د حامد کرزي غبرګون دا و، چې پاکستان دا مهال په هر لحاظ تـر افغانستانه غښتلی دی، په تېره بیا له پوځي او اقتصـادي پلـوه، ماتـه همدا یوه لاره پاتې ده، چې د (میډیا) له لارې خپل غږ پورته کـړم او د دنیا پام په افغانستان کې د پاکستان مداخلې ته راواړوم. پـه همـدې وجه د پاکستان حکومت څو ځله په پاکستان کې پر خپرېدونکې افغان ازادې میډیا باندې بندیز ولګاوه. که څه هم د پاکستان پـر وړانـدې د افغانستان د ازادې میډیا ژبـه تېـره وه او لا تېـره ده، خـو د ایـران د مداخلو په باب بیا هغومره تېزه نه ده، دلته بیا سـړي تـه د رښـتینې، ازادې او خپلواکې میډیا په باب پوښتنې راپیداکېږي، خـو دې تـوپیر سره سره ایران هم سل په سلو کې د ازادو رسنیو له ګوزارونو خونـدی نه دی. هغو تنظیمونو، ډلو، رسنیو او اشخاصو ته، چـې ایـران پیسـې ورکوي، هغوی خو طبعاً پر ایرانپالنه مصروفې دي او د مذهب تـر چتـر

لاندې د ایرانپالنې چوپړ کوي، خو په دې ترڅ کې بیا زمـوږ یـو شـمېر داسې ازادې رسنۍ شته، چې نه یوازې د پاکستان لاسوهنو ته متوجه دي، بلکې د ایران مداخلې هم له نږدې څاري، دې رسنیو د مذهب پـه جامه کې د ایران له مداخلو څخه پرده پورتـه کـړې او هغـه شـبکې، اشخاص، تنظیمونه او رسنۍ یې رسوا کړي، چې پـه ښـکاره او پټـه د ایران له خوا تمویلېږي، ددې کار په مقابل کې نه یوازې ایرانپـالو ډلـو ټپلو سخت غبرګون ښودلی، بلکې د ایران حکومت هم سخت وارخطا شوی او په کابل کې د ایران سفیر څو واره د اطلاعاتو او کلتـور وزارت له مسولینو او همدارنګه نورو دولتي چارواکو څخه جـدي غوښـتنه او هیله کړې، چې د ایران پر ضد باید دا ډول تبلیغات بند شي او که نه نو موږ به افغانستان ته پر خپلو مرستو(!) له سره غور وکړو.

د ایران سفارت د چارواکو ددې وارخطایۍ علـت دا و، چـې افغـاني ازادو رسنیو د نښې منځ ویشتی و. افغاني ازادې رسنۍ اوس د شـک، تردید او باور له همداسې کړلېچونو تېرېږي، خو د دې تېـرو نـږدې اوو کلونو په اوږدو کې، چې دې رسنیو کوم بریالیتوبونه ترلاسـه کـړي او څومره چټک پرمختګ یې کړی، د نړۍ په هـېڅ هېـواد کـې د میـډیا پرمختګ له دې چټک پرمختګ سره د پرتلې وړ نه دی؛ د دې تېرو څو کلونو په ترڅ کې افغاني رسنیو د افغاني ټولنې اکثره برخې تر پوښـښ لاندې راوستي دي.

((په ۲۰۰۶م کال کې کلید ګروپ او فریدریک ایبرټ سټیفټنګ (FES) د رسنیو د پوښښ، لاسرسي او د معلوماتو د مهمو سرچینو پـه هکلـه یوه سروې ترسره کړه، ددې څېړنې له مخې:

- روانې جګړې د پوښښ تر ټولو لوړه کچــه ۱۷،۳۶٪، د بشر حقونو ۱۰،۷٪ او بیا رغونې ۹،۵٪ درلــوده، خــو کــه چېــرې اقتصاد ۵،۹۲٪ چې د یوې بېلې کټګورۍ په توګه په پام کې نیول شوی و، ورسره یوځای شي، وروستی هغه ۱۵،۴۲٪ ته لوړېږي.
- د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو په هکله راپورونه په بیـا رغونې پسې راځي ۲۰،۸٪، سیاست په ده پسې راځــي ۷،۹۶٪ او ټولنیز سلوک په سیاست پسې، چې ۶،۹۶٪ جوړوي.
- په سروې کې شاملې موضوع پــورې اړونــدې نــورې ساحې د ټول پوښښ تر ۵٪ کمه برخه جوړوي، چې پــه دې کــې مخدره موادو د پوښښ لانــدې راغلیــو راپورونــو ۴،۹۳٪، اداري فســـاد ۴،۸٪ ، نړیوالـــه مرســـته ۴،۶۱٪، چاپېریـــال ۲،۷٪ او د حکومتي ادارو حساب ورکول یوازې ۰،۸۲٪ جوړوي.
- د بشر د حقونو په هکله د راپورونو د کتلو پــر وخــت دغه اړخونه په پام کې نیول شوي وو:
- د بشر حقونه په عمومي توګه ۴،۳۳٪، د ښځو حقونه ۴،۳۰٪ او ډیموکراتیک حقونه ۲،۰۷٪.
- د معلوماتو سرچینې تر ډېره حــده حکــومتي وې؛ د خپرو شویو معلوماتو د نږدې ۴۰٪ نسبت حکومتي سرچینو تــه شوی و، مرکزي حکومت ۲۶،۹۲٪ او ځایي حکومتونــه ۴۸،۱۲٪. البته دغه پوښښ هغه وخت ۵۲،۶۰٪ تــه لــوړ شــو، چــې بــین الحکومتي سازمانونه ۱۰،۶۵٪ او بهرني حکومتونه ۲،۱۹٪ په ورته ګروپ کې سره ونیول شول.

- د معلوماتو نورې سرچینې: اشخاص ۵۳،۸٪، مدني ټولنه ۲۳،۸٪، نور موسسات ۸،۷٪ او محلي فعالین ۵،۴۶٪ وو.
- نړیوال خبري اژانسونه د افغاني رسنیو د پوښښ ۱۶،۷۶٪ برخه جوړوي. دغه شمېر د رسنیو له خوا د باختر د دولتي خبري اژانس د نړیوالې څانګې له خوا د برابرو شویو خدمتونو په پام کې نیولو پر اساس ټاکل شوی دی. (باختر خبري اژانس تر ډېره حده ۸۵٪ بهرني مواد ژباړي). کله چې باختر خبري اژانس ترې وایستل شو، نړیوالو خبري اژانسونو د افغاني رسنیو د پوښښ ۱۰،۲۳٪ جوړوله.
- په څېړنه کې شاملو رسنیو د افغان خبري اژانسونو مواد کارول- ۲۴،۷۶٪ د هغو معلوماتو چې خپاره شوي، زیاتره د پژواک، افغان او باختر خبري اژانس په واسطه برابر شوي دي.[1]

په دغسې یوه پېچلي سیاسي، پرمختیایي او جګړه ییز حالت کې د رسنیو دا ډول پرمختګ له قربانیو پرته ناشونی دی، د تېرو اوو کلونو په اوږدو کې په مجموعي ډول لس تنه افغان ژورنالیستان وژل شوي، په لسګونو تنه لنډ مهالي زنداني شوي او په مجموعي ډول د ژورنالیستانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په سلګونو پېښې ثبت شوي دي. د همدغو قربانیو برکت و، چې زموږ په ولس کې د جرئت روحیه وروزل شوه، په سیاسي ډلو کې د زغم کلتور تر یوه بریده دود شو، جنګسالارانو او نور زورواکو د رسنیو له وېرې په خپل تشدد کې کمی راوست؛ ان د افغانستان ملي شورا، چې د یو زیات شمېر

(1) رسنۍ یعنې پرمختګ، ۲۰۰۷م کال، چاپ، ۲۹-۳۰مخونه.

جنګسالارانو، زورواکو او سرتمبه اشخاصو کمیت په کې له وړایه ښکاري او پر لومړیو شپو ورځو یې ځان له هر ډول انتقاده خوندي باله، همدې ډله ییزو رسنیو کنټرول کړه او دا یې ورته څرګنده کړه، چې که تاسو پر حکومت نظارت کوئ، داسې نور څوک هم شته، چې تاسو هم وڅاري، نو په دې ډول ازادو رسنیو د ولس د ذهني کچې په اوچتیا او د ولسواکۍ په پراختیا کې تر خپله وسه ونډه واخیسته.

## ۳- پردیپالنه:

په تېرو بحثونو کې مو ورته اشاره وکړه، چې ټولې افغاني رسنۍ ازادې نه دي، د ازادو په نامه نا ازادې یا تړلې رسنۍ هم شته، چې د رسمي اسنادو او نورو حقوقي مدارکو له مخې یې سپینول او زباتول اسانه خبره نه ده، خو ددې رسنیو؛ تصویري دي که چاپي، اورېدنۍ دي که کتنۍ، د چلوونکو له فکري لیدلوري او خپله ددې رسنیو د مطالبو له څرنګوالي سړي ته پته لګي، چې ددې خپرونو سلسله چېرته رسي. د دې رسنیو خپرنیز حجم، ورځنۍ لګښت، د کارکوونکو د معاشونو او نورو لګښتونو قرینه او د لګښتونو دنه بشپړاوي دوراني حرکت، د سړي باور پیاوړی کوي، چې دا ډول خپرونې یا رسنۍ له بهرنیو سرچینو خړوبېږي. د دې رسنیو د چلوونکو ساده ګي په دې کې ده، چې خپل غرضونه او د پردیو ورسپارل شوي نظرونه، په اسانۍ سره نه شي پټولای او هر څه دومره ډانګپیبلي وایي، چې سړی فکر کوي؛ د کوم ګاونډي هېواد رسنۍ وي. دا رسنۍ له ظاهري سلیقې یا ډیزانه نیولې، د ژبې تر کارونې او بیا د هغې تر فکري محتوا پورې اکثره محتویات داسې ډاګیز خپروي، چې بل ثبوت ته یې هېڅ اړتیا نه شته. په افغانستان کې د ازادو رسنیو په نامه د نا ازادو رسنیو تر شا کېدی

شي د يو زيات شمېر هېوادونو په تېره بيا د ګاونډيو هېوادونو لاس وي، خو هېڅ بل ملک يا هېواد به په رسنيز فعاليت کې دومره مصروف نه وي، لکه ايران، چې په افغانستان کې بوخت دی. په افغانستان کې ګڼ شمېر ټلويزيونونه د ايران له خوا نصب او مونتاژ شوي او د نږدې اوياوو (۷۰)په شاوخوا کې چاپي رسنيو ته پيسې ورکوي. د پيسو د ورکړې په باب داسې کوم مستقيم سند نه شته، نه يې څوک پيدا کولای شي او نه هم په دې معاصره نړۍ کې څوک چاته د مداخلې داسې لاسوند په لاس ورکوي، چې هغه دې په سيمه کې د هغه نورو رقيبو ډلو ته هم په لاس ورشي، خو دا د لمر په شان يو څرګند حقيقت او واقعيت دی، چې ايران په افغانستان کې مذهبي، ژبني، کلتوري، سياسي او اقتصادي ټول هدفونه تعقيبوي، نور هېوادونه په افغانستان کې د ايران په شان کوم خاص ژبني او کلتوري هدفونه نه لري، البته نور هدفونه طبعاً لري، نو ځکه خو د ايران ستر مخالفين؛ د امريکا متحده ايالتونه او نور په افغانستان کې د ايران فرهنګي، مذهبي مداخلې ته د ډېر خطر په سترګه نه ګوري، ايران له دې حالت نه اعظمي ګټه پورته کوي او په افغانستان کې د خپلې اوږدې ستراتيژۍ پر اساس فرهنګي، مذهبي او ژبني فعاليتونه ترسره کوي. د ايران ترڅنګ پاکستان، روسيه، هند، ترکيه او د منځنۍ اسيا ځيني هېوادونه هم دلته خپل فرهنګي هدفونه تعقيبوي، خو ډېری همغه کورنۍ شبکې او اشخاص چې له ايران سره اړيکې لري، له همدې هېوادونو څخه هم خوړلني ترلاسه کوي. ځينې رسنۍ په هېواد کې د هندي کلتور د خپراوي سبب ګرځي، دا خپرونې اکثره د ټلويزيوني فلمونو او ډرامو له لارې ترسره کېږي، کله چې څوک پر نيمه شپه کابل کې کوم شخصي ټلويزيون ګوري، نو په اکثرو کې يې هندي فلمونه خپرېږي، ځينې يې

ډوبله شوي او ځینې له ډوبلې یا ژباړې پرته هــم خپرېــږي. ددې ډول ډرامو او فلمونو خپرول نه یوازې د ځوان نســل د روحیــې د خرابېــدو سبب ګرځي او زموږ د ماشومانو او تنکیو ځوانانو فکر کړوي، بلکــې د کورنیو پر مېرمنو او نورو محسنو اشخاصو هم اثر کوي؛ پــه دې ډرامــو کې دومره هنري قوت شته، چې یو ځل یا دوه ځله یې څوک وګــوري، نو د مخدره موادو د روږدي په څېر پرې عادت شي، دا ډول ډرامې نــه یوازې پر اوږده مهال زموږ پر ټولنه منفي تاثیرات لري، بلکې همدا اوس یې هم په ګڼو کورنیو کې کورني اختلافونه پیدا کړي دي. کېدی شي په ناشمېره کورونو کې د همدې ډرامو د کتلو یا نه کتلو او په کورنیو کــې پر مېرمنې او مېړه، خوابنې او نږور باندې د هغو د پرېوتــو تــاثیراتو لــه امله، د هغوی ترمنځ سختې لفظي او فزیکي جګړې او نورې خوابــدۍ رامنځته شوې وي، خو ددې ډرامو او هندي فلمونو له لارې، د هنــدي کلتور ددې روان سېلاب تر شا کوم سیاسي او استخباراتي لاسونه کار نه کوي، دا یوازې د همغو تصویري رسنیو کار دی، چې غــواړي لــه دې لارو خپل مینه وال زیات کړي او بیا د اعلانونو لــه لارې ګټــه ترلاســه کړي. د هندي فلمونو د خپراوي لپاره نه یوازې دوی ته هندي کمپنــۍ پیسې نه ورکوي، بلکې دوی لا مجبور دي د ځینو ډرامو د خپراوي پــه خاطر همغو کمپنیو ته پیسې ورکړي، خو د ایران فرهنګــي او مــذهبي مداخله بیا د هندوستان په شان نه ده، دوی لــه همــدې فرهنګــي او مذهبي لارې غواړي، په افغانستان کې د خپلــې پراختیــا غوښــتنې د اوږدې ستراتیژۍ عملي کېدو ته لاره اواره کړي، نو ځکه خو یې دلته د اشخاصو او تنظیمونو په نامه ګڼ شمېر تصویري او نورې رسنۍ فعــالې کړي او د هغوی لګښت برابروي. دا رسنۍ په ډېره سپین سترګۍ ســره په ښرګند او مستقیم ډول او له کوم هنري کیفیت پرته د ایراني کلتور

د پراختیا لپاره کار کوي. ایرانۍ ژبه او لهجه ان په دې ډول کاروي، چې تصنع او تکلف په کې له ورایه ښکاري، خو څرنګه چې پرې د فشار قوه واردېږي، ځان اړباسي په همغه شکل خپرونې وکړي، چې ایران یې غواړي. دا ډول رسنۍ دومره په پردیپالنه کې ډوبې دي، چې څوک هسې هم د ایران د مداخلې نوم واخلي، نو دوی بدورګې شي، ددې پر ځای، چې د ایران خپل مقامات او رسنۍ یې ځواب ورکړي، دوی یې پر ځواب اخته کېږي. په دې ډول رسنیو کې چاپي، تصویري، اورېدنۍ او کتنۍ ټولې شاملې دي. دا ډول خپرونې که د ایران له مالي او تخنیکي نعمت څخه محرومې شي، نو عمر یې تر یوې میاشتې هم نه شي غځېدلای، خو اوس یې د ازادو رسنیو رنګه تر ډېره بده کړې ده. اوسمهال په واقعیت کې ایران په رسنیزه برخه کې تر هر بل هېواد او ان زموږ تر خپل دولته هم برلاسی دی. ددې برلاسي یو علت د ایران خپله سرشاره مالي منابع دي، چې په دې برخه کې یې لګوي او بل علت یې دا دی، چې د افغانستان د دولت په درېواړو ارګانونو کې داسې لوړ رتبه او ټیټ رتبه چارواکي او مامورین شته، چې د ایران له دې پالیسۍ سره همغاړي دي او د ایران دې مداخلې ته لاره اواروي. د ځینو شمېرنو له مخې ایران هر کال رسنیو او فرهنګي چارو ته درې سوه (۳۰۰) ملیونه ډالره پانګه بېلوي، ددې پانګې یوه برخه یې په نورو هېوادونو او له هغې جملې نه په افغانستان کې مصرفېږي او نوره اکثره یې په خپله ایران کې لګېږي، دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان دولت د مامورینو له معاشونو پرته، د انکشافي کارونو لپاره د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته په کال کې یو ملیون ډالر پانګه هم نه ورکوي، خو ایران کېدی شي یوازې په دې فرهنګي او ژبنۍ برخه کې د افغانستان پنځوس برابره لګښت وکړي، نو ځکه خو

په افغانستان کې اوسنۍ میډیا تر ډېره ځایه د ایران له خوا کنټرولېږي او هغه برخه، چې د ایران ددې ډول مداخلې مخالفت کوي، هغه له تخنیکي، اقتصادي او صحافتي پلوه د ایران پلوه خپرونو په اندول په قوي دریځ کې نه ده. ضرور نه ده، چې موږ دلته د ټولو ایرانپلوه رسنیو نومونه واخلو، که نومونه یې یاد هم کړو، نو پرته له دې چې په رسنیو کې د ځان پر ضد یوه تبلیغاتي جبهه پرانیزو، بل څه نه شو ترلاسه کولای. د افغانستان دولتي ارګانونه هم، اوس په دې موقف کې نه دي، چې د پردیپالو رسنیو څارنه، پلټنه او کنټرول وکړي، که کولای یې شوای، نو خبره دې حد ته نه رسېدله، ددې ډول ارګانونو اکثرو دا غوښتنه او پوښتنه وي، چې ثبوت باید وړاندې شي، دوی ثبوت هغو کاغذونو ته وایي، چې رسماً د ایران د حکومت ټاپه او د چارواکو لاسلیکونه ورباندې وي، خو هغو ته ثبوت نه وایي، چې عملاً د ایران د تاریخي ورځو، شخصیتونو او نظریاتو نمانځنه کېږي، د ایران په څرګند ملاتړ او لسګونو ملیونو ډالرو لګښت ورته مدرسې جوړېږي او په ملیونو ملیونو ډالره ورته ټلویزیونونه فعالېږي ، ددې مدرسو او ددې رسنیو ورځنۍ لګښت ثبوت نه دی؟ ښه به وي، چې دلته د ثبوت په اړه د یو نومیالي سیاستوال یو مثال هم وړاندې کړو: (( له خان عبدالولي خان نه چا پوښتنه وکړه، چې ته د هغه شخص په باب څه ثبوت لرې؟ هغه ورته وویل: ((ثبوت له علایمو ښکاري؛ یو شی دی، ژېړ دی،ګرد دی، تریو دی، په لاس کې ځایېږي، نو پرته له دې چې زه یې درته ووایم، ته باید خپله پوه شې چې نارنج دی. )) یو ډاکتر هم، چې د یو ناروغ ناروغي تشخیصوي، نو له نښو نښانو او علایمو یې معلوموي، نو خپله دغه نښې نښانې او ددغو رسنیو فزیکي او فکري موجودیت، ایرانپالنه او ایرانستاینه د ایران د مداخلو ثبوت دی. یوازې یو مثال به د یوې

ضروري ښېلګې په توګه راوړو. (تمدن) ټلویزیون او د (خاتم النبین) په نوم د شیخ محمد اصف محسني تر چتر لاندې جوړه شوې مدرسه، د ایران د مداخلو څرګند ثبوت دی. د زیات باور لپاره خپله د ټلویزیون نشرات، د ټلویوزیون د مونتاژ چارې، وسایل او خپله د مدرسې داخلي او بهرنۍ جوړښت وګورئ، فکر کوم همدا به کفایت وکړي. کومې نورې ایران پلوه رسنۍ چې دي، هغوی په قصدي، شعوري او څرګند ډول د ایران تائید او توصیف کوي، تر دې بل زیات یا څرګند ثبوت څه ته وایي؟ پر ایران او هند سربېره، چې په ښېلابېلو ډولو، کلتوري تاثیرات لري: ایران په ژبني، مذهبي او کلتوري او هند په کلتوري برخه کې، ځینې نور هېوادونه هم خپل خپل تاثیرات لري. زموږ میډیا په یو نه یو ډول د غربي کلتور د خپراوي لپاره هم کله کله استعمالېږي، دا کېدی شي د لویدیز کلتور عام تاثیرات وي او یا هم کېدی شي د ځینو رسنیو د اقتصادي ګټو په موخه وي، خو په هر ترتیب دا ډول تاثیرات هم شته.

# پنځم څپرکی

## پر افغاني ټولنه د رسنیو اغېز

د هرې پدیدې شتوالی د هغې پدیدې لـه ضـرورت سـره نسـبت او تناسب لري؛ که چېرې په ټولنه کې د یوې یا بلــې پدیـدې د شــتوالي ضرورت او ظرفیت نه وي او چاپېریال ورته مسـاعد نــه وي، نــو هغــه پدیده اصلاً هېڅ رامنځته کېږي نه او که رامنځته هم شي، نو عمـر بــه یې ډېر لنډ او تنګ وي. افغاني اوسنۍ رسنۍ هـم زمـوږ د ټـولنې یــو ضرورت دی، خو دا چې دا رسنۍ د ټولنې ټولې اړتیاوې خړوبوي او یـا په دې لاره کې هڅه کوي که نه؟ دا بیا یو بل بحث دی. په هر ډول زموږ اوسنۍ رسنۍ پر ټولنه خپل تاثیرات لري او د ټولنې خپل تاثیرات بیا پر رسنیو دي، البته ځینې هغه رسنۍ چې له بهرنیو سرچینو خړوبېږي، د افغاني ټولنې د تعاملاتو ډېر خیال نه ساتي، خو بیا هم پر ټولنې زیـاتره خپل تاثیرات پرېږدي.

رسنۍ لکه څنګه چې په نورو ټولنو کې د خلکو د ذهني ودې سـبب ګرځي، زموږ په ټولنه کې هم دا حالت لري، خو دلته څه ناڅه په ځینــو برخو کې د انارشۍ لامل شوي هم دي، په هر ترتیب پر ټولنه یې ذهني تاثیرات شته، چې دلته به په څو کټه ګوریو کې ورته نغوته وکړو:

**۱– د ولس پر ذهن یې اغېز:** په ولس کـــې د بېلابېلـــو پـــاړکو د ډلبندۍ او په خپله د رسنیو د بنې او ظرفیت له مخې د ټولـــو رســـنیو

تاثیر، پر ټولو خلکو یو شان نه دی. دلته کولای شو ټولنه له ذهني پلوه پر عوامو او خواصو یا عوامو او روښنفکرو پاړکو ووېشو:

**الف- عوام:** له رسنیو څخه د عوامو اخیستنه یا هــم د ولــس پــر ذهن د رسنیو تاثیرات هغه شان نه دي، لکه د روښنفکرانو چــې دي او نه يې تاثیر هغه شان دی، لکه پر روڼ اندو. عوام او په تېره بیا نالوستی قشر د رسنیو له ټولو ډولونو څخه پوره ګټه نه شي اخیســتلای او نــه ورته لاسرسی لري. راډیو په کلیوالي سیمو او ټلویزیون په ښاري سیمو کې د عوامو پر ذهن خپل خپل اغېز لــري. عــوام هــم پــر دوو برخــو وېشلای شو، یوه برخه لوستي عوام او بله نالوستي عــوام. لــه رســنیو څخه ددې دواړو اخیستنه هم یو شان نه ده. لوستي عوام د رسنیو پــر دې پورته دوو ډولونو سربېره له چاپي او کتنیزو یا برېښناییزو رســنیو څخه، که چېرې لاسرسی ورته ولري، هم ګټه اخیستلای شــي، بــل د افغانستان د اکثرو او ان څه کم ټولو رسنیو ژبه رسمي بڼه لري، یانې په رسنیو کې د لیک او کتاب ژبه کارول کېږي، چې طبعاً دا د عوامــو لــه ورځنۍ محاوره یي ژبې سره توپیر لري، نو ځکه خو د عوامو یوه درنــه برخه د رسنیو پر هغې رسمي ژبه سم نه پوهېږي، چې دوی یې کاروي. خو د عوامو لوستی قشر کېدی شي د ژبې لــه دې ډول کــارونې ګټــه واخیستلای شي.

د لیدنیو رسنیو تصویر تر ډېره بریده د رسمي یا لیکنۍ ژبې ستونزه اواره کړې، ځکه په دې ډول رسنیو کې تصویر په خپله خبرې کوي. خو دې رسنیو ته لا هم ډېر مزل پاتې، چې د هېواد کلیو، غرو او رغــو تــه ځان ورسوي، په هر ترتیب د افغانستان عوام ( لوستي او نالوستي) پــه یو نه یو ډول له رسنیو او د هغو له بېلابېلو ډولونو سره تړلي دي. همدا

رسنۍ دي، چې دا ستونزې یې پر وخت حکومت ته رسـولي او د حکومت د مسولینو پیغام یې هغوی ته لېږدولای دی. هر کله چې عوام یا ولس له دولتي چارواکو په تنګ شي او یا هم له نورو ظلمونـو سـره لاس او ګرېوان شي، نو وروستۍ دمه ځای یې همدا رسنۍ دي. رسـنۍ تر دې حده د خلکو پر ژوند تاثیر کوي، چې یـوه رسـنۍ پـر دې هـم بریالۍ شوه، چې د یوې سیمې د خلکو څلوېښت کلنه دښـمني پایتـه ورسوي. (لمر) ټلویزیون یو ځل د ننګرهار د (دره نور) ولسوالۍ د هغې سیمې د خلکو د ژوند پر حال یو رپوټ برابر کړی و، چې دا څو لسیزې په خپلو کلیو کې یو بل ته په مورچل کې ناست وو او پـر دواړو خـواوو ژوند ډېر تنګ شوی و، کله چې دا رپوټ له ټلویزیون څخه خپور شو، د مرکزي او سیمه ییز حکومت چارواکي ورتـه ډېـر متوجـه شـول او دا شخړه یې د جرګې مرکې او دولتي فشار له لارې پـه داسـې ډول اواره کړه، چې دواړه لوري پرې خوشاله شول. د سـیمې خلکـو د حکومـت ترڅنګ له رسنیو (لمر) ټلویزیون څخه هم مننه وکړه، په واقعیت کـې همدا رسنۍ ددې سبب شوې، چې دا ستونزه حل کړي. په دې ډول پر رسنیو د سیمو خلکو باور زیات شو. افغاني رسنیو د تېرو اوو کلونو پـه اوږدو کې د خلکو د ژوندانه او ستونزو په باب په لکونو راپورونه خپـاره کړي، خو بیا هم هغه ډول، چې رسنۍ نورو ټولنو کې د خلکو پر ذهـن حکومت کوي، دلته لا هغې مرحلې ته نه دي رسـېدلي. کېـدی شـي ددې علت له یوې خوا د ټولنې د اکثریت نالوستوب وي، خو لـه بلـې خوا د رسنیو نوی پیل شوی ژوند دی، چې تر اوسه لا ډېره تجربـه نـه لري او ډېر عمر یې نه دی خوړلای. ددې ترڅنـګ د پخوانیـو دولتـي رسنیو تاثیرات هم رول لري، چې یو اړخیز نشرات یې کـول او خلکـو

پرې باور نه کاوه، اوس شاید ځینې خلک فکر وکړي، چې ازادې رسنۍ هم همغه ډول رسنۍ دي. ددې ترڅنګ د ځینو رسنیو منفي لیدلوری او تګلوری، تنظیمي او قومي ممیزات هم کولای شي پر رسنیو د خلکو باور کمزوری کړي، خو په هر ډول اوس زموږ په ټولنه کې د رسنیو اغېز ورځ پر ورځ زیاتېږي، دا تاثیرات د ولس ذهن ته ور رسېدلي او لا ور رسېږي، خو لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه د ټول ولس پر ذهن دا تاثیرات یو شان نه دي. له رسنیو څخه د روښنفکره قشر او سیاسي پاړکي تعبیر، تفسیر او ګټه اخیستنه بیا بل ډول ده، چې دلته به ورته په لنډیز سره اشاره وکړو.

**ب- د روښنفکر قشر:** رسنیو نه یوازې زموږ د عوامو پر ذهن تاثیر کړی، بلکې تر هغو زیات یې د روښنفکرانو ذهنونو ته هم لاره کړې، اصلاً خو د رسنیو تاثیرات زیاتره پر همدې روښنفکره قشر دي؛ رسنۍ په واقعیت کې د همدوی په زور چلېږي، د همدوی افکار تمثیلوي او پر همدوی باندې تر هر چا زیات اغېز ښندي.

د افغانستان په اوسنیو ازادو رسنیو کې په زرګونو لیکوال، ژورنالیستان، تخنیکي کارکوونکي او د نورو برخو چلوونکي پر کار بوخت دي، څوک چې بحثونو ته راغوښتل کېږي او یا پرې بحثونه کېږي، هغوی اکثره له لوستي او روښنفکره قشر څخه دي، لنډه دا چې د یوې خپرونې یا رسنۍ چلوونکي، چې خپله روښنفکران وي، نو مخاطبین به یې هم طبعاً اکثره د همدې قشر اړوند خلک وي، خو د هېواد پر روښنفکره قشر د رسنیو تاثیر بیا هغه شان نه دی، لکه پر عوامو چې دی؛ رسنۍ د عوامو پر ذهنیت ورو ورو تاثیر کوي او که

چېرې رسنۍ مثبت او یا هم منفي لیدلوري ولري، نو دا تاثیرات هم پــر هغوی، ورو ورو اغېز کوي او یو اوږد زماني واټــن غــواړي، ددې علــت دادی، چې زموږ د رسنیو ژبه د عوامو له هغې څخه تر یوځایــه تــوپیر لري، خو دا تاثیرات بیا پر روښنفکره قشر آنــي دي. اوس زمــوږ ازادې رسنۍ د روښنفکره قشر په هغو بېلابېلو ډلو پورې تړلــي، چــې خپــل خپل ذهني تمایلات لري، په ځینو برخو کــې کېــدی شــي دا ذهنــي تمایلات خپلواکې سرچینې ولري، خو تر ډېره دا فکرونــه لــه بهرنیــو سرچینو څخه الهام اخلي، طبیعــي خبــره ده، چــې د دوی لــه خــوا سمبالېدونکې رسنۍ هــم ددې ډول افکــارو خپرنــدویې دي، دا هغــه جریان دی، چې یو شمېر تحصیل کړي اشخاص یې پر خپرولو مصروف دي او یو شمېر نور بیا د دې جریان پر ضد خپل فعالیتونه کوي، په دې ډول د هېواد د روښنفکره قشر یوه خورا زیاته برخه له رسنیو څخــه د خپرېدونکو متضادو فکري جریانونو پر خپراوي، رفعې او دفعې مصروف دي. په دې منځ کې هغه ازادې رسنۍ، چې د خپلواکو شخصیتونو لــه خوا خپرېږي، جانبي عوارض یې کم دي، خو ګټه یې زیاتــه ده، دا ډول خپرونې یا رسنۍ د هېواد د ټولو قشرونو په ذهني عمــار کــې کارنــده ونډه اخلي او د ملت د ویښتابه سبب ګرځي. دې ډول رسنیو د هېــواد د یو زیات شمېر روښنفکرانو د ذهني سطحې په ښېرازۍ کې هم ښــه رول ادا کړی او ادا کوي یې. که دا رسنۍ نه وای، ډېره سخته به وای، د هغو رسنیو مخه نیول شوې وای، چې د ازادو رسنیو په نوم خپرېــږي، خو په واقعیت او حقیقت کې ازادې نه دي. په مجموعي ډول زمــوږ لــه رسنیو څخــه، د هېــواد روښــنفکره قشــر زیــات اغېــزمن شــوی او

اغېزمنېږي، دا اغېزمني، په مثبتې او منفي دواړو خواوو کې محسوسه ده.

## ۲- پر دولتي چارواکو يې اغېز:

د تېرو اوو کلونو په اوږدو کې رسنيو، لکه څنګه چې د عــام ولــس او روښنفکره قشر پر ذهن خپل اغېز شيندلی، دغســې يــې پــر دولتــي چارواکو هم تر بل هر څيز زيات اغېز کړی دی. په تېر اوه کلن بهير کې د دولت ټول دربواړه ارګانونه د رسنيو تر سخت فشار لاندې وو او ملي شورا يا پارلمان خو رسنۍ ښځې خپل رقيب او سيال ګڼه. که څه هم د ملي شورا يو شمېر زورواکو او ناقانونه پانګوالو وکيلانو له ځينو رســنيو سره لاره ونيوله؛ د حق السکوت او تفاهم له لارې يې هغوی ته هم څه خواږه ورکړل، له قومي نسبت څخه يې هم ناوړه ګټه پورته کــړه او يــو شمېر رسنۍ يې د ځان ترخنګ کړې، خو په عام ډول همدا رسنۍ وې، چې ددې نامتجانس پارلمان ناممکن هوسونه يې مهار کړل او پر انتقاد کوونکو يې هم په ولس کې د انتقاد روحيه پياوړې کړه، ددې ترخنــګ يې اجرائيه قوه هم تر سخت فشار لاندې راوسته، د اکثرو سيمه ييــزو او نورو سراسري زورواکو له ظلم و زوره يې پرده پورته کړه، دولــت او د هغه د مخالفو ډلو استازو ته يې په ګرديو مېزونو کې د مخــامخ خبــرو اترو زمينه برابره کړه، ولس هم مخامخ د همــدې رســنيو لــه لارې لــه چارواکو سره مخامخ شو. د دولت په داخل کې يــې د مــامورينو اداري فساد ډاګيز کړ، سره له دې چې اوس هم فساد ترکچې زيات دی، خــو که چېرې د رسنيو دا وېره او کنټرول نه وای، نو د قدرت بله ســرچينه

خو نه شته؛ د قانون د تطبیق اصلي سرچینه خو خپله دولت دی، خو کله چې دولت د فساد پر ناروغۍ اخته وي، نو له رسنیو پرته د هیلې بله لار نه پیدا کېږي. د افغانستان په قضایي سیستم کې د رشوت او فساد له شتوالي څخه هم همدې رسنیو پرده پورته کړې او یو زیات شمېر قاضیان د همدې رسنیو له وېرې رشوت ته ډېر زیات زړه نه ښه کوي، نو چې د رسنیو دا وهم نه وي، نو یو قاضي، چې په حکومت کې د رشوت عام کلتور ویني، څه فکر کېږي، چې دی به په اسانۍ د رشوت له دې خوړلنیو څخه ځان وباسي؟.

ددې ترڅنګ رسنۍ، د دولتي چارواکو د ځینو نامشروعو هیلو په کنټرول او مهارولو کې هم لوی لاس لري، دګڼ شمېر مثبتو دولتي پرمختیاوو په انعکاس کې یې هم فعاله ونډه اخیستې، په تېر څو کلن واټن کې یې ان تر دولتي خپرونو هم موثریت او کمیت زیات و. په مجموعي ډول رسنیو هم پر دولت او هم پر ملت خپل ذهني تاثیرات پرې ایښي دي؛ رسنیو هغه بېلابېلو مسایل خپاره کړي، چې د دولت او ملت په ورځني ژوندانه پورې یې اړه لرله.

# شپږم څپرکی

## اوسنۍ رسنۍ او ادبیات

په عام ډول ژورنالیزم او ادبیات سره ډېر نږدې اړیکي لري او ان سره تړلي دي. د ادبیاتو یو تعریف دا هم دی، چې ((ادبیات یــو ژبنــی هنــر دی)). ژورنالیزم هم یو ژبنی مسلک دی. ژورنالیزم او ادبیات رښتیا هم دومره سره نږدې دي، چې کله کله یې په ځینو برخو کې بریدونه هــم سره ګډ شي، ســړی ژر حکــم نــه شــي کــولای، چــې ووایــي دا یــو ژورنالیستیک اثر دی که ادبي؟ دا نږدېوالی نه یوازې زموږ په ټولنه کې محسوس دی، بلکې ټولې نــړۍ کــې دا نږدېــوالی څرګنــد دی، البتــه پرمختللو هېوادونو اوس د مسلکي معیارونو له مخې هر څه سره بېــل کړي دي. نه یوازې د ژورنالیزم او ادبیاتو بریدونه یــې مشــخص کــړي، بلکې خپله په ادبیاتو او ژورنالیزم دواړو کې یې د بېلابېلــو څــانګو یــا برخو بریدونه هم څرګند کړي، خو دا څرګندتیا په دې مانا نه ده، چــې دوی دواړه یو بل سره اړیکي او پیوند نه لــري. د ژورنــالیزم او ادبیــاتو ترمنځ اړیکي دومره زیات وو، چې زموږ په خپله ټولنه کې هم ډېر زیات وخت د ژورنالیزم پوهنځی، د بشري علومو او د ادبیــاتو پــوهنځی یــو ډیپارټمنټ و او وروسته یې بیا د جلا پوهنځي بڼه غوره کړه. رســنیزې وسیلې بیا هغه خبرتیایي او خپرنیزې وسیلې دي، چــې د نــورو ټولــو ډګرونو په اندېول ژورنالیزم سره ډېر پیوند لري. په همدې خاطر رسنیو

ته ژرونالستیکي وسیلې وایي. که دا خبره یوه فرضیه وګڼو، نو بیا خــو ویلای شو، چې ژورنالیزم د ژوند د نورو خواوو ترڅنــګ ډېــر زیــات د ادبیاتو په خدمت کې دی. همدا ژورنالستیکي وسیلې یــا رســنۍ دي، چې د ادیب، ادبپوه او عالم پیغامونه ولس ته رسوي او عامــه ذهنیــت پرې روښانوي. رسنۍ ان دومره موثرې دي، چې د یوه ولس د ادبیاتو په وده کې ټاکونکی رول لري؛ رسنۍ ددې سب ګرځي چې د یوې ژبې یوه ادبي دوره له بلې ببله کړي. موږ په خپله ټولنه کې د رسنیو دا جــوت تاثیر ګورو، د پښتو ادبیاتو د دورو د وېش په باب لــه ځینــو ادبپوهــانو سره دا نظر دی، چې د پښتو ادبیاتو معاصره دوره د شــلمې پېــړۍ لــه دویمې لسیزې پیلېږي. په دې برخه کې د ځینــو نظــر دادی، چــې دا مهال (سراج الاخبار) چاپي رسنۍ رامنځته شــوه او دې کــار د پښــتو ادبیاتو په فکري تحول کې خپل اغېز درلود.

(( د سراج الاخبار افغانستان لومړۍ ګڼــه د مولــوي عبــدالروف پــه مدیریت د جنورۍ په (۱۱) نېټه، په (۱۹۰۶) م کال کې نشر شــوه او بیــا دغه جریده د انګرېزانو په لمسون د یو څه وخت لپاره مصــادره شــوه. مګر څو کاله وروسته یې د مشروطه خواهانو له خوا بیا په (۱۹۱۱) کــال کې د سراج الاخبار افغاني تر نامه لاندې د محمود طرزي په مدیریت په خپرونو پیل وکړ)).[1]

استاد محمد صدیق روهي وایي:

[1] پوهاند ډاکتر زېورالدین زېور، د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۵ل کال، ۹مخ.

[(( په افغانستان کې د سراج الاخبار دوهم ځل (۹۱۱ ع کال) په خپرېدو سره د پښتو معاصر ادب بنسټ کېښودل شو)).

((محمود طرزي او عبدالرحمن لودین په (سراج الاخبار افغانیه) کې د پښتو نظمونو او مقالو خپرولو ته په اګاهانه توګه پاملرنه اړولې وه. د پښتو لومړی شعر چې په نوموړې جریده کې خپور شو د مولوي صالح محمد کندهاري شعر دی.

دا څه عجب دوران دی | چې راغلی پر افغان دی
رنګارنګه ترقي ده | څه عجب محبوب عنوان دی
دا له کومه سو په موږ کې | چې ظاهر او نمایان دی
دا خو عصر د سراج دی | چې افغان ټول پرې روښان دی
ته سراج الاخبار ته ګوره | چې د ملک په تن کې ځان دی
اوس بیا نوراعلی نور سو | په پښتو چې دی ګویان دی.))[1]

که څه هم د یوې ژبې د ادبي دورې ټاکل په یوې رسنۍ او یا څو رسنیو پورې نه محدودېږي، خو کوم وخت چې سراج الاخبار، اخبار خپرېده، د هغه وخت د شرایطو او امکاناتو په پام کې نیولو سره یې پر پښتو او دري ادبیاتو څرګند تاثیر درلود. نو ځکه کله چې د پښتو معاصرو ادبیاتو د پیل خبرې کېږي، د سراج الاخبار تاثیراتو ته هم په کې نغوته کېږي.

[1] کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمدصدیق روهي، د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره)، د محمدصدیق روهي فرهنګي ټولنه، ۱۳۸۷ل کال چاپ، ۵۳ او ۵۵ مخونه.

په ټولیز ډول ادبیات که له یوې خوا له موسیقۍ سره نـږدې اړیکــې لري، موسیقۍ پر نظم او شعر ډېره لګوي او بیا په خپله د شعر او یا نظم د تبلیغ وسیله هم ګرځي.

دغسې رسنۍ یا ژورنالستیکي وسیلې هم د ادبیاتو د تبلیغ، تــرویج او خپرېدو وسیلې دي. په ژورنالیزم کې هم له ادبیاتو یا ادبي ژبې څخه کار اخیستل کېږي. ځینې ژورنالیستیک فورمونه لکه (اوچرک)، (ادبي راپور تاژ) او نور له ادبي ژانرونو سره نږدې پیونـد لـري. لنـډه دا چــې ژورنالیزم او ادبیات یا رسنۍ او ادبیات یو له بل سره اوږه پـر اوږه روان دي او یو د بل د پرمختګ سبب کېږي. دلته به په لنډیز سره د رســنیو بېلابېلو ډولونو ته نغوته وکړو، چې د ادبیاتو د ودې لپاره څومره مــوثر نقش لوبوي:

**۱- چاپي رسنۍ او ادبیات:** په افغانستان کې له لومړیــو چــاپي خپرونو؛ شمس النهار، ارشاد النسوان او سراج الاخباره رانیولې بیا تــر دې دمه هېڅ داسې چاپي رسنۍ نه شې په ګوته کولای، چې پــه هغــو کې دې د ادبیاتو یوه برخه نه وي ځلېدلې. ادبیــات او د هغــو بېلابېــل ډولونه په واقعیت کې د چاپي رسنیو د خپرنیزو مــوادو یــوه غوښــنه برخه جوړوي او داسې یوه برخه ده، چې خلک ترې د خپل ذوق مطابق خوند او ګټه اخیستلای شي. سره له دې چې زمــوږ چــاپي رســنیو د سیاسي تحولاتو او نورو رسنیو له امله وخت پر وخــت خپــل رنــګ او خپله بڼه بدل کړي، خو په افغانستان کې چې هر مثبت او منفي بدلون راغلی، چاپي رسنیو له ادبیاتو سره خپله رابطه نه ده شلولې. ددې یــو علت دادی، چې ادبیات هنر دی او هنر ته په هر وخت د هر چــا اړتیــا

وي. د زماني په بهير کې چاپي رسنيو ځکه د ادبياتو زيات خپراوي تــه زړه ښه کاوه، چې ادبي ليکنې بې خطره او بې ضرره دي، نورې ليکنې په تېره بيا سياسي ليکنې کېدی شي جابني عوارض ولــري؛ د رســنيو مسولينو ته له هغو څخه د بېلابېلو تعبيرونو له امله ســتونزې راولاړې شي، خو د ادبياتو په خپراوي کې د دې ډول ستونزو د پېښېدو احتمال کم دی، البته ځينې سياسي شعرونه او نظمونه هــم دا ډول ســتونزې راولاړولای شي، خو په مجموعي ډول چاپي رسنۍ د ادبيــاتو د ودې او پالنې لپاره ښه خپرنيز وسايل دي، بالمقابل ادبيــات هــم د رســنيو د خپرونو لپاره ښه مواد دي.

د ګډو وجوهاتو له امله د رسنيو او ادبياتو دا پيوســتون تــر اوســنيو چاپي رسنيو راروان دی. زموږ اوسنۍ چاپي رســنۍ، چــې شــمېر يــې سوونو عنوانو ته رسېږي، له ځينو استثناتو پرته به هېڅ داسې خپرونه پيدا نه کړې، چې هغه دې ادبي برخه ونه لري؛ ضرور يې د خپلو مخونو يوه برخه ادبياتو ته ځانګړې کړې ده، ځينې رســنۍ پــه مــنظم ډول د ادبياتو لپاره خپلې کليشې لري او ځينې هم له کوم ځــانګړي عنــوان پرته د ادبياتو د بېلابېلو فورمونو يا صنفونو بېلګې خپروي. د ساري پــه توګه (الاسلام) اوونيزه د ادب کلکڅونه لــري، (ازادۍ) اوونيــزه خپلــه ځانګړې ادبي پاڼه، (ارمان صلح) اوونيــزه پــه اوونــۍ کــې يــو ځــل د ((شگوفه های نورسته په نوم ادبــي پاڼــه لــري. (هېــواد) ورځپاڼــه د ((نکریزو پاڼه)) خپروي، (ملي ارمان) د ((فرهنگ کده)) پــه نــوم پاڼــه لري، (اصلاح) ورځپاڼه ((در گسترد فرهنگ))، (چــراغ) ورځپاڼــه د (( درقلمرو بیکرانه شعر و ادب)) د (ابادۍ) اوونيزه (( دل نوشته ها)) پــه نوم بېلابېلې کليشې لري او تر دې عنوانو لاندې ادبي مطالب خپــروي،

(پکتيا غږ) او (شايق) جريدې، (ننگرهار) ورځپاڼه، (نړۍ) مجله او په سلگونو نورې چاپي رسنۍ خپلې ادبي برخې لري.

سربېره پر دې چې يو زيات شمېر چاپي رسنيو په خپلو پاڼو کې ادبي ليکنو ته ځای ورکړی دی. ډېرې نورې داسې چاپي خپرونې هم شته، چې يا ټولې يا اکثره برخې يې ادبي ليکنې خپروي، د ساري په توگه، داستانونه مجله، الفت او روهي مجله، ښکلا مجله، هوسۍ او گوربت مجله او ځينې نورې.

که په مجموعي ډول د افغانستان ټولې چاپي رسنۍ له نظره تېرې کړو، نو د ژوند هېڅ ډگر او د هغه په باب هېڅ ليکنې به په کې دومره ځای او ځلا ونه لري، لکه ادبي برخه يا ادبيات يې چې لري.

**۲- اورېدنۍ رسنۍ او ادبيات:** د چاپي رسنيو ترځنگ راډيويي رسنيو هم د ادبياتو په خپراوي کې ډېره زياته ونډه اخيستې ده، ان تر چاپي رسنيو هم يې ونډه زياته ده، راډيويي خپرونې تر چاپي هغو زيات مطالب ځايولای او خپرولای شي، راډيوگانې په واقعيت کې د ژرندو مثال لري، چې همېش بايد پرې د ليکنو دانه سوره وي او که نه خو پر تپه ودرېږي، په افغانستان کې د ډاکتر نجيب الله د حکومت تر ړنگېدو دمخه د ټولو راډيويي خپرونو په سلو کې (۷۰) برخې نشرات موسيقي وه او پاتې په سلو کې دېرش برخې نورو، ټولنيزو، سياسي، ديني، علمي او نورو مسايلو ته ځانگړې شوې وې. ددې کار يو علت دا و، چې نورو ليکنو او پروگرامونو زيات وخت او لگښت ته اړتيا لرله او تر ډېره حده يې تکرار هم نه شو زغملای، ځکه د خپرونو تکرار خپرېدل د اورېدونکو پر ذوق منفي اغېز کاوه، نو يوازېنۍ او کم لگښته لاره همدا

وه، چې دوی باید نوې او پخوانۍ موسیقي خپره کړي. د موسیقۍ تکرار خپرېدل نه یوازې اورېدونکي نــه ســتړي کــول، بلکــې پــه خپلــه د اورېدونکو غوښتنه هم وه، نو په دې خاطر به راډیويي خپرونې تر ډېره حده په موسیقۍ پوره کېدلې.

موسیقي که څه له ادبیاتو سره ډېر نږدې پیوستون لري، خــو خپلــه ادبي خپرونې هم ډېرې زیاتې وې. د ډاکتر نجیب الله نظام تــر ړنګېــدو وروسته، په تنظیمواکۍ کې راډیويي خپرونې، لکه د ژوند د نورو برخــو په څېر له ستونزو سره مخامخ شوې، په څومره والي او څرنګوالي کــې یې ډېر تنزیل راغی، خو بیا هم کوم نشرات چې کېدل په هغو کې ادبي برخه شامله وه. د طالبانو په واکمنۍ کې خو غیر له هغې هم پر اکثــرو تفریحي او موسقیزو پروګرامونــو بنــدیز ولګېــد، دا مهــال ادبیــاتو او شاعرۍ په تېره بیا ترنمي شاعرۍ د موسیقۍ ځای ونیو او پر هغه وخت به د فعالو راډیو ګانو له څپو څخه همدا مترنمه شاعري خپرېدله، مانــا دا چې د ژوند د نورو برخو په انډول د ادبیاتو برخه کمه متضرر شوه. د طالبانو په واکمنۍ کې د نیمژواندو رسنیو، په تېره بیا د راډیويي رسنیو له لارې د ادبیاتو خپراوي ته لاره خلاصه وه. د طالبانو نظام تر ړنګېــدو وروسته په افغانستان کې یو دم دومره راډیوګانې راوټوکېدې، چې لکه د راډیوګانو بزغلی چې وشیندې، چا خیال هم نه کاوه، چې پر دومــره کم وخت دې دومره زیات راډیويي ستېشنونه فعال شي. پر موســیقۍ لګېدلی بندیز هم اوتومات پورته شو او ګڼو راډیوګانو په متــواتر ډول د موسیقۍ پر خپرولو پیل وکړ. د FM دومره راډیو ستېشنونه جوړ شــول، چې د هېواد هر ګوټ یې تر پوښښ لاندې راوست، هر چېرته چې راډیو فریکونسي بدلوې، نو د موسیقۍ غږ دې تر غــوږو کېــږي. د موســیقۍ

ترخنګ ادبي خپرونې هم له شمېره ووتې، د راډیو کمیت دومره زیات شو، چې دوی مجبور شول د خپلو پروګرامونو د موادو پوره کولو لپاره پر موسیقۍ او ادبي خپرونو ډېره ولګوي، نو تقریباً هرې راډیو په خپلو ځینو کې ادبي پروګرامونو ته ځای ورکړ، دې کار نه یوازې تېرو ادبي لیکنو ته د خپراوي زمینه برابره کړه، بلکې نور ګڼ شمېر ځوان لیکوال او شاعران یې هم وروزل، اکثرو راډیوګانو د پنځه لس دقیقه یي، نیم ساعته، یو ساعته او ان څو ساعته ادبي خپرونو پروګرامونه جوړ کړل، تر مشخصو او ښکلو کلیشو لاندې یې دا پروګرامونه سره منظم کړل. د بېلګې په توګه کلید راډیو په مرکز او ولایتونو کې د ((لونګو دربڅې))، ((رڼه چینه))، شرق راډیو (( د غزل په زمزو کې))، ننګرهار راډیو ((د ستورو کاروان))، مرام راډیو، ((مرام په زمزمو کې)) ادبي خپرونې لري. بي بي سي راډیو د ((مرغلرو امېل))، پېلوځی، اومه ستوډیو)) ادبي او هنري خپرونې لري، د امریکا غږ راډیو هم د شعر او موسیقۍ پروګرامونه او ادبي بنډارونه لري، ازادۍ راډیو، د ((شګو چینه)) ((د ګوړې اچار))، ((مربامرچ)) ادبي او طنزي خپرونې لري او همدا ډول هره کورنۍ راډیو چې اورې ضرور په کې ادبي خپرونه وي او یا هم د افغانستان لپاره بهرنۍ راډیوګانې چې اورئ، له ادبي خپرونو بې برخې نه دي. که په مجموعي ډول موږ د وروستیو څو تېرو کلونو په بهیر کې د ټولو راډیو ګانو یوازې ادبي خپرونې محاسبه کړو، نو پر شپه او ورځ تر (۲۴) ساعتونو هم اوړي او دا هغه حالت او واقعیت دی، چې په اوسنیو راډیویي رسنیو کې لیدل کېږي، دا حالت د چا په خوب او خیال کې هم نه ګرځېده. طبیعي خبره ده، چې دا بهیر زموږ د ادبیاتو له غوړېدو او پرمختګ سره مرسته کوي.

## لیدنۍ رسنۍ او ادبیات: د چاپي او اورېدنیو رسنیو ترڅنګ

لیدنۍ رسنۍ، لکه څنګه چې د تاثیر یا اغېز له مخې په قوي دریځ کې دي، دغسې یې د ادبیاتو خپراوي کې هم کارنده ونډه اخیستې ده. پخوا چې افغانستان کې یوازې یو سراسري دولتي او نور څو ولایتي دولتي ټلویزیونونه فعال وو، نو دې ټلویزیونونو د اورېدونکو او لیدونکو ادبي ذوق تر یوه حده خړوباوه؛د ((هفت شعر هنر))، (ټلویزیوني مجله) او نورو منظمو ادبي او هنري خپرونو د خپراوي ترڅنګ یې د ګڼو ادبي غونډو، مشاعرو او سیمینارونو رپوټونه هم خپرول، سربېره پر دې یې له لیکوالو او شاعرانو سره مرکې هم کولې، د هغوی نوي چاپ شوي کتابونه یې معرفي کول. د طالبانو نظام تر ړنګولو وروسته چې په افغانستان کې د ازادو رسنیو څپه خپره شوه، نو دې سره ګڼ شمېر ټلویزیوني چینلونه فعال شول، هر ټلویزیون د خپلو نورو خپرونو ترڅنګ هنري او ادبي خپرونو ته پوره ځای ورکړی دی. ان نورې خپرونې یې لا د مهال له مخې دې کچې ته نه رسېږي. د ټلویزیوني خپرونو تاثیرات تر نېرو دوو رسنیو ځکه زیات دي، چې دلته مطالب او مسایل هم لیدل کېږي او هم اورېدل کېږي، اکثره خلک ترې ګټه پورته کولای شي؛ هم یې خواص، هم لوستي قشر یې ګوري او هم نالوستی قشر د خپلې ذهني کچې مطابق ترې ګټه پورته کولای شي. تراوسه د ټلویزیوني خپرونو د پو ښښ ساحه یوازې پر هغه چاپېریال راڅرخي، چې برېښنا په کې غځېدلې ده او له نورې ډول برېښنا ګټه پورته کوي. افغانستان کې د برېښنایي شبکې د پراختیا په حالت کې ټلویزیوني شبکې نورې هم غځېدی شي. ددې لیدنیو رسنیو بلې ښېګڼه داده،

چې په ځینو خپرونو کې یې ادبیات یا ادبي لیکنې، له لیکنې او ګړنــې حالت څخه راکښلي او تصویري کړي دي. یانې د ادبي کــلام د اورېــدو ترڅنګ لیدونکی د پردې پرمخ د هغې تصویر هم ګوري، دا کار د ادبي کلام هغه روح او مانا راژوندي کوي، چې د دې کلام په متن کــې پرتــه ده. لیدونکي په دې حالت کې نه یوازې د ادبي وینا له اورېدلو اغېــزمن کېږي، بلکې د تصویر په قوت دی لا د هغې ادبي وینــا د مانــا تــل تــه ورننوزي. په ادبیاتو؛ شعر یا یو ژبني هنري اثر کــې معمــولاً دوه ډولــه تصویرونه زیات یادېږي: یو ته یې عیني تصویرونه وایي او بــل تــه یــې ذهني، البته د دې دوو ترکیب هم شته، عیني تصویر همغــه تــه ویــل کېږي، چې انځورګر یا عکاس د هغه فزیکي تصویر د کاغذ او یا هــم د سکرین پر مخ ترسیم کړای شي او هغه مانا چې په خبرو یا ادبي اثر کې دننه خوندي ده، هغه د تصویر په قوت د کاغذ یــاپردې پــرمخ ترســیم کړي. لیدنیو رسنیو بل کمال دا کړی، چې د ادبیاتو د بېلابېلو فورمونــو لکه، لنډه کیسه، منځنۍ کیســه، اوږده کیســه، ډرامــه او د ادب نــور بېلابېل ډولونه یې مصور کړي او د ټلویزیون د پردې پر مخ یې خلکو ته څرګند کړي دي. اوس زموږ په ټولنه کې هېڅ بل شي د خلکو ذهنیــت دومره نه دی تسخیر کړی، لکه هندي ډرامو، چــې پــرې خپــل تــاثیر غورځولای دی. ډرامه البته هندي ډرامې زموږ د ادبیاتو برخــه نــه ده، خو په مجموعي توګه د ادبیاتو یو ژانر دی. زموږ یو شــمېر ټلویزیــوني چینلونه پر دې بریالي شوي، چې خپل کورني تولیدات ولري، د افغاني ادبیاتو په بېلابېلو فورمونو کې د رامنځته شویو لیکنو پر بنســټ جــوړ شوي هنري فلمونه، ډرامې او لنډې تمثیلي ټوټې خپرې کړي. البتــه لا اوس هم زموږ سینمایي هنر، تولیدات او امکانات تر دې کچې نــه دي،

چې هندي او غربي فلمونو سره سيالي وکړي، نو په همدې خاطر يو زيات شمېر رسنۍ، په لويديځ، هندوستان، ايران او نور هېوادونو کې تيار جوړ شوي فلمونه د يوې تيارې مړۍ په څېر ليدونکو ته وړاندې کوي، خو دې سره سره په هېواد کې د دولتي او ازادو ټلويزيونونو کورني توليدات هم ورځ پر ورځ زياتېږي او زموږ يو زيات شمېر ټلويزيونو د خپلو ادبي خپرونو کميت او کيفيت ته پاملرنه کړې او دې لړۍ ته دوام ورکوي. ملي ټلويزيون تر څو بېلابېلو عنوانونو لاندې ادبي خپرونې لري، ننګرهار ټلويزيون ( د وږمو بهير)، د اريانا ټلويزيون د (بلې ډيوې) اونورو کليشو لاندې ادبي پروګرامونه لري، لمر ټلويزيون څو بېلابېل ادبي پروګرامونه وړاندې کوي، شمشاد ټلويزيون (د وږمو بهير) او نورې ادبي خپرونې لري، طلوع ټلويزيون، نور، نورين، تمدن او ټول ټلويزيونونه هر يو خپلې خپلې ادبي خپرونې لري، چې دا ټول په ټوليز ډول د ادبياتو له ودې سره مرسته کوي.

که په مجموعي ډول د ټولو ټلويزيونونو ادبي خپرونې سره راټولې کړو، نو پر يوه شپه او ورځ يې مجموعي نشرات تر څلېريشت ساعتونو رسېږي. که د ټول هېواد په کچه پر شپه او ورځ يوازې د ادبياتو په برخه کې تر (۲۴) ساعتونو زياتې ليدنۍ ادبي خپرونې کېږي، نو په زغرده ويلای شو، چې دا زموږ د ادبي بهير په پرمختګ او د ځوانو ليکوالو د استعدادونو په غوړونه کې ډېره زياته او مثمره مرسته کولای شي.

**کتنۍ رسنۍ او ادبيات:** هر څومره چې نړۍ او علم پرمختګ کوي، په همغه کچه رسنۍ هم ورسره وده کوي. تر چاپي، اورېدنيو او

لیدنیو رسنیو وروسته، کتنۍ؛ برېښناییزې او یا انټرنیټي رسنۍ هغه موثرې رسنۍ دي، چې تر پورتنیو درېواړو یې اغېز زیات دی. تاثیر یې په دې زیات دی، چې پورتنۍ درېواړه رسنۍ یې په سینه کې پرتې دي. یانې دا چې انټرنیټي رسنۍ هم چاپي برخه لري، هم اورېدنۍ او هم لیدنۍ، خو له چاپي رسنیو څخه د اورېدنیو او لیدنیو رسنیو کار نه شي اخیستل کېدی، دغه راز له اورېدنیو څخه د چاپي رسنیو. همدا راز اورېدنۍ رسنۍ د لیدنیو کار نه ورکوي، خو لیدنۍ بیا د اورېدنیو کار هم ورکوي، خو په کتنیو رسنیو کې یو څوک کولای شي هم نننۍ موضوعات تعقیب کړي، هم د تېرو او اوسنیو، میاشتو او کلونو، په دې ډول که چېرې د یوې موضوع تاریخي شالید ته اړتیا وي، نو کتونکي کولای شي، هغو ته مراجعه وکړي، خو د نورو رسنیو لوستونکي، اورېدونکي او کتونکي ددې امکان نه پیدا کوي، چې دومره اسانتیاوې ورته برابرې شي. په دې حساب کتنۍ رسنۍ تر ټولو رسنیو غښتلې او موثرې دي. البته ددې موثریت کچه په بېلابېلو هېوادونو کې توپیر کوي. زموږ په ټولنه کې تراوسه پورې په سلو کې یوه سلنه خلک انټرنیټي اسانتیاوې لري او له هغو څخه ګټه اخلي، سره له دې چې له اورېدنیو رسنیو څخه ګټه اخیستنه په افغانستان کې عامه ده او ددې رسنیو د پوښښ ساحه تر ټولو رسنیو زیاته ده. د پوښښ د ساحې له مخې په دویمه کته ګورۍ کې لیدنۍ، رسنۍ راځي او په درېیمه درجه کې چاپي رسنۍ، خو انټرنیټي رسنۍ په ډېر سرعت سره پرمخ روانې دي؛ اوس د چاپي رسنیو په اندول انټرنیټي رسنۍ ډېرې زیاتې کارول کېږي. د ساري په توګه که په افغانستان کې اوسمهال یوه ښه چاپي رسنۍ (ورځپاڼه) په پام کې ونیسو، نو په منځني ډول پنځه زره ګڼې

چاپېږي. ددې مانا داده چې زموږ په ټولنه کې د چاپي رسنیو لوستونکي ( که د هر عنوان یوې ګڼې ته یې یو تن محاسبه کړې) په همدې شمېر دي، خو په انټرنیټي رسنیو کې داسې وېبپاڼې شته، چې ورځني کاروونکي یا لوستونکي یې هره ورځ تر یو لک کسانو هم اوړي، دا ددې مانا ورکوي، چې ددې رسنیو اغېز څو څو ځله تر چاپي هغو زیات دی او همدارنګه تر اورېدنیو او لیدنیو، اوس چې موږ افغانۍ کتنۍ رسنۍ ګورو، نو یو زیات شمېر وېبپاڼې یې ادبي برخه لري، نه یوازې ادبي برخه لري، بلکې داسې وېبپاڼې هم شته، چې ټولې له یوې مخې ادبي او کلتوري مطالب خپروي. په ځینو نورو کې بیا یوه درنه یاد وړ برخه ادبي ده او په ځینو کې بیا یوه برخه ادبي ده، داسې وېبپاڼې هم شته، چې پر خپلو ادبي خپرونو سربېره له هغو ځانګړو شخصي وېبلاګونو څخه هم مطالب را اخلي او خپروي یې، چې هغه اکثرو ادبي مسایلو ته وقف شوي وي.

لومړۍ هغه وېبپاڼې، چې یا یې ټولې لیکنې ادبي دي او یا یې ادبي لیکنې اکثره برخه جوړوي، په دې کې دغه وېبپاڼې شاملې دي:

طنزونه، افغانستان، زیار ټکی نېټ، ستوری، پسرلی، لیکوال، افغان ادبي بهیر، داستانونه، افغان کلتور، استاد ګل پاچا الفت او نورې...

دویم هغه وېبپاڼې دي، چې د ټولنیزو، سیاسي، علمي او نورو لیکنو ترڅنګ ادبي مطالب هم خپروي، لکه تاند، لروبر، ټول افغان، بېنوا، دعوت، روهي، سیمه ییز مطالعات، رښتیني افغانان، افغان ملت، سمسور، سورغر اوونیزه، هېواد افغانستان، تل افغان، لوی افغانستان او ګڼ شمېر نورې. سربېره پر دې په ځینو وېبپاڼو کې د بشپړو ادبي کتابونو لپاره هم کړکۍ پرانیستل شوي دي او ګڼ شمېر ادبي کتابونه

اوس موږ په همدې وېبپاڼو کې لوستلای شو او هم یې چــاپي بڼــه لــه کمپیوټر څخه ترلاسه کولای شو. په دې وېبپاڼو کې له شعر څخه نیولې بیا د ادبیاتو تر یوه لوی فورم پورې دا د ادبیــاتو ټــول پنځــول شــوي ډولونه کتلای او لوستلای شئ. نه یوازې ددې وېبپاڼو پرمخ ورځنــي او نوي ادبي مسایل لوستلای شو، بلکې  له دې لارې پخواني خپاره شوي ادبي مسایل هم په اسانۍ سره ترلاسه کولای شو. د کتنیو رسنیو دغو اسانتیاوو ته په پام سره ویلای شو، چې دا رسنۍ د ادبیــاتو پــه وده او پراختیا کې اغېزمن رول لوبوي او ددې رسنیو په پراختیا سره دا اغېــز نور هم زیاتېږي او پراخېږي.

# اووم څپرکی

## د افغاني رسنیو د ښه پرمختګ او اغېز لپاره څو وړاندیزیونه

هره پدیده، چې په یوه ټولنه کې رامنځته کېږي، پرمختـګ کـوي او شاتګ، دا خپل بېلابېل عوامل لري. کلـه کلـه یـوه پدیـده د بلـې د پرمختګ سبب ګرځي او کله کله بیا یوه د بلې پر وړاندې ودرېږي، نـه یوازې د پرمختګ مخه یې نیسي، بلکې د نزول سبب یې هـم ګرځـي. افغاني رسنۍ که څه هم زموږ په ټولنه کې یوه ډېره نوې پدیده نـه ده، خو د تېروو اوو اتو کلونو په بهیر کې یې، چې کومه وده کړې او څـومره زیاتې شوي، دا د هېواد په تېر تاریخ کې بې ساري دي. که د رســنیو د ودې دا چټک بهیر په دقت سره ډلبندي نه شـي، تصـنعي او طبیعـي رسنۍ سره جلا نه شي، رسنۍ پر خپلو اصلي او طبیعي سـرچینو ډډه ونه لګوي او د قوانینو په رڼا کې حرکت ونه کړي، نو ددې خطـر شـته، چې د رسنیو دا اوسنی پیل شوی پرمختیایي بهیر به له ځنـډ او خنـډ سره مخامخ شي او تر ټولو دمخه به ځینې مغرضـې رسـنۍ د ګټـورو رسنیو ضد عوامل راوټوکوي. دلته به ځینو هغو عواملو ته نغوته وکـړو،

چې زموږ د رسنیو د اوسني پیل شوي پرمختیايي بهیر له لا پرمختګ او اغېز سره مرسته کولای شي:

**۱- د رسنیو قانون تطبیق:** د افغانستان اساسي قانون او د رسنیو قانون د افغاني رسنیو د نورمال او طبیعي پرمختګ لپاره یو ښه تضمین دی، خو ددې تضمین مزي هغه وخت سستېږي، چې ځینې رسنۍ له دې قانون څخه ناوړه ګټه پورته کړي، ځینې له قانون څخه سرغړاوی وکړي او ځینې نورې د قانون پر ضد عمل وکړي. څرګنده خبره ده، چې پر اوسني وخت، نه یوازې رسنیز قانون، بلکې د افغانستان نورو اکثره قوانینو ته لا د تطبیق ټول شرایط نه دي برابر شوي، د قانون د بشپړ تطبیق د نشتوالي په حالت کې یو شمېر مغرضې او پردیپالې رسنۍ د ولسواکۍ او د بیان له ازادۍ نه ناوړه ګټه اخلي او د هېواد د ملي ارزښتونو پر ضد ځینې داسې خپرونې کوي، چې د ځواب نه ورکولو په حالت کې یو شمېر پردیپالې رسنۍ ددې وس پیداکوي، چې د ازادو رسنیو رنګه هم بده کړي او د عام ولس په ذهن کې د ازادو او نا ازادو رسنیو د توپیر ستونزه رامنځته کړي. دا کار د ولس په ذهن کې د اکثرو رسنیو پر وړاندې کینه راپیدا کوي او د ټولو رسنیو رنګه ورسره بدېږي، نو ربښتینو افغاني رسنیو ته که غواړي خپل ژوند تضمین کړي، په کار ده، چې نه یوازې د رسنیز قانون تطبیق ته غاړه کېږدي، بلکې په خپله رسنۍ د قانون د تطبیق لپاره هلې ځلې وکړي. که چېرې ټولې رسنۍ پر خپل قانوني مسیر حرکت وکړي، نو

پردیپالو رسنیو او یا په بله مانا هغو رسنیو ته چې له بهــره خړوبېــږي، ددې زمینه نه برابرېږي، چې د افغانستان د ارزښتونو د بربادۍ په بیــه له نورو ځخه مالي امکانات ترلاسه کــړي او یــا هــم د رښــتینو ازادو رسنیو په نامه فعالیت وکړي. دا کار به د رښتینو ازادو رســنیو او تړلــو رسنیو ترمنځ برید روښانه کړي او کله چې دا لړۍ ځرګنده شوه، نو بیا تړلې رسنۍ ددې وس نه پیدا کوي، چې یا له چا ځخه نامشروع مــالي امکانات ترلاسه کړي، یا د ازادو رسنیو په نوم فعالیت وکړي او یا هم د بیان له ازادۍ ځخه ناوړه ګټه پورته کړي. دا کار بیا په خپــل وار ســره ددې زمینه برابروي، چې په افغانستان کــې رښــتیني ازادې رســنۍ د قانون په چوکاټ کې په نورمال او طبیعي ډول پرمختګ وکړي. طبیعي پرمختګ د رسنیو د ژوند لپاره تر ټولو ښه او مطمین تضــمین دی. دې کار سره رسنۍ کولای شي نه یوازې، خپــل ملــي، ټــولنیز او انســاني مسولیت ترسره کړي، بلکې خپل ژوند تــه هــم پــه ډاډمــن ډول دوام ورکړي او ګټندویې وسیلې هم شي.

**۲- د رسنیو د مالي سرچینو سپیناوی:** کله چې د رســنیو قانون او د هېواد نور وضعه یي قوانین تطبیق شي، نو د رســنیو مــالي سرچینې ورسره اوتومات سپینېږي، کله چې د رسنیو مالي ســرچینې سپینې شي، دې سره جوخت د طبیعي او تصنعي رسنیو هویــت هــم ځرګندېږي. هر کله چې د نامشروع سرچینو د مخنیوي امکانات برابــر شي، نو هغه رسنۍ ورسره ډېرې ژر له منځه ځي، چې له نورو ناقانونــه

سرچینو څخه پیسې اخلي. کله چې دا ډول رسنۍ له منځه لاړې شي، نو په رښتیا هم رښتینې ازادۍ او دولتي رسنۍ پـاتې کېـږي. لـه ازادو رسنیو سره هم د مالي سرچینو سپیناوی دا مرسته کوي، چې پر خپلو متو ډېره ولګوي، دا حالت پر ازادو رسنیو د خلکو بـاور پیـاوړی کـوي. اوس لا هم زموږ رسنۍ د باور له بحران سره مخامخ دي. د باور بحران نه یوازې په سیاسي مسایلو، بلکې په رسنیزه برخه کې هم ډېـر مهـم دی. که یوه رسنیزه وسیله د خلکو باور راخپل نه کړای شي، نو د هغې د چلند ساحه ډېره راتنګېږي، د پېژندنې کچه یې راټیټېږي او دا کار بیا ددې سبب کېږي، چې د رسنیو د پانګې د ترلاسه کولو امکانات راکـم کړي. هر کله چې د رسنیو د مارکېټ ساحه راتنګه شي، نو د رسـنیو د ژوند دوام هم ورسره سختېږي.

په هر ډول که د رسنیو مالي پانګه رڼه شي، نو هغو رسنیو، چې اوس یې د ازادو رسنیو ځای نیولی؛ د بهرنیو په ملاتړ خپرېـږي، ازادې او ان دولتي رسنۍ ورسره د صحافت او خپرنیو امکاناتو له مخې مقابلـه نـه شي کولای، دا به له صحنې څخه حذف شـي، یـوازې دولتـي او ازادو خپرونو ته به لاره اواره شي. د ازادو رسنیو د مارکېټ سـاحه بـه هـم پراخه شي او پر دې رسنیو د خلکو د باور کچه به هم زیاته شي، د باور د کچې لوړتیا او د مشروع مالي امکاناتو ترلاسه کول، هغـه دوه سـتر عوامل دي، چې د رسنیو د ملي رسنیز ژوند په حرکت کې رغنده رول لوبولای شي.

۳- د سترو ارزښتونو پالنه: لکه په تېرو بحثونو کې چې مو څو ځله ورته اشاره وکړه، په افغانستان کې د اوسنۍ دیموکراسۍ تر چتر لاندې ګڼ شمېر رسنۍ راوټوکېدې، خو دا رسنۍ ټولې په طبیعي ډول نه دي رامنځته شوي. هغه رسنۍ چې د بهرنیو په مرسته په تېره بیا زموږ د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو د بېلابېلو چینلونو له خوا رامنځته شوي، د همغو هېوادونو ګټې پالي او د هغو افکار خپروي. دې ډول رسنیو د څو تېرو کلونو په بهیر کې د افغانستان د تاریخ، ملي هویت او سترو ملي ارزښتونو پر ضد ګڼ شمېر لیکنې او مرکې خپرې کړي او اوس لا هم دا لړۍ روانه ده. اوس هم یو ګڼ شمېر رسنۍ د پردیو له خوا خړوبېږي او ځینې نورې رسنۍ بیا د ځینو زورواکو او ځینې نورې هم د تنظیمواکانو په لاس کې دي، د ازادو رسنیو شمېر هم کم نه دی، خو رښتینې ازادې رسنۍ له مالي پلوه د پردیپالو او تنظیمي رسنیو پر وړاندې په قوي دریځ کې نه دي. د رښتینو رسنیو د عملي واک د نشتوالي له دغه حالت څخه، پردیپالې رسنۍ د افغانانو د ملي هویت او ملي ارزښتونو پر وړاندې په څرګند ډول لیکنې او ویناوې خپروي. دې کار د عام ولس (اکثریت افغانانو) په زړونو او ذهنونو کې غوسه او کینه راپارولې، خو تراوسه لا زموږ ازادې او دولتي رسنۍ په دې دریځ کې نه دي، چې زموږ د ولس ټول نظریات منعکس کړي او نه هم په دې موقف کې دي، چې د پردیپالو رسنیو دښمني پر غاړه واخلي، نو که ازادې رسنۍ په لومړي ګام کې د رسنیو قانون د تطبیق غوښتنه وکړي او

هغه عملي کړي، نو دا کار به د ازادو رسنيو په نامه د پرديپـالو رسـنيو مالي امکانات محدود کړي او له منځه به يې يوسي، ددې ترڅنګ کـه ازادې رسنۍ د خپلو ملي ارزښتونو د ملاتړ او ځلونې لپاره راودانګي او د خپل ولس د زړه او فکر خبره نشر کړي، نو دې سره بـه د ولـس زړه تش شي، پر ازادو رسنيو به يې باور زيات شـي او د هغـو تـر شـا بـه ودرېږي، په دې حالت کې به نه يـوازې ازادې رسـنۍ يـو ملـي ملاتـړ ترلاسه کړي، بلکې په مالي ډګر کې به هم غښـتلې شـي، ځکـه هـر څومره چې يې رسنۍ په رښتيني او ملي ډګر کې وي، په همغه کچه يې د پلويانو، لوستونکو، اورېدونکو، ليدونکو او کتونکو شمېر زياتېږي او د شمېر دا زياتون د رسنيو د اقتصادي کچې له پياوړتيا سـره مسـتقيم ارتباط او تناسب لري، نو د ملي ارزښتونو پالنه او ځلونه د رسـنيو لـه ودې، پرمختيا او پراختيا سره هر اړخيزه مرسته کوي.

# وروستۍ یادونه

زما له ډېرو هڅو سره سره هغه څه چې ما غوښتل تر زیاته حده ډېر مسایل په دې اثر کې ځای کړای شول، خو بیا هم زما له هیلې سره سم ټول شیان په دې اثر کې رانغلل، په دې مانا چې دا اثر هغسې پوره او کره نه دی، چې ما په ذهن کې کومه نقشه ورته جوړه کړې وه. خو بیا هم څه چې پر دې زمانه او مهال زما په وس پوره وو، هغه مې ترسره کړل. ښه به وي چې دلته ددې اثر نیمګړتیاوو، بریاوو او هیله من تیاوو ته لنډه اشاره وکړم.

**۱- نیمګړتیاوې:** ددې اثر نیمګړتیاوې دادي، چې د هېواد د ټولو رسنیو داسې بشپړ ډېټابیس چې یوه رسنۍ (چاپي، اورېدنۍ، لیدنۍ او کتنۍ) هم ترې پاتې نه وي، نه وړاندې کوي. ددې علت دا دی، چې دا کار د یوه شخص څه چې اوسمهال د حکومتي ادارو په وس کې هم نه دی. په دې اثر کې له همغه ډېټابیس څخه هم ګټه اخیستل شوې، چې اطلاعاتو او کلتور وزارت ترتیب کړی او له هغو سره خوندي دی، خو ما نه یوازې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له ډېټابیس څخه ګټه اخیستې، بلکې د انټرنیوز، د ژورنالیزم د نړیوال مرکز، ملي راډیو ټلویزیون، د افغانستان میډیا ډایریکټري، باختر اژانس او نورو سرچینو څخه، چې د افغاني اوسنیو رسنیو ډېټابیسونه یې جوړ کړي او یا یې د هغو نوملړ ترتیب کړی، هم ګټه اخیستې؛ د دوی ټول معلومات مې یو بل سره پرتله کړي، تکراري مسایل مې ترې یوې خواته کړي او کومې معلوماتي تېروتنې چې په کې راته څرګندې شوي، هغه مې څنګ ته کړي دي.

زما له خوا په ترتیب شوي ډیټابیس کې، په چاپي، اورېدنۍ، لیدنۍ او کتنۍ برخه کې داسې رسنۍ شته، چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې فعالیت کوي، خو د دقیقو معلوماتو د نشتوالي له امله په دې اثر کې نه دي راغلي. دې سره سره د اثر په متن کې ځینې محتوايي برخې او ځینې جملې یوې او بلې برخې ته تللي، د ځینو برخو تشریح هم راته کمه ښکاري او همدارنګه نورې نیمګړتیاوې.

**۲- برياوې:** دا اثر په خپل ډول کې یو نسبتاً نوی اثر دی، سره له دې چې تر ۱۳۸۰ل کال دمخه د افغانستان د رسنیو، د ژورنالیزم د ودې، څرنګوالي او همدارنګه د رسنیو د شومره والي په باب بېلابېل اثار چاپ شوي، خو څرنګه چې ددې اوو اتو کلونو په بهیر کې رسنیو له ګومره ییز او څرنګیز پلوه ډېره وده کړې، د هغو په باب په هر اړخیز ډول څه نه دي لیکل شوي، د رسنیو د کمیت په باب ټولو معلوماتو سرچینو ته د هر چا لاسرسی اسانه و، خو ما چې د لېوالتیا او دولتي دندې له مخې له رسنیو سره سروکار درلود، نو د رسمي منابعو ترلاسه کول راته له امکانه لرې کار نه و، خو دې سره سره دا سرچیني ما په ډېرې سختۍ سره پیدا کړې او بیا چاڼ کړي دي. پر دې اثر تر حده زیات په تکلیف شوی یم. لږ تر لږه مې پنځه لس ځله ددې اثر توري کتلي، خو هر ځل چې مې کتلي، یو لږ نور بدلونونه مې په کې راوړي او نورو نورو بدلونونو ته مې هم زړه شوی دی. په پای کې دې نتیجې ته ورسېدم، چې هر څومره یې ګورم بیا هم د بدلون ځای په کې پیدا کېږي، نو ښه به دا وي، چې اوس یې همدلته ودروم او پاتې کارونه نورو وختونو ته پرېږدم.

**۳- هیله منتیا:** یوه تصادفي خبــره داده، چــې د افغانســتان د اوسنیو رسنیو ګړندۍ وده د ۱۳۸۰ل کال له وروستیو څخه پیلېږي. ما په خپل دې اثر کې دا وده له همدې کاله څېړلې او نږدې اته کاله ټوله موده رانغاړي. یوې لسیزې ته یوازې دوه (۱۳۸۸) او (۱۳۸۹) کلونه پاتې دي، نو داسې اټکل کېږي، چې لسو کلونو په بهیر کې زمــوږ رســنۍ لا وده وکړي، نو ماته دا هیله پیدا شوه که چېــرې ژونــد یــاري وکــړه او ۱۳۹۰ل کال پورې ژوندي وو، نو بیا به په دې لسیزه کې د افغاني رسنیو ټول لسکلن بهیر په دقیق ډول وارزوو. یوه لسیزه به پوره شي. پــه دې اثر کې پر شتو موادو سربېره به نور دوه کلن پرمختګ هم ورســره یــو ځای کړو او په هر اړخیز ډول به یې وشنو، دا نو که د خدای(ج) رضا وه او زموږ اوبه و دانه پر دې دنیا پاتې وه. اوس نو چې څه زما په وس کــې وو، هغه مې ترسره کړل، ددې درنو لوستونکو مخې ته یــې ږدم، هیلــه ده درانه لوستونکي پرې هم قضاوت وکړي او هم ترې ګټه پورته کړي.

په ډېر درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

کابل- افغانستان

# اخځونه

۱- رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۵۲مخ.
۲- Afghan Media Directory, first Edition, March,۵'۲۰۰٤
۳- رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ٤۷مخ.
٤- رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷م کال، ۷٤ مخ.
۵- د افغانستان اوسنی اساسي قانون، ۳٤مه ماده.
۷- د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون، دویمه ماده.
٦- د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون، لومړۍ ماده.
۷-د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون، دویمه ماده.
۸-د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون بېلابېلې برخې.
۹- د ټولیزو رسنیو قانون، اتم څپرکی، ۳۱مه ماده.
۱۰- ریکارډ ګراسي، رسنۍ یعنې پرمختګ، کلید ګروپ، ۲۰۰۷ م کال، ۵۲مخ.
۱۱ - رسنۍ یعنې پرمختګ، ۲۰۰۷م کال، چاپ، ۲۹-۳۰مخونه.
۱۲- پوهاند ډاکتر زېورالدین زېور، د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۵ل کال، ۹مخ.
۱۳- کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمدصدیق روهي، د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره)، د محمدصدیق روهي فرهنګي ټولنه، ۱۳۸۷ل کال چاپ، ۵۳ او ۵۵ مخونه.